اِمدادُالفتاویٰ

پښتو

جلد ۶

کتاب العقائد والکلام

حکیم الاُمت مجددُ الملت حضرت مولانا
اشرف علی تهانوی قدس سرہٗ

بترتیب جدید

حضرت مولانا مفتی محمّد شفیع صاحب رحمة الله علیه
بانی جامعه دار العلوم کراچی و مُفتی اعظم پاکستان

مترجم

مولانا زاهد الله شاه حقانی

مکتبة الحرم

قصه خوانی بازار محله جنگی پشاور
اکوړه خټک نوښهره
0300-9395919
0306-7616569



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

اِمداد الفتاویٰ

پښتو


٦

حکیم الاُمت مجدد الملت حضرت مولانا
اشرف علی تھانوی قدس سرہٗ

بترتیب جدید
حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمۃ اللہ علیہ
بانی جامعہ دارالعلوم کراچی ومفتی اعظم پاکستان

مترجم
مولانا زاھد اللہ شاہ حقانی

مکتبۃ الحرم
قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور
اکوڑہ خٹک نوشہرہ
0300-9395919
0306-7616569

کتاب پیژندنه ...... 

دکتاب نوم: امدادالفتاویٰ
دمصنف نوم: اشرف علی تهانوی رحمه الله
دمترجم نوم: مولانازاهدالله شاه (حقانی)
کپوزر: قاری روح الله (صافی)
ډیزاین: مولوی محمدبشیر (طیب خیل)
تهیه وترتیب: صافی کمپوزنګ سنټرمحله جنګی پشاور #-0312- 9885005
:Emil Hedayatullha.safi@yahoo.com
ناشر: مکتبة الحرم
مدیرمکتبه: طالب العلم فضل الرحمن حیدری اوحافظ عین الدین ابراهیمی
دچاپ ځاني ..... اعراف پرنټرز نډیم ټریډ سنټر محله جنګی پیښور

عرض ناشر:

زماله ټولوعلماء کرامواوطلباء عزامواو عامو کتونکوڅخه هیله اوتمناده کچری دی کتاب کښې کومه لفظی اویانوره غلطی وی دابه زمونږڅخه سهواً شوی وی تاسی داغلطی مونږته په ګوته کړی ترڅوی پوری په آینده کښې داتکرارنشی اواجربه ئې انشاء الله تعالیٰ الله جل جلاله درکوی والسلام.

درابطی نمبر: 9395919 - 0300# 7616569- 0306

دامدادالفتاوی دشپږم جلددمضامینوفهرست

بسم الله الرحمن الرحیم

بقیه کتاب العقائدوالکلام

رساله

اقامة الطامة على زاعم ابقاء النبوة الحقيقة العامة

بسم الله الرحمن الرحیم

رساله اقامة الطامة على زاعم بقاء النبوة الحقيقة العامة

سوال:(١) اوریدلي مې دی چه شیخ محی الدین ابن العربی رحمة الله علیه اوس هم دنبوت دسلسلې قائل دې،اودداسې اقوالوپه وجه باندې مرزائی په خپلې باطلې عقیدې باندې استدلال کوی، دشیخ صاحب ددې اقوالوحقیقت څه دې؟

جواب: داحقردې باره کښی یوه رساله ده، په هغې کښی دې باره کښی ضروری اوکافی تحقیق موجوددې، جواب کښی هم هغه نقل کوم. وهی هذه.

اقامة الطامة على زاعم بقاء النبوة الحقيقة العامة

بسم الله الرحمن الرحیم

دالله تعالی دحمداوصفت نه پس عرض دې چه دې وخت کښی ددین بعضې حون ریزان اودروغژن مدعیان دنبوت په تمسکات کښی دحضرت شیخ اکبر رحمة الله علیه اقوال هم موهم عدم انقطاع هم دی، چه هغه نامکمل نقل کولوسره ناواقفوته دهوکه ورکولې کیږی، دنوروتمسکاتومضبوط اومفصل جواب نوروعالمانوډیرزیات استلال سره ورکولوسره حق ادافرمائیلې خوددې اقوالوجواب ددې شان مې مستقل دنظرنه نه دې تیرشوې، اتفاق سره په 'تنبیه الطربی ، کښی ددې بحث دتحقیق ضرورت پیښ شو،اودالله تعالی په فضل باندې هغه څه حدپورې کافی هم وو،دوختی ضرورت مصلحت راته ښکاره شوچه دادیوې رسالې په شکل کښی جمع کړې شی چه چاپ کولوکښی اسان وی اوبه الحل القوم رساله کښی هم ددې لږشان بحث موجوددې،هغه هم دې سره شامل کړې شی، پس داهم دهغې حصومجموعه ده، اومجموعې ته **اقامة الطامة على زاعم بقاء النبوة الحقيقة العامة** نوم هم ورکړې شو،مخکښی دالحل الاقوم عبارت نقل کیږی، بیاد التنبیه الطرجی، رومبې داختصارپه وجه بانبدې متن اوګنړئ اودویم دشرح، وعلی الله اعتمادی وبه استنادی.

المتن

مقام حادی عشر[1]

مقلب بكلمة الطامة فى النبوة العامة

فص عزیزی کښې دی. واعلم ان الولاية هى الفلك المحيط العام ولهذام تنقطع ولهاالابناء العام واما نبوة التشريع الرسالة فمنقطعة وفى محمد ﷺ فقدانقطعت فلانبى بعده يعنى مشرعااومشرعاولارسول هوالمشرع. وهذاالحديث قصم ظهوراولياء الله لانه يتضمن انقطاع ذوق العبوديع الكاملة التامة فلاينطلق عليه اسمهاالخاص بهافان العبديريدان لايشارك سيده وهوالله فى اسم والله لم يسم بنبى ولارسول يسمى بالولى واتصف بهذاالاسم فقال الله ولى الذين امنووقال هوالولى الحميدوهذاالاسم باق جارعلى عبادالله دنياواخرة فلم يبق اسم يختص به العبددون الحق بانقطاع النبوة والرسالة الاان الله لطيف بعباده فابقى لهم النبوة العامة التى لاتشريع فيها ا ه.

دې عبارت کښې دنبوت دبقاء حکم ورکړې شوې دې. جواب دادې چه شیخ په خپلې اصطلاح کښې دمطلق اخبارعن العلوم ته نبوت عامه وائی، اوددې نبوت حکمونه دعام مشهورنبوت په شان نه دی، تردې چه ددې علمونه هم قطعی نه وی، پس شیخ پخپله دې بحث کښې ددې تفاوت تصریح کړې ده. بقوله وهذاالحديث (يعنى لانبى بعدى) قصم ظهوراولياء الله لانه يتضمن انقطاع ذوق العبودية الكاملة التامة. اه[2]

دې کښې تصریح ده چه نبی دعبدیت په ذوق کښې (چه منتهی مقامات ولایت دې) دټولونه زیات دې، اوددې نه داهم معلومه شوه چه دشیخ داکوم قول مشهوردې چه رسول من حیث وی ولی افضل دې، رسول من حیث وی رسول نه. پس هم دې فقره کښې ددې هم تصریح ده، دابعضې علمونواعتبارسره علی الاطلاق نه دې. ګنی دنبی عبدیت کوم چه افضل مقامات ولایت دې داولیاء دپاره دپسخیدوقابل ولی دې، څنګه چه دظهوردقسم نه معلومیږی.

---

[1] الحل الاقوم په ډیرو مباحثو مشتمل دې دا دهغې نه یوبحث دې. ۱۲

[2] ددې عبارت د ضروری حصې ترجمه راروان عنوان سره متصل راروانه ده په دې وجه دلته اونه لیکلې شوه. ۱۲

الشرح

الاغتراب نمبر ۱۸

قال الشيخ فى الفصل العزيزى من الفصوص واعلم ان الولاية هى الفلك المحيط العام ولهذالم تنقطع الابناء العام واما نبوة التشريع والرسالة فمنقطعة وفى محمد ﷺ فقدانقطعت فلانبى بعده يعنى مشرعااومشرعاولارسول هوالمشرع. وهذاالحديث قصم ظهوراولياء الله لانه يتضمن انقطاع ذوق العبوديع الكاملة التامة الى قوله الاان الله لطيف بعباده فابقى لهم النبوة العامة التى لاتشريع فيها اه. (الحل الاقوم مقام حادى عشر)

ترجمه: شیخ دفصوص په فص عزیزی کښې وئیلی دی چه پوهیدل پکاردی چه ولایت یوعام محیط دې، اوپه دې وجه باندې ختم شوې نه دې، اونبوت تشریع اورسالت ختم دې، اوهغه (نبوت اورسالت) محمد ﷺ باندې ختم شوې دې، پس دحضور ﷺ نه پس څوک نبی نشته، که هغه صاحب تشریع وی اوکه نه وی (یعنی دیوصاحب تشریع نائب وی چه دهغه دنیابت دپاره هغه صاحب تشریع جوړکړې شوې وی یعنی دحضور ﷺ نه پس هیڅ قسمه نبی هم نشته) اونه څوک رسول شته، اوهغه صاحب تشریع دې (دتشریع نه مراددحکمونووحی ده، که نوې شریعت وی یاچرته دپخوانی شریعت په شان وی، څنګه چه په راتلونکی بابونوکښې سرخۍ کښې دالشهاب رسالې په حوالې سره فتوحاتوکښې به تصریح سره راځی، اواطلاق سره تعمیم باندې دلالت کونکی ډیرعبارتونه به راځی، اودې احادیثوداولیاء ملاګانې ماتې کړی، ځکه چه داحدیث ددې خبرې تقاضاکوی چه (انقطاع نبوت) سره دمکمل عبدیت سلسله ختمه شوې، دې ځائې پورې مضمون راؤرسیدو، خوالله تعالی په خپل بندګانوباندې احسان کونکې دې، په دې (بندګانو) دپاره (که اولیاء هم نه وی) عام نبوت کوم تشریع (بالتفسیر المذکورانفا) نه وی باقی پریخودې دې، (څنګه چه راتلونکی بابونوکښې سرخۍ کښې دمطلق تبلیغ نه درسالت اطلاق باب ثامن وثلاثین نه اومطلق اخبارعن الشئی (بقید کونه نافعاً) نه دنبوت اطلاق باب خامس وخمیسن ماته سره راځی)

ف: ددې عبارت نه شیخ باندې اعتراض کړې شوې دې چه هغه دنبوت دبقاحکم کړې دې کوم چه دختم نبوت دفصوص معارض دې.

الاغتراب (۱۸)

قال الشیخ فی الباب العاشروثلثمائة اعلم ان الوحی لایتزله الملک علی غیرقلب نبی اصلا ولا یامرغیرنبی الهی الی قوله فانقطع الامرالالهی بانقطاع النبوة الرسالة(مبحث خامس وثلثون ج ۲ ص ۳۸ وقال(الشیخ) انمالم یعطف المصلی السلام الذی سلم به علی نفسه بالواوعلی السلام الذی سلمه به علی نبیه لانه لوعطفه علیه لسلم علی نفسه من جهة النبوة وهوب قدسه الله تعالی کماسدباب الرسالة عن کل مخلوق بمحمدﷺ الی یوم القیمة وتعین بهذانه لامناسبة بینناوبین رسول الله ﷺ فانه فی المرتبة التی لاینبغی لنافابتداء نابالسلام علینافی طورنامن غیرعطف انتهی وقلت فی هذالقول من الشیخ ورد، علی من افتی علیه انه کان یقول لقدحجرابن امنة واسعابقوله لانبی بعدی(کبریت علی هامش الیواقیت ج ۱ ص ۵۱، ۵۲) وقال فی شرح لترجمان الاشواق اعلم ان مقام النبی ممنوع لنادخوله وغایة معرفتنابه من طریق الارث النظرالیه کماینظرمن هوفی اسفل الجنة الی من هوفی اعلی علین وکماینظراهل الارض الی کوکب السماء وقدبلغناعن الشیخ ابی یزیدانه فتح له من مقام النبوة قدرخرم ابرة تجلیاً لادخولافکادان یحترق(وزادفی الهامش عن الکبیریت فی صفحه ۵۲ ج۱. بعدنقل هذاالقول مانصه فکذب والله من افتری علی الشیخ وخاب مسعاه) وقال فی الباب الثانی والستین واربعمائة من الفتوحات اعلم انه لاذوق لنافی مقام النبوة لنتکلم علیه انمانتکلم علی ذلک بقدرمااعطینامقام الارث فقط لانه لانه لایصح لاحدمنادخول مقام النبوة وانمانراه کالنجوم علی السماء(مبحث ثانی واربعون ص ۷۲ ج۲) وقال فی الباب الثالث والخمس وثلثمائة اعلم انه لم یجی لناخبرالهی ان بعدرسول الله ﷺ وحی تشریع ابدانماوحی الالهام قال الله تعالی ولقداوحی الیک ولی الذین من قبلک ولم یذکران بعده وحیاً ابداً(مبحث سادس واربعون ج ۲ ص ۸۴) وفی رسالة الشهاب[3] لبعض الاحباب عن الفتوحات ج۳ ص۵۱ فمابقی للاولیاء الیوم بعدارتفاع النبوة الاتعریفات وانسدت ابواب الاوامر الالهیة والنوهی فمن ادعاهابعدمحمدﷺ فهومدع شریعة اوحی بهاالیه سواء وافق بهاشرعناواخالف الی اخره ص ۸، ۹ وقال فعلم انه مابقی للاولیاء الاوحی الالهام (کبریت علی الهامش ج ۱ ص ۱۰ وقال فی الباب الرابع عشرمن الفتوحات بعدکلام طویل.

[3]) وکتب البناوصاحب الرسالة ان هذالعبادة فی النسخة المصریة فی الباب العاشروثلثمایة فی معرفة منزلة الصلصلة الروحانیة من الحضرة الموسویة ۱۲ منه.

اعلم ان الملک یاتی النبی بالوحی حالین تارة ینزل علی قلبه وتارة یاتیه فی صورة جسدیة من خارج الی ان قال وهذاباب اغلق بعدموت محمدﷺ فلایفتح لاحدالی یوم القیمة ولکن بقی للاولیاء وحی الالهام الذی لاتشریع فیه انماهوبفسادحکم قال بعض الناس بصحة دلیله ونحوذلک فیعمل به فی نفسه فقط الخ ومبحث خامس وثلاثون امره بشیٔ فلیس ذلک بصیح وانماذلک تلبیس لان الامرمن قسم الکلام وصفته وذلک باب مسدود دون الناس. (مبحث الخامس وثلثون ج ۲ ص ۳۷)

ترجمه: شیخ په باب درې سوه لس کښې وئیلی دی چه پوهیدل پکاردی چه فرښته وحی دنبی دزړه نه علاوه بل چاباندې نه نازلوی، اونه غیرنبی ته دالله تعالی دخه کارحکم ورکولې کیږی، پس دالله تعالی حکمونه، دنبوت ختمیدوسره ختم شوی دی، (دې کښې تصریح ده دنبوت او رسالت دختمیدو، اوددې هم چه دنبی نه علاوه دالله تعالی وحی بل چاباندې نه نازلیږی، ځنګه به چه فرښتې راؤړوسره نبی باندې نازلوله، اوشیخ په (باب تشهد کښې) فرمائیلی دی چه مصلی چه کوم السلام علینا ته السلام علیک ایهاالنبی کښې واؤباندې عطف نه دې کړې ددې وجه داده که چرې عطف ئې کړې وې نو (لکه چه) خپل ځان باندې دنبوت په حیثیت بانبدې درود اوسلام کولو، حالانکه دنبوت باب الله تعالی دمحمد ﷺ په ذریعه ټولو بندګانو باندې دقیامت پورې بند کړې دې، او ددې نه داخبره معلومه شوه چه زمونږ اودرسول ﷺ په مینځ کښې څه مناسبت نشته، ځکه چه حضور ﷺ په داسې مرتبه کښې دې کومه چه مونږسره په یوصورت کښې هم ښه نه ښائی، په دې وجه باندې مونږ السلام علیه دخپل طرف نه دعطف په ابتداء کړې دې.

دې عبارت کښې دنبوت اورسالت ددواړو دختمیدوتصریح ده، اوهم په دې وجه باندې په السلام علینا باندې دواؤنه راؤړلو نکته متفرع کړې ده، او دمناسبت نه کیدو په وجه باندې داحکم هم ثابت شو، ځکه چه دحضور ﷺ نه پس که څوک نبی راتلونو حضور ﷺ کښې اوهغه کښې به دنبوت په وجه باندې داسې بې مناسبی نه وه، هم دې باندې امام شعرانی رحمه الله دتفریع په طورباندې فرمائی چه زه وایم چه دشیخ په دې قول کښې هغه کس بانبدې رددې چاچه شیخ باندې افتراء کړې ده چه هغه وائی چه (نعوذبالله) ابن امنه لانبی بعدی وئیلوسره یووسیع څیز (یعنی نبوت) ئې تنګ کړې دې (یعنی ددې دختمیدوحکم ئې کړې دې، حالانکه نبوت ختم شوې نه دې، دافتراء وجه ښکاره ده چه پخپله شیخ ددې خلاف څه حدپورې تصریح اوتاکیداودلیل دخه حدپورې تائید کوی)

اودترجمان اشواق په شرح کښې فرمائیلی دی چه دنبی مقام ته زمونږ خلقو رسیدل منع دی، اوزمونږ انتهائی معرفت دوراثت په طریقه باندې دې مقام باره کښې دادې چه دهغې طرف ته

داسې نظرنه شوکولې ځنګه به چه دجنت دلاندینۍ درجې والاهغه کس ته نظر کوي، کوم چه په اعلی علیین کښې وي اوځنګه چه ددنیا خلق اسمان طرف ته ګوري، اومونږ ته دشیخ ابایزیدداواقعه رارسیدلې ده چه هغه دپاره دنبوت مقام کښې دستنې دسورې برابرځائې کهلاؤشوې وو، اوهغه هم دکشف په طورباندې هغه ځائې ته داخلیدوپه طورباندې نه، پس دهغې په وجه باندې سوزیدوته نزدې شوې وو(دې کښې تصریح ده چه اولیاء دنبوت مقام ته داخلیدې نه شي،پس که چرې هغه ته دنبوت صفات ملاؤشوې وې نوبیاداخلیدوڅه معنی، کوم چه ممکن نه دی) هم په دې وجه باندې داقول نقل کولوسره امام شعراني وائي چه والله کوم کس په شیخ باندې افتراء کړې هغه دروغژن دې، اوهغه کوشش ناکام دې اودفتوحات په باب څلورسوه دوه شپیتم کښې فرمائیلي دي چه پوهیدل پکاردي چه مونږته دنبوت مقام کښې لږشان دخل هم نشته چه دهغې باره کښې خبرې اوکړو،دې باره کښې مونږصرف دومره خبرې کولې شوځومره چه مونږته دمقام ارث نه حاصل شوې، ځکه چه مونږکښې چاپاره هم دنبوت مقام ته داخلیدل ممکن نه دی،مونږ دې مقام ته هم داسې ګوروځنګه چه اسمان کښې ستوروته(دې کښې داولیاء نه دذوق نبوت نفی شوې ده کوم چه ددخول اوتصاف نه ډیرلرې دی،نوداتصاف نفی ددې نه اولې درجه کښې اوشوه، اوباب درې سوه درې پنځوس کښې فرمائیلي دي چه پوهیدل پکاردي چه مونږسره دې باندې څه شرعي دلیل نشته چه درسول الله ﷺ نه پس زمونږدپاره دوحی احکام وجودصرف وحی الهام دې(کومه وحی چه دحقیقي مطلح شرعي نه عام ده،ځنګه چه ایت کښې دشهدومچۍ دپاره وحی ثابت فرمائیلې ده. مخکښې ددې وحی په نفی باندې دلیل فرمائي چه) الله تعالی فرمائیلي دي چه تحقیق ستاطرف ته اوستانه مخکښې خلقوته وحی لیږلې شوې ده، اودائې نه دی فرمائیلي چه ستانه پس به هم وحی راځي. دې کښې دحقیقي وحی تصریحاً نفی هم فرمائیلې، اودالهام وجودئې حصرسره فرمائیلوسره دحقیقي وحی نفی هم فرمائیلې ده.

اورساله شهاب کښې دفتوحات نه نقل کړې دي چه دنن نه پس دارتقاء نبوت نه اولیاء دپاره خاص طرزباندې تعلیمات(چه دهغې مثال مخکښې راروان دې، اوهغه حکمونه نه دی، پس دهغې دانتقاء دلیل پورته تیرشوې دې،اومخکښې هم راځي) نورڅه پاتې نشته. اودالله تعالی دحکمونوباب بندشوې دی، کوم کس چه دمحمد ﷺ نه پس ددې دعوی کوي هغه د(وحی) شریعت دعوی کوي، دځه چه دهغه طرف ته وحی شوې ده، که هغه په امراونفي کښې زمونږدشریعت په شان وي یازمونږدشریعت خلاف وي(هرحال کښې مدعي دوحي شریعت دې، ځکه چه شریعت دحکمونواومنع کولونوم دې اودوحی شریعت ختم شوې دې،اوانبیاء علیهم السلام سره هم داوحی خاص وه) اوشیخ داهم فرمائیلي چه معلومه شوه چه اولیاء دپاره صرف هغه وحی پاتې شوې کومه چه الهام راؤړي. (بکون الاضافة للبیان)

اودفتوحات په څوارلسم باب کښې دیواړدبیان نه پس فرمائیلي، چه فرښتې نبي ته دوه حالتونوکښې وحی راؤړي، کله به دهغه په زړه باندې نازلیږي اوکله هغه ته دبهرنه دبدن په صورت کښې راځي، مخکښې وئیلي دي چه دایوباب دې کوم چه دحضور ﷺ دوفات نه پس بند کړې شوې دې اودقیامت پورې به چادپاره هم نه کهلاویږي، خواولیاء دپاره هغه وحی کومه چه په حقیقت کښې الهام ده، باقي پاتې ده، په هغې کښې تشریع (یعنی حکمونه) نشته. صرف دداسې خبروباره کښې وي لکه دیوې مسئلې دعدم صحت چه دهغې دصحت بعضې خلق قائل شوې وي اوهم ددې په شان بله څه خبره(هغه دموعود قریب پورته بیان شوې عبارت ده) پس هغه هم هغې باندې په خپل خاص ذات کښې عمل کوي(هغه هم ظني طورباندې، کماتقرفي محلـه اونوروباندې هم حجت نه دې، نوددې درجه دمجتهد داجتهادنه هم کمه شوه،ځکه چه هغه دمقلددپاره حجت ده.

پس دامضمون به یوخاص عنوان سره دشیخ دکلام نه په ف ۲ کښې زرنقل کړم. او ښکاره خبره ده چه دداسې الهام په وجه باندې څوک نبي کیدې شي؟ ایادنبي درجه دمجتهدنه هم کمه وه؟)اودفتوحات په یویشتم باب کښې فرمائیلي دي چه کوم کس داوائي چه الله تعالی هغه ته دامرحکم کړې دې، نوهغه صحیح نه دې دادروغ دی. ځکه چه حکم کول دکلام قسم اوصفت دې اوددې(یعنی دخبرو) دروازه دټولو خلقودپاره بند کړې شوې ده(چه هلته څوک هم نه شي رسیدې)خلاصه داده چه کوم قسمه وحی چه انبیاء علیهم السلام باندې نازلیده هغه بالکل ختمه شوې ده.

فائده۱: ددې عبارتونومقصد یعنی نبوت اورسالت اودوحي حقیقي ختمیدوباندې دومره تصریح ده چه ددې نه فوق کیدل ممکن نه دی، پس هرعبارت کښې دضرورت مطابق ددې تقریرهم کړې دې، پس معلومه شوه چه کومې وحی ته شیخ عام اوباقي وائي دهغې معنی الهام ده کومه چه اولیاؤته کیږي،شیخ په خپله اصطلاح کښې دې ته وحی وائي اودا اصطلاح دلغت مطابق ده، اوقران مجید کښې هم راغلې دی. کقوله تعالی: واوحی ربک الی النحل، وقوله تعالی اذ اوحینا الی امک ما یوحی.پس که دنبوت دوحي څه مطلق دلیل وې نودموسی علیه السلام موربه بالاجماع نبي وه، پس دنبوت منکرین دموسی علیه السلام دموردوحی تفسیرالهام سره کوي، دغه شان نبوت یارسالت ته عام وائي، هغه هم په لغوي معنی کښې دی یعنی اخباراوتبلیغ په حقیقي معنی کښې نه، څه چه شیخ نبوت تشریعي سره تعبیرکوي، پس دیوحدیث په تفسیر کښې حافظ ته دنبوت ورکول هم دې معنی باندې محمول کولوسره دې کښې اونبي کښې فرق بیانوي، کوم چه مستلزم دې دنبوت دنفی ګنې دنبوت ورکیدونه پس دنبي نه کیدوڅه معنی ده، چه ښکاره اجتماع بین النقیضین ده، هغه قول په تفسیري کښې دادې.

وقال فی حدیث من حفظ القران فقدادرجت النبوة بین جنبیة انمالم یقل فقدادرجت النبوة فی صدره اوبین عینیه اوفی قلبه لاذالک رتبة النبی لارتبة الولی الی قوله فمااکتسب الولایة الابالمشی فی نورالنبوة(کبیریت علی الهامش ج ۲ ص ۸)

ترجمه: شیخ ددې حدیث یعنی څوک چه قران مجید حفظ کړی دهغه په دواړو پښتو کښې نبوت داخل کړې شی، فرمائی چه صدره یابین عینیه یافی قلبه ئې ولې نه دی فرمائیلي، وجه داده چه دنبی درجه کومه چه ولی دولایت اکتساب کړې ده خوصرف دنبوت په نور کښې دتلوپه وجه باندې ده، هم دغه مطلق تبلیغ نه رسالت ګڼړی، پس په باب ثامن وثلاثین کښې فرمائیلی. (ترجمه ختمه شوه) لمااغلق اله تعالی باب الرسالة بعدرسول الله ﷺ کان ذالک من اشد ما تجرعت الاولیاء مرارة لانقطاع الوصلة بینهم وبین من یکون واسطتهم الی الله تعالی فرحمهم الحق تعالی بان ابقی علیهم اسم الولی الی ان قال ولماعلم رسول الله ﷺ ان فی امته من تجرع کاس انقطاع الوحی والرسالة فجعل الخواص امة نصیبا من الرسالة فقال لیبلغ الشاهدالغائب فامرهم بالتبلیغ لیصدق علیهم اسم الرسل. (مبحث سادس واربعون ج ۲ ص ۵۶)

ترجمه: کله چه الله تعالی دنبوت اورسالت دروازه بنداوفرمائیله داکارپه ټولوکارونوکښې ډیرسخت ووکوم چه اولیاء ډیرپه سختئ برداشت کړوځکه چه دهغوی اودهغوی په شان دخلقو الله تعالی سره واسطه ختمه شوه، پس الله تعالی په هغوی باندې داسې رحم اوفرمائیلو چه هغوی باندې ئې اسم ولی باقی اوساتلو، اودامضمون دې حدپورې راؤرسیدو چه کله رسول الله ﷺ ته پته اولږیده چه دحضور ﷺ نه پس به دې امت کښې داسې خلق هم وی چه هغوی به دوحی ختمیدوجام ډیرپه مشکله باندې څکوی نوحضور ﷺ دخپل امت خاص خلقودپاره درسالت یوه حصه تجویزاوفرمائیله اوارشادئې اوفرمائیلوچه حاضرخلق دې(داحکمونه) غیرحاضرخلقوته اورسوی، پس هغوی ته ئې دتبلیغ حکم اوفرمائیلو، چه هغوی باندې درسولانونوم صحیح راشی. (ترجمه ختمه شوه) ګورئ دې عبارت کښې تبلیغ ته رسالت فرمائیلې شوې دې څنګه چه دلغت په وجه باندې بعضې تفسیرونوکښې ملائکوته پیریان وئیلی شوی دی، دې ایت کښې جعلوبینه وبین الجنة نسبا. (ط) دالاستتار په معنی کښې یابعضې اقوالوپه عکس کښې، ف ۳ کښې بعضې اقوال دې باب کښې راخی، اوددې نه زیات هم داچه دانسانیت جامعیت ته اصطلاح کښې هم الهیت وئیلې کیږی، پس په ف ۳ کښې به داهم ذکرکیږی بلکه دنبوت معنی خوشیخ دومره عام فرمائیلې چه یوموجودڅیزئې هم ددې نه خالی نه دې فرمائیلې، پس په باب خامس وخمسین وماتة کښې فرمائی.

اعلم ان النبوة التی هی الاخبارعن شئ ساریة فی کل موجودعنداهل الکشف والوجودلکنه لایطلق علی احدمنهم اسم نبی ولارسول الاعلی الملائکة الذین هم رسل فقط (کبیریت علی الهامش ص ۱۱۸) 6/2

ترجمه: پوهیدل پکاردی چه نبوت چه دهغې معنی ده دیوڅیزخبرورکول، داداهل کشف اووجودپه نزدباندې ټول موجوده څیزونوکښې داخل شوې دې(ځکه چه هغوی دخپل کشف په وجه باندې هرموجودته دبعضې حقیقتونوخبرورکوی) خوهغوی کښې چاته هم(دشریعت په معنی کښې نبی اورسول وئیل نه دی پکار، سوادهغې ملائکونه کوم چه رسل دی(هغوی ته به لفظ رسل وئیلې کیږی)لورودہ فی القران الله یصطفی من الملائکة رسلامن االناس ہ ولم یطلق علیهم اسم الانبیاء. (ترجمه ختمه شوه)

اوګورئ دې قول کښې نبوت دټولومخلوقاتودپاره ثابت فرمائیلې دې اوورسره ئې ددې تفسیرهم خودلې دې چه اخبارعن الشئ دې، هم داماعرض کړې وو. اوداچه دې قول کښې فرمائیلی شوی دی چه غیرانبیاء اورسولان دشریعت دمعنی مطابق پرې دعام نبوت اومجازی رسالت دنبی اورسول اطلاق مه کوئ، ددې وجه داده چه دې نه دانبیاء علیهم السلام حضراتوپه شان کښې دمعنی داسې ایهام په حقیقی شرعی اصطلاح کښې کیږی اوداډیره سخته بې ادبی ده اوشرعی طورباندې حرام ده، اوعام طورباندې هم. دیوکارکیدوباندې دوصفیه صیغه نه استعمالیږی، مثلاً چاداسې کاراوکړو کوم چه اکثرډپټی کلکټرکوی. مثلاً اردلی دیوکس درخواست دډپټی کلکټرپه اجازت باندې دهغه په خاص بکس کښې کیخودو، نوددې کارنسبت خوداردلی طرف ته جائزدې، چه هغه په بکس کښې درخواست کیخودو، خوهغه ته به ډپټی کلکټروئیل صحیح نه وی، دغه شان دغیرنبی اوغیررسول نسبت بالمعی اللغوی المجازی شرعاً داوئیل خوجائزدی، چه هغوی کښې دنبوت اورسالت په شان نیابت موجوددې، خوهغوی ته نبی اورسول وئیل به جائزنه وی، اودامضمون شیخ په باب ثالث وسبعین په جواب خامس وعشرین کښې دحضرت شیخ عبدالقادرجیلانی رحمة الله علیه نه لږتفصیل سره نقل فرمائیلې دې، اوموافقت ئې اختیارکړې دې، دهغې عبارت دادې.

وقدکان الشیخ عبدالقادر رحمة الله علیه الجیلی یقول اوتی الانبیاء اسم النبوة واوتینااللقب ای حجر علینا اسم النبی مع ان الحق تعالی یخبرنافی سرائرنابمعانی کلامه وکلام رسول الله ﷺ الخ.

ترجمه: شیخ عبدالقادرجیلانی رحمة الله علیه فرمائی چه انبیاء ته خودنبوت نوم(دعهدې په طورباندې) ورکړې شوې دې، اوصرف مدحی عنوان ورکړې شوې دې، یعنی مونږباندې دنبی نوم ایخودلې شوې دې، ددې باوجودچه الله تعالی مونږته په خپل باطن کښې خپل کلام اودخپل رسول ﷺ دکلام دمعانې خبراکوی (کوم چه دنبوت په کمالاتوکښې یوکمال دې، خوصرف یوکمال دنیابت په وجه باندې ملاویدل اصل کښې اشتراک ته مستلزم نه دی. (ترجمه ختمه

شوه، ددې شرعی مثال داسې دې چه داوئیل خوجائزدی چه الله تعالی انبیاء ته دبعضی غیوب علم ورکړې وو. خوهغې انبیاء ته عالم الغیب وئیل جائزنه دی، چه دصفت په درجه کښې دالله صرف الله تعالی سره خاص دې. دغه شان دلته به داوئیل خوجائزوی چه اولیاء ته دنبوت بعضې کمالات الله تعالی ورکړې دی خوهغې اولیاء ته نبی وئیل جائزنه دی.

الحمدلله پخپله دشیخ دتصریحاتونه دشیخ اومسئلې باره کښې شکونه ختم شول، بلکه پخپله هغه عبارت کوم چه داعتراض سبب دې، اوداعتراب عنوان سره نقل کړې شوې دې دجواب دپاره کافی دې، دغه شان دې بحث په وجه چه دنبوت اورسالت کوم مخکښې بحث دې، هغه هم یودلیل دې، پس دداوروبیان په ف ۴ کښې راغلې دې، اوددې تحقیق په وجه باندې داهل ضلال واضلال هم ابطال اوشو، کوم چه دشیخ دکلام نه دخه حمار دعیسائی کیدودعوې تائیدکوی، اوددې باندې هم داشعرخولې ته راځی

بنمائے بضاحت نظرے گوهر خود را
عیسی نتوان گشت بتصدیق خرے چند

نواوس ددې دعوې داحالت پاتې شو

وقوم یدعون وصال لیلی — و لیلی لا تقر لهم بذالک

وان شئت تفصیل الکلام علی اباطیل هدالمدعی فعلیک بالرسائل الشائعة فی الباب من مدرسة دارالعلوم فی دیوبندالخانقاه الرحمانیة فی مونگیر. والله ولی الهدایة وهویتولی الصالحین.

ف: دروم‌بئ فائدې نه لرمخکښې کوم ځائې چه ددې عبارت ترجمه ده. فیصل به فی نفسه هلته مادې عبارت سره یوه وعده کړې ده چه دامضمون به یوخاص عنوان سره دشیخ کلام سره هم نقل کوم، پس هغه دلته نقل کوم قال فی الباب التاسع والستین وثلثمائة بعدکلام طویل فی مدح المجتهدین فعلم ان المجتهدین هم الذین ورثوالانبیاء حقیقة لانهم فی منازل لانبیاء والرسل من حیث الاجتهاد وذلک لانه ﷺ اباح لهم الاجتهادوفی ذالک تشریع عن امرالشارع فکل مجتهدامصیب من حیث تشریعه بالاجتهاد کماان کل نبی معصوم قال انماتعبدالله المجتهدین بذلک لیحصل لهم نصیب من التشریع ویثبت لهم فیه القدم الراسخة ولایتقدم صفوف الانبیاء والرسل لافی صفوف الامم.
(مبحث تاسع واربعون ج ۲ ص ۹۷)

ترجمه: شیخ په باب درې سوه یوکم اویایم کښې دمجتهدینوپه مدح کښې دیواوږدبحث نه پس فرمائی چه ددې نه معلومه شوه چه مجتهدین په حقیقت کښې دانبیاء علیهم السلام وارثان دی،ځکه چه هغوی داجتهادپه حیثیت باندې دانبیاء اورسولانوپه منزل کښې دی، اوداسې دی چه هغوی دپاره نبی کریم ﷺ په احکاموکښې اجتهادکول جائزفرمائیلی دی،

اوداشارع په حکم باندې یوتشریع دې. پس هریومجتهددخپل اجتهادی تشریع په حیثیت باندې مصیب دې، ځنګه چه هریونبی معصوم دې، اوداهم فرمائی چه الله تعالی مجتهدینودپاره اجتهادعبادت جوړکړې، هغه صرف دې دپاره چه هغوی ته هم دتشریع یوه حصه ملاؤشی، اواجتهادکښې دهغوی قدمونه راسخ شی، اواخرت کښې یوکس (دمحمد ﷺ ددورنه) دهغوی نه علاوه نبی کریم ﷺ باندې مقدم نه وی، پس ددې امت عالمان کوم چه دمحمدیه شریعت حفاظت کونکی دی، هغوی به دانبیاء اورسولانوپه صفونو کښې محشور وی په عام صفوفوکښې نه. (ترجمه ختمه شوه) اوګورئ عام مجازی نبوت سره چه څوک موصوف کړې شوې دی هغوی ته چه کومه وحی کیږی هغه خوصرف دهغوی ذات پورې محدووده، اوهغه هم په خاص معارفوکښې په تشریع کښې نه، اودمجتهدینو عالمانو اجتهاددتشریع په رنګ کښې نوروباندې هم حجت ده، نودانبیاء علیهم السلام درجه دمجتهدینونه هم کمه ده، دې نه ددې مجازې نبوت اندازه کولې شئ اوداچه فرمائیلی چه مجتهدینوته یوه حصه دتشریع نصیب کیږی ددې تفسیریه دویم قول کښې پخپله باندې فرمائیلې دې

قال فی باب الجنائزحات وجعل وحی المجتهدین فی اجتهادهم اذااجتهدلم یحکم الابماراه الله تعالی فی اجتهاده ولذلک حرم الله تعالی علی المجتهدان یخالف ماذی الیه الاجتهاد کماحرم علی الرسل ان تخالف ماأوحی به الیهم فعلم ان الااجتهادنفحة من نفحات التشریع ماهوعین التشریع الی ان قال فقداشبه المجتهدون الانبیاء من حیث تقریرالسارع لهم کل مااجتهد واجتهدوفیه وجعله حکما شرعیاانتهی. (مبحث تاسع واربعون ج ۲ ص ۹۷)

ترجمه: شیخ دفتوحات په باب جنائزکښې فرمائیلی دی چه الله تعالی دمجتهدینووحی دهغوی په اجتهادکښې ایخودلې ده، ځکه چه مجتهد هم هغه حکم کړې دې کوم چه الله تعالی هغه ته په اجتهادکښې وئیلې دې، اوهم په دې وجه باندې الله تعالی په مجتهدباندې حرام فرمائیلې چه دهغې خلاف اوکړی، دکوم امرپورې چه دهغه اجتهادرسیدلې دې ځنګه ئې چه رسولانوباندې حرام کړی دی، چه هغوی به دهغې حکم خلاف نه کوی کوم چه هغوی ته وحی په ذریعه باندې ورکړې شوې دې، پس معلومه شوه چه اجتهاددتشریع په شعبوکښې یوه شعبه ده، تشریح نه ده. دې ځائې پورې مضمون تلې دې چه مجتهدین دانبیاء علیهم السلام په شان شول، داسې چه شارع دهغوی اجتهادی حکمونه ثابت کړی دی، اوددې ته ئې شرعی حکم وئیلی دی. (ترجمه ختمه شوه)

دې عبارت کښې وئیلی شوی دی چه اجتهادپخپله باندې تشریع نه دې، دتشریع یوه شعبه ده، اوددې عبارت کښې اجتهادته وحی وئیلې شوې ده، حالانکه یقیناً وحی بالمعنی الشرعی نه ده پس داولیاء الهام خوددې نه هم دکمې درجې شو، ځنګه چه ذکرشوی دی چه هغه دنوروپاره حجت هم نه دې نودې ته وحی وئیل بالمعنی الشرعی الحقیقی ځنګه شو؟

اودبعضی بزرګانوپه کلام کښې چه کوم خاص قیودسره کشفیه علوم دصحت اوخاص شرطونو سره دالهام مامون عن التلبیس کیدل ذکردی،اول خوهغه متفق علیه نه دی اوبیادهغې قیوداوشرطونواجتماع ډیره کمه ده، اوالنادرکالمعدوم دنوروصحت سره حجت شرعیه لازم مه ګوری اداركات په اکثرحالاتوکښې صحیح اوغیرملتبیس وی، خواکثرځایونو کښې دشرعه اعتبارسره حجت نه وی، مثلاً دنمردسپوږمۍ نه اعظم کیدل دغلطۍ اوالتباس نه محفوظ دی، خوددې عقیده ساتل شرعی طورباندې واجب نه دی، که څوک وائی چه سپوږمۍ نه دنمرنه اعظم ده خوددیرلرې والی په وجه باندې وره ښکاری نو ګناهګاربه نه وی البته په رویت هلال کښې ددې ادراک شرعې اعتبارکړې دې هلته به حجت وی اودکشف اوالهام هیڅ شرعی دلیل نشته، پس حجت به نه وی اوقیاس چه دحجت دلیل دې هغه به حجت وی.

ف ۳: ړومبۍ فائده کوم ځائې چه دشیخ قول دې الماغلق الله باب الرسالت بعدرسول الله ﷺ الخ. ددې په ترجمه کښې وعده کړې شوې ده چه چاباندې دملائکو داطلاق کیدوباب کښې اودانسان په بعضې مرتبوکښې لفظ په لفظ دالهیت اطلاق کیدوپه باب کښې څه اقوال نقل کړې شوی دی، هغه دلته نقل کوم.قال القاشانی فقدبان ان الاعتراض والطعن فی ادم لم یصدمن ملئکة الجبروت اذالتزاع لایکون الامن رکب من الطبائع العنصریة لمافیهامن التضاد اذالمتکون منهالایکون الاعلی حکم الاصل انتهی قال بعضهم لعل مراده بهؤلاء الملئکة القاطنین بین السماء والارض نوع من الجن سماهم ملئکة اصطلاحاله. (مبحث دس وثلثون ج ۲ ص ٤١)وفی تفسیرالبیضاوی ولان عباس روی ان من الملئکة ضربایتوالدون یقال لهم الحق الخ.

ترجمه: شاقانی وئیلی دی چه تاسوباندې ښکاره کړې شوچه دادم علیه السلام په باب کښې اعتراض اوطعن دملائکه جبروت نه ثابت نه دی، ځکه چه اعتراض هم ددهغوی نه صادرکیدې شی،کوم چه دڅلوروڅیزونونه جوړوی،چونکه دې څیزونوکښې تضاددې، ځکه چه کوم څیز ددې نه جوړوی هغه به دخپل اصل په مقتضاوی. بعضووئیلی دی چه کیدې شی دشاقانی مراددهغه ملائکوکومې چه دزمکې اواسمان په مینځ کښې دی یوقسم مرادوی، هغې ته ئې په خپله اصطلاح کښې ملائکه وئیلې وی،اوتفسیربیضاوی کښې دی چه دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چه دملائکویوقسم چه هغوی کښې تولداوتناسل هم کیږی اوهغوی ته پیریان وئیلې کیږی. (ترجمه ختمه شوه) نوځنګه چه پیریانوته ملائکې اوملائکوته پیریان وئیلې کیدې شی، دغه شان شیخ پخپله اصطلاح کښې کومه چه لغت ته نزدې ده نبوت اورسالت په عام معنی کښې اخلی، اودفصوص په ړومبی فص کښې داعبارت دې. فص حکمة الهیة فی کلمة ادمیة یعنی ددې علمونوخلاصه چه مطلق ده،دمرتبه الهیه نه چه ښکاره شوې ده، کلمه یعنی دانسان په ذات کښې اوالحل الاقوم کښې احقرتحقیق کړې دې چه الهیه یواصطلاحی لفظ

دې، دې نه مراد دجامعیت مرتبه نه ده، الی قولی.اوداصطلاح طعن سبب کیدل نه ده پکار،چه دبنده دپاره الهیت ثابت کړی داصطلاح ده،ولامشاخة فی الاصطلاح څنګه چه حکماء حکمت الهیه هغه علمونوته وائی کوم چه دهغوی دموجوداتوباره کښې وی، څه چه دمادې نه مستغنی وی، په خارجی وجود کښې هم اوذهنی وجود کښې هم،اودې موجوداتوکښې بعضې ممکنات هم شته. اوبیاهم داصطلاح په وجه باندې چاته توحش نه وی، پس څنګه چه عبارت کښې بنده دپاره الهیت حکم کول بناء علی الاصطلاح الخاص دغه شان غیرنبی دپاره دنبوت حکم کول بناعلی الاصطلاح الخاص.اودغه شان اصطلاح عارف رومی په خپل شعرونوکښې استعمال فرمائیلې ده.

(۱) دفرچهارم سرخی زادن ابوالحسن خرقانی رحمة الله علیه بعدازوفات بائزید رحمة الله علیه)

لوح محفوظ است اوراپیشواء   ازچه محفوظ است محفوظ ازخطا
نے نجوم ونه رمل است دنه خواب   وحی حق والله اعلم بالصواب
ازپے رو پوش عامه دربیان   وحی دل ګویند او را صوفیان
وحی دل ګیرش منظرګاه است   چون خطاباشدچودل اګاه اوست

(الابیات الاربعه)

دلته منتهی کامل یعنی دبائزید رحمة الله علیه دالهام کشف ته وحی وئیلې، اووحی دل ګویند کښې ددې اصطلاح کیدل ښکاره فرمائیلی دی،.اوروپوش عامه مفسرباخفاعن العوام کښې دوه مصلحتونوطرف ته اشاره فرمائیلې، دمتکلم داتهام نه بچ کیدل اود مخاطب دایهام نه بچ کیدل اومحفوظیت عن الخطاء تحقیق دفائده (۲) په اخرکښې تیرشوې دې،(نمبر ۲ دفترچهارم سرخی خطاب بامعروران دنیا)

نفس اګر چه زیرک است و خورده دان
قبله اش دنیا ست او را مروه دان
آب وحی حق بدین مرده
رسید شد ز خاک مرده زنده پدید
تانیا بدوحی زو غره مباشتو بدان
ګلګو نئه طال بقاش

(الابیات الثلثه) دلته درمیانه بلکه مبتدی سلوک(چه خروج عن الموت النفسانی خوابتداء کښې هم حاصلیږی) احوال اوواردات ته وحی فرمائیلې. (نمبر ۱ دفتراول سرخی کشتن زرګرباشاره الهی بودالخ)

اوتکشتش ازبرائے طمع شاه   تانیا ید امر و الهام اله
انکه از یا بد او وحی و خطاب
هر چه فرماید بود عین ثواب

(البيين) دلته الهام تصريفات تكوينيه ته وحی فرمائيلې، کوم چه ادون ده دالهام تعريفات شرعيه نه، دهغې پورته شعرونو کښې ذکرشوې دې، اودې ځائې کښې دحضرت مرشدی رحمۃ اللہ علیہ يوملفوظ مروی المعنی زمادلاس ليکلې شوې بين السطورملاوحی دوه قسمه باشد ګاه دی، بملک ګاه، دادزړه اشاره ده، دذکرشوی تحقيق داقتراب شروع طرف ته. اعلم ان الملک ياتی النبی بالوحی الخ. يعنی الهام دغيرنبی وارد کيږی تلفی عن الملک نه وی اودزړه نه دلته هم مراداوابيات اولی په لفظ کښې وحی زړه کښې هم مطلق باطن ده، لئلايعارض مامرفی ابتداء ف نمبر۱ من قوله انمالم يقل الخ. اواخری ابيات کښې چه کوم لفظ امرذکرشوې دې داامرتکوينی دې. پس دامعارض نه دې، عبارات نافيه الهام امرونهی په فی ابتداء الاقتراب سره ذکرشوې اوددې نه قطع نظرچه دمخکښې امتونوواقعه ده، کمادل عليه قول الرومی فی مبداء القصة بووشادده، درزمانے پيش ازين فلااشکال فی التفهيم فافهم حق الفهم ولاتفع فی قبل په اقتراب کښې[4] کوم چه شبهه عبارت بالکل ختموی، ځکه که چرې نبوة دهرولی دپاره ثابت وونودې عبارت به هيڅ معنی نه وه، چه فالکلام فی رسالة النبی مع ولايته لافی رسالة ونبوته مع ولاية غيره. کوم چه ترجمعې سره هغه ځائې کښې تيرشوې دې. ځکه چه دداسې ولی خوبه تحقيق نه ووکوم چه نبی وو، دې نه ترقی کولوسره وايم چه کوم عبارت کښې داشبهه ناشی وی که هغې باندې غوراوکړې شی نوهغه پخپله باندې شک نه پيداکوی، ځکه چه هغې کښې ړومبئ تصريح ده، اوهغه منقطع څيزنه دې ولايت دې. کوم چه عام طورباندې دالاخبارسره مفسرکړې شوې ده، بيادروايت سلسله منقطع کړې ده اودتشريع قيدسره شک نه دی کول پکار، ځکه چه تحقيق شوې چه هرنبوت په حقيقت کښې تشريع تضمن لاحکام وی، پس داقيدحقيقی دې، ددې نه پس وئيلې شوی دی. وهذاالحديث قصر ظهور الاولياء لانه يتضمن انقطاء العبودية الکاملة التامة کوم چه دترجمې سره هم هغه اقتراب کښې تيرشوې دې، ددلالت وجه داده که چرې نبوة حقيقی عام وې نوعبديت کامله تامه څه چه نبوت دپاره لازم دی، به ولې منقطع کيدو، بيابه اولياء دمنقطع کيدوحسرت ولې وو.

ف ۵: دې اقتراب کښې دشيخ قول دترجمې سره نقل کړې شوې دې لاذوق لنافی مقام النبوة لنتکلم عليه انماتتکلم علی ذالک بقدرمااعطينامن مقام الارث فقط. الخ. دې باندې مانه يو دوست تپوس اوکړوچه فصوص کښې خودانبياء علیہم السلام په کمالاتوباندې بحث دې، دلته دکلام نفی څنګه کوئ، ماچه ورته کوم جواب ورکړودهغې خلاصه داده چه نفی دهغه کلام ده

[4] ړومبئ فائدې په اخرکښې داقتراب حاشيه اولولئ ۱۲.

کوم چه دذوق نه ناشی وی اوکوم کلام چه ربنتياوی داصرف نقل دې، اودې ماخذ کشف دې، کوم چه دفصوص په خطبه کښې ذکرشوې دې، چه رايت رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم وبيده کتاب فقال لی هذاکتاب فصوص الحکم خذه واخرج به الی الناس پس څه اعتراض پاتې نه شو. وهذااخرماارد ت ايراده فی هذالباب ووفقت له کماکان يشتهی قلبی والحمدلله الهادی الی الصواب. (تمة خامسه ص ۴۹)

معنی قوله تعالی نحن اقرب اليه من حبل الوريد

سوال: (۲) قول الله تعالی نحن اقرب اليه من حيل الوريدوقال وهومعکم. الاية فمن الناس من يقول القرب باعتبارالذات والوصف ويقول بعض الناس ان القرب يحسب الوصف فقط فای الحذبين علی الصواب وای الفريقين علی الحق وان کان الله قريباً بالذات هل يقرب مه کون استوانه علی العرش ام الاثم الذين يقولون بالقرب الوصفی يدعون بالقائلين بالقرب الذاتی انهم کفروايقولهم بالقرب الذاتی هل يجوزنسبت الکفرالی من قال ان القرب ذاتی ام لا.

جواب: لمان کان المتباردعندالعامة من المعية الذاتية فی المعية الجمسمانية انکرهاالعلماء وکفر بعضهم القائلين بهاولواريدبهاالمعية الغيرالمتکيفة فلامحذورفی القول بهاوالامتناء فی اجتماعها بالاستواء لان الذات ليست بمتناهية والمعية ليست بمتکفية ومن لم يقدرعلی اعتقادهابلاکيفية فالاسلم له ان يقول بالمعية الوصفية فقط وبهذاالتقريرخرج الجواب من کل سوال وارتفع کل اشکال والحمدلله الکبيرالمتعال عن کل مقالوخيال. (تمة خامسه ص ۹)

نفی شوم است خانه وغيره

سوال: (۳) داخبراوريدلې شوې ده چه اس اوکورکښې نحوست وی، يعنی هغه کورخراب دې کوم چه درې ګوتيزوی، نواياداسې کوردمنحوس کيدوخيال سره پريخودل پکاردی؟

جواب: داعقيده باطل ده. تاريخ بالا. (تمته خامسه ص ۱۸)

جواب شبه بر عبارت بهشتی زيور

سوال: (۴) بهشتی زيورباب، کوموخبروباندې چه دکفرشک کيږی دهغې بيان (که څوک دلرې نه راؤبللې شی اوهغه دااوګڼړی چه هغه واؤريدل نوداکفردې) دې کښې د'چا، نه مراد څوک دی؟ ياژوندې کس مراددې اوکه مړ؟ دلته مړنه شوئيلې ځکه چه ددې نه ثابتيږی که چرې نزدې ورتلوسره راؤبللې شی نوجائزدی. که ژوندې رابلل کفردې نوحوالې سره اوليکئ.

جواب: مطلب دادي چه کوم ځائې نه اوريدل دعادت مطابق ممکن نه دی، دهغه ځائې نه رابلل دغائب دعلم اعتبارسره ځنگه چه داهل لغوعادت دې. دامطلب دهغې الفاظوسره تمثيل کړې شوې دې. (۱۷صفر۱۳۳۷هـ تمته خامسه ص ۸۱)

کافربودن شخصه که باوجود بلوغ

سوال: (۵)يوعرض دې چه کوم کس ته درسالت خبروی اودرسالت اونبوت قائل کيدوباوجودهم صرف د لااله الاالله قائل دې نوهغه ناجی دې اوکه نه؟

جواب: نا.

سوال: (٦)ياخالداً آمخلداً دوزخی دې؟

جواب: او.

سوال: (۷) نوبيادې حديث څه جواب دې په کوم کښې چه دی چه حضور ﷺ به خپل امتيانو دپاره درې ځله سفارش کولوسره به څلورم ځل باندې موحدينودپاره دشفاعت کولواجازت اوغواړی، نواجازت به ورته ملاؤنه شی اوالله تعالی به فرمائی انت لست له اوکما قال اوبيابه الله تعالی هغوی جنت ته داخل کړی. حديث دې کښې دابنکاره دی چه هغوی به صرف دلااله الاالله قائل وی؟

جواب: اياداهم ددليل نه ثابت دی چه هغوی ته دنبوت خبررسيدلې وو، بياهم هغوی نه دې قبول کړې. (۲۲ محرم ۱۳۳۹هـ تمته خامسه ص ۱۷۵)

تحقيق عقيده موجود بودن حق تعالی هرجا

سوال: (۸)ديوڅوکسانوپه يوې معاملې باندې جهګړه ده. يوډله وائی چه الله تعالی په څه خاص کښې موجودنه دې، بلکه الله تعالی هرځائې کښې موجوددې، اوس پاتې شوداسوال چه ځنګه، نوداخبره زمونږدپوهې نه بهرده، دويمه ډله وائی چه الله تعالی په عرش معلی کښې دې، ځنګه چه ځائې په ځائې دقران نه ثابت دی. يوځائې کښې فرمائی چه دمرګ نه پس روحونه مونږخپل ځان ته راؤبلو، اودخوب په حالت کښې هم، خودمقرروخت پورې، اوداوده شوی خلقوروحونه واپس کړو. ددې نه معلوميږی چه الله تعالی چرته موجوددې، معراج کښې رسول الله ﷺ عرش معلې پورې اورسولې شو، اوکوم وخت چه الله تعالی ته نزدې شول نواوازاوشو، اودريږئ دې وخت کښې ستاسورب په صلوة کښې مشغول دې، بياروايت کښې خبرې هم اوشوې، ددې نه معلوميږی چه الله تعالی په عرش معلی باندې موجوددې. جبرائيل عليه السلام به وحی راؤړله ددې نه هم ثابتيږی چه الله تعالی په عرش معلی باندې موجوددې، اودټولې دنياانتظام هم هلته

کيږی. جنتيانوته به دالله تعالی پوره ديدارنصيب کيږی کم نه، اودجنت په يوځائې کښې به وئيلې کيږی چه سراوچت کړئ، کله به چه هغوی سراوچت کړی نوخپل رب به وينی، دې نه هم ثابتيږی چه الله تعالی پورته دې يعنی عرش معلی باندې. اوس پاتې شوه داخبره چه الله تعالی حاضراوناظردې نودې کښې هيڅ شک نشته، خودحاضراوناظرمطلب دادې چه هغه هرڅه وينی، هرڅه اوری، ځنګه چه نزدې ناست کس هرڅه اوری اووينی. بلکه الله تعالی دزړونودرازونونه هم خبردې. جواب واضحه راکړئ چه دبې علمه په پوهه کښې هم راشی.

جواب: مسئله نازکه ده، انسانی عقل ددې دتحقيق نه عاجزدې. په دې وجه باندې دې کښې بحث جائزنه دې، خاص طورباندې ليکل خوبالکل کافی نه دی. خاص طورباندې کله چه متداوله علمونوکښې اتفاق نه وی، جواب خوهم دومره مصلحت وو، خوستاسودشوق اوپوهې دتقاضې په وجه باندې به مختصراولږشان څه اوليکم. ددا رووډلوخبرې مبهم اودتفسيرمحتاج دی، دړومبئ ډلې که چرې دامرادوی چه الله تعالی هرځائې کښې دهواپه شان موجوددې، اوخوردې، نوبياغلط دی، ځکه چه ددې نه لازم راځی چه الله تعالی مکانی وی. دنورومکانياتونه به ئې صرف دومره امتيازوی چه دنورومکان محدوددې، اودالله تعالی مکان لامحدود، پس مکانی کيدل چونکه احتياح الی المکان ته مستلزم دې، اواحتياج نه الله تعالی برَی دې، په دې وجه باندې دمکان هم برَی دې، بلکه که غوراوکړې شی نودې کښې دنورومکانياتونه هم زيات احتياج ثابت دې، چه نورخوديومکان محتاج دی اوهغه به دهريومکان، نعوذبالله. که چرې دامرادوی چه دالله تعالی تجلی ځنګه چه دالله تعالی دشان حيثيت دې، عرش سره خاص نه دې، ځنګه چه عرش باندې دې دغه شان غيرعرش کښې هم دې، نودامسئله دڅه نقل قطعی الدلالة يادڅه عقلی دليل خلاف نه ده، بعضې صوفياء دې طرف ته تلی دی، په دې وجه باندې ددې دقائل کيدوګنجائش شته. دبعضې ايتونواواحاديثوظاهری لحاظ هم ددې مطابق دې. مثلا وهومعکم اينما کنتم. اودترمذی حديث دې. لوولیتم حبلاالی الارض السفلی لهبط علی الله ومثلهما. اوکه دې کښې تاويل اوکړې شی نوتاويل بل طرف ته هم کيدې شی، مثلاً دعرش څه عام تجلئ سره ياڅه تجلئ نه مشرف کيدل اونحو، خوکوم کس چه ددې قائل وی دقطعی وجه نه کيدوپه وجه دويم خيال ساتل هم واجب دی. دغه شان که ددويمې ډلې که دامرادوی چه عرش دالله تعالی دپاره مکان اوخيزدې نودمکانيت انتقاء اوس معلومه شوې ده بلکه يوه معنی کښې مکان مزکوره کښې دمخکښې هم زيات نقص راځی. ځکه چه پورته خودغيرمحدودمکان ذکرشوې وو، کوم چه دعظمت مشعردې، اودلته خوعشرسره هم دهغه محاظ لازم راځی. اوکه چرې دامراددې چه دالله تعالی عرش سره داسې خصوصيت دې کوم چه دعام پوهې نه بهردې نودښکاره نصوص مطابق دې، ځنګه چه سوال کښې داسې نصوص ته اشاره شوې ده. دادنقل شوی قولونوحواله ده. باقی صحيح

دادی چه دي کښې خبرې نه دی کول پکار، اوحقیقت الله تعالی ته حواله کړي شی. فی التفسیرالمظهری تحت قوله تعالی ثم استوی الی السماء والصوفیة العلیة کما اثبتوا معیة لاکیف لها الی قوله لذلک اثبتواتجلیاخاصارحمانیاعلی العرش وفیه تحت قوله تعالی مع الصابرین بل معیة غیرمتکیفة یتضح علی العارفین ولایدرک کنه الخ وفیه تحت قوله تعالی یاتیهم الله فی ظل الایمان به وتفویض الی الله تعالی والتحاشی عن البحث فیه وهومسلک السلف الخ. (۱۱رجب ۱۳۴۱ھ تمته خامسه ص ۲۳۸)

عقیده اختصاص حق تعالی باعرش

سوال :(۹)خواست دي چه رساله **تائیدالحقیقة بالایات العقیقة** په ص ۳ باندي جناب لیکلی دی. دمحدثینو په مقابله کښې دصوفیانوقول صحیح دي، چه هغوی دالله تعالی دپاره علوجهت نه ثابتوی کماصرحتم بان هذادلیل علی انه ماخصص مکان الله بالعرش ولایجهة دون جهة فافهم. حالانکه څلورواړه امامان اوڅلورواړه مذهبونه اوټول محدثین چه هغوی جناب دظاهرسره تعبیرکړی دی، ټول دالله تعالی علوجهت ثابتوی. وجاء فی حدیث صحیح فاشارت الی السماء فی الجواب عن سول رسول الله ﷺ این الله الخ فثبت ان الله تعالی علی العرش کماهومذهب امام المدینة مالک رحمة الله علیه واکابر المحدثین امام الائمة وسراج الامة ابی حنیفة رحمة الله علیه وفخرالمحدثین الامام البخاری رحمة الله علیه، وقدوة السالکین الشیخ عبدالقادرجیلانی رحمة الله علیه والامام احمدبن حنبل والشافعی رحمة الله علیه والشیخ الامام ابن تیمیه رحمة الله علیه الحرانی وتلمیذه الامام.الحافظ ابن قیم کښې داهل سنت والجماعت اواهل الحدیث عالمان، اوهم دا مسلک دي.حجة الهندحضرت مولاناوشیخ شیوخناشاه ولی الله مرحوم دهلوی وغیره اولولئ. فقه اکبروشرح فقه اکبرمصنفه ملاعلی قاری رحمة الله علیه وشرح حدیث نزول مصنفه امام ابن تیمیه رحمة الله علیه وصحیح بخاری وفتح الباری وقسطلانی وصحیح مسلم وصحیح ترمذی وتفسیر مدارک وجامع البیان فتح البیان وحجة الله البالغه وکتاب الصفات. امام ذهبی وتفسیر معالم وتفسیرجلالین وقصده نونیه مصنفه حافظ ابن قیم حنبلی رحمة الله علیه وغنیة الطالبین ومشکوة شریف. وابوداؤد، تفسیرابن کثیردرمنثور. تفسیرابن جریروغیرها.غرض داچه دسلف صالحین صحابه اوتابعینو رحمة الله علیه اواما‌مانو اومجتهدینواودټولومحدثینومذهب دي چه الله تعالی عرش باندي دي، اودي معیت اواحاطه علمی معلومیږی، چه جناب والادي مهتم بالشان اواعتقادی ثابت دي، اودي دپاره علوجهت مسئلي باره کښې ډیرتحقیق نه دي فرمائیلي. اودمعتزله اواهل سنت مسئله ئي ګډه وډه کړي ده. هم په دي وجه باندي جناب په تفسیرالقران کښې هم داسي معنی لیکلي ده،چه دهغي په وجه باندي دمعتزله مذهب ته تقویت اودجهمیه دمذهب تائید کیږی. اودمولوی ثناء الله صاحب

امرتسری توافق وی اوداهل سنت خلاف وی. حالانکه دمحققینوصوفیائے کراموهم دامسلک دي، کوم چه داهل سنت والجماعت واهل حدیث دي. دسیدالطائفه حضرت جنید بغدادی رحمة الله علیه دمذهب بالکل نه دي چه دهغي نه دقران کریم دنصوص اودنبی کریم ﷺ داحادیثوخلاف لازم راځی. باطنی فرقي دخپل مذهب په تائید کښې دجنید رحمة الله علیه طرف ته غلط روایتونه منسوب کړی دی، اودهغه ئي خپل ځان سره دیوځائي کولوجرات کړي دي.اوخپل نوم ئي صوفی ایخودلي، اودخلقوئي ځان طرف ته دراغب کولوطریقه جوړه کړي،اومتکلمین کوم چه فلسفه کښې اینختي دی، اوبیاراؤنه وتي شول، لکه امام رازی اوامام غزالی رحمة الله علیه اودهغوی تحقیق شرعی طورباندي حجت نه دي، حالانکه دبعضونه نقل دی چه غزالی رحمة الله علیه دي مسئله کښې رجوع کړي ده. اودمعتزله دمذهب اودمتکلمینودعادت نه ئي توبه کړي ده، څنګه چه دکیمائے سعادت دعبارت نه پته لږی.

جواب : زه دي عقیده کښې دسلف حضراتوپه مسلک باندي یم چه نصوص په خپل حقیقت باندي دی،خوکنه ددي راته معلومه نه ده، اودصوفیائے کرامومذهب دسلفوخلاف نه ګڼړم، هغوی دحقیقت نه منکرنه دی، بلکه دجهت منکردی، اودجهت نفی نه نقل اوعقل دواړونه ثابت ده.اماالنقل فقوله تعالی لیس کمثله شی واماالعقل فلان الجهة مخلوقة حادثه والله تعالی منزه عن الانصاف بالحادث لان محل الحادث حادث اوداستواء یاعلوحکم دمستلزم جهت ته نه دي، که دجهت حکم اوکړي شی نوداستواء اودعلوکنه به معلومه شی،کومه چه پخپله باندي دسلف حضراتوخلاف ده،چه هغوی دکنه دنامعلومیدوتصریح فرمائی،پس حاصل داشوه چه استواء اوعلوکښې دوه حیثیتونه دی، یومع الحکم بالجهت یومع عدم الحکم بالجهة بل مع الحکم بعدم الجهة. ړومبي مذهب دمجسمه دي، دویم مذهب داهل سنت دي، په دي کښې محدثین اوصوفیاء کرام ټول داخل دی، که دیوعبارت نه ددي دخلاف ایهام کیږی نوهغه تسامع فی التعبیردي، څنګه چه دتائیدالحقیقه عبارت نه وهم شوي دي ګنی هغي کښې نه دی لیکلي شوي چه دصوفیانوقول په نسبت الخ صرف دلزوم شک شوي دي څنګه چه صرختم کښې-ددي اقراردي،هغه چه مسلم نه دي اودتقدیرمطابق به تسلیم لزوم په دي باندي محمول کړي کیږی، چه بعضي خلق کوم چه دنصوص نه اثبات جهته ګڼړی دهغوی په مقابله کښې نفی جهته صحیح دي، ګنی په حقیقت کښې چه کوم مذهب دمحدثینودي هغه مذهب پخپله دصوفیائي کراموسره معارض نه دی،پس که چرې دیو غیرمحقق نه ددي خلاف نقل وی هغه غیرمقبول دی، دسورۀ اعراف باره کښې ماددي نه مخکښې عرض کړي دي اوهغه ماته هغه وخت نه دي ملاؤشوي، که محفوظ وی نوهغه هم اوګورئ، هغه به هم انشاء الله تعالی ددي

خلاف نه وی اوکه محفوظ نه وی نوبیان القران کښې ددې ځائې حاشیه اوګورئ، چه دسلف مذهب ته دې باندې ترجیح ورکړې شوې ده. (۲۱ ربیع الاول ۱۴۳۹ھ النورماه رجب ۱۳۴۹ھ)

رساله تمهیدالفرش فی تحدیدالعرش:

سوال:(۱۰) دالله تعالی دحمداوصفت نه پس، احقرپه خپل تفسیربیان القران سورۂ اعراف کښې دایت ان ربکم الله الذی خلق السموت والارض فی ستة ایام ثم استوی علی العرش الخ. کښې دثم استوی علی العرش تفسیردې عبارت سره لیکلې دې، بیاعرش(یعنی شاهی تخت) باندې قائم شو، (یعنی زمکه اواسمان کښې حکمونه جاری کول شروع کړل) اودې عبارت کښې یوه حاشیه لیکلې ده. (فسرته بحملی ایاه علی الکنایة عن تدبیر کمایؤیده قوله تعالی فی بعض الایات بعدالاستواء یدبرالامروانما حملته علیهاالسهولة فهمه للعوام والارجح حمله علی الحقیقة وتفویض حقیقتهاالی الله تعالی ولایردان الملک لم یزل الله تعالی فمامعنی تاخره عن خلق العالم لانی اقول ان المرادالتدبیرالخاص فی السموت والارض ظاهرانه یتاخرعن خلقهما ولایلزم منه حدوث الصفة بل حدوث الفعل ولامحذورفیه فافهم. یوځائې نه دیوڅواعتراضونوباره کښې دې عبارت باندې په یوځل دوه درې عنوانانوباندې سوالونه راغلل، چه دهغې حاصل دزیاتوالی دخذف کولونه پس ومطاعن متعلقه علماء وصوفیاء داوو، چه دې تفسیرکښې دسلف مخالفت کړې شوې دې اود هر سوال باره کښې به جواب نرم وو، خوراتلونکې کال ددې باوجودچه دې سوال باندې څه علمی شک اوکړې شی مستقل طورباندې به هم مخکښې سوال دوباره کیدو، اودې باندې به زوروچه طریق اوتاویل کوم چه دروستی اهل سنتومسلک دې بالکل باطل اوجهالت اوګرځولې شی اخرکښې داجواب ورکړې شوچه دهغې حاصل داوو، چه اوس به تاسوته جواب نه درکولې کیږی. تاسوچه کوم سوالونه رالیږئ هغه به ایخودلې کیږی اوخالی ذهن سره به دهغې دمطالعې کولونه پس چه کومه خبره دقبلولوقابل وی هغه به د(ترجیح الراجح) په طورباندې چاپ کړې کیږی، اودوعدې مطابق هغه سوالونه محفوظ کړې شول، چه اطمینان سره به هم هغه شان عمل کول وی. سوال کونکی په خپل اخری سوال باندې مشتمل برردوقدح متجاوزعن الحدود دخپل یکم اپریل ۱۹۳۳ء په اخبارکښې چاپ کړو، چه دهغې ضروری اوغیرضروری کیدل زمااودهغوی په مینځ کښې مختلف فیه دې، او دې سره ئې دخپل اخبارمدح هم اولیکو. ترڅوپورې چه زمازړه باندې[5] دناګوارئ

5) دې رساله کښې چه څومره قیمتی علمی فائدې دی دهغې خوبه عالمان قدرکوی، دلته دمصنف قدس سره داطرزعمل دهرمسلمان دپاره دتقلیداوهمیشه یادساتلوقابل دې، چه شرعی مسئلوکښې دعملی زنګ

اوس الحمد لله خپل نفس مې اثرو و، ماپرې څه لیکل مناسب نه ګڼړل، چه دشوب نفس ویره وه، دهغې اثرنه خالی اوموندلو، په دې وجه باندې خذماصفاودع ماکدر مخې ته ساتلوسره دهغې باره کښې ضروری مضمون لیکم، اوهغه هم دمناظرې په شکل کښې نه چه زه دامقیدنه ګڼړم بلکه دتحقیق په طریقه باندې مسئله دترجیح الراجح حصه جوړوم. اوچونکه درسالې اصل مقصد دسوال کونکی دبحث استواء وه، هم دهغې مناسبت سره ددې لیک لقب تمهیدفی الفرش فی تحدیدالعرش اږدم. اللهم ارناالحق حقاوارزقنااتباعه والباطل باطلاً ورزقنااجتنابه ربنالاتزغ قلوبنابعداذهدیتناوهب لنامن لدنک رحمة انک انت الوهاب. دتحقیق مقام دادې چه ددې په امثال کښې اهل حق حضرات دې باندې متفق دی، چه هغوی سره اتصاف دالله تعالی په شان دمخلوق اتصاف نه دې. دامسئله دعقل نه هم ثابت ده، کومه چه دعاقلانوپه نزدباندې بدیهی ده، اولیس کمثله شئ، دې باندې نقلی دلیل دې، عقلی دلیل باندې دبداهته په وجه باندې دتنبهه حالت نه دې، خوروح المعانی کښې دبعضې عارفینونه بلسان العرش یوتقریردعجزاوانکسارئ په حالت کښې لیکلې شوې دې، چه دهغې روح دعرش محدودکیدل اودرب العرش غیرمحدودکیدل دی، اوهم په دې وجه باندې داستواء معنی دمتعارف دباب مسدودکیدل متفرع کړې دی، دعالمانودتفریح دپاره هغه دلته نقل کوم، اوهم داتحدیدعرش ماخذدې. ددې رسالې نوم اوهغه تقریردادې. وماعرف ماقاله بعض العارفین الذین کانوامن خیارالعارف[6] عارفین علی لسان حال العرش موجهاالخطاب الی النبی ﷺ لیلة المعراج حین اشرف شمسه علیه الصلوة والسلام فی الملاء الاعلی فتضاءل کل نوروسراج کمانقله الامام القسطلانی معرضاضلال اهل هدالمذهب الثانی ولفظه مع حذف ولماانتهی ﷺ الی العرش تمسک باذیاله ونا داه بلسان حاله یامحمدانت فی صفاء وقتک. امنامن مقتک+ الی ان کان یامحمدانت المرسل رحمة الله للعالمین ولابدلی من نصیب من هذه الرحمة ونصیبی ان تشهدبالبراءة ممانسبه اهل الزورالی+ وتقوله اهل الغرورعلی+ زعمواانی اسع من لامثل له+ واحیط بمن لاکیفیة له+ یامحمدمن لاحدلذاته + ولاعدلصفاته + کیف یکون متفرا الی + ومحمولا علی+ اذاکان الرحمن اسمه + والاستواء صفته + وصفته متصلة بذاته کیف یتصل بی اوینفصل عنی یااوحدنی منه رحمة وفضلا+ ولومحقی لکان حقامنه وعدلا+ یامحمدانامحمول قدرته

اختلاف غلط اندازاوبدرذویونکوسره څه معامله اوکړې شی، چه دعلمی مسئلوحق هم اداشی اوانتقامی جذبه هم پکښې شامل نه وی. دخلاف اوشقاق خلیج هم ډیرنه شی. داهغه زمانه کښې دحضرت قدس سره په خصوصیاتوکښې وو. والله وره وعنده اجره ۱۴. بنده محمدشفیع عفاالله عنه.

6) من توروهواناء فیه کذافی القاموس ۱۲

+ ومعمول حکمته. بیاد مماثل دنفی نه پس مخکښې دوه طریقې دی. یوه طریقه دسلف ده چه داپه حقیقی معنی باندې محمول فرمائی اوحقیقی معنی کنه ته دالله تعالی په علم باندې مفوض کوی، اوددې څه حالت نه متعین کوی. اودویمه طریقه دخلف ده، چه دې کښې مناسب تاویل کوی، چه ګمراه فرقې مشبهه اومجسمه هغوی په غلطئ کښې ربتیانه کړی، داسې چه ګورئ الله تعالی په عرش باندې مستقردې، اواستقرارمعنی ښکاره خبره ده چه دکیناستوده، نومعلومه شوه چه الله تعالی په عرش باندې ناست دې، څنګه چه مونږتخت باندې کینو، نوهغه هم زمونږپه شان بدنی څیزدې.نعوذبالله، ددې شک جواب اګرچه دسلف په طریقه باندې دادې چه استقرارخوثابت دې خوداضروری نه دی چه زمونږپه شان استقراروی، چه دهغې نه بدن لازم کیدل راځی، بلکه دهغې کنه بله ده. کومه چه مونږته معلومه نه ده. اوداجواب صحیح هم دې، خوعوام په دې باندې پوهول مشکل دی، چه استقرارخوشته خوزمونږپه شان نه دې.دغه شان هغوی داهم شک کښې اچولې شی چه قران مجید کښې دالله تعالی "ید، یعنی لاس اوحدیث کښې وضع قدم یعنی پښه ایخودل راغلی دی اوښکاره خبره ده چه لاس اوپښه بدنی اندامونه دی، پس معلومه شوه چه دالله تعالی بدنی اندامونه شته، ددې صحیح جواب هم دسلف په طریقه باندې دادې چه لاس اوقدم ئې خوشته خوزمونږپه شان نه دی، خودعوامو په دې باندې پوهول مشکل دی،اودهغوی ذهن خوددې مفهوم نه دتشبیهاتوطرف ته ځی،اودتجسم اوتشبیه دعقیدې نه بچ کول واجب وو، پس دې وجه باندې دخلف عالمانودې داتدبیراختیارکړوچه دداسې حقیقتونوئې داسې طریقې سره تاویل اوکړوچه نه قران اوحدیث متروک شول اونه دتجسم اوتشبیه په عقیده کښې مبلاشول. مثلاً استواء علی العرش ئې کنایه تنفیذاحکام سره اووئیل اوید معنی ئې قدرت اوکړه دوضع قدم معنی ئې مقهورکول اوکړه،اوداضرورت سلف حضراتوته په دې وجه باندې نه راځی چه دهغوی خاصیتونه خوپه ذکرشوی حدیث فی خاتمة الرسالة تکفروفی الاء الله ولاتفکر[۷] وفی الله. باندې عمل ساتی، اوخوض نه کوی اوکه څه وسوسه به هم اوشوه نوهغه به ئې لرې کوله. اوعوام په دې وجه باندې محفوظ ووچه هغه زمانه کښې دمتبدعینودامضمونونه نه وو، په دې وجه باندې به دهغوی غوږونوته داسې شبکونه نه رسیدل. اودهغوی ذهن به خالی وو، اوداسې مفهوماتوباندې به ئې اجمالاً عقیده لرله، دتفتیش په تشویش کښې به نه مبتلاکیدل. اوکه چرې به چاداسې کلام اوکړونوخلافت راشده به هغه ختم کړو، پس فساد به نه خوریدو.

---

[۷] اودصوفیانوکومه مراقبه چه دذات شعل دې هغه دعام تفکرنه توجه ده، تفکرتصورمع الحرکت دې، په هغې کښې خاص تصوارت ته ترتیب ورکول وی. ایصال الی الکنه دپاره کوم چه ممتنع الادراک دی. اوتوجه مطلق اجمالی تصورباندې هم صادق راځی، اودعااوذکرلازم کښې دی، په دې وجه باندې منهی عنه دی. ۱۲.

څنګه چه حضرت عمر رضی الله عنه یوضبیع نومې کس چه هغه به مدینه کښې دمتشابهاتوخبرې کولې، سخته سزاورکړې وه، اوکله چه واپس خپل وطن ته راغې نوحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه ته ئې حکم اوکړوچه یومسلمان دې هم هغه سره نه کینی، (کذافی الروح المعانی سوره آل عمران عن سلیمان بن یسار) عرض داچه عوام به هغه وخت کښې داسې محفوظ وو،څنګه چه هغه وخت وو، عواموته به داهل بدعت داقوالوخبرنه وواونه به ئې خپل ځان دخیال ظاهرولوقابل ګنړلو. اوداډیره غټه خبره ده چه داسې خبروکښې به ئې چه کارونوکښې به کارنه ساتلواوس هم هغه سنداجت باندې موجوددې، اوډداسې تاویلونوهغوی ته هم حاجت نشته،اونه هغوی ته دې طرف ته دې توجه کولوضرورت پکاردې، څنګه چه محققین عالمانوته چه هغوی دې کښې فرق کولې شی،اوحاجت هم نشته اویوه ډله متوسط پاتې شوه چه هغه نه محقق ده اګرچه عربی ویونکې وی اوعامی ده، کتابونه لوستلې شی اوخیال هم ښکاره کولې شی، اودخوض هم عادت لری،هغوی ته دمختلف کتابونونه داسې څه خیالات دحوض په سبب باندې داسې شکونه پیداکیږی، دهغوی دپاره داسې تاویلونه ذریعه ده چه ددین دحفاظت پس دداسې خلقودپاره اخری عالمانودتاویلونوطریقه اختیارکړې ده، اوطالبین کښې دمخاطبینودصبررعایت پخپله شریعت کښې مطلوب دې. کماروی البخاری عن علی رضی الله عنه قال حدثوالناس بمایعرفون اتحبون ان یکذب الله ورسوله وروی مسلم عن ابن مسعود رضی الله عنه انه قال ماانت بمحدث قوماً حدیثاً لایتعله عقولهم الاکان لبعضهم فتنة. (تیسیرص ۳۱۸)

سوال: (۴۵) څه فرمائی ددين عالمان اومفتيان شرع متن صورت مسئوله کښې چه زمونږ ښار کټک کښې دبمبئ يوکس کوم چه دقوم خوجه سوداګردي اوسيږي، اوخپل ځان دسراغاخان مريداوپيرښائی، اتفاقی طورباندې هغه دلته مړشو، ذکرشوی سوداګرهغه دمسلمانانوپه اديره کښې ښخول اوغوښتل. په دې وجه باندې ددې ځائې په مسلمانانو کښې څه کشمکش پيداشو. ديوې ډلې خيال دې چه هغه دمسلمانانوپه اديره کښې نه دی ښخول پکار، ځکه چه سرآغاخان داسلام نه خارج دي، اوهغوی دخپل خيال په تائيد کښې داخبرې پيش کوی.

نمبر ۱: دسرآغاخان دتصويرعبادت کوی. (۲) دهندوانومشهوروتارکرشن بت ئې په خپل عبادت خانه کښې ايخودې دي. (۳) ديوالی کوم چه دهندوانومشهوررواج دې، هغې کښې دخپلودوستانوهم کهاته بدلوی. دې نه علاوه نورروا جونه ئې هم دشرک دی. (۴) مثلاً دخپلې کهاتې په شروع کولوکښې دبسم الله الخ په ځائې باندې لفظ اوم ليکی. (۵) په سرآغاخان کښې دالله تعالی دحلول کيدومعتقددي. دمسلمانانودويمه ډله وائی چه هغه کلمه ويونکې دې. خپل ځان ته مسلمان وائی هغه ته کافرنه شوئيلې، کله چه سوداګرصاحب نه تپوس اوکړې شونوهغه هم اووئيل چه زه مسلمان يم. کلمه وايم، داخترونومونځونه تاسوسره يوځائې کوم. دمسلمانانوپه ضروریاتو کښې چنده ورکوم. فرق صرف دومره دي چه زه سرآغاخان خپل رهنمااومرشدګنړم، ځکه چه عام طورباندې مسلمانان ديوپيرمريدان وی. بس.

ړومبې فريق: داټول بيان دسوداګرد ضرورت اومصلحت په وخت باندې محمول کوی. اوس دحضورنه ديوځوخبروتپوس کوم.

سوال: (۴۶) دسراغاخانيانوباره کښې دحضورڅه تحقيق دي؟ هغوی ته به شرعی طورباندې مسلمانان وايواوکه کافر؟

سوال دوم: که کافردي نوذکرشوی سوداګرخپلې صفايئ کښې وئيل چه زه مسلمان يم. کلمه وايم وغيره وغيره، ددې بيان په وجه باندې به هغه مسلمان ګنړلې کيږي اوکه نه؟

سوال سوم: که چرې نه، نوداسلام ددعويدارتکفيرڅنګه کيدې شی؟ دکافراومسلمان کيدومعيارڅه خيزدې؟

سوال چهارم: دبعضې خواهان قوم خيال دې، چه اګرچه ذکرشوې سوداګرشرعی اعتبارسره داسلام نه خارج دې خودې وخت کښې مونږمسلمانانوته دقومی اتحاداوترقئ ضرورت دې، پس داسې جهګړې کول مناسب نه دی، دانازک وخت دې. داسلام ټولودعوې داروته مسلمان وئيل اومسلمان ګنړل پکاردی. هغوی داسلام نه خارج کولوسره خپل تعداداومردم شماری نه دی کمول پکار. ددې خلقودهمدردئ داقول شرعی طورباندې کوم حدپورې صحيح دې؟

سوال پنجم: دسراغاخانیانو عقیدې که هغه داسلام مطابق وی او که نه. اوسه پورې داخبره حل کیدل غواړی چه خصوصیت سره دذکرشوی سوداګریبان اودمسلمان کیدودعوی، هغه ته به کافرونیلې کیږی او که نه؟ اوهغه ته دمسلمانانو په ادیره کښې ځائې ورکړې شی او که څه معامله ورسره اوکړې شی؟

سوال ششم: کوم په نوم ملیان چه دهغې سوداګرد جنازې مونځ کوی، اوهغه ته مسلمان وائی، اودې باره کښې کوشش کوی، دهغوی څه حکم دې؟

نوټ: دې باره کښې ګجراتئ ژبه کښې یوه استفتاء ملاؤشوه. په هغې کښې دهغوی دعقیدې اودمونځ طریقه موجودده. دنوربصیرت دپاره هغه ورسره درلیږم.

طریقه نمازیااصول دعاتعلیم کرده اغاخان:

مونځ کوئ، مونځ کوئ، مونځ کوئ. الله تعالی دې تاسوته برکت درکړی. دالله تعالی نوم اخلئ. خاوندشاه علی دې تاسوته ایمان اواخلاق درکړی. یاشاه زمادمابنام مونځ اودعاقبوله کړې. کوم حق چه تاته ملاؤشوزه تاته دهغې واسطه درکوم. دې زمونږ اقااغاسلطان محمدشاه دهغې نه پس سجده کوئ. او که شپې مونځ وی نوداسې وایئ زمادمابنام اوشپې دعاګانې او که دسحرمونځ وی نوداسې وایئ. زمادمابنام، دشپې اودسحردعاګانې. دویم ځل باندې سجده کوئ اوتسبیح وایئ اوذکرشوې طریقه بانېدې دعااودرودوایئ.

تسبیح: زه خپلو ګناهونوباندې پښېمانه یم. دوه ځله زه دسرنه پښوپورې ستاقصوروار او ګناهګاریم اې غفوررحیم شاه زماګناه معاف کړه، پیرهم ستاعبادت کوی بنده دعاغواړی.

اې ربښتونې شاه ته منظورساتونکې یې. زه دشاه هغه فرمان په سرسترګوباندې ایږدم کوم چه دپیرپه ذریعه باندې ماته ملاؤشوې دې. دې وئیلوسره تسبیح په زمکه باندې کیږدئ. اولاندې دخودلی شوی وردذکرکوئ اشهد. سبحان الله. لااله الاالله. الله اکبرلاحول ولاقوة الابالله العلی العظیم. الرحمن. ذی الجلال والاکرام. ددې ټولوصفاتونه جوړشوې قدوس. دټولونه طاقتور خدایئ. دایران ضلع چالدیاکښې دانسان بدن نه داویاپلاردملانه راوتلې. دیوکم اویاخدائې کیدونه پس اویایم داوتاردنُطفې نه اته ځلویښتم امام. لسم بې عیبه اوتار. زمونږ خداوند آغاسلطان محمدشاه اوتار. دې نه پس سجده کوئ. حق شاه اچها. ددنیااوزمکې بادشاه، دخلیفه اوګدئ دجانشینودنوم وظیفه کوئ. ددنیاادزمکې دښه خلقونومونه دادی. دشاه دخلیفه ابوطالب ولی نوم دادی.

نمبر۱. زمونږربښتونې خداوندشاه علی. نمبر۲. زمونږربښتونې خداوندشاه حسین نمبر۳. زمونږ ربښتونې خداوندزین العابدین. نمبر۴. زمونږربښتونې خداوندشاه محمد باقر.

نمبر۵. زمونږربښتونې خداوندشاه جعفرصادق. نمبر۶. زمونږربښتونې خداوند اسمعیل. نمبر۷: زمونږربښتونې خداوندشاه آغاعلی شاه. نمبر۸. زمونږربښتونې خداوند شاه رفیع احمدهکذاالی نمبر۲، ۴، نمبر۴۷، زمونږربښتونې خداوندشاه اغاعلی شاه. نمبر۲۸ زمونږربښتونې خداوندشاه اغامحمدشاه داتا. اوددې وخت دامامت مالک خداوندزمان. امام شیخ المشائخ. دامامت طاقت لرونکې اومنئ. آغاسلطان محمدشاه داتا. دبې شمیره کروړونوخلقودستګیر. ددې وخت دامامتئ مالک اې شاه کوم حق چه تاته ملاؤدې. ددې په وسیله باندې خپل دربارکښې زمادعاقبول کړه. اې زمونږ خداونداقاسلطان محمدشاه.

منقول ازرساله تقویة الایمان بزبان ګجراتی:

الجواب اول جندمقدمات مهمدکوم.

الف: قال الله تعالی لقدکفرالذین قالوان الله هوالسمیح بن مریم. (ب) قال الله تعالی ماجعل الله من بحیرة ولاسائبة ولاوصیلة ولاحام ولکن الذین کفروایفترون علی الله الکذب. (ج) قال الله تعالی ولاترکنواالی اللذین ظلموافتمسکم النار(د) قال رسول الله ﷺ من صلی صلوتناواستقبل قبلتناواکل ذبحیتنافذلک المسلم رواه البخاری. (ہ) قال رسول الله ﷺ ایته المنافق ثلث رواه الشیخان. زادمسلم وان صام وصلی وزعم انه مسلم(و) عن حذیفة قال انماالنفاق کان علی عهدرسول الله ﷺ فاماالیوم فانماهوالکفر اوالایمان (رواه البخاری) (ز) فی اللمعات فی شرح الحدیث ای حکمه بعدم التعرض لاهله والسترعلیهم کان علی عهدرسول الله ﷺ لمصالح کانت مقتصرة علی ذلک الزمان اماالیوم فلم یبق تلک المصالح فنحن ان علمنانه کافرسراً قتلناه حتی یومن اه(ح) فی ردالمختاراحکام المرتدتحت قول الدارلمختارلان التلفظ بهاصارعلامة علی الاسلام مانصه افادبقوله صارالی ان ماکان فی زمن الامام محمدتغیرلانهم فی زمنه ماکانوایمتنعون عن النطق بهافلم تکن علامة الاسلام فلذاشرطوامعهاالتبری لهافی زمن قاری الهدایة فقدصارت علامة الاسلام لانه لایاتی بهاالاالمسلم الخ. (ط) فی الدرالمختاراحکام غسل المیت ومحل دفنهم کدفن ذمیة حبلی من مسلم الخ. (ی) فی مختصرالمعانی بحث الاسنادمانصه وقولنافی التعریف بتاول یخرج نحومامرمن قول الجاهل انبث الربیع البقل رائیاً اللابنات من الربیع الخ.وفیه بحث وجوب القرینة الاسنادالمجازی مانصه وصدوره عطف علی استحالة ای وکصدورة عن الموحدفی مثل اشباب الصغیر الخ.

پورته بیان شوې ایتونوروایتونواوعبارتونونه داخبرې حاصل شوې. ړومبې دحلول قائل کیدل کفردې. (ایات الف) دویم. کوم رسمونه اوعادتونه چه کافرانوسره داسې خصوصیت لری چه هغوی خاصیت شوې وی. که چرې هغه خاصیت دهغوی مذهبی ګڼړلې کیږی نوهغه هم

کفردي(ایات ب) هم په دې وجه باندې فقهاؤشدزنارته کفروئیلی دی. ګنی کافرانوسره تشبیه کښې چه کوم مستلزم رکون الی الکفار کیدووجه معصیت اوحرام دی. (ایت ج) څنګه چه دمسلمانان خاص عادتونه اسلام باندې دلیل دې (روایت د) دې شرط سره چه څه یقینی اوښکاره دکفردلیل نه وی، ګنی دکفرحکم به کیږی. لقوله تعالی ان الذین یکفرون بالله ورسله ویریدون ان یفرقون بین الله ورسله ویقولون نؤمن ببعض ونکفرببعض ویریـــون ان یتخـــدوابین ذالک سبیلااولئک هم الکفرون حقا. اوداسلام وجه واحدته دکفرپه ډیروووجوهاتوباندې هغه وخت ترجیح ده، کله چه هغه وجوهات دکفرمتحمل وی، متیقین نه وی(ثالث) دکفردموجباتوپه موجودګئ صرف داسلام دعوی کول اوصلوة صیام واستقبال بیت الحرام ترتب احکام داسلام دپاره کافی نه دی. ترڅو پورې چه ددې موجباتونه توبه اوکړې شی. (روایت ہ) (رابع) دکفرپه موجودګئ کښې داسلام دعوی کونکوسره داسلامی مصلحت په وجه باندې دمسلمانانوشان سلوک کول(اګرچه کله کله دهغوی کفرهم ښکاره شی، کمانقل عنهم قـــولهم انـــؤمن کمـــاامن السفهاء ونحـــوه) خاص وو. دحضور ﷺ مبارک دورسره، اوس هغه حکم باقی پاتې دې. (روایت وعبارت ز) بلکه دبعضې حکمونواعتبارسره پخپله دحضور ﷺ په اخری وخت دمسلمانانومعامله کښې تغیر راغلې وو، پس ایت ولاتصل احدمنهم مات ابداولاتقم علی قبره کښې مصرح دې و النهی عن الزیارة ویستلزم النهی عن الدافن فی مقابرالمسلمین لان الـــدافن یستلزم الزیارة عادة. البته دتعرض بالقتل والنهب ممانعت باقی پاتې دې. خامس کوم کافرچه داسلام داصول اقرارهم کوی. دهغه دحکم بالاسلام دپاره صرف دکلمې دالفاظواداکول کافی نه دی، ترڅوپورې چه دکفردعقیدې نه دبرات اعلان اونه کړی. (عبارت ح) سادس. دکافرد مسلمانانوپه مقبره کښې جائزنه دی. (عبارت ط) سابع دکوم کس کفرچه ثابت شی، دهغه اقوال وافعال محتمله للکفروالسلام کښې تاویل کولوسره به دهغه کفرمانع وی. (عبارت ی) اوس دمقدماتونه پس دتولوسوالونوجواب حاضردې، خوتبرعاً جداجداعرض کوم. سوال کښې دوه قـــسمه خبرې ذکرشوی دی، یوهغـــه قـــسمه کـــوم چـــه یقینـــاً دکفرموجـــب دی، لکـــه دتصویرعبادت کول یادکرشن تصویرعبادت خانه کښې ایخودل کوم چه دکافرانوشعاردې. یادکلمې په ځائې باندې لفظ اوم لیکل، داهم دهغوی شعاردې. یادحلول قائل کیدل کوم چه دسوال په تمهیداودمونځ دترکیب په شروع کښې ذکرشوې دې، اودویم قسم هغه دی کوم چه صرف دکفرمتحمل دی، لکه لکه دیوالی نه دکهاتې حساب شروع کول یامقتداحضرات لفظ خداوندسره رابلل یادهغوی نه دعاګانې غوښتل، بس ړومبی قسم باندې دکفرحکم ښکاره دې، (للامرالاول والثانی) اوکه دویم قسمه کارونه انسان اوکړی نودې کښې تاویل کولوسره مباح یامعصیت باندې محمول کیدې شی خوکله چه داکارونه کافرکوی نودتاویل ضرورت

نشته. (للامرالسابع) اوددې کفریاتوپه موجودګئ کښې دداسې کس داسلام دعوی کول کافی نه دی. نه دهغه مونځ ګذارکیدل، اوروژې نیول کافی دی، اونه دهغه دجنازې مونځ جائزدې، اونه دمسلمانانوپه ادیره کښې دهغه خخول جائزدی. (للامرالثالث والسادس) اونه دمصلحت په وجه باندې کافرته مسلمان وئیل یاهغه سره دمسلمان په شان سلوک کول جائز دی. (للامرالرابع والخامس) البته دضرورت نه بغیرچاسره جنګ جهګړه نه دی کول پکار، اوداسې مصلحت په وجه باندې داسې رعایت کول دهغې مصلحتونونه زیات دمفاسداتوموجب شی، ځکه چه هغه مصلحتونه خودنیاوی دی اومفسدات ئې دینی دی. ددې مفاصدوخلاصه داده چه کله دهغې کفریاتوپه موجودګئ کښې چاته مسلمان اووئیلې شی نودناواقف مسلمانانوپه نظرکـــښې بـــه دهغـــې کفریـــاتوقبیح کیـــدل کـــم شـــی، او هغـــوی بـــه اســـانئ ســـره دداســـې ګمراهوښکارشی. نوکافروتـــه بـــه اسلام کـــښې دداخل وئیلوانجام داوی چه ډیرمـــسلمانان بـــه داسلام نـــه خـــارج شـــی، ایابیاخه مـــصلحت ددې مفـــسده مقادمـــت کـــولې شـــی، دداســـې مصلحتونواومضارودااجتماع دافیصله فرمائیلې شوې ده. قال تعالی. قال فیهمااثم کبیرومنافع للناس واثمهمااکبرمن نفعهما. قال تعالی یدعوالمن ضره، اقرب من نفعـــه والله اعلـــم. (ذی الحجه ۱۳۵۱هـ) (النورص ۱۵ شعبان ۱۳۵۲ هـ)

اطلاق جوهروغیره برباری تعالی:

سوال: (۴۷) مکتوبـات قدوسـیه مطبوعـه احمـدمکتوب هـشتادونهم ص ۱۳۹ داعبـارت دې. پس بعضے مبتدعـه خداراجـسم وجوهرګوینـداګرمجردلفظ بے معنـی اطـلاق میکننـدخاطی وعاصی اندکـه دراطـلاق اسم خطامیکننـدواګرتحقیقت جـسم وجوهرګوینـدوترکیب وتحیـز مکـان والعبادجائزدارانـدوحکم داخـرت فرانـدامادراحکام دنیادرمعاملـه چـون معاملـه باکفارنکنندوکشتن وعارت کردن مال وبردده کردن فرزندان واهل ایشان رواندارندکه مدعی اسلام اندودعوی اسلام ایشان راداهـل ایـشان راامـروزایمن ګردانیـده اسـت وهـذا قـولهم لانکفراهل القبلة اوس عرض دادې چه قادیانی خلقوسره هم دامعامله اوکړې شی، چه دنیـاوی اصولوکښې هغوی سره دمسلمانانومعامله اوساتلې شی؟

جواب: دې دواړوکفرکښې فـرق دې، دبـدن اوجوهرقـائـل دیـوقطعی نـص مکـذب نه دې، په دې وجه باندې هغه ابتداعی کفردې، چه مناظراتوکښې هغې ته کفروئیلې کیږی، ګنی که چرې دا کفرحقیقی وو، نودهغې تلفظ بالاقصدمعنی هم کفروی، څنګه چه دکفردنوروکلماتوهم داحکم دې، چه طوعاً بلاقصدمعنی دهغې تلفظ کفردې، حالانکه شیخ داکفرنه منی. باقی داچه کله دادواړه کفردې نوبیادې دواړوکښې فرق ولې فرمائی، پس بدعت بدعت کښې دفرق انکارنه

شی کیدې. دعقیدې فساد دقول دفسادنه داخرت په حکمونو کښې اشد دې، ددې اشد په وجه باندې شیخ دې ته کفرونیلی، اوصرف تلفظ ته خطااومعصیت په دې وجه باندې قادیانان په دې جماعت باندې قیاس نه شی کیدې، چه هغوی دقطعیات مکذب دی. هذاغایة تاویل کلام الشیخ وان لم یصح هذاالتاویل فالجواب ان هذاالقول لیس بحجة. (۲۴ ربیع الاول ۱۳۵۲هـ) (النورص ۳۱ شعبان ۱۳۵۲هـ)

رساله التواجدبمایتعلق بالتشابة:

بعدالحمدوالصلوة والدعاء اللهم ارناالحق حقاوارزقنااتباعه والباطل باطلاً وارزقنا اجتنابه. عرض کوم چه دنص متشابه تعریف دادې چه ددې مراددالله تعالی نه علاوه (او د بعضو مطابق دالله تعالی نه علاوه اودرسول الله ﷺ) چاته جزماً معلوم نه وی، چه دهغې په وجه باندې برشیوع مجازیاکنایه معلوم وی، متشابه نه دی، اګرچه ددې حقیقی معنی کښې څه استخاله لازم وی، بیاددې متشابه دوه قسمونه دی، یوداچه دهغې مدلول لغوی هم چاته معلوم نه وی، لکه مقطعات اویوهغه چه دهغې مدلول لغوی معلوم وی، خودچا مخدورعقلی یانقلی دلزوم په سبب مرادنه شی اخستې، بیاددې روستی دوه قسمه دی، یو دا چه چه دهغې مدلول یغوی واحدوی، لکه اوریدل اولیدل اوخبرې کول اویوداچه دهغې مدلول لغوی متعددوی، یعنی هغه مشترک اومحتمل وجوه متعددته وی، بیاددې دوه قسمونه دی یوداچه دهغې معنی وجوه کښې دیودلیل په وجه باندې یوته هم ترجیح نه وی ورکړې، یوداچه دې کښې یوته ترجیح ورکړې شوې وی. که هغه قطعی دلیل سره وی اوکه ظنی دلیل سره، داداقساموبیان شو، مخکښې داحکاموبیان کیږی. مقطعاتوکښې دټولو مذهب دادې چه دې کښې تقویض واجب دې، اواوریدل اولیدل اوخبرې دټولو په نزدباندې تفسیرجائزدې، خودې قیدسره چه لاکسمعناولاکبصرناولاککلامنا اوذات معانی متعدده کښې که یوې معنی ته ترجیح نه وی ورکړې شوې، نه قطعناً اونه ظناً دې کښې هم سکوت واجب دی. ددې څه مثال مې ذهن ته رانغې، یومثال دفهی تنویردپاره لیکم، چه امام صاحب رحمة الله علیه هم په دې وجه باندې فرمائیلی دی لاادری مالدهراوکوم کښې چه یوې معنی ته ترجیح ورکړې شوې وی، که چرې هغه لفظ منصوص سره تعبیرکړې شی، نوبیاهیڅ اختلاف نشته، لکه استواء کله چه دهغې ترجمه اونه کړې شی، اونه دې هغې سره اشتقاق اوکړې شی، البته د ایهام دلرې کولودپاره متبادرمتعارف مستحیل دپاره ددې قیدزیاتولوکښې احتیاط دې، استواء یلیق به، څنګه چه دمفسیرینوصنیع دې، اوهم دامحمل دې. قول ائمه کالاستواء معلوم والکیف مجهول والایمان به واجب السوال عنه بدعة اوکه چرې لفظ غیرمنصوص سره تفسیر اوکړې شی نودې کښې

دوه مسلکونه دی، یودسلف هغه داچه داپه حقیقی معنی باندې محمول کړې شی، که دهغه معنی تعین قطعی دلیل سره وی اوکه ظنی دلیل سره. مثلاً که چادې استقرارسره تفسیراوکړو، چاعلوسره، چااستیلاء سره چااقبال سره داټولې معانی حقیقةً لغویه دی، کمایظهرمن کتب اللغته وتفسیرالطبری فی قوله تعالی ثمااستوی الی السماء اوداټول تفسیرونه دسلف په مسلک باندې منطبق دی، اګرچه تعین ظنی دې، خو هریوقول کښې محمل حقیقی معنی ده. اوهم دامطلب دې دسلف دمسلک. اودې تفسیرونو کښې دهریوتفسیرحکم تفسیرسمع وبصرپه شان به وی، یعنی هریوکښې به دې قیداعتباروی. لاکاستقرارناالمستلزم للمعیادیة ولاکعلوناالمقتضی للجهة ولاکاستیلاء ناالمسبوق بالعجزولاکاقبالناالمسبوق بالادبار. اودې ټولومعانی حقیقیه لغویه دسلف په مسلک باندې دمنطبق کیدودلیل دادې چه مضمونوکښې دقران کریم تبلیغ عام ماموربه دې، اوښکاره خبره ده چه عجم ته دترجمې نه بغیرتبلیغ نه شی کیدې. اوکه ترجمه داصل کلمې قائم مقام نه وی نولازم راځی چه دسلف مسلک باندې ددې اجزاء تبلیغ ممکن نه وی، حالانکه هغه اصل مسلک دې. پس ترجمې ته داصل قائم مقام وئیل لازم دی، اوکله چه داستوی ترجمه وی هغه به هم هغه معانی حقیقیه لغویه کښې دڅه ترجمه وی، پس ددې ټولومعنونه تعبیرکول هم داستوی دتعبیرکولوپه شان وی، اود استوی ستواء نابالاتفاق دسلف مسلک دې. دغه شان نورذکرشوی تفسیرونه مع القید هم البته پخپله دلفظ استوی محفوظ ساتل اسلم اواحکم دی، کله چه مخاطب ته دترجمې ضرورت نه وی. غرض مترادفات ټول یوحکم کښې دی، خولازم بحکم مترادف نه دی، ځکه چه ممکن دی چه هغه لزوم حادث کښې قدیم نه وی، مثلاً داتیان ثبوت سره دحرکت اطلاق به جائزنه وی. دویم مسلک دخلف دې، هغه داچه اصل مسلک خودسلف دې، خوضعفاء لعقول دتحمل اودتشویش دختمولودمصلحت په وجه مجازیاکنایه باندې محمول کړې شی، بیادې کښې مجازیاکنایه کښې مختلف وجوه کیدې شی. دادمبحث خلاصه ده. اوس دریو تنبیهاتوباندې دې مبحث ختموم، یوداچه دبعضې کلماتودمتشابه کیدوکښې مختلف اقوال هم وی، ددې منشاء ددې مختلف باب نه چه دهغې مرجع قواعدشرعیه وعربیه کښې اختلاف دې. دخیال اواجتهاددویمه تنبیه داچه دتفصل په وجه باندې بعضې نورتشابهات هم داستواء په حکم کښې دی، بیاخصوصیت سره پخپله دسلف هم زیات دحکم استواباره کښې ولې نه وی نقل شوې، ددې وجه زماپه خیال دامعلومیږی چه هغه زمانه کښې په څه وجه باندې اهل بدعت به دې کښې ډیرتشکیک کړې وی. دریمه تنبیه داچه نن صباډیرخلق چه هغوی باندې ظاهریت غالب دې، کله چه دمتشابهاتوتفسیرکوی نوداجمال درجه کښې خودسلف مسلک باندې وی خوخلورغلطئ کوی، یوداچه دتفسیرظنی

دقطعیت مدعی شی، دویمه داغلطی کوی چه دوی کله تفصیل کوی نوعنوانات موهمه تکي وتجسیم اختیاروی. دریمه داغلطی کوی چه مسلک تاویل ته علی الاطلاق باطل وئیلوسره دزرګونو اهل حق تفضیل کوی، حالانکه اهل حق سره دهغوی دمسلک دصحت دپاره احادیث هم بناء دی، اوشرعی قواعدوبیان هم دي تحریرکښې ذکردي، اواحادیث رساله تمهیدالفرش کښې ذکردی، څلورمه غلطی داچه تفسیربالاستقرارخودسلف په مسلک باندې ګنړی، اونور لغویه تفسیرونه دخلف تاویل ګنړی، حالانکه دتولوبرابرکیدل پورته ښکاره شوی دی، البته نورمتشابهه ایتونوکښې داستقرارمعنی ډیره استعمالیدل دتفسیربالاستقراردپاره یوه ګونه مرجع ده. وهنافلیکتف القلم ولینته الرقم ونکررو الدعاء اللهم ارنا الحق حقاوارزقنااتباعه والباطل باطلاوارزقنااجتنابه وصلی الله تعالی علی خیرخلقه محمدواله واصحابه اجمعین مرقوم دوم جمادی الاولی یوم الجمعة ۱۳۵۲ھ (النورص ۹ ربیع الاول ۱۳۵۳ھ)

دانبیاء علیہم السلام دتحقیرپه وجه باندې کفرلازم راځی:

سوال: (۴۸) مابدمنه کښې داعبارت دې. که کسے گوید ادم علیہ السلام پارچه باف بودندو دیگرے گوید که پس ماهمه جولاهیگانیم کافرستود. دې عبارت باندې حاشیه لړولې ده، اوحاشیه کښې دعربئ عبارت نقل کولوسره ئې دعالمګیری حواله ورکړې ده، ددې عبارت نه خومعلومیږی چه دنیاکښې دجولاهانه زیات رذلیل اوخوابل ښوک نشته، دکوم قوم نوم اخستلوسره چه انسان کافرکیږی نودهغوی نه زیات بل ښوک ارذل کیدې شی، داسې قوم سره ناسته پاسته ختمول پکاردی، حالانکه کښې دنیاکښې ددې خلاف دی. اویوڅیزته ئې هم نه دی پریخودل پکار، یاددې عبارت بل څه مطلب دې، یاداعبارت موضوع دې، یه داقول ضعیف دې؟

جواب: سائل غلط پوهه شوې دې بلکه وجه داده چه پخپله هغه ویونکی دحضرت ادم علیہ السلام تحقیراوکړو، څنګه چه دهغه دکلام نه معلومیږی. (۶ رجب ۱۳۲۹ھ)(تتمه اول ص ۱۴۵)

دمندرنوم باندې پریخودلې شوې:

سوال: (۴۹) یوه غوایاچیلئ وغیره کوم چه یوه هندودڅاروی دمالک نه واخستله، اودمندرپه نوم ئې پریخودلې وی، دیومسلمان دپاره دهغه ذکرشوی مالک نه دې صورت سره هغه هندوخپله مخکښئ اراده ختمه کړې وی، هغه څاروې اخستل اوذبح کولوسره دهغې خوړول جائزدی اوکه نه، اودابه مااهل به لغیرالله کښې داخل وی اوکه نه؟

جواب: جائزدی. (تتمه اول ص ۱۷۴)

دروضې مبارکې زمکه دعرش نه افضل ده:

سوال: (۵۰) فاضت انهارفیوضهم. خواست دادې چه زه دتهانه بهون نه واپسئ کښې مولوی عبدالمجیدصاحب نه تلج الصدورفي حقوق ظهورالنورراوړلې وو، اوغرض مې داووچه زه به داداسې خلقوته اوښائم کوم بدعیه خیالاتوکښې مبتلادی، چه هغوی ته فائده اورسی، خوددې نه مخکښې چه ماهغوی ته هغه خودلې وې، ماهغه پخپله باندې اوکتلو، دهغې کتلوسره ماته پته اولګیده چه هغې کښې څه مضمونونه داسې دی چه دهغې منشاحب عقلی دې اوڅه داسې دی چه هغې کښې دحب عشقی رنګ دې. چونکه دحب عشقی خاصه داده چه هغه ادراک اشیاء علی ماهی علیه نه منع کونکی وی. پس بشرحانی رحمه الله تعالی ولارض فرشتنها اوریدوسره دانتیجه اخذکړې چه زمکه باندې پښې په پښوکولوسره ګرځیدل دادب خلاف دی. حالانکه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوصحابه کراموتابعینو اوتبع تابعینوبلکه صوفیه کرامودې نه دانتیجه نه ده اخذکړې. په دې وجه باندې ددې اثرپه وجه دهغه په مواعظوکښې څه داسې کارونه پیداشوی کوم چه دتحقیق خلاف معلومیږی. اګرچه دداسې مضمونونوباره کښې دحضرت مولاناارشاددې

درخطا گوید ورا خاطی مگو ورشود پر خون شهیدان رامشو
خون شهیدان راب اولی ترست این خطاازصدصواب اولی ترست

خوداثرهغه وخت پورې دې ترڅوپورې چه هغه وینه دشهیدبدن پورې وی، خوکله چه دهغې داړې په نوروخلقوباندې پریوځی نودهغې دپاره به هغه حکم نه وی. اوددې مضمونونو اثرصرف دجناب والاذات پورې نه دې، بلکه ددې اثرپه نوروخلقوباندې هم کیږی، پس دحضرت حاجی صاحب قدس سره دحب عشقی اثرچه یوخاص جماعت باندې اوشو، هغه دچانه پټ نه دې، خودحاجی صاحب په جماعت کښې دحضرت ګنګوهی په شان مقتدااومحقق حضرات هم موجودوو، اوهغه یوه غټه ډله ددې داثرنه بچ کړه. دحضرت والاپه جماعت کښې خوداسې اثرلرونکی اومحقق حضرات نشته. چه هغوی خلق ددې اثرنه بچ کړی. ددې نه علاوه دحضرت حاجی صاحب قدس سره باره کښې داوئیلې کیدې شی چه حضرت عالم نه دې هغوی نه دعالمانونه تپوس کولوسره عمل کول پکاردی، ستاسو خادمانو سره داعذرهم نشته، پس ددې نه علاوه بل څه ممکن نه دی چه دحضرت دې طرف ته توجه کړې شی. که حضرت پخپله باندې ددې اصلاح اوفرمائی خوصحیح ده ګنی بل څه صورت نشته، دمثال دپاره خواست کوم ... ص ۱۵۲ کښې فرمائیلی دی چه کله دحضور صلی الله علیه وسلم بدن مبارک دموافقینو اومخالفینو تولوپه نزدباندې بالاتفاق محفوظ دې، اودروح سره دې څنګه چه بیان کړې شوی دی وښکاره خبره ده اوعالمانوهم تصریح کړې ده چه هغه بقعه، کوم سره چه بدن مبارک خصوص

مع الروح مس کړې شوې دې دعرش نه هم افضل دې، ځکه چه عرش باندې معاذالله حق سبحانه ناست نه دې، که چرې ناست وې نوهغه ځائې به دټولونه افضل وې، الخ. ددې باره کښې ارشاددې چه اول خوباب فضائل امکنه وازمنه قیاس نه دې بلکه توفیقی دې، چه دې کښې اجتهاداوخیال هیڅ دخل نشته.دویم داچه قاضی عیاض وغیره عالمانوته هم داجتهادحق نشته،ځکه چه هغوی مقلد دی اوتقلیدواجب ګنړی،دریم داچه دااجتهادهم صحیح نه دې ځکه چه ددې اجتهاد داتنیجه ده چه کوم وخت کښې جناب رسول الله ﷺ بیت الخلاء ته قضائے حاجت دپاره تشریف یوسی نوهغه وخت بیت الخلاء دعرش رب العالمین نه افضل شی، ځکه چه الله تعالی عرش باندې ناست نه دې،اوحضور ﷺ دې وخت کښې ژوندسره کوم چه دبرزخی ژوندنه اقوی دې،بیت الخلاء کښې تشریف فرمادې. حضرت والاکوم مسروق چه حضرت عائشه رضی الله عنها نه تپوس اوکړوچه اماجان دااووایئ چه ایا محمد ﷺ خپل رب لیدلې دې،نوعائشه رضی الله عنها اوفرمائیل چه ځویه ستاددې سوال په وجه باندې په مباندې ویختـه اودریدل،هم هغه کیفیت ددې مضمون په وجه باندې زماهم وی. اوکه چرې حضور ﷺ پخپله باندې یوځل هم فرمائیلی ووچه زمادقبرمقام دعرش نه افضل دې،نوموږبه وئیل امنابالله وبرسوله،خودقاضی عیاض وغیره عالمانوبه اجتهادباندې موداهمت نه کیږی،چه موږهم داجرات اوکړو. دامنوچه الله تعالی بدنی نه دې اوعرش باندې زموږپه شان ناست هم نه دې خوایادامکن نه دی چه دالله تعالی هغه مجهول الکیف استواء درسول الله ﷺ داسطجاع حسی نه وی، اوکله چه دا ممکن دی نوبیادااجتهادولې صحیح دې.څلورمه دامسئله دباب عقائدنه ده، اوغالباًبراهین قاطعه کښې دامضمون دې،باب عقائدکښې خبرواحدهم کافی نه دې بلکه دقطعی نص ضرورت دې،نودې باب کښې دمقلدین عالمانوڅه حیثیت کیدې شی؟ دانمونه ده،ددې دلوستلونه که دنورومضمونونو دپیش کولواجازت وی نوهغه به پیش کړم،اوددې مضمون دپیش کولووخت کښې ماته دګرانئویره ده،اوالله تعالې دې اوکړی چه داسې نه وی،الله دې نه کړی که چرې تکلیف وی نوعاجزئ سره معافی غواړم،اودځان دپاره دهدایت ددعاخواست کوم،مادا جرات ډیردمجبورئ په وجه باندې کړې دې. زیاده حداب.

جواب: مشفقم سلمه السلام علیکم. خطبه راؤرسیده،خیرخواهئ دپاره دعاکوم،خودعادپاره دعوت قبلول لازم نه دی،اوددې دقبلولونه دخپلې معذورئ وجوه عرض کوم.

(الف) کوموممقدماتوباندې چه تاسوخپل مقصدفرمائیلې دې، پخپله هغې کښې بعضو کښې داختلاف ګنجائش شته. (ب) مسائل ظنیه کوم چه دمجتهدنه نقل نه وی هغې کښې دغیر مجتهدین اهل حق اتباع جائزګنړم، خصوص احتمال تقیض سره. والسرفی ذلک انه لایستلزم انتقاء الاجتهادالمطلق انتقاء مطلق الاجتهاد. (ج) عقیدې غیرقطعی کښې غیرقطعی دلیل سره

تمسک جائزګنړم. (د) داسې کارو[illegible]ى پرشق ته دیومحقق محق تقلید یادخپلې شرح صدرنه ظناترجیح ورکول جائزګنړم، مالم یظهرالغلط. (ه) داسې کارونو کښې جزماً دچاتضلیل یاتجهیل ناجائزګنړم. (و) داسې کارونوکښې دوضح حق باوجوددخپل غیرمعصوم متبوع قول باندې جمودناجائزګنړم،خاص طورباندې کله چه هغه متبوع قولاً وفعلاً داسې جمودنه خپل اتباع منع کړې وی. (ز) داسې کارونوکښې دصحیح جواب دامکان باوجودقیل وقال ناخوښوم،خاص طورباندې کله چه بدلالت قرائن سائل جازم غیرمترددوی اومضروی،چه هغې نه درجوع امیدنه وی، دې صورت کښې کلام کښې امتدادلاطائل کیدوسره یوه مستقل مشغله جوړیدوسره وخت ضائع کول دی. اوس ددې تمهیدنه پس عرض کوم چه دکوموکارونوتاسونمونه پیش کړې،دهغې طرف ته څه قطعی نشته،دې کښې داټول کارونه سبعته جاری وی. پس پخپله ددې نمونې بطلان که چرې قطعی وې نوزموږخلقونه زیات علم اوعمل والوبه دې باندې نکیرولې نه کولو،اومثال مفروض کښې ممکن دې چه دحکم دیوشرط انتقاء مانع لزوم محذوروی،او ددې تقریرپه وجه دټولومحذوراتوجواب اوشو،خواحتیاطاً دبعضې خبروتصریح هم کوم،ما دخپل قول نه ددې خبرواعلان کړې دې اوکه ددې اعلان چاته علم نه وی نواوس اعلان کوم چه یوکس صرف زمادتحقیق اواتباع په وجه باندې داسې کارونوکښې دچاطرف ته اعتقاداً یا عملاً جمودنه فرمائی، کله چه حق واضح شی هغه دې اختیارکړی. ددې اعلان نه پس زما په متبعینوکښې محقق نه کیدل مضرنه شی کیدې، دوی کښې که څوک محقق نشته نو نورو جماعتونوکښې خوبه انشاء الله محقق موجودوی. هغوی به دحفاظت دپاره کافی وی. داسې حالت کښې داسې کارونوکښې ماسره دچااختلاف کول، بحمدالله تعالی مادپاره تکلیف نه دې ماته ددې عادت دې، خودخطاب خاص نه دجواب مطالعه طبعاً تکلیف دې،البته عام عنوان سره ددې چاپ کول هرقسمه اسان دی،اوداسې خطاب هیڅ ضرورت نشته،کله چه داظهارحق اصل مقصددې،یوه دویمه طریقه هم ده کومه چه اوس ذکرشوه. پس تاسوخپل تحقیق بغیردڅه تکلف نه چاپ کړئ،ماته به دې خبره کښې شرح صدراوشی، زه به هغه قبلولوسره خپله رجوع پخپله چاپ کړم. ګنی چپ به پاتې شم ردبه ئې نه کړم، مالم یخالف قطعیاولن یکون انشاء الله تعالی اوکه څوک زماپه قول باندې تمسک اوکړی هغوی ته دااعلان خودلوسره محجوع اوفرمایئ، که هغوی بیاهم جمودکوی نوزه ا وته دواړه بری یو،اوس تااوځان دواړه دپاره دادعاکولوسره ختموم.اللهم ارناالحق حقاوارزقنااتباعه والباطل باطلاً وارزقنااجتنابه والسلام. ۲۳ ذی الحجه ۱۳۵۳ھ (النورص ۹ ذیقعده ۱۳۵۴ھ)

د قادیاني دردازهٔ نبوت:

سوال: (۵۱) دقادیانانودفتنې په سلسله کښې دیوې مسئلې تپوس صرف دخپل زړه دتسلئ تر دقیامته د کهلاویدودپاره کوم. داچه الزام دې چه هغوی دنبوت دروازه کهلاوهلوسره غته فتنه شروع کړې، ددې په جواب کښې هغه خلق وائی چه دنبوت اجرایعنی ظهورمسیح دعیسی علیه السلام ښکاره کیدل خوداهل سنت متفقه مسئله ده، اوس خبره صرف دکس په تعین کښې پاتې کیږی، چه دمسیحیت ددې دعوې مصداق کوم کس دې، اودې کښې داجهتادی خطاپوه گنجائش شته، دې باره کښې مختصرطورباندې څه ارشاداوفرمایئ.

جواب: دددې دعوی صرف مسیح سره خاص کیدل نه دی چه هغې کښې دذکرشوی شک فی السوال گنجائش وی، نومسیح اوغیرمسیح ټولودپاره نبوت ممکن وائی، دهغوی په رسائلوکښې ددې تصریح ده بیامسیح کښې هم بقائے نبوة سابقه (کوم چه دموصوف ذاتی کمال دې، کوم چه دورکړې کیدونه پس نه سلب کیږی، بدون ظهوراثارخاصه تشریع وغیره په شان پخپله عالم برزخ کښې داکمال دټولوحضراتوپه ذوات کښې موندلې کیږی) عطائے نبوت ته مستلزم نه دی، اودمنافی دختم نبوت عطائے نبوت دې، دڅه دپاره چه هغه دخپل ذات مدعی دې، ځکه چه هغه مخکښې نه موجودنه وو. څه نبوت ته مخکښې نبوت اووئیلې شی، نه بقابه شان مذکوراودابالکل ښکاره ده. (النور ص ...)

ایا بدهـ نبی وو، او ایا قران کښې د یو پیغمبر:

سوال: (۵۲) تپوس داکول غواړم مهاتمانوم ذولکفل راغلې دې، ددې نه مرادذوالکفل دې، بدهـ پیغمبردې، چونکه هغه دکیل علاقې (کپل وسط) بادشاه وو، چه دهغې محرف کفل دې، او قران کریم کښې چه دیوپیغمبرنوم ذولکفل راغلې دې نوهلته بدهـ خومرادنه دې؟

جواب: ایاداقرائن داستدلال دپاره کافی کیدې شی اوایاددلیل نه بغیردچادپیغمبرئ عقیده جائزکیدې شی، ځنگه چه دکفراوفسق هم ددلیل نه بغیرداسې عقیده جائزنه ده. هم داسې استدلال مرزاهم کړې دې چه حدیث فیقتله ای یقتل عیسی علیه السلام الدجال) بیاب لدکښې دلدنه مرادلدهیانه ده، ایادې دواړوکښې څه معتدبه فرق شته. (۶ ذی الحجه ۱۳۵۴هـ (النورص ۲۳ ذیقعده ۱۳۵۵هـ)

عصمت انبیاء:

سوال: (۵۳) داهل سنت والجماعت داعقیده ده چه حضرات انبیاء علیهم السلام اورسولان معصوم دی، عیسایان دانبیاء علیهم السلام دعصمت قائل نه دی. هغوی صرف دحضرت مسیح

عیسی ابن مریم علیه السلام دعصمت قائل دی. مسیحی پادریانوپه خپل کتابونوکښې دلاندینی قرانی ایتونه پیش کړی دی، مهربانی اوکړئ ددې ایتونوصحیح مطلب اولیکئ.

۱: دحضرت ادم علیه السلام باره کښې سوره طه پاره نمبر ۱۶ کښې دی وعصی ادم ربه فغوی. پاره ۸ سورة الاعراف کښې دی. ربناظلمناانفسنا.

۲: دحضرت ابراهیم علیه السلام باره کښې سورة الانبیاء پاره ۱۷ کښې دی قال بل فعله کبیرهم هذافاسئلوهم ان کانواینطقون.

۳: دحضرت موسی علیه السلام باره کښې سورة الشعراء پاره ۱۹ کښې دی. قال فعلتهااذاوانامن الضالین. ولهم علی ذنب فاخاف ان یقتلون.

۴: دحضرت یونس علیه السلام باره کښې سورة الانبیاء پاره ۱۷ کښې دی لااله الاانت سبحانک انی کنت من الظلمین.

۵: دحضرت داؤد علیه السلام باره کښې سورة ص پاره ۲۳ کښې دی وظن داؤدانمافتنة فاستغفرربه.

۶: دحضرت نبی کریم علیه السلام باره کښې راغلی دی. لیغفرلک الله ماتقدم من ذنبک وما تاخر. (۲) واستغفرلذنبک (پاره ۲۶)

جواب: دعقلی اونقلی اصولونه دامعلومه ده چه محکم اوظاهرکښې که تعارض وی نوظاهرکښې به تاویل کوؤ، یعنی هغه به ظاهرنه منصرف کولوسره دمحکم طرف ته راجع کوؤ. ددې مقدمې نه پس پوهه شئ چه دحضرت انبیاء علیهم السلام دلائل محکم دی، او دهغې خلاف دلائل محکم خواکثرښکاره نه وی. مثلاً دظلم معنی لغت کښې وضع الشئ فی غیره محله، یعنی هربې موقعې کارکونکې اګرچه هغې کښې شرعی طورباندې کراهت یا حرمت هم نه وی، اومثلاً دضلال معنی عدول عن الطریق دی، که هغه قبل علم بالطریق وی کوم چه مذموم دې. غیر المغضوب علیهم والاالضالین. کښې هم دامراددې. نودمقسم تحقق ددې دڅه خاص قسم تحقق سره مستلزم نه دې، اواذاجاء الاحتمال بطل الاستدلال متقرر دې، اومثلاً فعلیه کبیرهم کښې داسنادحقیقی احتمال هم نشته، ځکه چه مشاهده ددې مکذب ده، دې نه علاوه دې کلام کښې ان کانواینطقون کښې دانتقاء ښکاره دلیل دې. غرض داچه ددې کلماتودلالت دمستدل په مدعاباندې ښکاره نه دې، خوکه ددې په ټولوکښې ښکاره کیدل هم اومنلې شی نوبیاهم دمحکم تعارض په وجه باندې دابه دښکاره نه منصرف کړې شی، یعنی دابه وئیلې کیږی چه عصیان وغوایت وظلم وضلال وذنب اوفتنې صورت باندې مجازاً ددې الفاظواطلاق اوکړې شی. هم دغه شان فعله کبیرهم کښې اسنادمجازی باندې محمول کړې

شي. پس محاوراتو کښې داسې اطلاقات بلانکیر باتفاق اهل لسان چاپ شوی دی، او د اهل حق په خنده باندې حسنات الابرار سیئات المقربین د ټولو کافی جواب کیدې شي. غرض هر حال کښې د خصم استدلال به محض باطل وی، دا خو تحقیقی جواب دې، باقی د جواب یو قسم الزامی هم دې. خودې د پاره یو خوانجیل باندې د نظر کولو ضرورت دې، کوم چه ماته حاصل نه دې. دویم هغه کله د ګستاخۍ ذریعه هم شی، کوم چه مسلمانان نه شی برداشت کولې. البته یهودی داسې کولې شی، پس هغوی د حضرت عیسی علیه السلام مشهور قول ایلی ایلی سبقتنی نه د عیسائی د مدعا.... په شان داسې استدلال کولې شی. چه دا دال دې، اعتراض او شکایتونه او خفګان کوم چه د ټولو ګناهونو نه اشد دې، خو مسلمان به هغوی ته هم هغه جواب ورکوی چه اول خو دا ظاهری نه دې ځکه چه د دې عبارت استعمال غایت ابتهال کښې هم وی. کوم چه بانضمام لهجه خاص حقیقی معنی او نه منلې شی، نو دې ابتهال ته به مجازی معنی وئیلې کیږی. والله الموافق وهواعلم. (النور ص ۹ صفر ۱۳۵۸ھ)

تنزیه علم الرحمن عن سمة النقصان:

سوال: (۵٤) (تمهید از اشرف علی) یو میلمه یو کتاب بلغة الحیران زما مخې ته پیش کړو، هغې کښې مې یو مضمون د نظر نه تیر شو، هغې باندې ما کلام او کړو. هغه میلمه هغه کتاب او سیزلو او دې پته ماته روستو اولږیده. د دې نامکمل خبر په څه ذریعه باندې د هغې کتاب مؤلف ته او شو، د هغوی خط راغې. ما د جواب ورکولو نه یو ځل عذر اولیکلو، هغوی د هغې عذر لرې کولو د پاره مکمل کتاب راؤلیږلو، هغې باندې ما لږ شان تفصیلی جواب ورکړو. او دغه شان د مسئلې دوران کښې د دویم طرف ته د څه جبری اشکال او د بعضې اهل حق اکابرینو حل یو کتاب کښې ملاؤ شو. د طالبانو د خط د پاره هغه هم دې سره یو ځائې کوم. پس د لته ټول لیکل نقل دی، او چونکه هغه دیو خاص شان مضمون دې، په دې وجه باندې د هغې نوم هم تجویز کوم، کوم به چه تندی باندې لیکلې شوې ملاویږی.

(اجزاء المضمون) نمبر ۱ اصل المکتوب بقصد الصواب نمبر ۲. العذر عن الجواب. نمبر ۳ رفع العذر بارسال الکتاب نمبر ٤. تحقیق المقام بفصل الکتاب نمبر ۵ حل بعض الاشکال بشعر عجاب.

نمبر اصل المکتوب. بخدمت شریف اعلی حضرت مولانا مولوی محمد اشرف علی صاحب مدظله العالی. السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، منجانب محمد نذر شاه عباسی، عرض دا دې چه تفسیر بلغة الحیران زما او د غلام خاندان لیکلې شوې دې. پس د دیباچه نه معلومه ده، مولانا حسین علی صاحب مدظله ترجمه او کتله، او د هغې تقریرونه ئې اولیکل، او بعضې بعضې ځایونو کښې ئې خپل څه تقریرونه هم اولیکل. اصل عبارت سورۃ هود کښې دا دې. کل

فی کتاب مبین. دا جدا جمله نه ده، د مخکښې سره یو ځائې ده، چه دالازم راشی چه ټولې خبرې اول په کتاب کښې لیکلې شوې دی. ځنګه د اهل سنت والجماعت مذهب دې یا د دې معنی داده چه ستاسو ټول عملونه لیکې فرښتې. معتزله ته اهل د دې مسئلې په وجه باندې کافر نه وائی خو نووی. او د بعضې احادیثو الفاظ په دې باندې منطبق دی الخ، او دا غلط دی. فی النووی ص ۳۳۳ فی هذه الاحادیث دلالات ظاهرة ان جمیع الواقعات بقضاء الله والملک الله لااعتراض علی المالک فی ملکة وقدطوی الله تعالی علم القدرعن العالم فلم یعلمه نبی مرسل وملک مقرب وفی النووی ص ۳۳٤ ج ۲ القدرمن اسرارالله تعالی التی ضربت من دونها الاستار. اختص الله تعالی به حجبه عن عقول الخلق ومعارفهم وقدطوی علم القدرعن العالم فلم یعلمه نبی مرسل ولاملک مقرب اه. فی النووی ص ۲۲۷ ج۱ علم ان مذهب اهل الحق اثبات القدرومعناه ان الله تعالی قدرالاشیاء وعلمه سبحانه انهاستقع فی اوقات معلومة فهی تقع علی حسب ماقدرهاسبحانه وانکرت القدریة هذاوزعمت انه سبحانه یقدرهاولم یتقدم علمه وانه مستانفة الیکم. اه فی التفسیرالکبیرص ۲٦٥ ج ۱ وقدکان السلف والخلف من المحققین معولین علی الکلام الهادم لاصول المعتزلة یهدم قواعدولقدقامو واقعدواواحتالوا علی دفع اصول المعتزلة فمااتوابشئ مفنع. وفی الکبیرة ص ٤۹۹ ج ۱ اذاقضی امرافانمایقول له کن فیکون الایه. تلک القضاء لابدان یکون محدثالانه دخل علیه حرف اذااه. قال الله تعالی انماقولناالشئ اذااردناالایة کل فی کتاب مبین کل شئ. الی ابدالاباد کیدل محال دی. ځکه چه ځیزونه غیرمتناهی دی. ملاعلی قاری رحمة الله علیه په شرح مشکوة کښې دالیکلو سره د درمنثور د حدیث حوالې سره لیکلی دی، چه مرادالی یوم القیامة دې. د ترمذی شریف حاشیه هم دې حدیث باندې او ګورئ. او مثنوی دفتر ۵ ص ۸۴ همچنین قدجف القلم وکیف ان لایستوی الطاعة والمعصیة ولایستوی الامانة والسرقة جف القلم ان لایستوی الشکروالکفران جف القلم ان الله لایضیع اجرالمحسنین.

پس قلم بنوشت که هر کار را — لائق ان هست تاثیر و جزا
ظلم اری مد بری جف القلم — عدل اری بر خوری جف القلم
تو روا داری روا باشد که حق — همچو معزول اید از حکم سبق
که زدست من برون فت رست کار — پیش من چند ین میاچندین مرزا
بلکه معنی ان بود جف القلم — نیست یکسان پیش من جف القلم
پس جفا گویند شه را پیش ما — که برو جف القلم کم کن وفا

قال الله تعالى كل فى كتاب مبين. هكذافى سورة هودوفى سورة النمل ومامن غائبة فى السماء ولارض الافى كتاب مبين. وفى سورة ابراهيم مايخفى على الله من شئ فى الارض ولافى السماء وفى التفسيرالكبيرص ۳۱۰ يمحوالله مايشاء ويشبت وعنده ام الكتاب من النبى عليه السلام ان الله سبحانه وتعالى فى ثلث ساعات بقين من الليل ينظرفى كتاب الذى لاينظرفيه احدغيره فيمحوالله مايشاء ويشبت اه. كل فى كتاب مبين. اورمامن غائبة فى السماء والارض اورفى كتاب مبين كښى يامرادعلم الله دي، ياقيدالى يوم القيامه به مرادوى. يامرادكتاب اعمال نامه به وى. وفى سورة القمركل شئ فعلوه فى الزبروكل صغيروكبيرمستطر. وفى سورة يسن ونكتب ماقدمواواثارهم وكل شئ احصيناه فى امام مبين وفى سورة غالم الغيب لايغرب عنه مثقال ذرة فى السموت ولافى الارض ولااصغرمن ذلک ولااكبرالافى كتاب مبين ليجزى الذى امنوالاية. فى سورة يونس ولاتعملون من عمل الاكناعليكم شهوداذتفيضون فيه الاية. خلاصه داچه زمونږ په دې تفسير كښى په كوم ځائې باندې ستاسو اعتراض دې، اوڅنګه چه اوريدلې شوى دى چه تفسيراوسيزلې شو، ددې وجه څه ده؟ كه دكتاب په الفاظوباندې اعتراض وى نوهغه دچاپ غلطى ده، اودهغې صحت نامه به انشاء زرترزره چاپ كړې شى. كه مذهب باندې اعتراض وى نوهغه معتزله مذهب دې مونږ صرف نقل كړې دې، څنګه چه نوروكتابونوكښى هم نقل دى. كه تاسوسره كتاب نه وى نومونږبه كتاب دراوليږو، چه تاسومونږته دخپلې غلطۍ باره كښى اوفرمايئ. جزاكم الله تعالى.

نمبر(۲) عذر. ترڅوپورې چه دكتاب عبارت مخې ته نه وى، زه هيڅ هم عرض نه شم كولې.

نمبر۳(رفع عذر) تفسيرخدمت عاليه كښى هدية درليږلې كيږى.

نمبر۴(تحقيق المقام) الجواب منه الصدق والصواب.

مولانابارک الله تعالى فى كمالاتهم. السلام عليكم ورحمة الله وبركاته. دخط او كتاب راليږلو په وجه باندې ممنون يم. چونكه خط كښى ډيرې خبرې عديم التعلق يابعيد التعلق ليكلى شوى دى، په دې وجه باندې جواب كښى مې دهغې نه دتعارض ضرورت اونه ګڼړلو. دې نه علاوه ماسره دومره وخت هم نشته، اوضعف عمراوضعف مرض هم مانع شو، په دې وجه باندې صرف ضرورت باندې اكتفاء كړې شوې ده. اميدلرم چه دااختصاربه معاف اوفرمايئ پس عرض كوم چه كوم عبارت كښى تاسودچاپ غلطى فرمائيلې ده، هغه مانه مخكښى كتلې اونه مې اوس دكتلوضرورت محسوس كړې دې. كوم مضمون چه ماكتلې وو دكتاب پيش كونكى مخكښې مې په هغې باندې كلام كړې وو. خوماورته دسوزولو مشوره نه وه وركړې، صراحة نه اشارةً البته هغې مضمون كښى ماتحاشى تام اوكړه څنګه چه هغه دهغې

مستحق وو. كيدې شى چه دهغې په هغه باندې دااثرشوې وى چه هغه ئې سيزلې وى. اودهغې نه پس هم ماته خبرنشته. يوځل ماترې نه دوباره كتلودپاره كتاب اوغوښتلونوهغه وخت هغه ته خبرراكړو، ګنى كه چرې ماسره ئې مشوره كړې وې نومابه هغه ځائې باندې حاشيه تنبيهى ليكلې وه. اوس هغه كلام عرض كوم چه داهل باطل قول نقل كولونه پس دناقل ذمه ده چه دهغې ابطال اولاً تقبيح سره اوكړى، څنګه چه نووى كړې ده. فى قوله الاتى اوكه چرې داهم نه وى نوتصريح سره دې اوكړى څنګه چه صاحب كړې ده. فى قوله الاتى اوهغه دواړه قولونه دادى. قال النووى بعدنقل قولهم المذكورفى السوال انمايعلم هاسبحانه وتعالى وبعد وقوعها وكذابواعلى الله سبحانه وتعالى وجل عن اقوالهم الباطلة علواكبيراوسميت هذالفرقه قدرية لانكارهم القدر. قال اصحاب المقالات من المتكلمين وقدانقرضت القدرية القائلون بهذاالقول الشنيع الباطل ولم يبق احدمن اهل القبلة عليه وصارت القدرية فى الازمان المتاخرة معتقدة اثبات القدرولكن يقولون الخيرمن الله والشرمن غيره تعالى عن قولهم (كتاب الايمان باب معرفة الايمان والسلام) وقال صاحب الكبيرتحت اية واذابتلى ابراهيم ربه الاية وقال هشام بن الحكم انه تعالى كان فى الازل عالمابحقائق لاشياء وماهياتهافقط واماحدوث تلک الماهيات ودخولهافى الوجودفهوتعالى لايعلمهاالاعندوقوعهاالى قوله واعلم ان هشاماً كان رئيس الرافضة فلذلک ذهب قدماء الروافض الى القول بالبداء ماالجمهورمن المسلمين فانهم انفقواانه سبحانه وتعالى علم جميع الجزئيات قبل وقوعها اه. خودې بلغه كتاب كښى دې ځائې كښى داسې نه دى كړې شوې، پس داباطل قول دې عبارت باندې ختم شوې دې دهغې دكولونه پس به معلوميږى اه. پس ددې نه پس اخرپورې ددې ابطال صريح عبارت كښى هم نشته. فضلاعن التقبيح بلكه هلته داسې عبارت دې چه دهغې نه څه حدپورې ددې باطل متبادر كيږى، فى قوله اوقرانى ايتونه الى قوله ددې معنى صحيح كوى، اوددې نه پس داهل سنت والجماعت تفسيرډيرمعمولى طورباندې يوې مختصرجملې كښى نقل كړې دې اونه ئې دهغې فى ذاته تصيح كړې اونه ئې ورته مقابل قول باندې ترجيح وركړې. پس دواړه مذهبونه ئې نقل كولوسره پريخودى. اوددې نه داپته نه لږى چه دمؤلف عقيده كومه ده. اياداسې احتمال بلكه داهمال تدين خلاف اوشديدنكيرقابل نه دى. پس زمادكلام هم دامطلب دې. اوس يوالتماس باندې معروضه ختموم هغه داچه زه داسې كتاب په كوم كښى چه داسې خطرناک عبارت وى دتنبيهى حاشيې نه پس هم نه په خپل ملک كښى پريخودل غواړم اونه دخپل تعلق په مدرسه كښى. كه داخترنه مخكښى دمحصول اورجسټرئ ټكټونه راليږئ نوهغې ټكټونوباندې ګنى روستوبه ئې

دتیکتونوپه ذریعه ستاسوخدمت ته دراولیږم. والسلام خیرختام. کتبه اشرف علی العشرین من رمضان ۱۳۵۷ھ تمت رساله تنزیه علم الرحمن. (النورجمادی الاخری ص ۸)

نمبر ۵: (حل بعض الاشکال فی الشعر) جواهرة التوحیدیوکتاب دي منظوم توحید مصنفة العلامة الشیخ ابراهیم القانی ددې شرح کړې ده. تحفة المریدعلی جوهرة التوحیدلعلامه الشیخ ابراهیم بیجوری په فرقه جبریه باندې کلام کولوسره داسې نقل کړې دي.

قال شعرهم مورداعلی اهل النسة.

ماحیلة العبدوالا قدارجاریة علیه فی کل حال ایها الرائی
القاه فی الیم مکتوفاً وقاله له ایاک ایاک تبتل ان تبتل بالماء

واجابه بعض اهل السنة بقوله.

ان حفه اللطف لم یمسسه من بلل و لم یبال بتکنیف او القاء
و ان یکن قدر المولی بغرقته فهوالغریق ولوالقی بصحراء

تحفه المریدص ۵۷ طبع مصر. اتهت الرساله وملحقتها (النورص ۷ جمادی الاولی ۱۳۵۸ھ)

خلودالکفارفی النارجزاء علی الاصرار:

سوال: (۵۵) حافظ ابن قیم په رساله شفاء العلیل وحاوی الارواح کښې دجمهورخلاف فناء نار دعوی کړې ده، هغې کښې دکافرانودپاره دخلوداوعذاب نفی کیږی، کوم چه ښکاره طور باندې دنصوص قطعیه خلاف ده. اومسئله چونکه ددین په ضروریاتو کښې ده، په دې وجه باندې دې نصوص کښې دتاویل گنجائش هم نشته. حافظ ممدوح دې دعوی کښې اگرچه بعضې روایتونه حدیث سره هم تمسک کړی دی. خوذکرشوی روایتونه عام طورباندې ضعیف اومجروح دی، کوم چه دقطعی نصوصواودهغی ښکاره دلالت مقابله کښې نه شی اودریدې، یابه ماؤل وی، په دې وجه باندې دهغې دجواب ورکولوضرورت هم نشته. البته کوم څیزچه دخلوداونارباره کښې شک پیداکولې شی هغه دهغوی یوعقلی استدلال دې، دهغې مطلب دادې چه دعقوبت اوسزاغایت انزجاروی چه سزاخوړلوسره خاطی اویریږی اودبیادپاره توبه کولوسره دهغې گناه نه همیشه دپاره ځان منع کړی. ښکاره خبره ده کله چه دوزخیان دوزخ ته واچولې شی نوددومره سخت عذاب نه زیات تخویف اودمجرم دپاره دانزجارسبب نورڅه کیدې شی، اوبیاددې تعذیب نه زیات دتوبې باعث بله کومه سزاکیدې شی. پس مجرمان به سمدستی توبه اوکړی، اودبیادپاره به دهمیشه دپاره دکفرد پریخودو وعده اوکړی، څنگه چه نصوص کریمه کښې واضح دی. قوله تعالی. ربنااخرجنامنهافان عدنافاناظلمون. قوله تعالی. وهم

یصطرخون فیهاربنا اخرجنا منهانعمل صالحاغیرالذی کنانعمل قوله تعالی ولوتری اذالمجرمون ناکسوارؤسهم عندر بهم ربناابصرناوسمعنافارجعنانعمل صالحاً انـاموقنون. پس کله چه دعقوبت مقصدپوره شو، اومجرمانوتوبه اوکړه اودبیادپاره دځان ساتلووعده ئې اوکړه نواوس عقلی طورباندې هیڅ وجه پاتې نه شوه چه بیاهم هغوی په تعذیب اوعذاب کښې اوساتلې شی، په دې وجه باندې فناء نارکیدل اوخلودنه پاتې معقول شو. حافظ ابن قیم ددې اشکال نه مرعوبه کیدوسره دجمهورمسلک پریخودې دي اودفناء ناردمسلک ئې اختیارکړې دي. ددې څه جواب دې؟

جواب: دعذاب په حالت کښې یادعذاب دویرې په حالت کښې دمجرمانووعدې دوه قسمه وی. یوه حقیقی وعده کومه چه دزړه نه وی اوپه هغې کښې په رښتیاباندې ځان دگناه نه دساتلوعزم وی، اویوه دفع الوقتی یعنی زړه کښې حقیقی عزم اواحترازنه وی صرف دمعصیت نه دبچ کیدودپاره ددروغووعده اوکړې شی، ددې مصلحت په وجه باندې چه دې وخت کښې ځان بچ کول پکاردی، روستوبه بیاگورو. دمعذبینوکفاروووعدې به هم ددې دویم قسم وی. چه هغه به صرف دروغ اودفع الوقتی وی. پس پخپله قران کریم کښې ددې ددفع الوقتی اوکذب بیانئ تصریف په ښکاره الفاظوکښې موجودده. ارشاددې. ولوتری اذا وقفوعلی النار فقالوا ایلیتنانرودلانکذب بایات ربناونکون من المومنین بل بدالهم ماکانوا یخفون من قبل ولواردوالعادولمانهواعنه وانهم لکاذبون. که سوال اوکړې شی چه داڅنگه معلومه شوه چه هغه وخت به عزم احتراز عن المعصیه نه وی، جواب ئې دادې چه انهم لکاذبون ددې دلیل دې. چونکه ددخپل اختیاری کاردمستقبل دوعدې دربښتیا کیدو یا دروغ کیدومدار هم عزم اوعدم عزم باندې دې. اوکه سوال اوکړې شی چه دعذاب لیدونه پس وقوع کفرفی الدنیاڅنگه ممکن کیدې شی، جواب ئې دادې چه کفراعتقادخلاف حق کښې منحصرنه دې، حجودهم کفردې، بلکه اعتقادخلاف حق نه هم سخت کفرحجوددې، اوددې کفرکیدل په قران مجیدکښې منصوص دی. جحدوابهاواستیقنتهاانفسم ظلماوعلوا. اودې باندې حیرانیدل نه دی پکارچه دومره سخت وخت کښې دروغ څنگه داسې فساداوطنیت داسې څیزدې، پس هم هغه سخته ورځ کښې دهغوی یوبل دروغ هم قران مجید کښې ذکردې. ثم لم تکن فتنتهم الاان قالواوالله ربناماکنامشرکین انظرکیف کذبواعلی انفسهم خودفسادطنیت نه به هغوی معذورنه وی. ځکه چه ددې فسادپه وجه باندې قدرت اواختیارنه ختمیږی اودتکلیف مدارهم قدرت اواختیارنه اونه دطنیت اثرصرف میلان دې نه دکارکیدل لازم یادهغې اراده لازم اوښکاره ده چه کله داحقیقی توبه اورښتونې عزم احترازعن المعصیة نه شوه بلکه دفع الوقتی شوه. اودپورته دعذاب دلیدوپه حالت کښې الله تعالی ددهوکې ورکولومعصیت ئې اوکړو، نوددې عقلی استدلال بناهم منهدم شوه. په کوم باندې چه دفنانار دعوې کړې شوې ده. اودجمهوریه

مسلک باندې بحمدلله هیڅ اشکال پاتې نه شو. وهذامن المواهب الجلیلة+ وماکان عندنالی الوصول الیهاحیلة+ والحمدلله علی هذه النعمة وعلی سائرنعمة الجزیلة. (کتب لنصف شوال ۱۳۵۷ هـ التورص ۸ جمادی الاخری ۱۳۵۸هـ)

الحجة الانتهاء په علی المحجة البهائیه جواب. رساله فرقه بهائیه:

سوال: (۵۶)جناب والا: السلام علیکم یوڅوحضرات دلکهیم پورتحریک نه راقم یومطبوعه مکالمه قره بهائیان په کومې کښې چه بهایانودعوی کړې ده چه قران اودمحمد ﷺ شریعت منسوخ شوې دې، دجواب عرض سره ئې ستاسوخدمت کښې درلیږلې وه. جناب دهغې په جواب کښې فرمائیلی وو چه یووخت کښې دتولې مکالمې جواب دنورو مصروفیاتو په وجه باندې نه شم ورکولې، البته که چرې یوبوایت کښې راؤلیږلې شي نو دتولې مکالمې جواب به رورواوشی، پس دستاسودارشادمطابق اول صرف دیوایت سره دتولې مکالمې کومه چه ډیره اهم ښکاری ستاسوخدمت ته درلیږم. وهوهذا. یدبرالامرمن السماء الی الارض ثم یعرج الیه فی یوم کان مقداره، الف سنة مماتعدون. (سورة الم سجده ایت ۵) تدبرکوی الامرچه داسمان نه به زمکې طرف ته بیااوخیژی، هغې طرف ته یوې ورځ کښې چه دهغې مقدارزرکاله دې، ستاسودحساب مطابق. بهائی وائی چه دالامرمعنی دین مذهب یامحمدی شریعت دې، اودخپلې دعوې په ثبوت اوتائید کښې دایتونه اواحادیث پیش کوی.

۱: اطیعوالله واطیعوالرسول واولی الامرمنکم(صاحب الامر)

۲: دشیعون شرعی صاحبان شریعت(یعنی صاحب شریعت) اصطلاح کښې دامام مهدی علیه السلام دپاره مستعمل ده.

۳: لایزال هذاالامرعزیزاینصرون علی اعدائهم علیه الی اثناعشرخلیفة. (صحیحین)

۴: لایزال الاسلام عزیزامنیعاالی اثناعشرخلیفة. (صحیح مسلم)

۵: لایزال هذاالدین قائماحتی یکون علیکم اثناعشرخلیفة. (جمع الفوائد)

۶: ان صلحت امتی فلهایوم وان فسدت فلهانصف یوم وان یوماعندربک کالف سنة مماتعدون. (کتاب الیواقیت والجواهرسیدعبدالوهاب شعرانی مبحث ۶۵)

جواب: دقول الامرمعنی دین مذهب یادمحمد ﷺ شریعت دې. اقوال که چرې دادی چه صرف دین مذهب اوشریعت دی، بلکه څه معنی ئې نشته نوبیاخوغلطه ده پخپله قران کریم کښې ډیروایتونوکښې دالفظ په نورومعنوکښې راغلې دې. قال تعالی یقولون هل لنامن الامر من شئ قل ان الامر کله لله یخفون فی انفسهم مالایبدون لک یقولون لوکان لنامن الامرشئ

ماقتلناههناوقال تعالی والیه یرجع الامرکله وقال تعالی ومامرناالاواحدة کلمح بالبصروقال تعالی فاذاجاء امرناوفارالتنوروقال تعالی وغیض الماء وقضی الامروقال تعالی فیهایفرق کل حکیم وقال تعالی تنزل الملئکة والروح فیهاباذن ربهم من کل امرسلام. وغیرها. اوکه چرې دامرادوی چه کله ددین په معامله کښې استعمال شوې دې. ځنګه چه دلفظ مشترک ډیرمعنی دی کوم ځائې چه ځنګه معلومه شی هم هغه معنی کښې استعمال شی. نومسلم ده خومستدل ته مفیدنه ده، ځکه چه ایت کښې څه قطعی قرینه نشته،چه دهغې په وجه باندې دایقینی دعوی اوکړې شی چه دلته ددین په معنی کښې استعمال شوې. ځنګه چه حدیث لایزال هذاالامر. کښې قرینه موجودده. باقی ایت اطیعواالله الخ کښې دالامرتفسیرکښې دواړه احتماله دی،علم هم اوحکومت هم. پس کله چه ایت مستدل بهاکښې څه قرینه نشته چه شریعت مراددې اوقطعی خوڅه چه ظنی هم نشته، که چرې ظنی وه نوبیابه هم فائده ورکونکې نه وه،ځکه چه مسئله قطعی ده، بیامتعدد احتمالاتو په موجودګئ کښې استدلال ځنګه صحیح کیدې شی، بلکه دتفسیربالرائے کیدو په وجه باندې دادعوی به حرام اوګناه وی، اودوام اوبقائے شریعت الی یوم القیامة قطعی دلیلونه سره معارض کیدوپه وجه باندې به دادعوی کفروی. اوهم ددې متعدداحتمالاتوپه وجه باندې دې کښې دمفسرینواقوال مختلف دی. خوداقول دچاهم نه دې هغه قولونه دتفسیرپه مختلف کتابونودرمنثوروغیره کښې ذکرشوی دی. اودامسلمه قاعده ده اذاجاء الاحتمال بطل الاستدلال پس هم دې کښې یوتفسیرکوم چه اقرب اواسان دې تبرعاً هم نقل کوم. وهوهذا. اوهغه داسې دې چه داسمان نه زمکه پورې څومره کارونه دی، دهریوکارهم هغه تدبراوانتظام کوی. بیاهریوکارهم دهغه حضورته اورسی. یوه داسې ورځ کښې چه دهغې مقدارستاسودشمیرمطابق به زرکاله وی. یعنی قیامت کښې به ټول کارونه مع مالهاوماعلیها دهغه په حضورکښې حاضرکړې شی، والیه یرجع الامرکله اوهغه ورځ به هغه ځائې خمسین الف وئیل دبعضواعتبارسره دی. چه بعضوته به ډیراشدادسره زیات امتداد محسوسیږی، اوایت کښې ددې دلیل دې چه دعروج نه مرادنسخ دې، تعرج الملئکة والروح الیه کښې لفظ عروج راغلې دې، کوم ځائې چه دراده نسخ احتمال هم نشته،دغه شان یصعدالکلمة الطیب کښې چه کوم مراددې دیعرج اراده دنسخ احتمال نه دې. داخوایت کښې کلام وو. اوس حدیث پاتې شوکوم چه دمواقیت نه نقل کړې شوې دې، پس اول خوڅه حدیث بدون سندصحیح یاحسن قول مقبول نه دې، که سندپیش کړې شی نوهغې کښې نظراوکړې شی دنوروثبوتونونه پس سندبه هغه خبرپاتې شی دعقائدپه باب کښې واحدخبرحجت نه دې،بیاپخپله دحدیث دلالت هم دې معنی باندې قطعی نه دې چه دیوالف نه پس داامت من

الحیث الامت ختم شی. یعنی شریعت به ختم شی، بلکه نزدې معنی داده کوم باندې چه حرف لام دال وو کوم چه د فائدې دپاره دې. یعنی قوت اوغلبه به دیوې یانیمې ورځ دپاره وی، بیابه ضعف اواضمحلال شی، کله چه دامعنی ده که مقطوع وی اوکه محتمل بیادمدعی استدلال په خپل مطلوب باندې څنګه جائزکیدې شی، کله چه نه دحدیث ثبوت شته اونه دهغې دلالت شته. پس ددې روایت نه پس یواقیت کښې دبعضې عارفینو داقول نقل دې. ومراده ﷺ بالالف قوة سلطان شریعة الی انتهاء الالف ثم تاخذفی ابتداء الاضمحلال الی ان یصیرالدین غریبا کمابدا الخ. (۱۰ ربیع الاول ۷۴ هـ (النورص ۸ رجب ۱۳۵۸هـ)

نوټ: بیادسائل خط نه دې راغلې په دې وجه باندې رساله هم په دومره مقدار باندې ختمه کړې شوه. ۱۰ ذیقعده ۵۷هـ

کفربودن یا نبودن لفظ رب گفتن که رامجازاً:

سوال:(۵۷) نحمده ونصلی علی رسوله الکریم څه فرمائی ددین عالمان متین ومفتیان شرع مبین از روئے مذهب حنفیه ماترید دې مسئله کښې چه زید په خپل تالیف تصوف کښې دافقرې لیکلی دی (پس دالله تعالی په طالبانو باندې واجب دی چه دارساله حزرجان جوړ کړی او درسالې لیکلو په وجه باندې موصوف عملی پیراکیدوسره خپل مجازی رب اودحقیقی خوشحالی اونزدیکت حاصل کړی) عمرو په دې باندې دااعتراض لیکلې دې (خپل ځان ته ئې رب مجازی وئیلی، چه دهغې دلته هیڅ تاویل نشته په دې وجه باندې کفردې) خالد داوائی چه مجاز ضد حقیقت اویو قسمه نقص دې، کوم چه دالله تعالی دذات صفت نه شی کیدې. پس غیر خداته رب مجازی وئیل جائزدی، څوک چه غیرخداته رب مجازی وېونکی ته کافروائی دهغه ته پخپله باندې دمسلمان دتکفیر په وجه باندې دکفرویره ده، ترڅو پورې چه هغه دهغې تکفیرنه توبه اونه کړی دهغه اقتداء صحیح نه ده. سوال دادې چه مونږ عامی خلق یو، مونږته هدایت اوفرمایئ چه حق څه دې ایارب مجازی غیرخداوئیل کفردې اوکه نه دې، اوکه کفرنه دې نوکوم کس چه رب مجازی غیرخداته دیونکی تکفیرکوی دهغه اقتداء صحیح ده اوکه نه؟ ۳۱ اګست ۱۹۳۱ء

جواب: عربئ لغت کښې خود لفظ رب معنی عام طورباندې هم هغه ده هلته دقرائن په وجه باندې دمطلق مربی اومالک په معنی کښې داستعمالیدو ګنجائش شته، خوار دو کښې خاص دې دالله تعالی سره، دې کښې دمجازی قید داسې دې څنګه چه خدائے مجازی کښې حالانکه فارسئ کښې لفظ خداعام دې، لکه کتخدا یاچاته خدائے مجازی یارازق مجازی وئیل په دې وجه باندې چه قران کښې احسن الخالقین وخیرالرازقین راغلی دی، خو زمونږ په محاوره کښې عام نه دی، په دې وجه باندې جائزنه دی، غرض داچه ددې لفظ استعمال دمخلوق دپاره

جائزنه دې. خو بیابه هم دې ته کفرنه وئیلې کیږی صرف ګناه به ورته وئیلې کیږی اوڅوک چه ورته کفروائی هغه ئې هم تاویل سره وائی، په دې وجه باندې دې ته کفروئیل هم ګناه ده.
(۱۷ربیع الثانی ۱۳۵۰هـ النورص ۹شوال ۵۰هـ)

دفع اشکال برسوال نکیرین وعذاب قبراموات

غیرمدفونه مثل ماکول سباع وسوخته درناروغیره را

سوال:(۵۸) هغه مومنان اوکافران دکومړی چه خخ کړې شوې نه وی بلکه سوزولې شوې وی یاځناوروخوړولې وی یابل څه صورت کښې تلف کړې شوې یاعدیم الوجودشوې وی، هغوی نه به دنکیرین تپوس کوم مقام باندې کیږی؟

جواب: اول یوڅوځایونه ممهد کړې شی، ددې نه پس به جواب شروع کیږی. مقدمه اولی روح بعدفناء بدن هم باقی وی، مقدمه ثانیه: قبردعالم برزخ نوم دې، دهغې خاص غارنوم نه دې. مقدمه ثالثه.

غیب راابرے وابے دیګراست   اسمانے افتابے دیګراست

مقدمه ۴. درابعه تعذیب وتنعیم مدرک روح دې، اصالتاً نه جسد مګرتبعاً. مقدمه ۵. خامسه طریق ادراک عذاب یانعیم دریوطریقو باندې ممکن دې، ړومبې څنګه چه خوب کښې لیدلې کیږی، خودومره فرق دې چه خوب صرف تخییل دې، اوبرزخ حالات مشاهد دی، دویم داچه داهرڅه حقیقةً موجوددی، اګرچه نه محسوسیږی اودهریوموجود محسوس کیدل ضروری نه دی. جبرائیل علیه السلام به حضور ﷺ ته راتلوخونه به چالیدواونه به چا اوریدو. دریم داچه الله تعالی قادردې چه دمارد خوړلونه بغیرهم هغه شان درد پیدا کړی اوهغه ګزیدګی مارسره تعبیر کړی. تمسیة للمسبب باسم السبب مقدمه ۶ که صبح صادق دیوممکن کارخبرورکوی دهغې تصدیق واجب دې. اګرچه دهغې کیفیت متعین نه کړې شی، مثلاً یوکس ته داخبره متواترثابت وی چه تارباندې خبررسی اودې حالت کښې رسی خوچونکه ډیروخلقو خبرورکړې دهغې دتکذیب اوانکارصرف په دې وجه باندې که چه دې حالت باندې نه پوهیږم مکابره ګڼړلې کیږی. پس که چرې یوانسان ته دغټ افت دراتلوویره وی نودهغې نه دبچ کیدوفکرکول پکاردی، اودهغې په طریقه معلومولو کښې عمرنه دی ضائع کول پکار. مثلاً بادشاه دچادقتل کولوحکم اوکړونوهغه ته دخپل طاقت مطابق دخپل ځان دبچ کولوکوشش کول پکاردی، دانه چه هغه داتحقیق کوی چه ماته به پهانسی راکولې کیږی یامابه اره باندې پرې کوی یاتوره باندې به مې مړکوی یااوبوکښې به مې ډوبوی یامابه باندې به کورراغورزوی، یادپورته نه به مې راغورزوی.

مقدمه سابعه. دعلم امورغیبیه موقوف توقیف شارع باندې دې، شارع چه څومره خبر راکړې دې هغې باندې ایمان راوړل فرض دی، که چرې دهغې څه کیفیت بیان کړې شی نوصرف په دې وجه باندې تقریب اذهان دې، دې باندې جزم نه دی کول پکار، کیدې شی چه بله طریقه هم وی. کله چه دااووۀ واړه مقدمې اوشوې نوپوهیدل پکاردی چه کله انسان مړشی نودهغه روح باقی وی، بحکم مقدمه اولی اودهغه مقام برزخ وی. بحکم مقام ثانیه اوهم دې مناسبت سره دهغه دپاره هریوه زمکه وی. بحکم مقدمه ثالثه اوهم هغه ځائې کښې هغه ته عذاب اووضعطه کیږی، اوکه دهغه بدن هرځائې وی اوکه ځناوروخوړلې وی یاخښنه شوې وی البته اجزائے جسدیه سره دهغه څه تعلق وی، اودهغې تعلق په وجه باندې هغه اندامونوکښې هم که دومره ژوندوی چه دهغې ثواب اوعذاب اثربدن باندې اوشی نوهیڅ بعیدنه ده.

پس داخبارکثیره نه ثابت شوې چه دبعضې اهل قبورعذاب خلقوپه خپلوسترګو باندې لیدلې ددې بناهم هغه تابعیت دې. بحکم مقدمه رابعه اودریوطریقوکښې په څه خاص طریقه باندې اوممکن ده چه چاته په دریوواړوطریقوباندې عذاب ورکړې شی. بحکم مقدمه خامسه کله چه داټول کارونه ممکن دی اومخبرصادق دوقوع خبرایمان راوړل فرض اودهغې دبڅ کولوفکرضروری اودتعین کیفیت پسې کیدل فضول شول. بحکم مقدمه سادسه اوڅومره چه ذکرشوی دی صرف داستبعاددلرې کولودپاره دی. ګنی ممکن دی چه دعذاب څه بله طریقه وی، بس علی الاجمال ایمان راوړئ اوددې کیفیت الله تعالی ته حواله کړئ. بحکم مقدمه سابعه اودې باب کښې کلام کول طوالت دې، خوضروری قدریه دې چه ذکرشوې وی، امیددې چه دعقیدې دصحیح کیدودپاره به کافی وی. اللهم انی اسئلک الثبت بالقول الثابت فی الحیوة الدنیافی الاخرة لنفسی وبجمیع المسلمین والمسلمات الاحیاء منهم والاموات برحمتک یاارحم الراحمین ویاغیاث المستغیثین. (تمته ثالثة ص ۵۱)

جواب بعضه شهادت بردلیل حدوث روح مذکوره رساله تکشف:

سوال: (۵۹) جناب چه دروح قدم په تکشف کښې باطل فرمائیلې دې. دې کښې دعلمونوقدم شخصی باطل کیږی، نه نوعی نمبر ۲ ماثبت قدمه امتنـغ عدمه داپه موجوداتوکښې دې نه اعدام کښې ګنی دروزانه دحوادثوداکیدل به ممکن نه شی ځکه چه دلته هم ددې عدم تقدیم دې نوځنګه چه دعلم حادث روح عدم محال دې. دزید دعدم به عدم محال ولې نه وی.

جواب: نمبر ۱ کښې همیشه دحدوث کل شخص دمستلزم للحدوث النوعی کیدل بدیهی ګنړم، اوتنبیه دې باندې ده چه کله دوجودنوع بدون وجودشخص نه محال نه ده نوکله چه هریوکس حادث وی نودقدم نوع به څه صورت وی. نمبر ۲ جهل عدم محض نه دې بلکه دعدم

ملکه ده کوم چه په عقلی احکاموکښې دوجودی په شان وی، وجه داچه عدم به علت معلول وی پس کله چه داقدیم وی نودهغې علت به هم قدیم وی اودهغې دعدم نه به عدیم لازم راځی کوم چه محال ده پس دابه هم ممتنع العدم وی دعدم په مقابله کښې چه دهغه دځه علت معلول نه ده. دهغې دعدم نه څه مخدورلازم نه راځی. اوقطع نظرددې په منهیه کښې چه کوم دلیل دې هغه ددې غبارنه هم پاک دې. والله اعلم. (۲۳ جمادی الاولی ۱۳۳۴ھ تمته رابعه ص ۳۲)

دفع شبه متعلق نعیین لیلة القدر باوجود اختلاف اوقات لیل درافاق:

سوال: (۶۰) تقریباً یوه میاشت مخکښې یوشیعه مانه دوه سوالونه اوکړل، یوخوداچه انسان ته اشرف المخلوقات ولې وئیلې کیږی. دویم داچه قران حمیع اولادادم دهدایت دپاره نازل کړې شوې دې. اواولادم اکناف کښې داسې مختلف جزیرې هم ابادی چه دې وخت کښې هلته ورځ ده اوبل ځائې کښې شپه ده، نوسورت لیلة القدرکښې چه دشپې کوم فضیلت بیان شوې دې، دهغې مصداق به هغه ځایونه وی کوم ځائې کښې چه دې وخت کښې ورځ ده، داسې اختلاف نزول ملائکه کښې ولې دې، حالانکه دالله تعالی کلام دټولو انسانانو دپاره حالاتوباندې منطبق کیدل پکاردی، هغه کس عقلی جواب غواړی نقلی نه، ړومبی جواب کښې خوتاسودهغه تسکین اوکړوخودهغه دجواب ضرورت دې. فقط؟

جواب: ددویم سوال جواب بالکل ښکاره دې دکومې زمانې یاوخت باره کښې چه هغه حکم یافضیلت دې هرځائې کښې چه کله هغه وخت یاهغه زمانه راشی هم هغه وخت به هغه حکم یاهغه فضیلت وی. پس څنګه چه دمونځونوحکم هرځائې کښې نمرراښتلواوپریوتلوسره دې، هم دغه شان حساب سره به لیلة القدرهم وی، هغه وخت به هغه خاص برکتونه نازلیږی. اوکوم وخت چه دبل ځائې حساب سره هلته لیلة القدروی هم هغه شان برکتونه به هغه وخت هلته متوجه شی، وهذاظاهرجدافقط. (امدادرربعه ص ۱۳۱)

معنی عدم کلام فاطمه رضی الله عنها که درحدیث فدک واقع شد:

سوال: (۶۱) شیخ عبدالحق محدث دهلوی درشرح اشعة اللمعات فرمایند درباب فداک ازصحیح بخاری که ازوقتیکه باجناب صدیق وحضرت زهرادرین باب مکالمه واقع گشت ازان بازجناب سیده مطهره ازحضرت صدیق کلام نه کردتااینکه انتقال فرموده رخت ارتحال کشیدازظاهرکلام شیخ ازمضمون صحیح بخاری پیداست که این عدم تکلم بنابرهمان ملالت است پس مدلول حقیقتش چست؟

جواب: پرظاهرست که حضرت امیرالمومنین ابوبکرصدیق رضی الله عنه درمنع فدک مستندبه دلیل شرعی قطعی مسلم عندعلی رضی الله عنه وفاطمه رضی الله عنها بودوحضرت سیده نیزقبله وکعبه سنیان

هستندربنایرین علماء محققین لم یتکلم رابرمعنی لم یتکلم فی هذاالامرمحمول کرده اندولوسلمناکه لم یتکلم برمعنی متبادرمحمول باشدتاهم چه دلیل که این هجران ازملالت بودواگربروایتی تصریح هم برایدیمکن که ظن راوی باشدفقیر میگوید که انصاف پسندان غورفرمایند که اصلی وموجب سیادت و عفت سیده است پس برحالت اصلی چگونه حیرت دست داده بلکه اگرتعجب باشد. ازتکلم باید که چرابااجنبی مکالمت فرمودندلیکن چون ضرورت طلب حق بوداین استبعادهم مرفوع است لاسیماکه حضرت ابوبکر رضی الله عنه درحضرت سیده رفته مستدعی صفادرفع کدورت شدند. چنانچه دربعض روایات که نشانش انقباض طبع بودکه رفع ان غیرمکلف وازلوزام بشریت است ولایکلف الله نفساالاوسعها خصوصاً اگر دلیل حضرت ابوبکربزعم واجتهادایشان ماول بتاویلی باشدنه بریشان که باوجهتادخودخویش را مستحق مے پنداشتند. برحضرت ابوبکر رضی الله عنه که ایشان براتحاد وخودمامور بودند تقلید حضرت سیده جائزنبودخصوصاً وقت یه که اجتهادشان موافق باشدباجهتادسائرصحابه ام المؤمنین عائشه رضی الله تعالی عنهاوالله اعلم. (امدادربعه ص ۱۳۲)

دعیسایانود سوالونو حل:

سوال: (۶۲) که یومولاناصاحب داسوالونه دقران شریف نه ثابت کړی نوازان وخت به مونږ محمد عربی رسول اومنو، اول داچه حضور ﷺ دقران مجید دیوسورت نه معصوم ثابت کړئ. دویم انجیل دقران په یوایت باندې منسوخ کړئ. دشق القمرنه علاوه یوه معجزه دقران کریم نه ثابت کړئ.

جواب: الحمدلله المتفضل علی رسوله بقوله ولولافضل الله علیک الی قوله عظیماً وقوله لــوان ثبنـاک لقدکدت ترکن الیهم شیئاقلیلاوقوله الرسول النبی الامی الذی یجدونه مکتوباالی قوله هم المفلحــون وقوله اناانزلناالیک الکتاب بالحق الی قوله لقوم یوقنون وقوله بل هوایات بینـات فی صدروالذین اوتواالعلم وقوله مارمیت اذرمیت ولکن الله رمی صلی الله علیه واله وصحبه وبارک وسلم.

امابعد! پرچه نورعلی نورلدهیانه مطبوعه یکم اگست کښی ص ۱۵ باندې دیو پادری صاحب درې سوالونه یودعصمت مسئلې دویم دنسخ انجیل اودریم دشق القمرنه علاوه دمعجزې ثبوت چه دهغې جواب هغه دقران مجیدنه غوښتلې، مې دنظرنه تیرشو. چونکه دوجوب جواب دپاره دسوال معقول کیدل اوصحیح اصولوباندې منطق کیدل ضروری دی په دې وجه باندې هغه فروگذاشت کوم چه سوال کونکی دې سوالونوکښی کړی دی اظهارکوؤ چه دبیادپاره کوم سوال کوی نوهغې کښی ددې خبروخیال اوساتی. او پوهیدل پکاردی چه دکوم مدعی کومه دعوی وی هغه دعوی محفوظ ساتلوسره مطالبه کول زیباوی. سوال کونکی

صاحب په دریوواړوسوالونوکښی دمسلمانانودعوی بدله کړې ده. یعنی دمسلمانانودعوی په دریوواړومسئلوکښی داده چه قطعی دلیل سره ددې ثبوت شته، اودهغوی په نزدباندې قطعی دلیل قران مجید کښی ضروری نه دې بلکه قران مجید اوخبرمتواتراواجماع اودلیل عقلی برهانی داټول دهغوی په نزدباندې قطعی دلیلونه دی. بیادهغوی په نزدباندې قطعیت کښی دوه مرتبې دی یوه هغه چه دهغې انکارکفر وی، اگرچه انکاردتاویل په سبب وی یوه هغه که دهغې انکاردتاویل په سبب وی نوهغه کفرنه دې، بدعة سیئه وی. پس دمسلمانانوذکرشوې دعوې دامطلب شوچه دادرې واړه مسئلې دذکرشوی دلیلونه ثابت دی، که هرشان دلیل سره وی، اودواړوذکرشوې مرتبوکښی که هریوې مرتبې نه وی. اوس دهغوی نه صرف دقران دلیل دمطالبې کونکونه تپوس کوی چه ایاستاسوپه نزدباندې دهغوی دادعوی ده چه داټولې مسئلې قران شریف نه ثابت دی، یادادعوی ده چه دڅه قطعی دلیل نه ثابت دی. ړومبی شق باندې خوهغوی ته تعییرلازم راځی. ځکه چه دهغوی دادعوی نه ده څنگه چه پورته ذکرشوې ده، اودویم شق باندې خاص دقران نه جواب ورکول دهغوی په ذمه باندې ضروری نه دی. پس دواړوشقونوباندې ددلیل دمطالبې حق نه پیداکیږی.

دویم: ددعوې محفوظ ساتلونه پس هم سوال کونکی دپاره څه خاص دلیل باندې مطالبه کول هغه وخت کښی زیبادی کله چه هغه پخپله باندې هغه دلیل صحیح گڼړی، گنی بې فائده دمجیب وخت ضائع کول دی، مثلاً که یوکس اووائی چه مونږبه هغه وخت منوکه چه دفلانکۍ واقعې گواهی په زیدباندې ورکړئ اوپخپله زیدته دروغژن وائی نومخاطب ته به ددې بې فائدې کوشش نه څه حاصل شی. ځکه که چرې دزیدنه گواهی هم واخستلې شی نوهغه وخت به هم وائی چه زماپه نزددې دروغژن دې. پس سوال کونکې صاحب ددوؤ حالاتونه خالی نه دې، یاقران منی اوکه چرې نه منی نودمسلمان کیدواقراردې اوکړی بیابه دې حیثیت کښی سوال کول بې موقع نه وی، اوکه نه منی نوبې فائدې دقران گواهی ولې غواړی، اودهغوی داوئیل دچازړه ته پریوتې شی، که چرې دقران نه ئې ثابت کړئ نومونږبه محمدعربی ﷺ رسول اومنو، ځکه چه کوم کس شاهدته کاذب وائی هغه به واقعه څنگه رښتونې اوگڼړی داخوصرف بې معنی کلام شو.

دریم: دفطری سوالونوترتیب دادې چه کله ډیرې خبرې مجتمع وی نوړومبې دهغې خبروتپوس کیږی کوموکښی چه اصل گفتگووی اوچه دهغې دحل کیدوپه وجه باندې روستی کارونه اسان شی دانه چه دداسې خبرې تپوس اوکړې شی که چرې هغه حل هم شی نود اصل الاصول تحقیق بیاهم باقی وی، پس مسلمانانواوپادری صاحب کښی مسائل مختلف فیهماکښی دټولونه غټه دنبوت اورسالت مسئله ده، ترڅوپورې چه دې کښی اختلاف وی که دنسخ مسئلې یامعجزې یاعصمت باندې حجت هم قائم کړې شی نومونږتپوس کوؤچه ایادمسلمان کیدودپاره ددې تحقیق به ضروری وی اوکه نه، شق ثانی بداهته دنه منلوقابل ده، ړومبی شق

باندې ددې مسئلوتحقیق کښی ددومره وخت ضائع کولوڅه فائده اوشوه، چونکه داسوالونه داصولوخلاف دی پس دمسلمانانوپه ذمه باندې ددې جواب نشته، ددې فروګذاشتوداظهارنه پس مونږدخیرخواهۍ عرض کوؤکه چرې تاسوپه رښتیاباندې حق غواړۍ اومنظوروی نوتاسواووایۍ چه مونږتاسوته دیوعالم محمدی نوم اوښایوتاسوورسره په مخامخ باندې خبرې کولوسره خپله تسلی اوکړۍ، اوکه همه دانی خودل مقصدوی نوغریبانان مسلمانان ددې عنایتونونه محفوظ اوساتۍ. ځکه چه دې صورت کښی تقریراوتحریرټول بې کاره دی.

(۱۸جمادی الاولی ۱۳۲۱هـ امدادرابعه ص ۱۳۳)

رفع بعض شبهات شیعه متعلقه فضائل علی رضي الله عنه

سوال: (۶۳) دیوکس دااقوال دی ددې څه جواب دې. (ړومبې قول) دروضة الصفااونورو ډیرو کتابونونه نقل کولوسره ترجمه کړې ده، داوږدیدودویرې عبارت نه نقل کوم صرف ترجمه عرض کوم هغه داده چه کله ایت وانذرعشیرتک الاقربین نازل شونوحضور ﷺ بنی عبدالمطلب جمع کولوسره اوفرمائیل چه ماتاسودپاره ددین اودنیاخیرراوړلي دې. اوالله تعالی ماته حکم کړې دې چه تاسودې طرف ته راوبلم، پس تاسوکښی څوک داسې شته چه دې کارکښې زمامدداووزارت اوکړی، اوزماروراووصی اوخلیفه یئ، قوم ددې هیڅ جواب ورنه کړواومطلق التفات ئې اونه کړو(حضرت علی رضي الله عنه وائی چه داحال لیدوسره) ماعرض اوکړوچه اې دالله نبی ستادنصرت اووزارت دپاره موجودیم، جناب رسالت ماب ﷺ څټ باندې لاس کیخودواوقوم ته ئې خطاب اوکړوچه دازماروراووصی اوخلیفه دې، تاسودده اورئ اودده اطاعت کوئ. وانتهی فقط.

جواب: روضة الصفاراته اتفاق سره ملاؤشو، دې کښی خوړومبې اوزده اندسره چه کوم حکایت بیان کړې شوې دهغې نه معلومیږی چه پخپله مؤلف ته هم یقین نشته. دویم داکه چرې یقین هم وی نوبیاهم روایت دسندنه بغیرمستندنه وی، اودې کښی دسندهیڅ پته نشته، دریم دې کښی دلفظ خلیفه هیڅ پته نه لږی. رورکیدل نوددې نه چاته انکاردې، او لفظ وصی عام دې دخلافت سره مخصوص نه دې. حدیث فاستوصوبهم خیراکښی دټول امت وصی کیدل ثابت دی. پس روضة الصفاکښی درفضائل اهل بیت اورده اندوئیلی دی اواثبات خلافت ئې نه دی وئیلی، معلومه شوه چه صرف مثبت خلافت دې، که نورکتابونه اوخودلې شی نوجواب به ورکړې شی، باقی داخبره همیشه دیادساتلوده چه دسندنه بغیرپوروایت هم مقبول نه شی کیدې، اګرچه هغه کتاب کښی موجودوی. والله اعلم.

دویم قول: دبعضې کتابونونه ثابت کړې شوی دی چه ایت یاایهاالرسول بلغ الایة بروزغدیرخم دحضرت علی رضي الله عنه په شان کښی نازل شوې دې. انتهی فقط.

جواب: اول خوددذکرشوې قاعدې مطابق جواب قول اول سندصحیح مطالبه کیږی، ددې نه بغیرحجت نشته، دویم برتقدیرتسلیم دااهل سنت دپاره مضرنه دی غایت مافی الباب کښی به حضرت علی رضي الله عنه یوفضیلت وی نودفضائل مرتضویه څوک منکردی. باقی دخلافت یادا فضیلت من الکل دې کښی هیڅ نخښه هم نشته. اوحدیث غدیرنه صرف دحضرت علی رضي الله عنه محبوب المومنین کیدل ثابت دی، پس هغه عین دین دې.

دریم قول: تفسیرابن مردویه. تفسیرمنثور. تفسیرفتح البیان نه نقل شوی دی. عن ابن مسعودقال کنانقرء علی عهدرسول الله ﷺ یاایهاالرسول بلغ ماانزل الیک من ربک ان علیامولی المومنین وان لم تفعل فمابلغت رسالة انتهی کلامه.

جواب: لفظ مولی مشترک دې، واذجاء الاحتمال بطل الاستدلال اوقرینه مقام یعنی محبوب ته ترجیح ده، ځکه چه دامام احمدروایت کښی ددې نه پس داهم دی. اللهم وال من والاه وعادمن عاداه اوښکاره ده چه دعدوات په مقابله کښی ولایت دمحبت په معنی کښی دې.

څلورم قول: بعضې کتابونونقل کړی دی چه کله حضور ﷺ من کنت مولاوفعلی مولا اوفرمائیل نودا ایت الیوم اکلمت لکم دینکم.... الخ نازل شو، پس حضور ﷺ اوفرمائیل چه دالله تعالی شکراداکوم زه اکمال دین اتمام نعمت باندې، اودې خبرې باندې چه هغه زمادرسالت اودعلی رضي الله عنه دولایت نه راضی اوخوشحاله شو. انتهی کلامه.

جواب: بالکل غلط روایت دې. ځکه چه صحیح بخاری کښی دحضرت عمر رضي الله عنه اوترمذی کښی دحضرت ابن عباس رضي الله عنه روایت (کلاهمافی کتاب التفسیر) تصریح ده چه ایت الیوم اکملت لکم دینکم دعرفې په ورځ نازل شوې وو، اورسول الله ﷺ هغه وخت عرفه کښی موجودوو، اوغدیرقصه دهغې نه ځائې نه واپسئ کښی حجفه کښی شوې وه، پس دصحیح حدیث دمعارضې په وجه باندې دروایت بالکل غلط دې.

پنځم قول: دبخاری شریف عبارت نقل کړې دې چه عبدالله بن عمر رضي الله عنه یزیدسره بیعت کړې وو، اوفرمائیل به ئې چه ماداالله تعالی حکم اورسول سره بیعت کړې دې، اوکوم کس چه بیعت نه کوی دهغه ماسره هیڅ تعلق نشته. انتهی.

جواب: دې کښی څه اعتراض دې، بیعت دپاره دخلیف تقی اوورع کیدل شرط نه دې، او مخالفت کښی دفتنې ویره وه، په دې وجه باندې دزړه دکراهت باوجودمسلمانانوکښی دفرقې نه دبچ کیدودپاره ئې که بیعت اوکړونوڅه خرابی اوشوه، اوهغوی خلق هم ددې فتنې دویرې نه منع کړی وو.

شپږم قول: روضة الصفاوروضة الاحباب وحبیب السیرنه بالکل خلاف دمذهب اهل سنت والجماعت عجیبه روایتونه نقل کړی دی اواول ئې دادعوی کړې ده چه کتابومقبول الطرفین

دی پس شاه عبدالعزیزصاحب تحفه مطبوعه نولکشورپه صفحه ۴۲۱ کښې فرمائی اینست اجه دروضه الصفاوروضة الاحباب وحبیب السیرملاؤشوه، معین اونور تاریخونه معتبره شیعه وسنی موجوداست انتهی کلام تحفه ونیزجناب شاه صاحب په خپل اثبات دعوی کښې هم ددې کتابونوروایتونه نقل کړی دی، پس صفحه ۴۲۴ کښې طعن چهارم په جواب کښې روایت نقل کوی، ودرمعارج وحبیب السیرمذکوراست که بعدازعزوه تبوک الخ. انتهی کلام تحفه.

جواب: دیوتاریخ دمعتبره کیدومعنی داده چه اکثراموتاریخیه کښې معتبروی په امور متعلقه دین کښې نه، اونه جمیع امورتاریخیه کښې.

اووم قول: کله چه درسالت ماب خاندان یزیدتباه کړو، نودخپل پلارمعاویه بن سفیان دوصیت مطابق دمدینې طیبې بربادئ ته متوجه شو، پس حضرت محدث دهلوی خپل کتاب جذب القلوب کښې لیکی، چه ابن ابی خثیمه بسندصحیح رسانیده میگوید که اشیاخ مدینه منوره حدیث میکردند که معاویه رضی الله عنه دراحتضارموت یزیدپلیدراپیش خود طلبیده گفت چنین دانم که نزداهل مدینه منوره روزے پیش خواهدامدباید که علاج ان واقعه بمسلم بن عقبه کنی هیچ کس راناصح ترازوے درین واقعه نمی بینی چون یزیدپلید بعدازپدربرسریرامارت نشت بروصیت پدرعمل نمودمهم اهل مدینه منوره بانصرام رسانیدومسلم بن عقبه رابالشکرعظیم ازاهل شام بقتام مدینه منوره فرستأدالخ انتهی کلام بلفظه.

جواب: اول خوددې کتاب دکتلوضرورت دې، دویم دحضرت معاویه رضی الله عنه دوصیت مطلب داکیدې شی که چرې دمدینې اوسیدونکی تکلیف درکوی نوهغوی دمسلم په ذریعه باندې منع کړه، ایاداضروری دی چه کوم مطلب ترې نه یزیداخستلې دې هم هغه مرادوی. حضرت معاویه رضی الله عنه باندې څه اعتراض شو؟

اتم قول: امام یافعی درمراة الجنان وعلامه ذهبی درتذکرة الحفاظ وشاه عبدالعزیزصاحب دربستان المحدثین اورده که امام نسائی روزے درجامع دمشق ازخصائص نسائی برخی درشان جناب امیرمیخواندشخصے گفت ازفضائل امیرالمومنین معاویه رضی الله عنه هم چیزے اگرنوشه باشی بگوامام نسائی جوابداد که معاویه رضی الله عنه راهمین بس است که نجاست یابداورافضائل کجابجزانیکه الااشبع الله بطنه عوام کالانعام چون این سخن بشنیدندامام نسائی رازدوکوب نمودند که اومظلوم شهیدشدا. انتهی بلفظه.

جواب: امام نسائی ته به دهغوی دفضیلت حدیث نه وی رسیدلې، باقی دهغوی دخپل قول نه چه بس است که نجات یابدمعلومیږی، چه هغه اقوال اوافعال دشیعه ګانوپه شان یقیناً مانع نجات نه ګنړی.

نهم قول: عبدالله بن عمر رضی الله عنه په شان دیزیدپه شان کس نه بیعت اوکړو، پس دبخاری په حدیث کښې دی. عن نافع قال لماخلع اهل المدینة یزیدبن معاویة جمیع ابن عمرحشمه وولدة فقال انی سمعت

النبی صلی الله علیه وسلم یقول ینصب لکل غادرلواء یوم القیمة واناقدبایعنا هذالرجل علی بیع الله ورسوله وانی لااعلم احدامنکم خلعه ولاتابع فی هذالامرالاکانت الفیصل بینی وبینه انتهی بلفظ المؤلف.

جواب: جواب په پنځم سوال کښې تیرشوې دې، اوپخپله دحدیث لفظ وائی چه دغدراوخلع په شان امتناع اومنع کوی. دې باره کښې ډیراحادیث راغلی دی، چه دبیعت نه پس نکث منع دې، ترڅوپورې چه ښکاره کفراونه شی.

لسم قول: قال النبی صلی الله علیه وسلم اذارایتم معاویه رضی الله عنه علی منبری فاقتلوه (منقول ازفردوس دیلمی کنوزالحقائق) انتهی.

جواب: بستان المحدثین کښې خودیلمی ته تودهٔ موضاعات لیکلی دی.

یوولسم قول: شاه ولی الله صاحب دهلوی دحضرت علی رضی الله عنه نوم دخلفائے راشدینو دفهرست نه ویستلې. پس ازالة الخفاء کښې دی. چه قرون ثلثه مشهودلهابالخیرنه دجناب رسالت ماب صلی الله علیه وسلم زمانه اودابوبکر رضی الله عنه زمانه اودعمر رضی الله عنه اود عثمان رضی الله عنه زمانه مرادده، دې نه پس اختلافات ښکاره شو. بیائې مخکښې لیکلی دی چه داثارونه معلومیږی چه خلافت راشده به مدینه منوره کښې وی، اودریوخلیفه ګانونه علاوه بل چاقامت نه دې اختیارکړې. انتهی عبارته بلفظ.

جواب: اول خوتهول مقام کتل ضروری دی. دویم خیریت اورشدکلی مشکک دې، اودتفاوت ازمنه ښکاره دې. پس که چرې دخیراورشداکمل نفی کړې وی نوددې مطلق دخیراورشدنفی کله لازم راځی.

سوال: (٦٤) بنده فقیرشیخ عبدالصمد ساکن قصبه سندیله متعلقه ملک اودهـ دې دریوځایونو باندې حیران اوپریشان دې، داسلام ددانشمندانونه امیددې چه زماداحیرانی اوپریشانی زمادسوالونوداطمینان قابل جوابونوسره به ختمه کړی. اوجوابونه دمنطقی دلیلونو اوتاویلاتونه نه غواړم.

سوال: (٦٥) دعلی مرتضی رضی الله عنه صفتونه ځنګه چه دقران مجیداودحضور صلی الله علیه وسلم مستنداحادیثونه ثابت دی، هغه شان دبل چاطرف ته نشته. اکثرعالمان اهل سنت والجماعت هم مقردی، بلکه بجواب فرقه زیدیه باب خلافت کښې دعلی رضی الله عنه دافضیلت کلام داهل سنت والجماعت نه ثابت دې، بیاڅه وجه ده چه فرقه سنت جماعت مفضولی علی مرتضی کښې کوشش اواهتمام بلیغ کوی.

سوال: (٦٦) باوصف موجودکیدل دامام جعفرصادق په عهد کښې ابوحنیفه کوفی اوامام مالک کښې اوامام موسی کاظم په عهدکښې محمدشافعی کښې اوزمانه ابن حنبل کښې اکثراولاد داهل بیت نبوی موجودوو، څه وجه اوشوه چه ابوحنیفه اوشافعی رحمه الله علیه اومالک اوحنبل څلورغیرکسان دین محمدی امام وپیشوائے قائم شول. اودهغوی څلورمصلې په کعبه کښې نصب شوې اوامام دبیت نبوی اولادپه عوام الناس کښې شمیرشول.

سوال:(۶۷) دسنت وجماعت عالمانو دامام ابوحنیفه کوفی اوامام ابویوسف اودمشائخوډلې په مشوره باندې ثلورپیران اوڅوارلس خانواده پیری مریدی عرب اوعجم قائم کړل، اودائې ددین محمدی ډیره غټه لارګرڅولوسره جاری کړه، دې کښې سرګروه وو، بعضې غیرکسان بعضې دابوبکرصدیق رضی الله عنه اولادا وبعضې دعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه اولادوو، اواکثراولاد عباسی داهل بیت نبوی دښمنان وو. څه وجه اوشوه داسې غټه طریقه اجزائے دین محمدی کښې یوکس هم داهل بیت نبوی نه شامل نه کړې شو.

جوابونه: دسوال کونکی دطرزکلام نه معلومیږی چه دسوال کونکی طبیعت اختصارپسند دې، پس مونږهم بحکم خیرالکلام ماقل ودل ډیراختصارسره جواب ورکوؤ.

افضلیت اصحاب ثلثه برخلیفه رابع:

جواب دړومبی سوال: داوئیل چه دحضرت علی رضی الله عنه باره کښې داسې فضیلتونه ذکرشوی دی چه دنوروپه حق کښې نه دی راغلی، محل کلام دې. کمیة فضائل امرنوردی، اوکیفیت امراخراګرکثرت کمامسلم هم وی نوکثرت کیفامحل نظردې. بلکه معلومیږی چه داامر دحضرت ابوبکر رضی الله عنه سره مخصوص دې. قال الله تعالی وسیجنا الاتقی اوقال ان اکرمکم عندالله اتقاکم ددې دوارو ایتونونه زیات فضیلت اودفضیلت دلیل به څه وی، ددې نه پس مونږتپوس کوؤچه دمفضولی نه دسوال کونکی نه څه مراددې. که مفضولی کل اصحاب مرادوی نوبیاخودې کښې څه سنی اهتمام نشته، اوکه مفضولی اصحاب ثلثه مرادوی نودې کښې سنی څه اوکړی،. کله چه پخپله حدیث مرفوع تقریری نه ثابت دی.

البخاری عن ابن عمررضی الله عنه انه قال کنانخیربین الناس فی زمن النبی صلی الله علیه وسلم فنخیرابابکرثم عمربن الخطاب ثم عثمان بن عفان اه وزادالطبرانی فی روایة فیسمع رسول الله صلی الله علیه وسلم ذلک فلاینکره اه اودتفصیل دشیخین په خپل اوپخپله دجناب امیر علیه السلام دارشادنه ثابتیږی. البخاری عن محمدبن جنفیة قال قلت لابی ای الناس خیربعدالنبی صلی الله علیه وسلم قال ابوبکرقلت ثم من قال عمراه واخرج ابن عساکرعن ابن لیلی قال قال علی رضی الله عنه لایفضلنی احدعلی ابی بکروعمر الاجلدته حدالمفتری واخرج احمدوغیره عن علی رضی الله عنه قال خیرهذه الامة بعدنبیهاابوبکروعمرقال الذهبی وهذامتواترعن علی والله اعلم.

تقلیداهل بیت درضمن تقلیدمجتهدین:

سوال:(۶۸) ددویم سوال: دااعتراض به هغه وخت صحیح وې کله چه مقلدینوداهل بیت مخالفت کولوسره دمجتهدینوتقلید کړې وې. حالانکه داسې نه ده بلکه دمجتهدینو

تقلیدبعینه داهل بیت داامامانواتباع ده. ځکه چه مجتهدینوداصولواوقواعدواستفاده اکثرداامامانونه کړې ده. پس دامام اعظم رحمة الله علیه دامام جعفرصادق علیه السلام خدمت ته راتلوسره فائده اخستل اودامام علیه السلام اکثردامام رحمه الله تحسین فرمائیل معروف دی، البته چونکه داهل بیت امامانو علیهم السلام اکثراهتمام دباطنی افادیت کښې زیات وو، المفهوم من حدیث انی تارک فیکم ثقلین کتاب الله وعترتی فالاول[21] ماخذعلم الشریعة والثانی ماخذعلم الطریقه. اوهم په دې وجه باندې امامانوحضراتوڅه کتاب فروغ اوجزئیات یااصول اوقواعدوکښې تصنیف نه دې فرمائیلې، بلکه داکارئې مجتهدینوته ورکړو، پس داهل بیت داامامانوقول کاانمابسرمستورفی سروسرمستروسرعلی سرواناعلینا ان نلقی الیکم الاصول وعلیکم ان تفرعوابعبارة اخری علیناالقاء الاصول وعلیکم التفریع مشهوردې. ونعم ماقبل.

هرکسے رابهرکارے ساختند میل اواندردیش انداختند

اودې مجتهدینوپه تمهیداصول اواستخراج فروع کښې ډیرزیات مشقت برداشت کړواودالله تعالی لارئې صفاکړه، بس بالضرور دمجتهدینواقول اخذکول ضروری شواو دهغوی تقلیدبعینه برحضرت ابوبکر رضی الله عنه اودهغوی ثلورمصلې داامامانوشوې، چه اقوال مجتهدین تفصیل کښې ارشادمجمله داهل بیت حضراتووهل من تغائرحقیقی بین الاجمال والتفصیل فافهم واستقم. پاتې شوداشک چه دهغوی طرف ته انتساب ولې نه کوؤددې دفعیه داده چه انتساب نزدې واقعې ته وی. هم داوجه ده چه ددې باوجودچه اکثرمسئلې دجزئیه ماخذاثارخلفاء راشدین اودنوروصحابه کرامودی، خوبیاهم څوک ځان ته ابوبکری یاعمری یاددې په شان نه وائی، پس څنګه چه ددې انتساب دپریخودونه لازم نه راځی چه اهل سنت داحضرات په عواموکښې شمیرکړی دی علی هذاترک انتساب الی الائمه نه هم دهغوی معاذالله لعوام ګڼړل لازم نه راځی. بلکه دارباب ذوق په نزدباندې داترک انتساب هم عین ادب دې، کماقال قائل هنوزنام توګفتن کمال بے ادبی ست والعاقل تکفیه الاشاره والله اعلم.

بیت مشائخ بیت اهل بیت:

جواب: ددریم سوال: دې سوال کښې سوال کونکی دچشم پوشئ نه کاراخستلې، اول خودا وئیل چه ثلورپیران اوڅوارلس خانواده دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه اوامام ابویوسف رحمة الله علیه په مشوره باندې جاری شو، سراسرغلطی ده، ځکه چه مشائخ دڅلورم خاندان دحضرت محبوب سبحانی غوث اعظم رحمة الله علیه متوفی ۵۹۱ھ اوشیخ شهاب الدین سهروری متوفی ۶۳۱، او خواجه معین الدین جشتی رحمة الله علیه متوفی ۶۳۳ اوخواجه بهاء الدین محمدنقشبندی رحمة الله علیه متوفی ۷۹۱

[21]) المرادواسطه والافالقران ماخذللاسرارایض لکن بواسطه افاصته الشیوخ الذین هم عترته اوالاخذین منهم ۱۶ منه.

دی، اودابوحنیفه رحمة الله علیه وفات په ١٥٠ هـ کښې اودابویوسف رحمة الله علیه وفات په ١٨٢ هـ کښې شوې دې، علی هذاالقیاس، دسرګرهانوزمانه دخانواده دزمانې نه ډیره روستوده. پس هغه دوارِه امامان دې سلسله کښې څنګه مشوره ورکولې شی اودرجعت څوک هم قائل نه دی.

دویم داوئیل چه داهل بیت حضراتونه څوک هم شامل نه وو، دادویم تسامح دې، ځکه چه دولایت څومره سلسلې دی، ټولې داهل بیت په واسطه باندې حضور صلی الله علیه وسلم ته رسیدلی دی. پس دنقشبندیه په یوه سلسله کښې حضرت امام جعفرصادق رحمة الله علیه اوبله کښې حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت امام حسین رحمة الله علیه اوحضرت امام زین العابدین رحمة الله علیه اوحضرت امام باقر رضی الله عنه اوحضرت امام جعفرصادق رضی الله عنه اوحضرت امام موسی کاظم رضی الله عنه اوحضرت امام علی بن موسی رضی الله عنه اوقادریه سلسله کښې حضرت امام حسن رضی الله عنه اوحضرت حسن مثنی رحمة الله علیه اوحضرت سید عبدالله محص رحمة الله علیه اوچشتیه سلسله کښې حضرت علی اوسهروریه سلسله کښې حضرت امام علی موسی رضا رحمة الله علیه دی. پس داټول سلاسل داهل بیت دی. فهذه السلاسل کشجرة طیبة اصلهاثابت وفرعهافی السماء توتی اکلهاکل حین باذن ربها.

پاتې شوترک انتساب، دهغې وجه په دویم سوال کښې ذکرشوې، فلانعیده. امید مستفتی منصف نه دادې چه دې اسان جوابونوباندې غورکولوسره خپله پریشانی به اطمینان کښې بدله کړئ، اوداعاجزبه وخت په وخت دخیردعاګانوکښې یادساتی. والله الهادی وانماعلیناالبلاغ والله اعلم. (امدادرابع ص ١٣٥)

رفع ترددات بعض مائلین سوئه قادیانی:

سوال :(٦٩)جناب بنده. تسلیم مزاج شریف. اثناء تقریرکښې تاسوچه پرون دسهارنپورجلسه کښې ډیرلطف فرمائیلې وو، چه مونږ دهرقسمه شکونواواعتراضونوجواب دتعصب نه بغیر ورکولوډپاره موجودیوڅوک دې محرک جوړشی. هم دهغې په وجه باندې ماجرات اوکړوچه ستاسودقیمتی وخت څه حصه واخلم، اګرچه ماسره دجناب مرزاصاحب قادیانی فی زمانه څه تعلق نشته، اوزه داسې استیج باندې یم کوم چه بباعث شکوک بالکل متزلزل اونزدې دې، چه خویدوسره بالکل تباه کیدونکې وی، زیات ترزماتوجه هم ستاسوطرف ته ده، خودې وخت کښې به چه زه څومره سوالونه کوم هغې کښې به زمامرجع طبیعت زیات تردجناب مرزاصاحب طرف ته دهغوی داصول مطابقت کښې ثابت وی.

سوال :(٧٠)ږومبې: دمسیح دژونداومرګ باره کښې ستاسوڅه خیال دې، جناب مرزادقران کریم د دریشو ایتونومصرحه مثل فلماتوفیتنی کنت انت الرقیب علیهم قدخلت من قبله الرسل وغیره سره دهغوی مرګ ثابت کړې دې، ایاتاسودڅه ایت نه دهغوی دژوندثبوت ورکولې شئ.

مهربانی اوکړئ دمرزاصاحب تردیدکولوسره دخپلې دعوې ثبوت دقران شریف دایتونواواحادیثونه دپتې رکوع اوسورة وغیره سره ورکړئ.

سوال :(٧١)دویم: که دمسیح وفات تاسوتسلیم کوئ اوزمانه نزول مسیح هم وئیلې کیږی، چه هم داده اوجناب ختم رسالت ماب صلی الله علیه وسلم هم مثیل موسی مسلم شوې دې، نوبیا مرزاصاحب مسیح موعودولې نه ګڼړلې کیږی، اوکه چرې داخبره ثابت شی چه مرزاصاحب مسیح موعوددې، نوبیابه دهغه په مخالفت کښې کفرولې لازم وی، اوایادالازم نه دی چه سمدستی دهغه بیعت اوکړې شی؟

سوال :(٧٢)دریم: ایافرښتې زمکې ته بدنی راځی، اوایامخکښې زمانه کښې چرته یومړې هم داسې مستقل طورباندې ژوندې شوې دې، چه دژوندنه پس ډیروخت پورې ژوندې وی اوالله تعالی دهغه نسل ته برکت ورکړې وی اوزیات کړې وی.

سوال :(٧٤)څلورم: که مسیح ژوندې دې اوهغه به دوباره تشریف راؤړی نودې کښې به دجناب رسالت ماب صلی الله علیه وسلم په ختم رسالت باندې معاذالله څه فرق لازم نه راځی، فرض کړئ دایډورډ دحکومت په زمانه کښې لارډ کرزن دانګلستان نه راتلوسره هندوستان کښې څه وخت حکومت کولونه پس واپس لاړشی نوعملداری به دایډورډ ګڼړلې کیږی، یاد لارډ کرزن حکومت سره به لفظ قیام اوختم استعمالیږی یادلارډ کرزن حکومت سره. اوکله چه مسیح دوباره دنیاته راشی هغه وخت به هم هغه رسول وی یادهغه درجه به دهغه نه واخستلې شی اودجنت نه راویستلوسره به هغه دنیاته ولې رالیږلې کیږی، مهربانی اوکړئ ددې تفصیلی جواب راکړئ.

جواب: مکرم بنده السلام علیکم ورحمة الله زه خوشحاله شوم چه تاسوخپل شکونه بیان کړل، بیادپاره به هم داخدمت کول غواړم، خویوڅوضروری اصول دمضوعه په طورباندې عرض کول مناسب ګڼړم، چه دهغې درعایت په وجه باندې به تاسواوماته سهولت وی.

نمبر١: دکومې دعوې چه تاسودلیل تپوس کوئ دهغې ددلیل دتعین کولوبه تاسوته حق نه وی، چه دقران نه ثابت وی یادحدیث نه. دشریعت په اصول کښې دی کوم اصل سره چه زړه غواړی مجیب ته به جواب ورکول جائزوی ددعوې ددرجې لحاظ سره.

نمبر٢: دخپل کوم دلیل یامضمون چه تاسوجواب غواړئ دهغې دلیل اومضمون پوره تقریر کول به ستاسوپه ذمه وی، اجمال اواشاره به کافی نه وی، اونه به دبل کس ددبیان حواله ورکول کافی وی، هم هغه تقریربه تاسوخپل طرف ته منسوب کولوسره نقل کوئ.

نمبر٣: ددلیل په جواب کښې به مجیب ته اختیاروی چه څه خاص مقدمه باندې ددلیل مطالبه اوکړی، ترڅوپورې چه هغه مقدمې باندې دلیل پیش نه کړې شی هغه وخت پورې به هم دادجواب مطالبه وی، ددې نوم منع دې.

نمبر ۴: استدلال یادجواب استدلال کښې به تاسو دتطویل دمطالبې حق نه وی، که مختصر جواب کافی وی نوتاسو هغې باندې د اشک نه شئ کولې چه جواب مختصردې.

نمبر ۵: هم هغه مضمونونه لیکلې شئ کوم چه تاسوشک کښې مبتلاکړې يئ، اوجواب ته به خالی ذهن سره غور کولوضروری وی، ځکه چه صرف سوچ کولوسره په زورباندې څه شک درد کولوغرض سره پیش کول دادمجادلینوکاردې دطالبین حق نه، اودې سره کله هم فیصله نه شی کیدې.

نمبر ۲: کوم سوال چه تاسو کوئ دهغې دغرض اورعایت اظهارورسره ضرور کوئ، اوڅه چه د اشکال وجه وی هغه هم ضروربیانوئ، ګنې دداسې سوالونوجواب ورکول به دمجیب په ذمه نه وی. ځکه چه بې نیتجې کارونوکښې وخت ضائع کول عبث دی. اوس جواب عرض کوم.

جواب: درومبی سوال: حضرت مسیح علیه السلام زمادعقیدې مطابق ژوندې دې، هغه ایتونو کښې کوم چه تاسونقل کړی دهغې جواب به زماپه ذمه وی. (اصل موضوع نمبر ۲) تاسوته دداسې سوال حق نشته چه ایت یاحدیث نه ثبوت ورکولې شئ، البته دومره سوال کولې شئ چه دژوندڅه دلیل دې؟ بیامجیب ته اختیاردې که بیان ئې کړی اوبیاتاسوته هغه باندې دمرحه شک کولوحق شته (اصول موضوعه نمبر ۱) جواب.

جواب: ددویم سوال: چونکه ددې سوال ټولې حصې دمسیح علیه السلام دوفات دعقیدې باره کښې دی اوزه پخپله باندې دوفات قائل نه یم. په دې وجه باندې ددې سوال دیوې حصې جواب هم زماپه ذمه نشته.

جواب: ددریم سوال: ددې سوال غرض اودې کښې چه داشکال څه وجه ده هغه بیان کړئ، جواب به درکړې شی. (اصل موضوعه نمبر ۲)

جواب: دڅلورم سوال: دفرق راتلووجه اولیکئ نوجواب به درکړې شی. (اصل موضوعه نمبر ۲) مخکښې چه کوم مثال لیکلې شوې دې هغه پوره ممثل له دلیل سره منطبق فرمائیلوسره به اشکال اوکړئ. ددې سوالونودپاره هم دااصول موضوعه کافی ګڼلې شوې. که دبل سوال نه دبلې څه موضوع ضرورت معلوم شو، داصل موضوعه نمبربه زیات کړې شی، داصول موضوعه لحاظ سره سوال کوئ چه خبرې اوشی، اوکه څه اصل موضوع تاسوغلط ثابت کړئ نودهغې جواب یارجوع به زماپه ذمه وی. والسلام. (۱۱ ذی الحجه ۱۳۲۲ھ امدادربع ص ۱۴۲)

جواب اشکال منصوص نبودن حکم صلوة درعرض تسعین وغیره درقران:

سوال: (۷۵) مخکښې عریضه کښې عرض کړې ووچه کوم ځائې کښې ددریو یاڅلورو میاشتوورځ اودغه شان شپه وی، هغه ځائې دپاره دمونځ اوروژې په قران کښې نص نه کیدل داعتراض سبب دې، نوجواب باصواب کښې ارشادشوې ووچه داسې ځایونوکښې عام طورباندې انسانان ژوندی نه شی اوسیدې، په دې وجه باندې عدم بیان احکام موجب

اعتراض نه دی، ددې جواب نه مې تسلې اونه شوه. ځکه چه دسائبیریاپه ملک کښې برابردوه میاشتې ورځ اوشپه وی، اوهلته انسان اوسیږی. دانسانانونه خالی نه دې. مهذب دی دورځې فصل کړی اوټول کارونه کوی. دروس دسلطنت نه علاوه اکثرقیدیان هلته اوسیږی، اوقیدوخت تیریدونه پس صحیح سلامت واپس راځی، مهربانی اوکړئ تفصیل سره جواب راکړئ، که حدیث وغیره کښې داندازې حکم راغلې وی نودهغې حدیث نه به دقران پاک اعتراض ختمیږی.

جواب: دصحت لحاظ سره قران مجید کښې دټولوفروع منصوص کیدل ضروری نه دی، اودافرعیه مسئله ده، مثلاً درکعتونوذکرپه قران مجید کښې نشته، قران مجید کښې درسول الله صلی الله علیه وسلم دنصوصودااتباع حکم دې. دې کلیه کښې ټول حکمونه داخل دی. اوهم په دې وجه باندې دحدیث حکمونه دقرانی احکاموپه معنی کښې دی. اوس څه اعتراض نشته.

(۷رجب ۱۳۳۲ـ حوادث الفتاوی حصه ثانیه ص ۴۴)

معنی لن تجدلسنة الله تبدیلا:

سوال: (۷۶) سیدصاحب...... جج کله دمسئلې تپوس کوی. پس اوس هغوی دفعال لمایریداورلن تجدلسنة الله تبدیلا باره کښې تپوس کړې دې. کیدې شی دامطلب وی چه دې کښې په ښکاره باندې تعارض دې، ځکه چه درومبی ایت نه معلومیږی چه څه غواړی کوی، څه قانون یااصول هغه نه شی منع کولې، اوددویم ایت نه معلومیږی چه د الله تعالی سنت کله هم نه بدلیږی، یعنی هغه دخپلې طریقې اوسنت مطابق کارکوی دهغې خلاف نه شی کولې. بهرحال دلمایر ددمادعموم نه اوسنة الله معنی نه معلومیدوپه وجه باندې شک پیداشوې، امیددې چه جناب والابه دتعارض ختمولوسره دسنة الله تفصیل هم بیان کړی. چه عاجزترې نه هم فائده واخلی ځکه چه شرعی حکمونه دسنة الله نه مرادنه شی کیدې، ځکه چه داهغه کارونه عادتونه معجزې یاتصرفاتوسره بدل شی اوکه چرې اوونیلې شی چه امورخارق عادتونه هم عادیه غیرمستمره دی، کوم چه احیاناً کیږی اوعلی العموم قواعدعادیه مستمره دنیاکښې جاری دی نوبیاهم شک پیداکیږی، چه اخرقیامت کښې خوبه هرڅه درهم برهم شی، نوسنت الله به بدل شی یاداسې به وئیلې کیږی چه ددنیادتخلیق نه مخکښې غیرمتناهی زمانه (ددې نه داغرض مرادنه دې دامتدادلفظ زمانه سره تعبیر کړئ) پورې الله تعالی یواځې وو، کان الله ولم یکن معه شئ بیادیوڅوکالونه الله تعالی دخپل غیرمتناهی زمانې سنت بدلولوسره دنیاکښې هرڅه پیداکړل، اوڅه عادیه قانونونه ئې جاری کړل، اوداسنت جاریه فی العالم دخرق عادت په طوراحیاناً بدلولونه علاوه قیامت کښې به بالکل بدل کړې شی یوم تبدیل الارض غیرالارض

والسموت وبرزوالله الواحد القهار.... ددنیاد پیداکولو نه مخکښې دالله تعالی غیرمتناهی زماني پورې څه نه پیداکول اومعدودزماني نه پیدا کول، که دادویم مستقل سوال اوګڼرلې شي اوتعارض سره ئې څه تعلق نه وي نوبهتربه وي.

جواب: که دتبدیل فاعل غیرالله اوګڼرلې شي نوبیاڅه اشکال نه متوجه کیږي، ځکه چه معنی به ئې داوي لن تجدلسنة الله تبدیلامن غیرالله ای لایقدرغیرالله ان یبدل سنة الله که سنت خاص اوګڼرلې شي یاعام قولي اوګڼرلې شي یعنی وعده یافعلي دې صورت کښې به داایت مقارب المعنی وي، دهغې ایتونووالله یحکم لامعقب لحکمه الخ وتمت کلمة ربک صدقا وعدلا لامبدل لکماته ونحوذک اوکه دتبدیل فعل الله تعالی اوګڼرلې شي نودې صورت کښې به ددې مطلب داوي ان الله لایخلف المیعاد اویاعادة فعلیه مرادواخستلې شي خواضافت دعهد دپاره اوونیلې شي یعنی خاص عادت دمقاماتواوردایت خاص دحضرات انبیاء علیہم السلام اودهغوی دتابعینوپه انجام کارکښې غالب کیدل اودکافرمغلوب کیدل مرادواخستلې شي اودنفی نه به نفي وقوع مرادوي، نه مقدوریة نه اوامکان دڅه فعل چه فعال لمایرید کښې بغیردقوع دحکم نه ثابت دې اوزماپه نزدباندې دتتبیع اوتدبرنه پس ذکرشوي مقامات داخری تېول راحج اوواقق دي، ددې صورت کښې به ددې حاصل هغه وي کوم چه نوروایتونوکښې ذکرشوې. لاغلبن اناورسلی الخ الاان حزب الشیطن هم الخاسرون الاان حزب الله هم المفلحون الخ وان جندناهم الغالبون الخ وانالننصررسلناوالذین امنوافی الحیوة الدیناویوم یقوم الاشهادالخ اودبخاری حدیث کښې دي وکذلک الرسل تبتلی ثم تکون لهم العاقبة اوکماقال اودې تقدیرونوکښې هریوتقدیرتعارض اوجمیع اوذکرشوي اشکالاتو دلرې کولودپاره کافي دي، کمایظهربادنی تامل اودشرعي حکمونودنسخ اوخوارق عادت دې سره اصلامس نشته. والله اعلم بحقیقة الحال (یکم صفر ۱۳۲۲ هـ امدادرابع ص ۱٤٤)

دفع شبهه برکامل بودن قران شریف:

سوال: (۷۷) ایاقران مجید ددین دضروت دپاره مکمل کتاب دې، که نه دې نوافسوس، اوکه دې نوموږ چه کوم مونځ کوؤاوباسئ، ډیره دافسوس خبره ده چه دمونځ په شان ضروري څیز دپاره هم دقران نه علاوه دبل کتاب ضرورت وي، که تاسووایئ چه قران کښې دمونځ ایت مجمل دې اودهغې تفسیرحضور ﷺ کړې دې نوتاسونه سوال دادې چه ددې ایتونوڅه معنی ده؟ تفصیل شئ کل الایات انزل الیکم مفصلاثم فصلت غرض داچه که مجمل ایتونه هم قران کښې دي نودمفصل اطلاق به هغې باندې څنګه کیږي؟

دويم سوال دادې چه هغه تفسیرکوم چه نبی کریم ﷺ فرمائیلې دې یادمونځ کومه طریقه ئې چه بیان کړې ده هغه دخپل طرف نه دې، یاداعلام الهی دطرف نه، که خیال دوقوت اجتهادنه دې نواخرموږ ته هم څه ملاویدل پکاردي چه ص، ل، ا ة، نه څه قسمه ذکرونه اوباسو، اوکه داعلام الهی نه دې څه ته به چه نوروالفاظوکښې خفي وحي وایو، نو دداسې وحي ثبوت دقران مجیدنه ورکول پکاردي. اوداهم اووایئ چه بیاداولم یکفهم انا انزلنا علیک الکتاب څه معنی ده؟ ځکه چه داسې خوبه وحي جلي اووحي خفي به یوځائې کیدوسره کامل وي، قران في ذاته به نه وي. مافرطنافی الکتاب من شئ باندې هم نظراوساتئ. اویسرناالقران للذکرلسان عربي باندې هم، اخرقران چه څه معمه خونه ده. جوابونه دقراني ایتونوسره مدلل زرترزره راکړئ.

جواب: دیوڅیزدکامل اکمل کیدودامعنی وي چه دکوم غرض دپاره هغه موضوع دې هغه غرض دهغې نه پوره حاصلیږي، دقران مجیداصل غرض اثبات توحیداواثبات معاددې. پس ایتونوکښې تدبرکولونه معلومیږي کوم ځائې چه تفصیل یامفصل وغیره الفاظ راغلي دي دهغې مضمون داعتبارسره دي. اوکل شئ کښې استغراق اضافي وعرفي دې حقیقي نه دې، دفروع باره کښې تفصیل مرادنه دې پس احادیثوکښې پخپله باندې راغلي دي چه حضور ﷺ فرمائیلي چه قران سره سره داحادیثوهم ضرورت دې، یوشک رجل شبعان الخ دهغې حدیث الفاظ دي، اوس شک ختم شو، اواولم یکفهم کښې مرادکفایت في الدلالة علی النبوة دې، اومافرطناکښې کتاب نه مرادلوح محفوظ دې، اویسرناکښې ذکرنه مرادحفظ الفاظ دې، یاتذکره الفاظ. پس دې دواړوخبروکښې قران اسان دې، والله اعلم وعلمه اتم. (۲۵ رجب ۱۳۲۲ھ امدادرابع ص ۱٤٦)

دنبوت ضرورت:

سوال: (۷۸) کله چه الله تعالی هرځائې موجوددې نوبیادرسول څه ضرورت دې، نائب اومنیجر خوهغه ځائې ته ځي کوم ځائې کښې چه مالک موجودنه وي.

جواب: ځکه چه هریوکس کښې داقابلیت نشته چه هغه بغیردڅه واسطې نه دحکمونونه فائده حاصل کړي، ځکه چه بادشاه ددربارعام حاضرینوته دوزیرپه ذریعه باندې حکم کوي. (۲٤ ذیقعده ۱۳۲۲ھ امدادرابع)

دفع شبه برکتاب اعمال:

سوال: (۷۹) دوه فرښتې حساب لیکي، هغه ولې لیکي؟ ایاالله تعالی کښې هم هیره شته، چه دلیکلو ضرورت پیښ شو؟

جواب: هریو کار دضرورت په وجه باندې نه کیږی بلکه څه کارونه دڅه مصلحت په وجه باندې هم کیږی، اوداللہ تعالی په مصلحتونو باندې مونږ نه پوهیږو، څنګه چه عوام دسلطنت په مصلحت باندې نه شی پوهیدې، دنیاوی کارونوکښی ډیرکارونه صرف دقانون دحفاظت دپاره کیږی، اګرچه ضرورت ئې نه وی. (۲٤ ذیقعده ۱۳۲۲ھ امدادرابع)

دفع اشکال بربودن حق تعالی فوق العرش:

سوال: (۸۰) مسلمانان وائی چه الله تعالی په اووم اسمان کښی خاص دې، اول الله تعالی محدود منل، اوبیا اووم اسمان ولې وئیلې کیږی؟

جواب: کوم مسلمانان چه داوائی دهغې معنی خوهم وائی چه مراددادې چه دالله تعالی دعظمت اوجلال ښکاره کیدل هلته ډیردی، ځکه چه دغې مخلوق نه زیات قدرت ښکاره کیږی. اوس که دمسلمانانودې قول اوددې معنی ته اوګورئ نوهیڅ شک نشته. (۲٤ ذیقعده ص ۱۳۲۲ھ ایضا)

دفع شبه برفائده معراج:

سوال: (۸۱) کله چه الله تعالی هرځائې کښی موجوددې نوحضور ﷺ دمعراج دپاره اووم اسمان ته څه دپاره تشریف اوړلې وو؟

جواب: الله تعالی سره دملاویدودپاره ئې تشریف نه وواوړلې بلکه دالله تعالی عظمت لیدو دپاره، څنګه ئې چه پخپله فرمائیلی لنریه به من ایتنا. (۲٤ ذی قعده ۱۳۲۲ھ ایضا)

دفع شبه انکشافات اهل جنت واهل ناردرمعراج:

سوال: (۸۲) کله چه حساب کتاب دقیامت په ورځ دې اوقیامت پورې به مړی په قبرکښی وی کله چه حضور ﷺ معراج ته تشریف یوړواوجنت اودوزخ ئې اولیدونودوزخیان ئې هم اولیدل اوجنتیان هم، نودوی دوزخیان اوجنتیان څنګه شول؟

جواب: داکشف وو، اوکشف کښی راتلونکی واقعات اوسنی شکل کښی په نظرراځی، څنګه چه دوربین کښی دلرې څیزونه په نظرراځی، یاکتهوری کښی اوبه اچولوسره که پکښی دننه پیسه پریخودلې شی اوهغه ویخ کښی وی خودپورته سطح ئې نزدې ښکاری. فقط والله اعلم. (۲٤ ذیقعده ۱۳۲۲ھ امدادرابع ص ۱٤۷)

دفع اعتراض عیسائی اوعیسائیت په اسلام باندې ترجیح:

سوال: (۸۳) عیسایان مونږ ته وائی چه تاسو دعیسائیت پیروی ولې نه کوئ، چاچه خپل امت باندې خپل ځان قربان کړواوخپل امت ئې الله تعالی باندې اوبخښلو، اوجناب محمد رسول الله ﷺ دژړه زارئ باوجود دخپل مورپلاراودخپل تره چه هغه دحضور ﷺ پرورش کړې وو، اودژوند اخری وخت پورې دحضور ﷺ سره وو، مغفرت اوغوښتلوخوالله تعالی منظورنه کړو، نوستاسوخلقو دنجات امید داسې نبی نه څه امید کیدې شی؟ پس داسې خبرې دعیسایانونه اوریدوسره زمونږ محمدی خلق خپل عالمانونه تپوس کوی نوهغوی هم داسې وائی چه اودهغوی په حق کښی شفاعت نه دې منظورشوې، نوزمونږ محمدی پریشانه شی اودهغوی په عقیدوکښی فرق راځی.

پس نمبر ۱ دحضور ﷺ دمورپلارکفراجماعاً دې، یامختلف فیه. که مختلف فیه دې نوراجح دکفرطرف ته دې که داسلام طرف ته، که داسلام طرف ته راجح دې نوددې ایت به څه جواب وی. ماکان للنبی والذین امنوان یستغفروا لخ. اوانک لاتهدی احببت الخ. اوامام صاحب رحمۃ اللہ علیہ په فقه اکبرکښی فرمائی مات والدرسول الله علی الکفر ددې څه جواب دې. دکوم کس په کفرکښی چه اختلاف وی هغه قطعی کافروی اوکه نه؟ که دحضور ﷺ مورپلارقطعی کافراوګڼړلې شی نومونږبه عیسایانوته څه جواب ورکوؤ. اودکوموعالمانو دقول مطابق چه هغوی اسلام کښی داخل شوی دی دهغې به څه جواب وی ځکه چه دفعیه کفرکښی ضعیف روایتونه مفتی به وی. اوصحیح حدیث کښی راغلی دی چه ابوطالب به داورنه راویستلوسره ګټوپورې راوستلې شی دشفاعت سره، اوایتونواواحادیثوکښی ښکاره طورباندې راغلی چه دکافربه کله هم شفاعت نه کیږی، که دابوطالب عدم اسلام وی نودشفاعت داحادیثوڅه جواب دې. جواب دښکاره دلیل سره مختصرپکاردې.

جواب: دعیسایانوداتقریربالکل دروغ دې، اوکه غوراوکړې شی نوهم دهغوی دادلیل دهغوی ددروغژن کیدواودمسلمانانودصادق کیدودپاره کافی دلیل دې. ځکه چه داخبره ښکاره اوعقلی ده چه داسمانی مذهب اصلی غرض داوی چه دمکلفینوعقیدې اواعمالو اوظاهری حالاتواصلاح اوشی، اواصلاح باندې فائده حاصلیدل داخرت نجات دې. اولئک علی هدی من ربهم واولئک هم المفلحون ددې عقلی خبرې تائیدنقلی دې. کله چه داخبره ثابت شوه نوهریوکس پوهیدې شی چه کوم مذهب کښی داتعلیم وی نودهغې مذهب پیشوادټولو دګناهونوکفاره شوه، اګرچه امت هرڅه کوی هغوی به بخښلې کیږی، نوداسې مذهب والودپاره نفسانی غرضونه شهوت اوغضب اودهغې دمفسداتونه منع کولودپاره کوم قوت به زاجراومانع وی. چه زړه موڅه غواړی کوؤبه نوداسې مذهب نه اصلی غرض یعنی اصلاح کله

هم ممکن نه ده. ددې په مقابله کښې کوم مذهب کښې چه داوئیلې کیږی چه کوم کس ددې مذهب خلاف اوکړی هغه به دوزخی اومعذب وی. اګرچه هغه کس دهغې مذهب په پیشوااواصول اوفروع کښې ولې نه وی. ددې تعلیم اثرپه هریوکس باندې ښکاره خبره چه دابه وی چه دین کښې به دخپلې اصلاح کوشش کوی. دې صورت کښې البته ددې مذهب منونکې به خپل شهوت اوعضب اونفسانی خواهشاتوباندې همیشه دین غالب اومسلط ساتی، کومه چه دمذهب اصلی فائده ده. که دجناب رسول الله ﷺ دموړپلارپه اثبات اسلام کښې کوشش هم اونه کړې شی نوبیاهم اسلام باندې هیڅ اعتراض نشته. پس ددې شک دې مسئلې سره هیڅ تعلق نشته. اوکه چرې مستقل طورباندې ددې مسئلې تحقیق پکاروی نوهغه جداخبره ده. په هغې کښې دمحققینوپه نزدباندې نمبربوجه مختلیف فیه نمبر ۲ فیه کیدوپه وجه باندې خاموشی ده. پاتې شونمبر ۳ دایت جواب سومرجحسین اسلام به داایتونه دموړپلارپه حق کښې نه وائی. اوکفرباندې مرګ اوبعدالاحیاء کښې منافات نشته. اواختلاف کښې قطعیت نه پاتې کیږی. خوجواب دقطعیت په تقدیرباندې هم ښکاره دې، ځنګه چه پورته ذکرشوی. اونمبر ۶ نافیین اسلام داروایتونه غیرثابت ګڼړی، ضعیف ئې نه ګڼړی. اونمبر ۷ دکافرد پاره شفاعت مغفرت نه وی. شفاعت په وجه باندې دعذاب دکمی امیددې. اونمبر ۸ چونکه دجواب مقدمات بالکل ښکاره دی، په دې وجه باندې دجواب دلیل ښکاره دې. (۲۰ رجب ۱۳۲۲ھ امدادرابع ص ۱۴۸)

دفع شبهات متعلقه ریش داشتن:

سوال: (۸۴) (۱) توریت کښې دږیرې دویختودوارۀ کولوممانعت دې. اودنصاری په شریعت کښې هم دږیرې کټ کول ګناه ده ایامسلمانانودپاره هم دږیرې کټ کولوسخت ممانعت دې؟
(۲) ږیره خریل که ګناه ده نودکومې درجې، کبیره که صغیره؟
(۳) ماقران شریف دشروع نه اخرپورې کتلې دې، قران شریف کښې دږیرې باره کښې څه حکم نشته. ایاداصحیح دی چه قران مجید کښې دږیرې ساتلویاخریلوباره کښې څه حکم نشته. (۴) هغه احادیث دفصل اوکتاب اوحوالې سره اولیکۍ په کوم کښې چه دږیرې نه ساتلوحکم وی.
(۵) یاداسې څه حدیث شته په کوم کښې چه لیکلې شوې وی چه چاږیره اوخریله هغه دمحمد ﷺ امت کښې نه دې.
(۶) من تشبه بقوم فهومنهم حدیث دې یادبزرګ قول دې، اودکومې درجې حدیث دې اوکوم کتاب کښې دې.
(۷) که یوقوم کښې څه ښه خبره وی نوددهغې دزده کولومنع ولې ده؟
(۸) ترک اوعجم کښې دږیرې خیریدل رواج دې، اوګناه نه ګڼړلې کیږی ددې څه وجه ده؟

(۹) داهم ضروری دی چه یومسلمان ږیره خریلی مسلمان سره بحث اوکړی اوهغه سره سخت کلامی اوکړی یااسلامی ادابوکښې داخل دی؟

جوابونه: الحدیث الاول: عن ابن عمرقال قال رسول الله ﷺ خالفواالمشرکین اوفرواللحی واحفواالشوارب وفی روایة انهکوالشواربواعفوااللحی. متفق علیه. (مشکوة باب الترجل)

الحدیث الثانی: وعن زیدبن ارقم ان رسول الله ﷺ من لم یاخذمن شاربه فلیس منا. رواه احمدوالترمذی والنسائی (مشکوة الفصل الثانی من باب الترجل)

الحدیث الثالث: عن عبدالله بن عمرقال: لعن الله الواشمات والمستوشمات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغیرات خلق الله فجاءت امراة فقالت انه بلغنی انک لعنت کیت کیت فقال: مالی لاالعن من رسول الله ﷺ ومن وهوفی کتاب الله فقالت لقدقرات مابین اللوحین فماوجدت فیه ماتقول قال: لئن کنت قراتیه لقدوجدتیه اماقرات مااتکم الرسول فخذوه ومانهکم عنه فانتهوا. قالت: بلی قال. فانه قدنهی عنه. متفق علیه مشکوة الفصل الاول من باب الترجل)

الحدیث الرابع: عن عائشه رضی الله عنہا قال رسول الله ﷺ عشرمن الفطرة فص السارواعفاء اللحیة الحدیث رواه مسلم مشکوة باب السواک.

الحدیث الخامس: عن ابی رفع قال: قال رسول الله ﷺ لاالفین احدکم متکئاعلی اریکته یاتیه الامری مماامرت به اونهیت عنه فیقول لاادری ماوجدنافی کتاب الله اتبعناه رواه احمدوابوداؤدوالترمذی وابن ماجة والبیهقی فی دلائل النبوة. وفی روایة عن المقدام بن معدیکرب قال: قال رسول الله ﷺ الاانی اوتیت القران ومثله معه. الحدیث رواه ابوداؤدوروی الدارمی نحوه، وکذاابن ماجة. مشکوة الفصل الثانی.

الحدیث السادس: عن ابن عمر رضی الله عنہ قال: قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهومنهم. رواه ابوداؤدفی باب ماجاء فی الاقبیة من کتاب اللباس.

الحدیث السابع: عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنہ العاص قال: رای الرسول ﷺ علی ثوبین فقال ان هذه من ثیاب الکفارفلاتلبسها. رواه مسلم مشکوة الفصل الاول من کتاب اللباس.

الحدیث الثامن: عن ابی ریحانه قال: نهی رسول الله ﷺ عن عشرة الی ان. قال وان یجعل الرجل فی اسفل ثیابه جریرامثل لاعاجم وایجعل علی منکبیه حریرامثل الاعاجم الحدیث، رواه ابوداؤدالنسائی. مشکوة، الفصل الثانی من کتاب اللباس.

الحديث التاسع: عن ابن عباس. قال: قال النبی ﷺ لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال. رواه البخاری مشکوة الفصل الاول من باب الترجل.

الحديث العاشر: عن ابی سعیدالخدری عن رسول الله ﷺ من رای منکم منکراة فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان يم يستطع فبقلبه وذالک اضعف الايمان، رواه مسلم. مشکوة الفصل الاول من باب الامربالمعروف. وفی رواية لابی داؤدعن عبدالله بن مسعود قال: رسول الله ﷺ کلاوالله لتامرن بالمعروف ولتنهون عن المنکرولتاخذن علی يدالظالم ولتاطرنه علی الحق اطراولتقصرنه مشکوة، الفصل الثانی من باب الامربالمعروف. سوال کونکی ته پکاردی چه اول دحديثونوترجمه ديوعالم نه تقريری ياتحريری طورباندې تپوس اوکړی، بيادې جوابونه اوګوری.

جواب: دړومبی سوال: اوډيرسخت ممانعت دې. ځکه چه ړومبی حديث کښې صيغه امرنه ثابتيږی. ځکه چه دصحيح دليلونونه په خپله موقع باندې ثابت شوې دې، چه اصل امرکښې وجوب دې، اودواجب پريخودل حرام دی، اوديوخيزحرام کيدل سخت ممانعت دې.

جواب: ددويم سوال: اول خوداتپوس په دې وجه باندې بې کاره دې چه ګناه که صغيره وی اوکه کبيره، پريخودل پکاردی. که دصغيره اجازت وې نوبيادې سوال څه مضائقه نه وه. بيادصحيح نظرنه هم دامعلوميږی چه کبيره ده، ځکه چه دکبيره ګناه دانخښنه ده چه دهغې باره کښې څه وعيدوی، اودې کښې دوعيدراتلل په پنځم سوال کښې راځی. دې نه علاوه داستحفاف اواصرارپه وجه باندې هم کبيره کيږی. اودې کښې خونن صباددې نه هم زيات داستحلال بلکه داستحسان درجه شوې ده. اوهغې کښې دکفرويره ده.

جواب: ددريم سوال: سوال کونکی سره ددې څه دليل دې چه څه په قران کښې موجودنه وی هغه واجب العمل نه دی. پنځم حديث دادعوی بالکل غلطه ثابتوی، اوهغې کښې ښکاره طورباندې ذکرشوی دی چه حديث هم شرعی حجت دې، اودې باره کښې داحديث راتلل دړومبی سوال په جواب کښې معلوم شوی دی. اودريم حديث کښې هم داسې قصه ذکرشوې ده. چه هغې ښځې حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته هم داسې شک ښکاره کړې وو، او هغوی ډيرلطافت سره دحديث نه ثابت شوی احکام ثابت بالقران کيدل ثابت کړل. دغه شان داحکم هم دقران په احکاموکښې داخليږی. غرض کلياً قران کښې اوجزئياً حديث کښې داحکم موجوددې. بلکه دمتبع غائرنه داسې معلوميږی چه دذکرشوې طريقې نه هم زيات ددې تصريح قران کښې موجودده. قال الله تعالی فليغيرن خلق الله، ايت بعبارة النص تغير خلق الله په امرشيطان اومذموم کيدوباندې دليل دې. اوددې فعل مسئول عنه تغيرخلق الله کيدل دمشاهدې نه ثابت دی. حلق لحيه خلق الله دی، اوحلق الله تغيرحرام کيدل قران کريم کښې موجوددی. پس دحلق لحيه حرام کيدل قران نه ثابت دی.

جواب: دڅلورم سوال: دړومبی سوال جواب اوګورئ، دفصل اوکتاب حواله هم موجودده.

جواب: دپنځم سوال: دړومبی حديث نه داعفاء الحی اواخفاء شوارب ددواړووجوب بغيردڅه فارق نه ثابت دی، نودواړه يوشان شول اودويم کښې اعفاء شوارب باندې وعيدراغلې دې، اودمتماثلينوحکم يووی. پس هم داوعيدبه عدم اعفاء لحيه باندې به هم متوجه وی اودليس مناهم دامطلب دې، چه هغه دمحمد ﷺ رسول نه دې. دويم داچه دريم حديث کښې په يوڅوکارونوباندې لعنت راغلې دې، اوددې وجه ښکاره طورباندې تغيرخلق الله خودلې شوې ده، اودعلت دعموم نه معلول عام کيږی اوحلق لحيه کښې تغيريقينی دې. پس دابه هم دلعنت مستحق وی، اودلعنت حقيقت دادې بعدعن الرحمة اوددې امت دپاره مرحوم کيدل لازم دی. اوانتقاء لازم مستلزم انتقاء ملزوم ته پس بعدعن الائمة مستلزم خروج عن الامة شوه. دې سره دسوال جواب ذکرشوې وعده پوره شوه.

جواب: دشپږسوال: داحديث دې اوابوداؤدکښې موجوددې. کوم چه په صحاح سته کښې دې. پس اووم حديث هم داوو. اوابوداؤدپه مقدمه کښې ليکلی دی ومالم اذکرفيه شيئافهوصالح په دې وجه باندې محدثين دابوداؤددسکوت نه احتجاج کوی. اودې حديث باندې هغوی سکوت کړې دې. پس ددې صالح للحجية کيدل ثابت شو. ددې علاوه ددې نورهم ډيرقوی صحيح حديثونه ذم تشبه کښې موجودی. پس په حديث سابع وثامن وتابع دنمونې دطور دپاره ذکرکړې شوې دی. په هغې کښې مدارمذمت دتشبه فرمائيلې شوې دې. نورهم صحاح سته کښې ډيراحاديث راغلی دی.

جواب: داووم سوال: په رښتياباندې ښه يادهغې قوم په نزدباندې ښه شق اول باندې ددې کاريادنوروکارونومنهی عنهادښه کيدودليل. اودويم شق باندې که دهغوی په نزدباندې کفرښه وی نودهغې منع ولې کړې شوې ده.

جواب: داتم سوال: څوک چه کوی دهغوی نه تپوس اوکړئ مونږته څه پته ده، دويم داچه هغه مسلمان نه دې چه هغه ګناه نه ګڼړی. دريم علی تقديرالتسليم شيوع نه اودچاګناه نه ګڼړلوپه وجه باندې حرام نه حلاليږی نه بالعکس. اياغيبت کالحلال اودکونډې نکاح کالحرام نه ګڼړی.

جواب: دنهم سوال: که چرې قدرت اوضرورت وی نوضروردې، ځکه چه شرعاحديث کښې موجوددی، اوځکه چه اولاددضرورت دپاره زجراوملامته کول، داسلامی ادابونه بهرنه دی، دغه شان داهم خارج نه دی.

تنبيه لطيف: فطرت هم دحلق لحيه نه مانع دې، ځکه چه حديث رابع کښې دی. که حديث باندې عمل نه وی نوفطرت باندې سهی. والله اعلم وعلمه اتم واحکم. (۲۵ جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ امدادرابع ص ۱۴۹)

دفع بعض شکوک متعلقه طبعیات:

سوالونه: (۱) هلال چه دحجاب په وجه باندې عروج مومی یاکمې کوی، اسماباندې کوم ځیزکښې محبوب دې؟

(۲) سپوږمۍ کښې چه کوم توروالې ښکاری دهغې اصلیت څه دې؟

(۳) داسمان په مینځ کښې چه کوم ډیرستوری دی څه ته کهکشان اوعوام خلق سرک وائی، علی اختلاف الاقوال المشهورة، ددې څه حقیقت دې؟

(۴) دیونان حکماء وائی چه دنمردګرموالی په وجه باندې دسمندرنه بخارات الوځی، اوکوم وخت کښې چه طبقه زمهرته اورسی نومنجمدشی، پس دهغې نه وریځې جوړې شی اوباران کیږی. اوبعضې دینی کتابونوکښې دی چه دګرمۍ په موسم کښې هواکښې دوړه الوځی الله تعالی دهغې نه وریځ جوړوی، بیانوره هوارالیږی، چه دهغې په وجه باندې وریځې کښې اوبه پیداشی اوکوم ځائې کښې چه دالله تعالی حکم وی هلته باران شروع کړی. کله چه خالی شی نوبیادالله تعالی په قدرت باندې وریځ کښې اوبه پیداشی. اودبعضوقول دې چه دزمکې اواسمان په مینځ کښې دریاب معلق دې. پس داوبونه وریځې ته مددرسی اویوه یوه فرښته یویوڅاڅکې راپریږدی، اوکومه فرښته چه یوه قطره داوبوراوړی نودهغې دقیامت پورې دوباره نمبرنه راځی. دې خبروباندې ځان پوهول غواړم، دوریځې حقیقت څه دې؟ دمعلق دریاب نه وریځې ته مددرسی یادالله تعالی په قدرت باندې وریځ کښې اوبه پیداکیږی؟ اوحقیقت کښې هریوه قطره فرښته پریږدی که دالله تعالی په حکم بانډې وریځ نه اوبه راځی؟ داخبره چه کومه فرښته داوبوقطره راوړی دقیامت پورې به دوباره نه راځی، داخبره صحیح ده که غلط؟ اودوریځې نه کبان راغورزیدل ممکن دی اوکه نه، ځکه چه کله کله په محلو، ابادۍ اوصحراګانوکښې دباران دوران کښې واړه واړه کبان لیدلې شوې دی؟ دیونان حکماء وائی چه وریځ کښې ناریه اجزاء دی اودمساویه کیدوپه وجه باندې دجهت نه اتش نه وریځ دزیاتوالی نه دکموالی طرف ته ځی، اودهغې په وجه باندې صاقعه اوبرق پیداکیږی، اواهل شرع وائی چه رعدیوه فرښته ده کومه چه وریځ باندې حکمرانی کوی، اوصعق دهغې اوازاوبرق دهغې کوړه ده، اومشهورداسې دی چه دهغې قد دنر انګشت برابردې اوکله چه اوازکوی، اویافرښتې دهغې خولهٔ بنده وی، نودهغې په وجه باندې دومره تیزاوازپیداکیږی (شکونه چه ختمول غواړی)[1] دذکرشوی مقداربرابردفرښتې قدثابت دې اوکه نه؟[2] دفرښتوداوازپیداکولووخت کښې درعدخولهٔ بندول څه چه مشهور دی، صحیح دی اوکه غلط؟[3] اورعدصرف یوه فرښته ده که ددې نوم ډیرې فرښتې دی، ځکه چه زمکه باندې په یووخت کښې مختلف ځایونوکښې بارانونه کیږی.[2] حدیث شریف کښې راغلی دی چه

دنمرپریوتووخت کښې فرښتې نمردعرش لاندې کیږدی، اوهلته ټوله شپه دالله تعالی عبادت کوی، دسحروخت کښې اجازت اخستلوسره منازل افق شرق دوار باندې ښکاره شی. اوطبعی علم والاوائی چه نمرغیرمتحرک دې، اوزمکه ګول اودروازه سیارګان زحل، مریخ، قمر وغیره داهم دنمرنه ګیرچاپیره چکروهی. اوددې قاعدې مطابق معینه طرف جنوبی شمالی اختلاف 15
الطرفین کښې شپږشپږمیاشتې شپه اوورځ وی. اویوځائې بلغاردې دهغې حال ئې لیکلې دې چه هلته بالکل شپه نه وی. چه څنګه نمرپریوځی هم هغه شان صبح صادق شی. اودبعضې خلقوقول دې چه هرهفت اسمان ګول شکل کښې متحرک دې، اواووه واړه زمکې غیرمتحرک قائمه. اوڅه چه ددې اسفل متعلقه ارض طبقات عالم سفلی تحت الثری پورې ټولواسمانونوکښې دی اواسمان دګری یعنی ګهیړی چاپه شان چکروهی. اوبعضې وائی چادسفال ګرچاک په شان اواسیاسائی په حرکت کښې دی، چه نمراوسپوږمۍ اوستوری هره ورځ اوشپه بایام مختلفه په خپل خپل ځایونوباندې په نظرراځی، اوقطب ستورې داسمان په مینځ کښې همیشه په خپل ځائې باندې بغیردحرکت نه ولاړوی. کیلی چاک کمهاراوکیلی چکی په شان. اوبعضې خلق داسمان دوجودنه انکاری دی، اودې ته دنظراخری حدوائی.

شبهات دریافت طلب

۱: درسول الله ﷺ حدیث یعنی هره شپه دنمرعرش لاندې سجدې کول اوددې خلاف اقوال یعنی شپږمیاشتې شپه یاورځ نه کیدل اوهمیشه ورځ کیدوکښې دمسلمانانودطرف نه څه جواب دې؟

۲: کله چه عرش اعظم بالائی سموت دې نودزمکې لاندې دعرش لاندې دنمردسجدې څه بیان دې؟

۳: نمرپه څلورم اسمان دې نودزمکې دغرب نه کومې طبقې کښې کیدوسره دمشرق طرف ته راخیژی؟

۴: اسمان بیضوی محیط زمین چکرکننده دګیړۍ چاه یاچاک کمارپه شان، مخالف اقوالوباندې اهل شرع څه خبره کوی؟

۵: مشهوردی چه دنمرطرف ته اعلی مخ دې، اوددې طرف ته اسفل شاه داڅنګه دی؟

۶: نمراوسپوږمۍ اوستوری داسمانی ځیزونوڅه حقیقت دې، ایازجاج یاسنګ تابان وغیره، ددې اصلیت څه ځیزدې؟

۷: دیونان حکماء وائی چه کله انجرات مرکبه زمکه کښې خخیدوسره حرکت کوی نوهغه وخت په زمکه باندې زلزله راځی، اودینی کتابونوکښې دی چه کوه قاف زمردونه کومه چه دپنځه سوؤکالودمزل په اوچتوالی باندې دې اودزمکې نه ګیرچاپیره تاؤدې اوشاخهائے بیخ دهغې هریوه حصه امصاوغیره کښې خوره ده. پس کله چه ددوزخ نه هغه قاف ویریږی نو دهغې دحرکت په وجه باندې کوم چه پوره زمکه کښې موجوددې، نوټوله زمکه اوخوزی. او دبعضوقول دې چه دیوې غواپه ښکروباندې زمکه قائم ده. کله چه هغه زمکه دویمې ښکرې

ته اړوی نوزمکه اوخوزوی. اوبعضومطابق دګندګ غرونه کوم چه زمکه کښې دننه دی، دحرارت اتش داشتعالک په وجه باندې زلزله راځی. دې خبروکښې کومه یو صحیح ده؟

۸. لیکلی دی چه دزمکې نه اسمان پورې دپنځوسوؤکالومزل دې، اوهم دومره دهغې زړه دې اوهریوپورته اسمان دلاندینی اسمان نه لس چنده غټ دې، وهومن السموت السبع الی اعلی اوقران مجید کښې دی خلق السموت ومن مثلهن. نواوس ددې شکونوتپوس کوم چه اووۀ واړه زمکې یوبل پورې پیوست دی اوکه داسمانونوپه شان په مینځ کښې دپنځوسوؤ کالو دمزل مطابق فاصله لری، اودزمکې په اوږدوالی کښې هریوه طبقه دخپلې لاندینۍ طبقې نه داسمانونوپه شان لس چنده غټه ده. یاهریوه طبقه دلاندینوطبقونه لس چنده اوږدوالې لری، اودزمکوپه مینځ کښې څه ژوندې ځیزوغیره شته اوکه خالی دی. اوزمکه باندې چه څه خوارۀ کړې شوې دی ایادکوهنی وغیره اوبۀ هم ددې اوبوحصه ده یاقادرمطلق دانسانانو درګونوپه شان زمکه کښې نیرونه جاری کړی دی.

۹. دسورۀ "ن". په تفسیرکښې مفسیرینودزمکې دغواګانوپه ښکروباندې اودماهی په ملا وغیره باندې ترتیباالی اسفل السافلین السعیرالدخان وهوریح القدرة الرحمن چه څه بیان کړی دی ایادامضمون دحدیث نه اخستلې شوې دې یادبزرګ دڅه قول نه اخستلې شوې دې. ځکه چه بعضې اهل اسلام خپل ځان ته ملاوئیلوسره دفلسفې دحکماء مقلدینوزمکه ګول جوړه کړې ده، متحرک نمرباندې چکروهونکې ئې ګنړی. اودطعنې په طورباندې وائی چه داثورویمک وغیره دځان نه جوړې کړې شوې خبر دی. اودې نه علاوه لیکی که څه ځائې کښې جهازپه سمندرکښې پریخودې شی، نورکالوکښې به واپس خپل ځائې ته راشی، پس زمکه ساکن، غواکب وغیره قائمه اوترک متحرک اقوال متخلفه فیه کښې علمائے ربانی اعتراض کونکواومخالفینوته څه جواب ورکوی.

۱۰. حدیث کښې دی چه کله الله تعالی دوزخ پیداکړونودوزخ الله تعالی ته عرض اوکړوچه اې اله العالمین زماګرموالې ماسوزوی، پس الله تعالی دوزخ ته ګرمه اویخه دوه ساه ګانې ورکړې، پس په کال کښې دوزخ دوه ساه ګانې اخلی، اودهغې داثرپه وجه باندې دنیاکښې یخنی اوګرمی محسوسیږی. اودحکماء دکلام نه داسې معلومیږی چه نمرداسمان دمینځ نه دقطب جنوبی طرف ته مائل کیدوسره دنیاکښې یخنی پیداشی اودګرمۍ په ورځوکښې نمردخط استواء سرطان دپاسه وی، پس دګرمۍ اثروی. دې باره کښې وضاحت غواړم.

جواب: ړومبې دې باندې پوهیدل پکاردی چه دپخوانۍ یااوسنې فلسفې دې قسمونه دی، یوهغه کومه چه دقران شریف اواوحادیثوموافق ده، دویم هغه کومه چه مخالف ده اودریم هغه دکومې باره کښې چه قران کریم اواحادیث خاموش دی. پس دړومبۍ اودریمې دجواب

خوضرورت نشته. ړومبۍ کښې خودې دپاره چه هلته موافق دی، دریم کښې دې دپاره چه هلته مخالفت نشته، دڅه په وجه باندې چه شک اوشی. البته دویم قسم کښې مونږدپاره جواب ورکول ضروری دی. اودجواب دوه طریقې دی، کۀ فلسفې په دې مسئلوباندې څه دلیل قائم نه وی نودومره جواب کافی دې چه مونږئې ددلیل نه بغیرنه منو. اوکه څه صحیح دلیل پرې قائم وی نوهغه وخت دقران اوحدیث شرح کولوسره جواب ورکول وی چه اوګورۍ دامخالف نه دې. ددې تمهیدنه پس تفصیلی جواب لیکم.

جواب: دړومبی سوال: دادریم قسم دې په دې وجه باندې جواب ضروری نه دې.

۲. داهم دریم قسم دې په دې وجه باندې جواب ضروری نه دې.

۳. داهم دریم قسم دې.

۴. ټولې مقولې قران اوحدیث نه دی، په دې وجه باندې دټولوجواب ضروری نه دې. البته دقران نه دومره معلومیږی چه اوبه داسمان نه راځی. نودې کښې دفلسفې هیڅ مخالفت نشته. ممکن ده چه الله تعالی دفرښتوپه ذریعه باندې وریځوکښې اوبه اچوی. څنګه چه مشکونه دکوهی داوبونه ډکولوسره کورونوته راوړلې کیږی، اودلته دزمکې نه بخارات الوځی. دواړه یوځائې کیدوسره باران کوی یاصرف دبخاراتونه اوبه جوړیږی، اوکله داسمان نه ډکولې کیږی. غرض داچه دېوځیزدوه اسباب وی. دیوباره کښې حکماء خبروورکړې وی اودبل باره کښې نصوصوکښې خبرورکړې شوې وی. اوس دسوال دڅلورواړونمبردتفصیلی جواب ضرورت نشته.

۵. حدیثوکښې درعدنومې یوه فرښته کیدل اودبرق نومې دهغې تارکیدل راغلی دی. نو څنګه چه انسانی شکل دیوځیزونودیوځائې کیدونه جوړیږی اوهغې کښې روح اچولې کیږی، کوم چه نه محسوسیږی. دغه شان که درعدشکل هم دغه شان وی څنګه چه حکماء لیکلی دی اوهغه شکل کښې الله تعالی یوروح اچولې وی اوهغه روح فرښته وی اوهغه شکل اوروح دواړه ددې لمعان برقی فاعل وی اودهغوی دوریځوپه حرکت اوتقاطرکښې دخل وی. پس حکماء شکل وصورت لمعان بیان کړې دې، اوشارع روح اوحقیقت، چه دهغې نوم فرښته اوسوط دې نودې کښې څه تخالف دې. یادې باندې داسې مثال سره پوهه شۍ چه څنګه دطاعون دټولواثاراتوفاعل د تحقیق مطابق مادۀ سمیه وه، اوداوسنی تحقیق مطابق دچینجوفاعل کیدل ثابت شوی دی. پس ماده محسوس ده اوچینجی دالاتونه بغیرغیرمحسوس. دغه شان داثارسحابیه فاعل داهل مشاهدپه نزدباندې صرف سحاب دې اودمدرکین حقائق په نزدباندې فرښته کوم چه ایجادشوی الاتوپه ذریعه باندې هم نه محسوسیږی دهغې دادراک دپاره دبل قوت قدسیه ضرورت دې یاداچه کله داوازاوچمک صرف دسحاب نه وی اوکله دفرښتې دشکل اوسوط وی. داهم ممکن دی، نه دشارع په کلام کښې څه لفظ حصرشته نه دحکماء سره څه دلیل شته. اوس ددې سوال دمفصل نمبروڅه ضرورت نشته.

۶: حديث کښې دي چه دنمرپريوتونه پس دعرش لاندې سجده کوي، اوډحکم منتظر وي هغه ته حکم وی چه دخپل نظام مطابق حرکت کوي، پس بيادحساب مطابق راخيژی انتهی. ددې نه يوخودنمرحرکت معلوميږی، ددې په خلاف باندې فلسفيان انکارکوی. خوکيدې شی چه دانقطاع راتلونکې وی. يعنی هغه وخت دومره کم وی چه الات دهغې ادراک نه شی کولې، اونه دې حساب کښې فرق معلوميږی، دريم غروب دې کښې مجمل دې، اوغروب هرځائې کښې مختلف وی، خوکيدې شی چه دې دڅه خاص ځائې غروب ترې نه مرادوی. مثلاً مقام تکلم بهذاالخيرئې مرادوی. حديث کښې څه لفظ ددې نه مانع نه دې. څلورم تحت العرش تلل مفهوم دی، حالانکه هروخت تحت العرش دې، خوڅه خاص ځائې ته تحت العرش وئيل دنورځايونودتحت العرش کيدونه انکارنه کوی، اونه حديث کښې دڅه دليل تخصيص شته. صرف دقيدپه وجه باندې دې ته تحت العرش وئيلې شوې دی. باقي تولـه شپه دنمر پريوتل په څه حديث کښې ثابت نه دی. اوکله چه غروب هم دڅه خاص ځائې مرادوی نود بلغاراوتسعين دنظام نفی دحديث نه لازم نه راځی، اودنمرپه څلورم اسمان باندې موجودګی هم دڅه دليل نه ثابت نه ده. اوکه وی نوددې تقريرمضرنه دې. اونه داسمان نه دانکارڅه دليل چاسره شته. اوڅه ته چه دنظرانتهاء وئيلې کيږی ممکن ده چه اسمان دهغې نه اوچت وی اونه داسمان دوجوداوعدم دې تقريرسره څه تعلق شته، اونه شرعې داسمان دحرکت چرته اثبات کړې نه ئې دنمردشاره کښې څه خبره کړې. نه ئې دستوردحقيقت باره کښې څه عرض کړې اونه ددې دتحقيق غوښتونکې کارونوسره څه تعلق.

۷: دقاف زمردين اودغوادښکروشريعت دعوی نه ده کړې. البته دبعضې رواياتونومطابق دزلزلې وجه دعروق عرض تحريک دې کوم چه دزيات ذنوب په وجه باندې کيږی. پس کيدې شی چه هم داوجه وی اوکله نوروجوهات يادواړه وجوهات ئې کيدې شی. پس دې کښې هم څه تخالف نشته.

۸: شريعت کښې عدداوبعدطبقات راغلی دی، دنوروخبروسره ئې بحث نه دې کړې. کيدې شی چه کوم فضاين السماء والارض نظرراځی دې کښې هغه زمکې وی اودستوروپه شان د يوبل نه ډيرې لرې وی اودهغې زمکودبعضې اوضاع اواطرافوپه وجه باندې افضل وئيلې شوې وی. اوافضل مابين السماء والارض کښې دپنځوسوؤنه مرادصرف زياتوالې دې، دې صورت کښې هيڅ اشکال نشته. اوداوبوپه زمکه باندې دخوريدودې سوال کښې هيڅ دخل نشته.

۹: دامضمون دحديث نه ثابت نه دې، اونه څه نص دزمکې دګول کيدومخالفت کړې دې. خوحکماء سره دزمکې دګول کيدوڅه واضح اوښکاره دليل نشته، خودڅه نص خلاف هم نه دې. البته دنمراوسپوږمۍ دحرکت نفی دقران مخالف دی.

۱۰: که ددواړوخبروپه يخئ اوګرمئ کښې اثروی، ديوې خبرشارع عليه السلام ورکړې اوددويم سبب نفی ئې نه ده کړې. اوديوې اثبات عقلاء ورکړې، اوددويمې په نفی ئې څه دليل نه دې قائم کړې شوې نودې کښې څه تخالف دې. والله اعلم (۲جمادی الاخری ۱۳۲۲ هـ امدادرابع ص ۱۵۳)

انګريزی خواندن

سوال: (۸۵) ددنياحاصلولودپاره انګريزی ز کول څنګه دی، اودکومې درجې ګناه ده، صغيره ګناه ده اوکه کبيره اوکه کفرته نژدې ده. اميددې چه جواب په مشروح راکوئ.

جواب: رساله تحقيق تعليم انګريزکښې تفصيلي جواب ليکلې دې. مختصرداچه انګريزی دنوروژبوپه شان يومباح ژبه ده، خوددرې عوارضوپه وجه باندې دې کښې خرابی راځی، اول داچه بعضې علمونه دې کښې داسې دی کوم چه دشريعت خلاف دی، اودشريعت علم سره واقفيت نه کيږی په دې وجه باندې عقيدې خلاف شی، چه هغې کښې بعضې عقيدې کفرته نژدې بلکه کفردی. دويم داکه چرې دداسې علمونوضرورت هم رانشي نواکثرصحبت دبددينوسره وی اودهغوی دبدينئ اثرهغه کس باندې اوشی، کله په عقيده چه دهغې حکم پورته بيان شوې دې اوکله عملي طورباندې چه دهغې په وجه باندې دفسق نوبت راشی. دريم داکه چرې صحبت هم خراب نه وی يادهغې اثرنه وی نوکم نه کم دومره ضرور وی چه دانيت وی چه ددې په ذريعه باندې به معاش ګټم، که دمعاش طريقه حلال وی اوکه حرام. اودامسئله عقلاً اونقلاً ثابت ده، چه کوم مباح، دڅه حرام ذريعه جوړه شی هغه حرام شی. بياداسې عزم چه هغه دخپل زړه نه وی نودې صورت کښې ظاهری فسق سره باطنی فسق هم دې. ددې دريووجوهاتوپه وجه باندې کله کفراوالحادپورې ده، کله دظاهری فسق په شان ده، اوکله فسق پورې خبره رسی. که څوک ددې عواضونه پاک وی يعنی عقيده ئې هم خرابه نه وی، چه دهغې اسان بلکه متعين طريقه داده چه ددين علم حاصلولوسره دهغې عقيده اوساتلې شی اواعمال هم خراب نه وی، اراده هم داوی چه ددې په ذريعه به هم هغه معاش حاصلوم کوم چه شرعی طورباندې صحيح وی. اوبيادهغې مطابق عمل هم کوی نوددې داسې کس دپاره انګريزی مباح اوصحيح ده. اوددې نه علاوه که داقصدهم وی چه دابه ددين دخدمت ذريعه جوړوم نودهغه دپاره به عبادت وی. خودې اخری صورت کښې پاس حاصلولوکوشش کول به دهغې دعوی مکذب وی، ځکه چه ددې خدمت دپاره صرف استعداد کافی دې. حاصل داچه انګريزی کله حرام ده، کله مباح ده اوکله عبادت. والله اعلم (۲۵ جمادی الاولی ۱۳۲۲هـ امدادرابع ص ۱۵۹)

فرار از طاعون ووضع انګریزی

سوال:(۸۶) جناب قبله وکعبه حضرت مولوی صاحب مدظله السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته. الحمدلله زه خیریت سره یم. ستاسو اخری کارډ ماته لاهور کښې ملاؤ شوې وو او اراده مې وه چه تهانه بهون ته راتلو سره ستاسو خدمت کښې حاضر شم، خو ماته دیو ضرورت په وجه باندې امرتسر کښې پاتې کیدل وو، هلته پرون په کل ګورکهـ کښې ما داخبرا وکتلو چه تاسو ګورکهـ کښې اوسیږئ، مجبوراً مې خپله اراده ختمه کړه. اوس زه جے پور کښې اوسیږم دې ځل امتحان کښې ناکامیاب ووم. خیر مجبوری بیابه ګورو. ماچه تاسونه د طاعون باره کښې تپوس کړې وو د هغې غرض او غایت صرف هم دا وو چه ایا د مرض د زیاتوالی په وجه بانډې ښار پریخودل او تختیدل جائز دی او که نه، د دې جواب راکړئ. ستاسو دې باره کښې څه خیال دې چه یو کس د مونځ او روژې پابند دې خو د ټولو اسلامی کارونو اداکونکې دې خو هغه کوټ او پتلون اچوی، او پتلون داسې دې چه مونځ کښې حارج نه دې. پینسې ئې د ګیټونه اوچتې وی. چونکه د جامو عادت سره تعلق دې دې کښې څه حرج کیدې شی، او د قران د ټولو خبرو پابند دې، پس ایا هغه به عیسائی ګڼړلې کیږی. او کوم کس چه بعضې ځایونو کښې اردو دانګریزئ په شان وائی، چرټ هم هم څکی او چیلم خو د چرټ نه بوئی نه راځی خو هغې خلقو باندې ورځی کوم چه د تمباکو وغیره نه معترادی. او ایا څوک د چرټ او چیلم څکلونه پس غړغړې کولو سره مونځ کولې شی او که نه، او جمات ته تلې شی او که نه؟ زما مقصد دادې چه تاسو د زیارت نه ډیر زر مشرف شئ. که موقع ملاؤ شوه نو ستمبر کښې به حاضر شم. که ستمبر کښې موقع ملاؤ نه شوه د کرسمس په چهټیانو کښې یعنی کومې چهټیانې چه د ۲۵ دسمبرنه ۳۱ دسمبر پورې وی به در شم. نن صبا ستاسو شاګرد جناب مولانا صاحب دلته مقیم دې. د جامو باره کښې د مصر عالمانو یو مضمون لیکلې دې کوم چه د هغې ځائې په رسالو کښې چاپ شوې دې. هغې کښې داوږدو لمنو او لستوڼو جامو ته حرام وئیلی شوی دی. او د مشهور کتابونو حواله ئې ورکړې. اوس زه تاسو نه تپوس کوم چه څومره اوږدې لمنې وی یا لستوڼې وی نو هغه جامې حرام شی. ایا کومه کپړه چه د عادت او ضرورت نه زیاته وی هغه مکروه نه ده. امیدلرم چه ستاسو نظر کرم به زما پر دیسی حالت باندې وی، او زر به جواب راکړئ. امید دې چه تاسو به هم خیریت سره یئ. فقط؟

جواب: عزیزم سلمهم الله تعالی. السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، محبت نامه کاشف حالات شوه. ماغالباً مخکښې هم لیکلې وو او بیا هم لیکم چه کله د راتلو اراده وی نو اول د خط په ذریعه باندې زما د قیام باره کښې معلومات کوئ. د تحقیق کولو نه بغیر راتلو کښې د پریشانئ ویره وی. ماته د دخل کولو حق خو نشته خو د مشورې په طور باندې مې د دې وئیلو ته زړه کیږی چه د نوکرئ نه علاوه د معاش څه ذریعه نشته، چه د هغې د پاره دومره پریشانه یئ.

حیف باشد دل دانا که مشوش باشد

د طاعون د سوال جواب دادې چه د هغې ځائې نه تختیدل جائز نه دی، که او وئیلې شی چه ولې نو د هغې اصلی جواب دادې چه د کوم مقدس ذات په وجه باندې مونږ دا تپوس کړې دې چه دا جائز دی او که نه دی، نو هغه مونږ منع فرمائیلی یو. او که او وئیلی شی چه ولې ئې منع کړې یو نو جواب ئې دادې چه هغه ته الله تعالی وئیلی دی، او که او وئیلې شی چه الله تعالی ولې وئیلې دی نو د دې جواب دادې چه د دې سوال معنی ده چه الله تعالی ته اختیار ولې حاصل دې، صاحب حکمت ولې دې. نو ښکاره خبره ده دا ولې نه وئیلې کیږی چه الله تعالې ولې دې نو څنګه چه د دې سوال جواب د ملیانو په ذمه دې هم هغه شان دا د ټولو مسلمانانو په ذمه هم دې که تپوس او کړې شی چه هغه کوم حکمت دې، جواب ئې دادې چه مونږ ته د دې تحقیق ضرورت نشته. د مزدودې سره څه بحث دې چه دا کور ولې غورزوئ او ولې ئې جوړوئ. کار کوه، مزدوری اخله نور دخل څه د پاره کوې، که د بې نیازئ د دې خبرو په وجه باندې موتسلی او نه شی نو داسې او ګڼړئ چه د فوجیانو د مقابلې وخت کښې اګرچه د مرګ ویره وی، نو تختیدل ئې قانونی طور باندې ولې ناجائز دی، یا کوم وخت کښې چه یو سرجن یو زخم کښې سوری کوی نو ملازم مریض د پاره تختیدل ولې ناجائز شو، د غه شان طاقون کښې قوت مدرکه مخفیات نه معلوم شوی چه د یو مخفی مخلوق اثر دې چه د هغې د مقابلې نه د تختیدو اجازت نشته. او د دې دایماندارو د پاره رحمت کیدل او د ګناهونو علاج کیدل ثابت شوی دی. په دې وجه باندې د دې نشرنه د تختیدو اجازت نشته. د پتلون والا سوال کښې چه ستاسو شک څه منشا ده، د هغې د تحقیق نه پس به جواب اسان شی، د دې منشاء هغه ده کومه چه تاسو هغې الفاظو کښې ښکاره کړې ده چه چونکه د لباس تعلق عادت سره دې دې کښې څه حرج کیدې شی. عزیزمن ماشاء الله تاسو سمجهدار کیدو سره دا خبره کړې ده. عزیزمن څنګه چه د جامو عادت سره تعلق دې، د غه شان د خوراک څکاک تعلق هم عادت سره دې، نو بیا دا شک شراب او ماکولات محرمه.....کیدې شی. اخر د دې خیزونو حرمت صرف د نهی شرعی په وجه باندې دې. پس هم داسې نه.........نه هم دې. کوم چه پتلون کښې موجود دې. پاتې شو د مونځ او روژې پابند کیدل او پینسو د ګیټونه اوچت ساتل نو د هغې دا اثر ضرور دې چه د ګناهونو نه بچ شو خو دا څنګه وئیلې کیدې شی چه د هغې خاص ګناه نه هم بچ شو ګنی د دې خو به دا معنی وی چه کوم کس د ګناه نه ځان ساتی د هغه پنځمه ګناه کول جائز دی. کوم عقل لرونکې د دې قائل کیدې شی؟ البته هغه ته عیسائی نه ویم. په دې وجه باندې دا الزام غلط دې. هم دا جواب په چرټ کښې دې چه هغه هم موجب تشبه دې. پاتې شو غړغړې کولو سره مونځ کول او جمات ته تلل، کله چه خوله صفا کړې شوه نو هیڅ حرج نشته. که بدبوئی پاتې شی نو کراهت دې. دومره اوږدې لمنې چه د ګیټونه لاندې وی حرام دی. د غه شان که لستوڼی هم دومره اوږده وی چه د ګوتونه غټ وی

نومنع دی. که ددې نه کم وی اګرچه ددعادت اوحاجت نه زیات وی مکروه نه دی. اوکه چرې دې کښې تفاخرمقصدوی، نوهغه صورت کښې منع کیدل جداخبره ده. باقی بحمدالله زه خیریت سره یم، ستاسودچهټیانوپه زمانه کښې داوس نه دخپل قیام باره کښې څه وئیلوسره ځنګه پابندکیدې شم. نزدې وخت کښې دوباره تپوس کول مناسب دی، یوې بلې خبرې کښې ماته دخل کول اوشو، اودهغې وجه صرف ستاخصوصیت دې ګنی زه خوبعضې خپلوانوته هم څه نه ویم. تاسوخپل رورته داسې عنوان سره لیکلی دی چه دهغې ستاسودې سره هیڅ تعلق نه ښکاری. ماسره خوعلاقه جدیدده خوتاسوسره قدرتی تعلق دې، جدیدمکتب ښکاره کول اوقدرتی پټول دفطرت سلیمه خلاف دی. که دمولانانه مخکښې دبهائی صاحب لفظ هم لیکلې وونوزماپه نزدبه هغه هم معین وو، باهمی خصوصیت اودلی اتفاق اوالفت پیداکیدو کښې. والسلام فقط. (مورخه ۲۵ جمادی الاولی امدادرابع ص ۱۶۰)

جواب طلبی درکالج علی ګړه وقت قدوم امیرکابل:

سوال: (۸۷)مخدوم ومکرم مولوی اشرف علی صاحب تهانه بهون. تسلیم. تاسوته به پته وی چه دمسلمانانودخوش نصیبئ داخبره شوې ده چه حضرت سراج الملة والدین امیرحبیب الله خان فرمانروائے دولت خدادافغانستان خلدالله ملکه، ددې کالج دکتلودپاره تشریف راوړی، دحضوروالاسورلئ به ۱۲ جنوری ۱۹۰۷ء باندې دورځې یوولس بجې استیشن ته رارسی، اودهغه ځائې نه به نیغ په نیغاکالج ته ځی. استریچی حال کښې به دحضورممدوح په خدمت کښې سپاسنامه پیش کړې کیږی. اودمازیګرخلوربجې به ګارډن پارټی وی. امیدلرم چه تاسوبه دې موقع باندې تشریف راوړلوسره جلسه اوپارټئ کښې شریک شئ. که ستاسودراتلواراده وی نومهربانی اوکړئ چه دراتلونه مخکښې دخپل راتلوتاریخ دوخت باره کښې موږته اطلاع راکړئ. والسلام. والسلام. محسن الملک انریزی سکریټری مدرسة العلوم علی ګړه.

جناب اخ مکرم. داموقع ده تاسوضرورتشریف راوړئ. یومسلمان فرمانرواه خوکم ازکم لیدل پکاردی. امیدلرم چه جواب به ضرورراکړئ. والسلام بنده سعیداحمد.

جواب: قال الله تعالی: قل فیهمااثم، کبیر، ومنافع للناس واثمهمااکبرمن نفعهما.

قال السعدی: نه دوری دلیل صبوری وبود   که بیساردوری ضروری بود

اخي المعظم: السلام علیکم ورحمة الله. دمفاسدواومصالحودتعارض په وخت کښې کله چه هغه مفاسدمظنون اومصالح غیرضروری وی، دمفاسدداثرترجیح دپورته ایت نه اوداسې وخت کښې دهغې دفائدې حاصلیدل مقتضائے اشتیاق باندې عمل نه کیدودپورته بیان شوی شعرنه ښکاره ده. تفصیل مې دې دپاره اونه لیکوچه هغه متفق علیه نه دې. که دجناب نواب دمزاج خلاف نه وی نودهغوی په خدمت کښې دایوڅوکربښې پیش کړئ ګنی خیردې. ماهغوی

ته نیغ په نیغاجواب ورکول دادب خلاف اوګنړل. فقط والسلام. دعاګوودعاجوخاکساراشرف علی ازتهانه بهون. (۲۲ ذیقعده ۱۳۲۴ھ امدادرابع ص ۱۶۲)

جواب استدلال ازایت به حرکت زمین:

سوال: (۸۸)اخباروطن لاهورمورخه ۳مارچ ۱۹۰۵ء صفحه ۶ باندې دایډیټردطرف نه یومضمون د"علماء کی قابل توجه سوال، په عنوان باندې درج دې. دسورۂ نمل په اخری رکوع کښې دی. وتری الجبال تحسبهاجامدة وهی تمرمرالسحاب په ترجمه باندې بحث دې. مولوی نذیراحمدصاحب مرزاحیرت صاحب دهلوی اوکثرمتقدمین عالمانودتمرمعنی مستقبل کښې اخستلوسره داایت دقیامت باره کښې ګنړلې دې. خوبعضې مقدس عالمانومثلاً جناب شاه ولی الله صاحب هم ددې کلمې معنی دقران کریم دخپلې فارسئ په ترجمه کښې دحال په صیغه کښې کړې ده. جناب ایډیټرصاحب دحال په صیغه کښې صحیح ګنړلوسره ایت شریف دزمکې دګردش په ثبوت کښې بیان کړې دې. چونکه کښې مخکښې زمانه کښې عالمانوته دزمکې دګردش باره کښې پته نه وه، په دې وجه باندې هغوی تاویلونه کولوسره دقیامت باره کښې تصورفرمائیلې وو، اواوس کله چه دې زمانه کښې دزمکې دګردش ثبوت ملاؤشوې دې نوددې معنی دحال باره کښې اخستل دقران مجید دحقانیت ثبوت دې، چه کومه مسئله موږدډیرتحقیق نه پس اهل فلسفه اوس دریافت کړه، په زرګونو کاله مخکښې هغه مسئله اسلام کښې حل شوې ده. ایډیټروطن فرمائی که چرې داایت دقیامت باره کښې وې نودتحسبها لفظ به نه استعمالیدو، بلکه ددې نه دامعلومیږی چه غرونه کوم چه ساکن معلومیږی حقیقت کښې هغوی دوریځوپه شان زمکې سره حرکت کوی. دحضور ﷺ دایډیټروطن دخیال باره کښې خیال دې؟

جواب: دشاه ولی الله صاحب رحمة الله علیه ترجمه دې وخت کښې ماته ملاؤنه شوه، ګنی دهغه دعبارت باره کښې به مې هم څه لیکلی وو، خوکه چرې هغه صیغه حال سره ترجمه کړې وی نوبیاهم دالازم نه راځی چه هغه دزمکې په حرکت باندې محمول کړې وی. ځکه چه دټولوزمانوپه محاوره کښې مستقبل اوماضی هم په حال کښې دتعبیرکولوعادت دې، زموږ ژبه کښې هم داسې وئیلې کیږی مثلاً زه تیرکال کلکتې ته لاړم. څه ګورم چه سم ډیرخلق جمع شوی دی، اودوه کسانوکښې مناظره کیږی. اوخلق شورکوی، مثلاً ګورم چه یو لیونې هاتهی راروان دې اوخلق ئې دمخې نه تختی، اه اویقیناً دلته ماضی مراد ده، یامثلاً نوکرته اووئیل چه ته یوه میاشت پس دبمبئ فلانکی بازارته لاړشه کوم دوکان باندې چه وینې چه ډیرمالدارخلق په سورلوباندې سوارۀ راځی اوسامان اخلی هغه دوکان دفلانکی سیټهـ دوکان اوګنړه، الخ. دلته مستقبل مراددې اودې کښې دانکته ده چه دکومې ماضئ یا مستقبل استحضارذهن

مخاطب کښې مقصود وي. هغه حال سره تعبير کوي نو کيدې شي چه شاه صاحب هم ددې محاورې مطابق دحال صيغې سره ترجمه کړې وي غرض داچه داددې دليل نه دې چه شاه صاحب دزمکې دحرکت قائل دې او که دترجمې نه بغيرڅوک دقران مجيد ددې ايت نه ددې مسئلې اثبات کول غواړی نو دهغه په ذمه دی چه دقيامت سره ددې متعلق کيدو دليل باطل کړی، ترڅوپورې چه څه دليل قائم نه وی او دتعلق بالقيامت به هم احتمال وی استدلال به صحيح نه وی. او دمدعی په حيثيت باندې ددليل مطالبه به دهغه په ذمه باندې وی. او دې عدم تعلق باندې ئې چه کوم استدلال کړې دې که چرې داايت دقيامت دپاره وې نو دتحسبها لفظ به نه استعماليدو الـخ. نو ددې تقرير واضح کول پکاردی چه تقدير مذکور باندې استعمال مذکور کښې څه خرابی ده. داخو ددې مسئلې دقران سره دتعلق باره کښې وه او پاتې شوې پخپله ددې مسئلې تحقيق نو نه څه شرعی نص ددې اثبات کړې دې او نه ئې نفی کړې ده، پس اثباتاً يانفياً دامسئله داسلامی اوشرعی نه ده، صرف يوه عقلی مسئله ده دواړو طرفونوته احتمال او ګنجائش شته. او څه احتمال باندې ديو حديث يا ايت څه اشکال لازم نه دې، البته عقلی طور باندې ددواړو طرفونه خپل خپل دليلونه قائم کړې شوې دی، او دمخالف طرف په ابطال باندې ئې هم وجوهات بيان کړی دی. څنګه چه کلاميه کتابونو کښې مبسوط دی. او دادعوی چه مخکښې زمانه کښې عالمانوته دزمکې دګردش پته نه وه الخ. غلط ده، که علم ورته نه وونو خپل کتابونو کښې به ئې هغه مذهب څنګه نقل کولو او بيانې داباطل څنګه کړه، پس شرح مواقف کښې هم ددې بحث ذکر شوې دې، او دامذهب هم څه او سنی فلسفی نه دې تحقيق کړې. ايا اصل کښې دفيثاغورث نه داقول نقل دې، کوم چه دحضرت سليمان عليه السلام معاصر خودلې کيږی، او يونانې چه عربې ژبه کښې دفلسفې او رياضې دکتابونو ترجمه شوې ده، هغې کښې دامذهب نقل شوې دې او دهغې نه دامسئله پخوانې کيدل معلوميږی البته دور کيدونه پس دامسئله يو قوم دوباره تازه اوژوندۍ کړه، په دې وجه باندې هغې قوم ته ددې نسبت کيږی. او صرف ددې فخر حاصلولو دپاره داتفسير کول چه کومه مسئله ددير تحقيق نه پس اوسنی فلسفې اوس دريافت کړه، په زرګونو کاله مخکښې اسلام کښې هغه حل شوې ده، فضول ده. اول خو ددې مسئلې دپخوانۍ کيدونه پس ددې مسئلې په مخالفت داشک کولې شی چه اسلام په خپل تحقيقاتو کښې قدماء حکماء نه اقتباس کړې دې، يعنی اثبات توحيد و اثبات معاد و اصلاح ظاهر او باطن که دسائنس يوه مسئله هم دې کښې نه وی نو څه عيب نه دې، او که دسائنس ټولې مسئلې وی نو فخر نشته، قران ته دداسې خيرخواهۍ څه ضرورت نشته والله تعالی اعلم. (۱۲ محرم الحرام ۱۳۲۳ هـ امدادرابع ص ۱۶۴)

دفع شبه براختلاف الفاظ درقصه ابليس:

سوال: (۸۹) حامداً ومصلياً دجناب عزاسمه خبرو او همکلامۍ يا خطاب باندې عتاب شيطان عليه اللعن نه بغير دڅه واسطې نه صرف يوځل شوی دی يا ديوځل نه زياتې، سورۀ بقره، سورۀ اعراف، سورۀ حجر، سوره بنی اسرائيل او سورۀ ص دې ټولو ځايونو کښې دابليس صرف يوځل دسجدې نه دانکار ذکر دې، يا دمختلف وختونو، دقران الفاظ هرځائې کښې مختلف دی، که ديوې واقعې او نسبت باره کښې هرځائې ذکر دې نو دلفظی اختلاف څه معقول توجيه او تاويل مناسب کيدې شی، او که ديوځل نه زيات ده نو دهرځل او هربار نسبت او دوخت تعين اوفرمايئ، کوم چه دمشاهير علماء دهر او متبحر فضلاء عصرنه وی، بزرګوار ددې خواست باره کښې تحريری جواب راکړئ، لطف وکرم.

جواب: داشک مفسرينو په خپل خپل مؤلفاتو کښې دجواب سره ذکر کړې دې. مطلب ئې دادې چه ظاهراً يا خطاب بغير دڅه واسطې نه شوې دې او هر همکلامی موجب شرف قبول نه دی، بلکه صرف هغه کوم چه عنايت او لطف سره وی، او داهم يوځل شوی دی او لفظی اختلاف په دې وجه باندې دې چه قران مجيد کښې دواقعاتو حکايتونه دروايت په طور باندې بالمعنی دی، او داهل بلاغت قاعده ده چه يوه واقعه کله ديوځل نه زيات ځل بيانوی نو اصل مضمون خو محفوظ وی خو مقتضيات حال مطابق ايجاز او اطناب او تقديم وتاخير او اختلاف او ربط وغيره داعتبار رعايت کوی، او ددې مقتضياتو تفصيل دهر مقام په طرز باندې غور کولو سره بلکه اصل دادی چه ذوق لسانی نه معلوميږی. خلاصه داده چه دحکايت داسې اختلاف محکی عنه خلاف ته مستلزم نه ده، چه دتعارض شک پيداشی. والله اعلم: (۶ رجب ۱۳۲۴ هـ امدادرابع ص ۲۶۶).

داريو پنځلس سوالونه

سوال: (۹۰) ۱: اوسنی ټول اهل اسلام دقران مطابق بالکل عمل کولې شی ددې خلاصه داهل حديث د ۶ جولائی ۱۹۰۶ پرچه باندې اوګورئ، په هغې کښې ښکاره ليکلې شوی دی چه اسلام کښې به يو کس هم داسې نه وی چه هغه کښې دمسلمانۍ يو خصلت هم وی، پس ښکاره خبره ده چه انسان ته فطری عمل دپاره چغې وهلو دپاره هميشه قران بالکل عاجز دې، چه دهغې دبرکت په وجه باندې قرانی خصلت پاتې نه شو.

سوال: (۹۱) ۲: قران مجيد کښې چه دزکوة ورکولو ذکر دې، بالکل بې فائدې دې، ځکه چه زکوة ورکولو دپاره اهل اسلام بالکل مجبوردی، کله چه دهغوی سيد غريبانان خلق ديوې يوې پيسې دپاره دهندوانو خلقو څه ته چه مسلمانان کافروائی ددوکانونو مخکښې په خپل لاسونو باندې سرماتوی او دخپلې خيټې لوږه ختمولو دپاره نيم دپنسيه په دوکان باندې خپله ژبه کټ

کوی، دداسې غریبۍ په حالت کښې کله چه هغه ته دخپلې لوږې ختمولو دپاره دومره مصیبت برداشت کول وی دوی څنګه زکوة ورکولې شی. اوتقریباً هم دغه شان حال داسلام هم دې یعنی کومه ورځ باندې چه دظالمانوراج وی خلقونه به وهلوسره پیسې اخلی، خودګورنمنټ عالیه راج کیدوپه وجه باندې دې وخت کښې ظالم خلقوته نوروخلقوباندې دظلم کولوپه وجه باندې خپلې ژبې کټ وی. اوپه هغې کښې یوه فرقه چه دهغوی کارددنیاداریٔ هرڅه پریخودوسره صرف دالله تعالی په عبادت کښې خپل ژوندتیرول دی دخپلې خودغرضۍ دپاره خپل بدن کټ کولودپاره تیارشی. نوایادامکن دی چه دظالمانوریاست کیدوپه وجه باندې هغوی دخپلې خودغرضۍ دپاره نوروباندې ظلم اونه کړی، هم دااسلام مذهب دې چه دهغې سیدان دقرانی تعلیم په برکت باندې یعنی غاړه کښې دقران زواړندلوسره داسې کارونه کوی. تاسودپاره دانسانی فطرت مطابق دقران تعلیم څومره فائده ورکونکې کیدې شی، څکه چه ددې دحالت نه صفامعلومیږی چه مسلمان زکوة بالکل نه شی ورکولې، بیادقران مصنف بغیردڅه فائدې نه دحکم ورکولوکوشش ولې کړې دې، هغوی باندې داعتراض کولونه مخکښې لږدخپل کورحالت ته اوګوریٔ چه دهغې په وجه باندې تاسوشرم محسوسویٔ.

سوال: (۹۲)۳: شته اونه دقران په نزدباندې کټ کول منع دی اوکه نه، که منع دی نواې دعقل دښمنانوساه لرونکې ژوندی کټ کول کومه طریقه باندې دثواب ذریعه کیدې شی؟

سوال: (۹۳)۴: دحلال اوحرام څه معنی ده، که دیوځناوردحلالونه پس هغه کښې روح پاتې نه شی نودې حالت کښې هغه مرداردې اوکه نه؟

سوال: (۹۴)۵: دقبرڅه معنی ده، مړانسان په یوغارکښې داچولونوم قبردې، که دقبرهم دامعنی ده نوګوشت خورخلق که دپورته بیان شوی یعنی روح نه بغیربدن خوری، یعنی دهغې مړشوی ځناورغوښه باندې خپله خیټه ډکوی نودهغوی خیټه دهغې ځناورودپاره قبرنه شی کیدې؟

سوال: (۹۵)۶: که دطاقت دپاره غوښه خوړل ضروری دی نوزمرې کوم چه په ټولوځناوروکښې طاقتوردې، دهغې غوښه خوبه هم ډیره طاقت ورکونکې وی، نودهغې غوښه ولې حرام کړې شوې ده؟

سوال: (۹۶)۷: دضرورت په وخت کښې که دخوراک څه څیزملاؤنه شی نومسلمانانٌ په دغه سخت وخت کښې دخنزیرغوښه خوړې شی اوکه نه، که سوربداخلاقه دې نوایاچرګه خوش اخلاقه ده؟

سوال: (۹۷)۸: حضرت محمد ﷺ څلوېښت کالوپورې قریشیانوسره بت پرستی کولوسره دهغوی په مکروه اونفرت انګیزرواجونواوخوراک څکاک کښې حصه اخستله، دڅه عمل په وجه باندې
دملهم مستحق شو؟

سوال: (۹۸)۹: دقران دنازلیدوڅه ضرورت وو، کله چه دقران نه مخکښې ډیرالهامی کتابونونازل شوی وو، که هغه ټول نامکمل وونودقران دمکمل کیدوڅه ثبوت دې، ایاالله تعالی به خپل عادت پریږدی کوم چه خپل عادتونواوحکمونوکښې ترمیم اوتنسیخ دپاره تیاردې؟

سوال: (۹۹)۱۰: داسلامی دنیادپیدائش نه مخکښې دخداخالق رحیم یارازق اومعبودوغیره وواوکه نه؟ که چرې وونودټولومعبوداودهغه نه علاوه بل څوک نه وو، نودټولوخالق او دټولومالک وو، نوایادقران په نزدباندې دمحمد ﷺ خدائې دچاهم خدایۍ نه وو؟

سوال: (۱۰۰)۱۱: که ماده اوارواح منلوپه وجه باندې خدایۍ سره شرک وی نوجنت اوابدی دوزخ منلوپه وجه باندې خدایۍ خلق مشرک ولې نه ګڼړی؟

سوال: (۱۰۱)۱۲: دباواادم علیه السلام بدن جوړولوکښې الله تعالی دخاؤرې محتاج ولې وو، ایاهغه دخپل کن طاقت هیرکړې وو، اوبدن ئې خودخاؤرې نه جوړکړونوروح ئې دڅه څیزنه جوړکړو؟

سوال: (۱۰۲)۱۳: ایاروح الله تعالی دخپل بدن نه راویستلې وو، که دبدن نه ئې راویستلې وونودالله تعالی بدن به هم کم شوې وی اوټوله دنیاخدایۍ شوه، اوهغې کښې خنزیرهم خدائې ګڼړلې کیږی؟

سوال: (۱۰۳)۱۴: زهره څوک وو، اودجمعې په ورځ دهغې دنوم مونځ ولې اداکیږی؟

سوال: (۱۰۴)۱۵: متعه ولې منسوخ شوه؟ ایادحضور ﷺ په ژوند کښې دهغې دمنسوخ کیدو حکم راغلې وو، حضراتودهغې پیروی کړې وه اوکه نه، اوکه پیروی ئې کړې وه نواوس ولې منسوخ شوه اوکه پیروی ئې نه وه کړې نوصحیح مسلم ج ۳ مترجم اردوصفحه ۱۲۵۸ باندې یوځائې کښې ذکردی چه حضرت مته اوکړه اې دشیطان بندګانوداخبره اوس منۍ اوکه نه، مخکښې به مومنله، اواوس منسوخ شوه. راقم شیونرائن اریه طالب علم مدرسه دهاروحیدراباددکن مطبوعه احمدی علی پریس علی ګړه.

جواب: دټولونه ړومبۍ ضروری خبره داده چه سوالونه مهذب الفاظوکښې کول پکاردی، بدتهذیبی دمناظرې خلاف ده.

جواب: ۱: داحدیث دسندسره نقل کولونه پس دجواب مطالبه کول پکاردی.

جواب: ۲: کومې خرابۍ چه دې سوال کښې لیکلې شوی دی هغه دشرعی حکمونوپریخودوپه وجه باندې پیداشوی دی، اودزکوة فائده پخپله باندې ښکاره ده چه دحاجت مندوامانت دې، پس کومه خرابی چه دشریعت داحکامودپریخودوپه وجه باندې پیداشوې ده، هغې کښې دشریعت تعلیم باندې څه الزام دې؟

جواب: ۳: منع نشته.

جواب: ۴: دحلال اوحرام معنی ښکاره ده، چه کوم څیزته شارع علیه السلام جائزوئیلی دی هغه حلال دی اوکوم ئې چه منع کړی دی هغه حرام دی، اوشارع مطلقاً غیرساه لرونکی څیزونه نه دی

منع کړي بلکه دهغې خناورنه ئې منع کړي ده کوم چه دذبح کولوقابل وی اوغیرشرعی طریقې باندې مړشوي وی، اوذبح کولونه پس هغه ددې کلمیې نه اووتلو، پس اعتراض واردنه دې.

جواب: ۵: قبردعالم برزخ نوم دې.

جواب: ۶: غوښه خوړل دشارع علیہ السلام دحکم مطابق جائزدی، زمونږپه ذمه باندې دتعین علت ضروری نه دې. اوکه چرې څه عقلی قطعی خرابې دې اوکښې اوشی نوداهل اسلام په ذمه باندې به دهغې جواب ورکول وی.

جواب: ۷: کله چه ساه اوخی نوخوړلې شی. اودخنزیرحرمت اودچرګې حلت زمونږپه ذمه باندې علت ښکاره کول ضروری نه دی، دحضور صلی اللہ علیہ وسلم په نص باندې ددې مداردې، اوکه چرې څه عقلی خرابې پکښې ثابت کړې شی نوداهل اسلام ئې ذمه داردی.

جواب: ۸: بالکل تهمت دې.

جواب: ۹: ضرورت خوالله تعالی ته دیوڅیزهم نشته البته دهغه په افعالوکښې مصلحت وی، پس دمصلحت تعین زمونږپه ذمه باندې نشته، اوکه چرې یوځائې کښې دمصلحت خلاف کیدل ثابت شی نواهل اسلام به دهغې دجواب ذمه داروی، اودعادت پریخودودمحال کیدواول څه دلیل دې، بیادادعادت هم خلاف دی، ځکه چه دمخکښې هم داعادت دې چه یوشریعت باندې بل شریعت منسوخ شوې دې.

جواب: ۱۰: ددې نه سوال کونکی مقصددنیاقدم ثابتول دی، خوفضول دیوصفت دقدیم کیدودهغې قدیم کیدل لازم نه راځی، پس صفات ټول قدیم دی اودهغې تعلق حادث سره دې، دې کښې څه خرابی ده.

جواب: ۱۱: دازلیت خلق داعتقادپه وجه باندې دالله تعالی دمشرک کیدودعوی نعوذبالله چاکړې ده، البته دمستقل عقلی دلیلونوپه وجه باندې دازلیت خلق بطلان ثابت دی، اود ابدیت په استحاله باندې څه دلیل نشته، پس یوقیاس بل باندې باطل دې.

جواب: ۱۲: محتاج نه وو بلکه مختاروو، څه مصلحت به وواومونږدهغې دتعین ذمه دارنه یو. اودروح جوړولو کیفیت مونږته نه دې معلوم، خودیوڅیزدمفصل نه معلومیدوپه وجه باندې څه اعتراض لازم نه دې.

جواب: ۱۳: الله تعالی دبدن نه پاک دې دغه شان یوڅیزدماده جوړیدې نه منزه دی، مسلمانان ددې کله ددې مدعی دی.

جواب: ۱۴: دزهره تاریخ بیانول داهل اسلام په ذمه ضروری نه دی، اونه ددې دنوم مونځ کوی، بالکل تهمت دې.

جواب: ۱۵: اودحضور صلی اللہ علیہ وسلم په زمانه کښې ددې دمنسوخئ حکم راغلې وو، اودمنسوخ کیدونه مخکښې چه دې باندې چه کوم عمل شوې ووهغه هم حدیثونوکښې ذکرشوې دې، بیادې کښې څه اعتراض لازم دې. (۸رجب ۱۳۲۴ھ (ایضا)

دسرسید احمد او دهغه دمتبعینوحکم

سوال: (۱۰۵) سیداحمدساکن ضلع علی ګړه چه هغه دفرقه نیچریوپیشوادې، دهغه پیروی کونکی چه هم دهغه په شان وی هغوی ته کافروئیل صحیح دی اوکه نه، دمونځ داقتداء څه حکم دې؟

جواب: څنګه چه دالله تعالی عادت په دې امت کښې داسې جاری دې چه دهریوې صدئ په شروع کښې یومجددپیداکیږی، چه هغه بدعات اومخترعا ختموی، څنګه چه راس ماته اولی باندې عمران بن عبدالغزیزرحمة الله تعالی علیه ماته ثانیه باندې حضرت امام شافعی وعلی هذالقیاس دغه شان هریوې صدئ کښې یومجرب دین کس ماهی اثاراسلام متین پیداکوی چه دهغه په وجه باندې اندارس سنن وشیوع بدعتونواوشی. څنګه چه ماته اولی کښې دحجاج ظلم مشهوروو، ماته ثانیه کښې مامون چه هغه دخلق قران قائل او عالمانوته ئې مختلف قسمه تکلیفونه ورکړی وو وعلی هذالقیاس. تردې چه څوارلسمې صدئ دې ته نزدې هندوستان کښې دانیچریه فرقه پیدا شوه. چه هغوی داسلام دټولو عالمانوتغلیظ اودشرعی حکمونوتخلیط اوداصولوقمع اود فروعو قلع اومحدثینواومفسرینوباندې تشنیع اولعن ظعن علی الاعلان کول شروع کړل. وهم یحسبون انهم یحسنون صنعااواذاقیل لهم لاتفسدوفی الارض قالوانمانحن مصلحون الاانهم هم المفسدون ولاکن لایشعرون اوابتداء حدوث ددې محدثه باغیه طاغیه فرقې په هندکښې دیوې معتبرذریعې نه داسې معلومه شوه چه ددې طائفې رئیس داصل نه کشمیرې دې. هغه په دهلی کښې داسې وخت کښې پاتې شوچه دغیرمقلدئ زوروو، داثرکیدو په وجه باندې دغه حضرت هم مجتهدشواوناصح ئې لیونی اوګنړل، هم دې دوران کښې غدراوشو، هغه وخت کښې دبجنورصدرامین وو، په قلارقلارورته دصدرالصدوری عهده ملاؤشوه، دفروکیدونه پس دغدرانګریزی حکمان دمسلمانانونه مکدراندیشه کیدل شروع شو، هغوی ته دخپلې ډوډئ فکرشو، مصلحت ئې داولیدوچه یوکتاب مذهب باغیان وتجویزچندقوانین انسدادبغاوت واطاعت رعایاکښې تالیف کړی، سرکاربراه راست قدردانی بعضې ضوابطوباندې عمل اوکړو، دهغوی بادنخوست جوړشو، اوس معراج شروع شو، پس دحکماودخوشامدداظهاردپاره ئې مسلمانانوته داحکامواطاعت دپاره رغبت ورکړو، اودانګریزانوچه کوم رسمی یامذهبی عیبونه

دمسلمانانو په سترګو کښې موجودوو، دهغې جوابونه ئې ورکړل او دپیپل ترجمه ئې چاپ کړه.
دسوؤنو مسلمانانو عقیده کمزورې شوه داسې وخت کښې داکثر خلقو عقیدې کمزورې شوې
وې او میلان ئې دنصاری رواجونو طرف ته وو، دقران مرمت ئې شروع کړو، لکه چه تیل
خو مخکښې نه موجودوو، صرف اورورته او خودلې شواوزیات شو، اکثر خلق خراب شو او سه
پورې داکارونه صرف دخودنې او خوشامدئ دپاره وو. خو وعده صادق من تسبهه بقوم فهومنهم
کله خلاف کیدې شي. ددې اثر اوشو، دصاحبزاده دبیرستر جوړیدو شوق اوشو هغه ئې لندن ته
اولیږو، ددې تقریب نه به تاسو ته هم هلته سیر نصیب شوی وی، هلته دډیروخت نه دالحاد شیوع
او مذهب نه اعتراض کیږی، یو خوورځې هم دداسې دهری ملحد خلقو صحبت نصیب شو، مزاج
کښې مخکښې نه ازادی وه اوس بالکل کهلاؤ شو، او دهغه ځائې نه راتلو سره ئې په ښکاره
باندې دنیچریه مذهب دعوت شروع کړو او نیچر څه ته چه هغوی دفطرت قانون وائی
او هنوز دهغوی قانونونه جوړ کړی دی. هغې ته دکتاب او خیالاتو اورسمونو ملاحده یورپ چه
دهغې نوم علوم واقعیه و تحقیقات نفس الامریه و تهذیب ایخودلې دې، دائې سنت ګڼړلو سره
څه ئې چه ددې دواړو خلاف او موندل که هغه اجماع مسلمین وو تو بغیر دڅه توقف نه ئې ورته
جاهلیت اووئیلو. که حدیث وو نو هغه ئې کله معنعن کله مرسل او کله منقطع او که هیڅ به هم
اونه شو نو دفطرت خلاف ګرځولو سره غلط او ګرځول، روایتونو ته ئې کاذب او مفتری اووئیل،
که قران دې نو پته نشته چه هغې باندې دڅه مصلحت په وجه باندې دتکذیب او تردید عنایت
اونه کړو، خو څه ځایونو کښې تمثیلی قصئ او څه ځایونو کښې خوب او خیال او څه ځایونو کښې
صرف موافقت خیال مخاطبین جهال وئیلو سره دالهام دعوی کولو سره څه ځایونو کښې
تحریف کولو سره ځان خلاص کړو، چونکه ذی وجاهت او ثروت وو، ادهر طبع انسانی
استلذاذ جدید باندې مجبول وی او شیطان معین ددې بدعاتو او طغیانو دې، ډیرو شکم
پرور، ډیرو عجائب پسندو ډیرو ازاد خیالو پرې امنا و صدقنا وئیلو سره دهغوی ملګری شول،
تردې چه یوجم غفیر او کثیر جوړ شو، کسر الله شوکتهم او اعطاهم توبهتم دې کیفیت اورید و سره
به مسلمان نه وی، چه هغوی ددې فرقې په نسبت سخت حکم اونه کړی، خو چونکه ددلیل نه
بغیر دعوی مسموع ده اقناعاً للناظرین، یو څو اقوال ددې فرقې باره کښې دکتاب یا اخبار نوم
سره دڅه نه چه اخذ شوی دی او نوم او قائل دمختصر تردید او کیفیت په صورت کښې په نقشه
کښې دلته ورکولې کیږی. ددې نه پس چه دوی باره کښې دشریعت عالمانو څه حکم
ورکړو هغه به وی. فقط.

امدادالفتاوی جلد ششم کتاب العقائد والکلام

....

د محدثه نیچریه (هداهم الله الی الطریقة السویة)

د اقوالو او عقائدو نه څو خبرې

نمبر شمار	کتاب یا اخبار	جلد	نمبر	صفحه	قول	قائل	تردید مختصر	کیفیت متعلقه ضروریه
۱	تهذیب الاخلاق	۳	۵	۳۱	انکار حقیقت ملائکه وشیطان وشجرة الجنة	سید احمد	فسجد الملائکة کلهم اجمعین الا ابلیس لا تقربا هذه الشجرة	په سوونو آیتونه دې مضمون سره متعلق دی او د مولوی عبدالحکیم صاحب په کلام کښې د اصطلاح په بنا باندې اهل تصوف مراد دی.
۲		۳	۷	۲۵	انکار حقیقت عذاب قبر	مهدی علی	النار یعرضون علیها غدوا وعشیا ویوم تقوم الساعة ادخلوا	په زرګونو احادیث ددې مضمون د شهرت حد ته رسیدلی دی.
۳			۱۱	۱۱۰	انکار د وجود دجنت نه په وجه د نه درج کیدو په جغرافیه کښې او د	کریم بخش	جنة عرضها السموات والارض اعدت	د جغرافیه په بهروسه دجنت نه انکار کول ددې شعر

					قیامت او حشر د اجسادو او عذاب اوثواب اود اورنه اود حورو او غلمانو او چکله وئیل جنت ته او کشمیری کسبونه جوړول د حورو.		للمتقین ان الساعة لاتية لاریب فیها ثم انکم یوم القیمة تبعثون وقودها الناس والحجارة اعدت للمتقین حور مقصورات فی الخیام یطوفون علیهم ولدان اتخذوا آیاتی ورسلی هزوا الایات.	مصداق دي. چون آن کر میکند در سنگی نهان است زمین وآسمان ولے همان ست
۴			۱۹	۱۹۱	حلت د متحققه مارغانو	سید احمد	حرمت علیکم المیتة الی قوله تعالی والمنحقة	او استدلال په طعام الذین اوتوا الکتاب سره هسې لغوه دې ددوی په مذهب کښې هم متحنقه حرام دي.
۵	تهذیب الاخلاق	مطبوعه جمادی الاول لغایت رمضان ۱۸۹۲ء		۹	انکار د مسئلې د تقدیر نه	سید احمد	وما تشاؤن الا ان یشاء الله رب العالمین وغیرهما من الایات والاحادیث	

۶				۳۱	انکار د اعتقاد د کرامت او معجزې نه	سید احمد	انی لک هذا قالت هو من عند الله ولقد ارسلنا رسلنا بالبینات	بې شمیره معجزات او کرامات په آیاتونو احادیثو او متواتر اخبارو کښې ذکر دی
۷				۵۰	معجزاتو ته د مداری تماشا وئیل	ذکاء الله	وان یروا آیة یعرضوا ویقولوا سحر مستمر الایه	قال العارف الرومی معجزه را باسحر کرده قیاس هردو را ناکرنهاده اساس
۸		شوال لغاية رمضان ۱۸۹۷ء		۴۲	ټول موحد ناجی دی که دهر مذهب وی او منکر د توحید نه هم موحد ناجی دي	سید احمد	ومن یبتغ غیر الاسلام دینا فلن یقبل منه ومن یشرک بالله فقد حرم الله علیه الجنة وماواه النار	:
۹	نور الافاق	۲	۷	۴۹	لاتحریف فی الکتب المقدسة الامعنویا	سید احمد	یحرفون الکلم یلوون السنتهم بالکتب یکتبون الکتب بایدیهم ثم یقولون الخ	اود بعضې عالمانو نه چه کوم روایت په ثبوت د تحریف معنوی کښې منقول دي دهغې نه حصر نه لازمیږی

۱۰	نور الاخلاق	۲	۷	۵۱	لیس الاسترقاق فی الاسلام	سید احمد	من عبادکم وامائکم الایه. وغیرها من الایات والاحادیث التی لا تحصی ولا تعد ولا تحصر ولا تحد	اوآیت فاما منا بعد واما فداءً ته ناسخ وئیل بیوقوفی ده اول خو په آیت د براءت سره هغه منسوخ دي دویم اما دحصر دپاره نه ده دریم دا آیت محتمل دي وجوهو کثیرو ته اوآیت ناسخ محکم الدلالة کیدل پکاردی خلورم ددي نه پس هم حضرت قتل او استرقاق اوکړو
۱۱	نور الاخلاق	۲	۷	۵۰	لاوجود للسماوات	سید احمد	وبیننا فوقکم سبعا شداداً وانتم اشد خلقا ام السماء	که جسم نه وی صرف وسیع فضناء یا دُخان محیط یا خلاء بسیط یا منتهاء د بصر وی نود شدت څه معنی ده؟

۱۲					ماکان الطوفان عاماً	سید احمد	رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیاراً ونوحاً اذ نادی من قبل فاستجبنا له	
۱۳				-	الاجماع لیس بحجة		ومن یتبع غیر سبیل المؤمنین قوله ما تولی ونصله جهنم	اوقول د امام احمد من ادعی الاجماع فهو کاذب محمول دي په انفراد د ناقل باندي یا حدث او اجماع په وهغه زخت کښي یا اجماع د غیرصحابه کښي امام احمد په ډیرو ځایونو کښي تمسک کړي دي د اجماع نه
۱۴					کل الناس مجتهدون لا نفسهم فیما لم ینصص فی الکتب والسنة		فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون اتخذ الناس رؤساً جهالاً فسئلو فافتو بغیرعلم فضلوا و اضلوا که اجتهاد معتبروي نود ضلالت څه معنی؟	عالمانو په شرائطو د اجتهاد کښي فرمائیلي دی شرط الاجتهاد ان یحوی علم الکتاب بمعاینة لغة وشرعاً واقسامه المذکورة وعلم السنة متناً وسداد وجوه القیاس

۱۵				۵۲	لیس النسخ فی القرآن	سید احمد	خواکه نسخ مبنی للفاعل وی یا مبنی للمفعول په دواړو باندی دا باطل دي ماننسخ من الاٰیة واذا بدلنا آیة مکان آیة	عجیبه داچه په مسئله د استرقاق کښې په خپله د نسخ قائل کیږی فهل هذا الاهذیان او جنون
۱۶	نور الافاق	۲	۷	۵۲	لیس خلافة النبوة بعد النبی ﷺ	سید احمد	لیستخلفنهم فی الارض الاٰیة وقال علیه السلام فی تعبیر رؤیا خلافة نبوة ثم توتی الملک لمن یشآء رواه الترمذی وابو داؤد	
۱۷	.	۴	۷	۵۱	ابطال د رقیت د حضرت هاجره رض	عنایت رسول او چراغ علی	په بخاری په روایت د ابوهریره رضی الله عنه سره حدیث صحیح مرفوع موجود دي اعطوها هاجرة، په قسطلانی کښې دی هاجرة کانت مملوکة	بولوس چه ورته نیچری مقدس وئیلي شی هغه هم دهغې د رقیت قائل دي غلاطیه فصل رابع درس ۲۲ ابراهیم کان ابنان فواحد من الامة وواحد من الحرة.

۱۸		۴	۹	۷	حلت د تصویر د حیواناتو	سید احمد و چراغ علی	قوله اشد الناس عذابا عندالله المصورون متفقه علیه لا یدخل الملائکة بیتا فیها کلب ولا تصاویر متفق علیه قال ابن عباس فان کنت لابد فاعلاً فاصنع الشجر ومالا روح فیه	
۱۹		۴	۹	۷	حلت د خمر او خنزیر	یوسړي دي د نشرانو ددي ډلي نه	انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس حرمت علیکم المیتة والدم ولحم الخنزیر	په نور الافاق کښې سړي ددي سړی نوم نه دی لیکلي
۲۰	نور الافاق	۱ ۴	۱۵	۱۱۵	انکار د صحت د احادیثو نه عموماً	سید احمد او مهدی علی	ما اتاکم الرسول فخذوه وما نهاکم عنه فانتهوا که یو حدیث صحیح نه وی نود ما اتاکم مصداق به خوک وی	کیفیات او مقادیر د صلٰوة او زکٰوة او حج وغیره احکام د حدیث نه ثابت دی که دا صحیح نه دی نو عمل پرې ولې کولې شی

۲۱			۲۱	۱۲۵	انکار د کانړو ورؤلو نه په اصحاب فیل باندې	سید احمد	ترمیهم بحجارة من سجیل	اوکوم تحریفونه ئې چه په دې صورت کښې کړی دی دا د من فسر القرآن برائه مصداق دې
۲۲			۲۳	۱۸۷	انکار د وجود د جن نه	سید احمد	والجنان خلقناه من قبل من نار السموم الایه	کتاب آکام المرجان او بستان الجن په دې بحث کښې د وئیلو لائق دی.
۲۳			۲۵	۲۰۳	انکار د تاثیر د سحر نه	سید احمد	فیتعلمون منها ما یفرقون به بین المرء و زوجه	
۲۴		۵	۱	۷	معجزه د موسی علیہ السلام د امسا او سحر د فرعونیانو دواړه دانسانی نفس ظهور وو یعنی عمل وو دایهام اوتخیل، چه دې ته مسمریزم وائی.		قال موسی اتقولون للحق لما جاءکم اسحرهذا قال موسی ما جئتم به السحر که دواړه عملونه د یوقبیل ځینې وو نوتضاد ئې ولې ثابتولو بلکه دهغوی عمل ته به ئې سحر اوخپل عمل ته به ئې سحرعظیم فرمائیلی وو	علاوه ددې د ایهام نه هسې دهوکه بازی ده نوموسی علیہ السلام ئې دهوکه باز اوګرځولود فرعون وروراورګرځیدو چه دهٔ عمل د موسی علیہ السلام په شان سحرعمل اوګنړلو اودهٔ لره ئې غالب لیدلوسره وئیلی ووچه انه لکبیرکم داحضرت هم وائی چه قوت نفسانیه د موسی علیہ السلام غالب شوې وو

۲۵	نور الافاق	۵	۷	۵۴	دعوی د مرګ دموسی علیہ السلام او دفن کیدو ددهٔ نه او انکار ددوی آسمان ته پورته د ختلونه	چراغ علی	وما قتلوه یقیناً بل رفعه الله الیه رافعک الی	په متوفیک او رافعک باندې ډیر زورورکوی خویاد ساتئ چه اول خودا ضروری نه ده چه توفی دې په معنی د مرګ وی که تسلیم هم کړې شی نوبیاهم واؤ د ترتیب دپاره نه ده په آخره زمانه کښې د مرګ مونږهم قائل یو
۲۶	تهذیب الاخلاق		مطبوعه یکم رجب ۱۳۹۳ھ		په خپل تعریف کښې دچا دا مصرع لیکل چه قبله خوانم یا خدایا کعبه ات	سید احمد	من یقل منهم انی آله من دونه فذلک نجزیه جهنم	مجذوب هم نه دې ځوک چه معذوروی او منصور جوړ شی البته فرعون جوړیدې شی لعنت الله این اس رادرقفا: رحمت الله آن انارا دروفا
۲۷	اکمل الاخبار	۲ ۲	۱۰	۶	انکار د پیدائش د حضرت موسی علیہ السلام نه د بغیر پلارنه،		ان مثل عیسی عندالله کمثل آدم خلقه الخ لم یمسسنې بشر ولم اک بغیا قال کذلک قال ربک هو علی هین.	په دې عقیده کښې خود یهودو په قدمونو باندې پریوتلوچه دهغوی د تقلید الزام په مفسرینو داهل اسلام باندې لګوی.

۴۰	تهذیب الاخلاق	۲	۱۱	۱۰۷	دعوی د مجددیت د نیچریه ؤ د رئیس	عبید الله	لیس بامانیکم الایه رساله مرضیه کښې دی لا یکون المجدد الا عالما بالعلوم الدینیة الظاهرة والباطنة ناصر الملة قامع البدعة	او د جناب علمی لائق توب د تصانیفو د مطالعې نه ښکاره دې بیا ئې مجدد جوړیدو ته هم زړه کیږی مرګ ته زړه کیږی د کفن شلولی شوی
۳۹	نور الآفاق	۱	۱	۳	یقینی نه کیدل د معجزې د شق القمر	مهدی علی	قال الله تعالی وانشق القمر فی البخاری عن ابن مسعود نحن مع النبی ﷺ فصار فرحتین فقال لنا شهدوا شهدوا	او شاه ولی الله صاحب ددې د معجزه کیدو نه انکار نه دې کړې بلکه د معجزې جهت اخبار عن الشق ئې فرمائیلی دی شق ئې ورته نه دی وئیلې چه د کائناتو نه دې ولا مناشقة فی الاصطلاح څکه چه دوی په خپله خپلو تصانیفو کښې دې لره بغیر د نکیر نه ذکر کړې ده.

۳۰	رهبر اسلام			تمام کتاب	اولویت د قراءت په مانځه کښې د اردو وغیره په ژبه باندې		فاقرؤا ما تیسر من القرآن نزل فی الصلوة وقال انا انزلناه قرآن عربیا لسان الذی یلحدون الیه اعجمی	او امام صاحب خو اول غیر عربی ته اولی نه دی فرمائیلی بیا د دوی په قول کښې علماؤ ډیر تاویلونه ذکر کړی دی بیا ئې ددې نه هم رجوع فرمائیلې ده په دې باب کښې جناب مولانا عبد الغفار صاحب یوه ډیره ښه رساله لیکلې ده چه نوم ئې دې هدایت انام بجواب رهبر اسلام
۳۱	امداد الآفاق			تمام	جواز د تشبه بکفار	سید احمد	قال علیه السلام من تشبه بقوم فهو منهم رواه احمد وابوداؤد فقال ان هذه من ثیاب الکفار فلا تلبسها رواه مسلم ان الیهود والنصاری لایصبغون	جناب مولوی محمد قاسم صاحب د تشبه جائز ګڼړلو والا ته او فرمائیل چه د خپلې ښځې کپړې واغونده او مجلس ته خو راشه هغه په تعجب کښې شو مولانا ورته او فرمائیل چه تعجب دې چه دیوې مسلمانې ښځې لباس خودې دومره

							فخالفوهم متفق عليه	بد وی اود کافرانو لباس دي مباح وی نوهغه چپ پاتي شو
٣٢	نور الاخلاق	٣	٣	٢	عدم ممانعت د محبت او اختلاط د کافرانو سره	مهدی علی	تری کثیرا منهم يتولون الذين كفروا ولوكانوا يومنون بالله والنبی وغيرها من الايات كثيرة والاحاديث الشهيرة	سيد صاحب هم په ډيرو ليکلو کښې په دې باندې زور ورکړې دې او فقهاؤ چه کومه استثناء الاان يتقوا سره په بعضې صورتونو کښې جائز ګرځولي دې په هغې باندې سخت طعن کړېدې.
٣٣	ضميمه نور الاخلاق	١	٧	١	ک څوک شق صدر ته بالکل غلطه جوړه شوې خبره اووائی هغه ربنتوني صحيح مسلمان دي.	سيد احمد	شق صدر لره ابونعيم ابن عساكر او ابن جنان اوحاكم او عبدالله بن احمد بيهقی اوطيالسی او بخاری ومسلم او ترمذی	

							وغيرهم روايت کړې دې ددومره احاديثو نه ئې انکار اوکړو څۀ ګناه يا ضعف دايمان خوبه نه لازميږی.	
٣۴		١	٧	١	معراج هم دغسې خواب دې لکه څنګه چه يعقوب عليه السلام ته شوې وو.	سيد احمد	د معراج په بيدارئ کښې کيدل د مشهورو احاديثونه ثابت دی ددې نه منکر مبتدع ضال دې كما فی شرح العقائد النسفيه	او مراد د رؤيا نه قرآن کښې يا رؤيا دخول دمکې مراد دې يا رؤيا عين مراد دې اوقول دعائشې ياپه عدم علم باندې محمول دې چه هغه وخت لا پيدا شوې هم نه وه ياپه متعدد قصو باندې محمول دې وللتفصيل مقام آخر

۳۵					په عیسایانو او محمدیانو کښې په وجه د تغیر دواړه مذهبونه نزاع جوړه شوې ده بدقسمتۍ سره خو بنا او اصول دواړه متحد دی.		که دا مراد وی چه په اصول د توحید وغیره کښې متحد دی فروعی اختلاف دې نو مسلم ده خوپه دې کښې د بدقسمتۍ څهٔ خبره ده قال الله تعالی لکل جعلنا منکم شرعة او که مراد داوی چه په فروع کښې هم متحد دی نو بالکل غلط ده فروع د دین محمدی ناسخ دی او فروع د دین عیسوی منسوخ دی، بیا منسوخ څنګه کیدې شی.	

۳۶	نور الآفاق	۱	۹	۷۱	چهپوانا ترجمه کولو سره یو کتاب د مؤلف الفتن صاحب سابقه ګورنر د بمبئ چه په هغې کښې د نبی کریم ﷺ توهین کړې دې.	سید احمد	فی الاعلام بقواطع الاسلام من یتکلم غیر قاصد للسب ولا مختصرا فی جهة صلعم بکلمة الکفر من لعنه او سبه اوتکذبه او اضافة مالا یجوز علیه وان ظهر بدلیل حاله انه لم یعتمد ذمه فحکمه القتل	ددې مضمون مختصراً نقل کفر، کفرنه باشد. دادې چه نبی ﷺ په ابتداء کښې صادق وو بیا روستو مکر او دهوکه بازی ددوی عادت شو خوپه کومه سختۍ او ظلم سره چه تعلیم خلقوته اوکړې شواوددې په وجه چه تعصب او خونریزی پیدا شوه...الخ
۳۷	تهذیب الاخلاق		در مواضع کثیره		دعوی الهام در تحریف آیات قرآنیه		ویقولون هو من عندالله وما هو من عندالله	البته که دا الهام د قبیلې د فالهمها فجورها وی نو مسلم ده.
۳۸	نور الآفاق	۲	۲۰	۱۲۲	تجویز د درس د کتابونو د شیعه مذهب په مدرسة العلوم کښې	سید احمد	په شیعه مذهب کښې ډیرې خبرې موجب د کفر دی الرضاء بالکفر کفر، مسلم قول دې	

۳۹		۳	۱۲	۹۱	منع او ذم د عبادت شاقه اودې ته مخالف د فطرت وئیل	سید احمد	تورمت قدماه او انتفخت قدماه په صحاح سته کښې موجود دی اتقوالله حق تقاته قرآنی آیت دې	اود حدیث انی اخشاكم الخ وجه داده چه زړهٔ تورنه شنی یا دغه وخت ویره د فرضیت وه ارشاد الساری اوګوره
۴۰		۲	۱۰	۷۷	مفسرین دنصاراؤ ته په شان د نوتهر مقدس وئیل	چراغ علی	قالوا ان الله ثالث ثلثة وانما المشرکون نجس انهم رجس وماواهم جهنم	افسوس چه متقدمین د اهل اسلام ته بد وائی او نصاراؤ ته مقدس اووئیلې شی.
۴۱		۳	۱۲	۹۶	انکار د ظهور دمهدی علیه السلام نه په آخره زمانه کښې	مهدی علی	روایت د ترمذی او ابوداؤد او بزار اوابن ماجه اوحاکم او ابویعلی او موصلی وغیرهم	اوجرح د ابن خلدون په بعضې روایت د حدیث الباب باندې جرح مبهم غیر مقبول ده ددې نه علاوه هغه معقولی دې د شرعی علومو نه بیخی ناخبره دې ضوء لامع اوګوره.

۴۲			۸	۵۷	اهل کتاب سره د مواکلت عادت جائز وې.	سید احمد	روی البیهقی عن ابی امامة مرفوعاً الجفاء ان تاکل مع غیر اهل دینک الحدیث	څوک دې په طعام الذین اوتوا الکتاب باندې نه ډکیږی حلت او حرمت د طعام جدا څیزدې جواز اوعدم جواز مواکلت جدا امردې البته که یوځل دوه چرته اتفاقی څهٔ ضرورت پیښ شی نوباک نشته عادت کولوکښې تعزیر لازم دې به صرحوا
۴۳		۳	۸	۵۷	په قانون د قدرت باندې غورکولو سره انسان د نبی برابر جوړیدې شی	سید احمد	الله یعلم حیث یجعل رسالة فی المطالب الوفیه واو فی ذلک ان یعتقد امتیاز الانبیاء من جمیع الخلق بصفات من الکمال ۱۲	بلکه لازمیږی چه د بعضې انبیاؤ نه افضل شی ځکه چه هرکله د هرنبی برابر کیدل ممکن دی اوحضرت دټولو انبیاؤ نه افضل دې نودا

							فی شرح العقائد النسفیة لا یبلغ ولی درجة الانبیاء	سړي هم دتولو انبیاؤ نه افضل شو معاذ الله فی شرح العقائد مما نقل عن بعض الکرامیة من جواز کون الولی افضل من النبی کفر وضلال. ۱۲
۴۴		۳	۴	۲۱	دخاتم رسالت په شان تعلیم بل سړي هم کولي شي	سید احمد	قال الله تعالی لقد من الله علی المؤمنین اذ بعث فیهم رسولا من انفسهم یتلوا علیهم آیاته و یزکیهم ویعلمهم الکتاب و الحکمة داکیفیت وود تعلیم دخاتم الرسول که بل څوک هم داسي	ددي نه علاوه الله تعالی فرمائی انک لعلی خلق عظیم اوحضرت عائشه فرمائی کان خلقه القرآن ددي حدیث نه معلومه شوه چه تعلیم چه ددي امر په قرآن کښي دي داهم دهغوی خلق دی اوالله تعالی دي ته

۴۴		۳	۴	۲۱			تعلیم کولي شي نو دومره په زور شور سره احسان دڅهٔ څیز بیانولي شي داسي خلق به خوپه هره زمانه کښي وی وجود د نبی ولي موجب د صفت شو.	عظیم وانی بس که بل څوک هم په تعلیم کښي دهغوی مثل کیدي شي نو دهغوی د تعلیم عظیم کیدو څهٔ معنی؟ وقال علیه السلام ایکم مثلی الحدیث اللهم احفظنا من سوء الاعتقاد. ۱۲
۴۵			۹	۲۳	تول سابقه انبیاء په تبلیغ کښي ناقص وو او توحید ئي پوره نه وو.	سید احمد	دانقصان دالله دطرفه وویا د انبیاؤ دطرفه؟ که رومبئ خبره ده نومعاذ الله د الله تعالی تعلیم ناقص شو، که دویمه خبره ده نو انبیاء په احکامو کښي	دحضرت نوح علیه السلام په غرهٔ باندي نهه نیم سوه کاله د توحدي دعوت ورکړو یوسف علیه السلام په قیدخانه کښي په توحید کښي مباحثه کول، دموسی علیه السلام خپل قوم لره

۴۵			۹	۶۳			نیمگړی پاتي شول بیا دا ټول تعریف رسلا مبشرین ومنذرین په څۀ وجه وواو معلومه نه ده چه دپوره تعلیم نه څۀ مراد دي او ددي تجزی څنګه کیدي شی ټول قرآن مجید د دعوت انبیاء الی التوحید نه ډک دي وما ارسلنا من قبلک من رسول الا نوحی لسیانه لااله الاانا فاعبدون.	په پریخودو د توحید باندي سخت ملامته کول د ابراهیم علیہ السلام په باب د توحید کښي څۀ څۀ تکلیفونه برداشت کړل په قرآن کښي منصوص دی بیا به کامل توحید څۀ وی.
۴۶	نور الافاق	۳	۹	۶۵	نبی هم دهغه خبري تبلیغ کوی چه دهغې حسن او قبح عقلی وی.	سید احمد	وماکنا لنهتدی لولا ان هدانا الله وقال علیہ السلام والله	دحسن لنفسه او قبح لعینه حسن قبح عقلی ده اود حسن لغیره او

							لولا الله ما اهتدینا ولا تصدقنا ولا صلینا اے لولا هدایة	قبح لغیره عقلی نه ده ګینی دانبیاؤ حیث حاجت نه وو.
۴۷		۲	۱۴	۱۱۰	د ټولو مذهبو ناخوښی په دي لفظونو کښي ختمه کړه د لکم دینکم اوجهاد سبب د مذهب ناخوښی نه ده	[illegible]دی علی	که مذهب د کافرانو ناخوښه نه دي نو ددي آیاتونو څه معنی بدا بیننا وبینکم	اود لکم دینکم که چرې دا معنی ده چه ماته که ستا مذهب ناخوښه نه دي نود ولی دین هم دا
					حاصل داچه یو مذهب ناخوښۀ ګنړل نه دی پکار.		العداوة والبعضا لیحزنک الذی یقولون اغلظ علیهم لیضیق صدرک لعلک باخع نفسک.	معنی پکارده چه تاته زما مذهب ناخوښه نه دي حالانکه بالکل غلطه ده بلکه د، آیت نامنسوخ دي یا دین په معنی د جزاده.
۴۸				۱۴	تبرکات وغیره بالکل ممنوع ګرځول		للذی ببکة مبارکا بارکنا حوله فی البقعة المبارکة په حدیث کښي تقسیمول دنبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم خپلو ویښتو لره راغلی دی.	عجیبه داده چه هم داحضرت دي ځائي فرمائی شنه توبئ په مبارک سرونو باندي په نظر راځی.

۴۹	نـور الافاق	۲	۴	۳۲	سپی پاک ګنړل	سـید احمد	لاتـصحب الملائكـة رفقـة فيهـا كلب ولاجرس رواه مـسلم وغيـره مـن الاحاديث	يـوكس د يـو نيچری نه تپوس اوکړو چه سپې دې په ترخ کښې ولـې پټ کـړې دې هغـه اووئيـل چه چرته د مرګ
								فرشته رانه شی هغهٔ اووئيل چه کومـه ڤرشته د سپی روح قبض کـوی هغـه بـه راشی. نصيحت نه رود بے گمان ملـک هرگـزدر سـرائيکه هست صـورت سـگ گرسـگ نفس رام گردانـی بمراتـب فـزون شوی زملک

۵۰		مطبوعه جمادی الاولی لغاية رمضان ۹۲هـ			ثـواب د اعمـالو نوروته نه رسيږی.		عن سعيد بن عبادة قال يا رسـول الله ان ام سعد ماتت فـای الـصدقة افـضل قـال المـاء فحضر بيراً قال هذه لاسـعد رواه ابـوداؤد وفـی ذلک احاديث كثيـره فـی شرح العقائد فـی دعـاء الاحيـاء للامـوات وصـدقتهم عـنهم نفـع خلافـه للمعتزلة.۱۲	او ليس للانسان الامـا سعی يـا مخـصوص دې کافرسـره يـادا مـراد دې چـه سـعی هغـه تـه فائده نه رسوی اود ايـصال نـه روستوبه حكماً دهغې سعی وی لکـه څنګـه چه دهبـې نـه پـس موهـوب د يوملـک نـه بـل ملـک طـرف تـه منتقل کيږی.

تم هذا الجدول ووراء هذا عقائد لهذه الشرذمة

التی هی كالانعام بل هم اضل حذفنا ناروماالاختصار

بعضې خلق ددې ډولو عقائدو معتقد دی. اوبعضې خلق دبعضو، ناظرينونه بـه ثابتـه شوې وی چه دې خلقو دڅومره ايتونو او حديثونو او اجماع المسلمين مخالفت پـه څومره بې بـاکۍ سره کړې دې. اود شريعت مطهره سره ئې څنګـه څنګـه ډوقې کړې دی. اوډير زيـات فاسد عقائد او اوهام باطله ددې فرقې ددوی په كتابونو کښې موجود دی. دځائې دتنګ والی نيزبخيال كن زګلستان اوبهارش ډولولره نقل نه كړې شول، اونه داقوال منقوله شرح اووضاحت كړې شوې دې. مجملاً اشاره کړې شوې ده چه که الله تعالى تـه منظور شونويوه رسالـه بـه پـه دې باندې په تفصيل سره ليكم. ومن شاء التفصيل الآن فعليـه بتـصانيف العلمـاء فی هـذاالباب كنورالافاق دردالشقاق، امدادالآفاق وتنصيح البيان وغيرها. اوس ددې حكم اوريدل پكاردی. پـه كتاب الاعلام بقواطع الاسلام كښې دی: من كذب بشئ مما صرح به فی القـرآن مـن حكـم

اوخبراواثبت مانفاه اونفی ماأثبته علی علم منه بذلک اوشک فی شئ من ذلک کفرحجتہ اللہ البالغه کښې دی ،وتثبت الردته بقول یدل علی نفی الصانع اوالرسل اوتکذیب رسول اوفعل تعمدبه استهزاء صریحاً بالـدین وکـذا.انکارضروریات دین فتاوی ظهریه کښې دی :ان الاخبارالمرویة من رسول اللهﷺ علی ثلث متـواترفمن انکـره کفـر ومـشهورفمن انکـره کفرالاعنده عیسی بن ابان فانه یضلل ولا یکفروهوا لصحیح وخبرالواحدفلایکفرجاحده غیرانه یاثم بترک القبول ومن سمع حدیثا فقال سمعنا کثیرا بطریق الاستحفاف کفروقال ابن الهمـام فی التحریرانکار حکم الاجماع القطعی یکفرعندالحنفیة وطائفة قـال السـبکی فی جمـع الجوامـع جاحدالمجمع علیه المعلوم من الدین بالضرروة کافرمطلقآ ان قال امام الحرمین فی منکر الا جمـاع نبدعـه ونـضلله.پس دذکرشوې روایاتونه معلوم شوچه په ذکرشوې اقوالوکښې بعضې منجربکفربعضې مرتبـه بـدعت وضـلالت کـښې دی.شائدشـک وی چـه مـاول خوکافرنـه وی،جواب دادې چه بعضې خوتاویل هم نه کوی،اوځوک چه کوی نوبیاهم هرتاویل دافـع کفرنـه دې بلکه کوم تاویل چه دقواعدعربیه په حساب سره محتمـل لفظ وی نورداچه ظاهری معنی ئې دضروریات دین نه نه وی البتـه هغـه دکفرنـه بچ کـولې شی،ګنی داسې بې سروپاتاویلات خاص کرپه دین کښې هیڅ کله کول پکارنه دی.چه هرفرقه تاویل کولوسره خپـل مـذهب دقـران مطابق کړی اودکفرنه بچ شی،اودهرظاهرشریعت نه بالکل په امـان کـښې شـی،څنګه چـه امنت باللہ تاویل کړې شوې وو،چه امنت باللہ،داللہ تعـالی یوپیـش شـو۔ وملائکة ،،اودهغهٔ ملائـی بـه ئې خوړله،،وکتبه،،هغهٔ یوسپې اوساتلو،ورسله،اورسئ ئې اوترلـو، نعوذباللہ من هـذه الخرافـات فی شرح العقائدالنسفیه والنصوص تحمل علی ظواهره. ......مالم نصرف عنها دلیـل قطـعی والعدول عنها الی معان یدعیها اهل الباطن الحادقال الخیالی فی حاشیة علی شرح العقائد تا ویـل الفلاسة لدلائل حدوث العالم لایدفع کفر هم قال المولوی عبدالحکیم علی الخیالی لان ذلک مـن ضروریات الدین والتاویل فی ضروریات الذین لایدفع الکفـر ،دداسې تاویلاتوپـه حق کـښې چـه پـه اصـل کـښې تحریفـات دی اللہ تعـالی فرمـائی،ان الـذین یلحـدون فی آیاتنـا لایخفـون علینا.....الایة،اورسول اللہﷺ فرمائی ،،من فسرلقرآن برائدفقد کفرالحدیث ،،اومولوی فرمائی.

برهوتاتاویـل قـران میکنـی(پـست وکـثرشـدازتومعنی سـنی)+چـون نـه واردجـان توقندیلها+بهرمیش میکنی تاویلها ،،هم په دې وجه چه کله مولوی بخش صاحب علمائې حرمین نه بعضې قولونه سره دتاویلاتونقل کړل اوتپوس ئې ترې اوکړونوهغوی په جواب کښې داالفاظ اوونیـل:اعتقادفاسد والیهودوالنصاری اهون حالامنه ضال مضل هوخلیفة ابلیس اللعین

یکفرهـذاالاعتقاد،،اودهغـوی دعالمانودسـتخطې پـرې دی.حسن بنابـارهیم مفتـی مالکیـه عبدالرحمان السـراج الحنفـی احمدبن زیـدوحلان سید محمدرحمت اللہ مهاجر، محمـد بـن عبداللہ مفتـی الحنابلـه.محمـدامین مـالی مفتـی الاحنـاف بالمدینة اونورداچه جناب مولانـا محمدیعقوب صاحب رائې هم په دې باب کښې ډیرشدیدوه.اوهغوی بـه فرمائیـل چـه دشـیطان اوددې کـس دکفروجـه هم یوه ده یعنـی پـه احکـام شـرعیه کـښې اصـلاح اوتـرمیم کـول.دااقـوال خوداهـل ظـاهردی اوس کـوم څـه چـه داهـل باطـل پـه دې بـاره کـښې قـول دې هغـه هـم اوریـدل پکـاردی.حـضرت عمـدة الاولیاقـدوة الاصـفیا جنـاب مولانـا محمـد یعقـوب صـاحب مرحـوم ومغفورومبروربـه ماتـه بغیردڅـه واسطې نـه فرمائیـل چـه یـوه زمانـه کـښې بـه یـوغیبی سـړې راتلواوماته به ئې څه کارونه ښودل،یوځل ترې مـادرئیس طائفـه پـه بـاره کـښې تپـوس اوکړوچـه داڅنګه کس دې،جواب ئې راکړوچه دادجال دې.ماترې تپـوس اوکړوچـه ددجـال سـترګه بـه یـوه وی اوخدایئ دعوی به اوکړی جواب ئې راکړوچه هغه دجال معروف نه دې بلکـه دقیامـت سـره نـزدې بـه څلوردیرش دجـال پیـدا کیږی څنګـه چـه پـه حـدیث کـښې راغلـې دی دهغـوی نـه دادې،ماورته اوونیل چه په هغه حدیث کښې دی: کلهم بزعم انـه نـبی اللہ ،نودې خودنبوت دعویدارنه دې،جواب ئې راکړوچه دعـوی عـام ده،صریح اوضـمنی سـره دې هـم ضـمناً مـدعی نبوت دې.ځکه چه دنبی احکاموته خلاف عقل وائی،اومعترض دمعترض علیه سره دمساوات مـدعی وی،دنبـی مـساوی بـه نبی‌وی،اوپـه پتـه ددنبـوت دعـوی ده.بیـائې اوونیـل چـه داامرمشهورکړه ،هغه حالت چه ختم شونومولوی صاحب فرمائی چه زهٔ مدرسې تـه راغلـم ،پرچه تهـذیب الاخـلاق پرتـه وه چه اومې کتـه نوبطلان استرقاق بحث پکښې لیکلې شوې وو،دغه وخت ددتصدیق مکاشفه راتـه اوشوه،نورداچه مولانامـمدوح الذکرارشاد فرمـائی چـه مکاشفه کښې مې تپوس اوکړوچه کوم قوم به دامام مهدی رحمه اللہ سره جنګیږی هغوی بـه نیچـری وی،راقم وائـی چـه هیـڅ عجب نـه ده ځکـه دوی دظهورمهـدی خومنکرهم دی اوکلـه چـه هغـه دمهدیت دعوی اوکړی نوغالباً دهغهٔ تکذیب بـه اوکړی اوپـه مقابلـه اومقاتلـه کـښې بـه ورسـره اوکړی.چونکه امرکفراشدواغلط دې.اګرچه ماته پـه دې مکاشفاتوباندې اطمینـان دې،مګرزهٔ په سبب دادعائې ظاهری اسلام په اطلاق کښې ددې لفظ نه احتیـاط کـوم ،البتـه داعلی درجې ګمراه اومبتدع ورته وائیم،اود: زهٔ په اخلاص سره دعاکوم چه اللہ تعالی دې دهٔ ته دتوبې توفیـق ورکړی.اوکه په نصیب کښې توبـه نـه وی نودخپـل عـادت زردې څوک مجددپیدا کړی چـه هغـه داراس واساس دې مذهب لره کنده اوسرافګنده کړی.

اس درد دل سے موت هو یا دل کو تاب هو
قسمت مین جو لکها هے الهی شتاب هو

اگرچه اسلام ته دداسې خلقونه څه دنقصان څه خطره نشته، کمال قال الله تعالى يريدون ان يطفوا نورالله بافواهم والله يتم نوره ولوكره الكافرون ،ونعم ماقيل بالفارسية.

چراغے راکه ایزدبرفروزد　　هرانکس تف زند ریشش بوزد

لیکن کله چه وینوچه بعضې ناپوهه ځوانان ورسره خرابیږي نوبه تقاضادا:

چوازمحنت دیگران بے غمی　　نشاید که نامت نهند ادمی

زړه موخفه کیږي.الله تعالى دې تول رونږولره دمکائدخیال شیاطین انس وجن نه محفوظ اوساتي امين .كله چه ددې فرقې په باره کښې دعالمانو فتوى معلوم معلوم شوه چه ددوی اقتداء صحيح نه ده چه ادنے شرائط امامت سره اسلام دې اوهغه هم صرف دنامې دې.فى الدرالمختارويكره امامة مبتدع ببدعة لايكفر بها وان كفر بها فلا يصح الاقتداء به اصلا فليحفظ هذ ماتيسرلى مستمدا بكلام جمع من الفضلاء مع مازيت عليه من الفوائداللهم ثبتنا واخواننا على الحق والايمان ومن زاغ منا فارجعه الى الصدق والا يقان ولاتزغ قلوبنا بعداذهديتنا بالبنيان ولا تسلط علينا النفس اوالشيطاوجهبنا عن البدع والطغيان الى ان تنزع ارواحنا من الابدان ثم ادخلنا دارالخلدوالرضوان وقنا عذاب النيران والهوران.ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم المنان ويرحم الله عبدا قال آمينا والله اعلم وبيده رمة الحكم .ذى الحجة ۱۳۰٤ ھ(امداد رابع ص ۱۷۱)

حکم تعلیم انگریزی وغیره بعد خواندن قران

وضروریات دین ونمازخواندن پس انگریزی خوان

سوال :(۱۰٦) کوم کس چه اول مذهبی تعلیم اوقران ښه زده کړی اومونځ روژې وغیره پابندی کوی اوانګریزی یاهندی علم دمعاش دپاره زده کړی نوڅه نقصان خوپکښې نشته؟انګریزی پسې مونځ کول صحیح دی یانه؟

جواب :انګریزی اوهندی دنوروژبوپه شان یوه ژبه ده.اودخپل نفس په اعتبارسره هیڅ یوه ژبه قبیح نه ده.بلکه دالله تعالى دنعمتونونه یونعمت دې.کمال قال تعالى ومن اياته خلق السموات والارض واختلاف السنتكم والوانكم ان فى ذل لآيات للعالمين.....الاية.اوپه خپله حضور ﷺ په فارسئ کښې چه دهغوی په زمانه کښې داتش ترستوژبه وه خبرې کړې دی.دحضرت ابوهريره ؓ نه ئې تپوس اوکړو.اشکمت وروالی اخر.الحديث رواه ابن ماجه .البته کله کله بعضوعوارضوپه وجه قبيح لغيره شی.پس که هغه عوارض نه وی صرف دڅه مصلحت دینی دپاره،مثلاً ردنصاری وهنودیاددنیوی کارکسب وغیره دپاره ئې زده کړی نوجائزده.رسول

الله ﷺ زیدبن ثابت ؓ نه لغت اوخط سریانی چه په هغه زمانه کښې دیهودولغت اوخط وو،یهودیانوسره دخط وکتابت دضرورت په وجه دزده کولودپاره فرمائیلي وو،چنانچه دپنځلس ورځونه هم په کمه موده کښې لیکل لوستل زده کړل.وعن زيدبن ثابت ؓ امرنى رسول الله ﷺ ان اتعلم السريانية وفى رواية انه امرنى ان اتعلم كتاب يهودوقال انى ما امن يهود على كتاب قال زيدبن ثابت فما مربى نصف شهر حتى تعلمت فكان اذا كتب الى يهود كتبت واذا كتبوااليه قرات له كتابهم رواه الترمذی.اوکه هغه عوارض نه وی نوهغه وخت کښې ځان ساتل واجب دی .درسول الله ﷺ حضرت عمر ؓ لره دتوراة دلوستلونه منع فرمائیل په صحاح کښې مذکوردی چه احتمال مفاسد کثیروو، نویو داسې کس چه دخپل دینی ضرورتونواودینی عقائدواومسائل نه واقف وی اوغالب ګمان دا وی چه داکس به دکفارسره دهغوی خیالاتواورسمونوطرف ته مائل اوپه خپل دین کښې دسستی عقیده واله نه شی نودکسب اومعاش وغیره دپاره انګریزی یاهندی زده کول جائز دی.اوڅوک چه لاتراوسه پورې دخپل مذهب نه خبرنه دی خاصکرچه کم خبروی اوغالب ده چه دداسې خلقوسره په ناسته پاسته کښې دهغوی طرف ته میلان اوپه خپل مذهب کښې اواعتقادکښې به ئې کمزوری پیداشی نودداسې کس دپاره البته ممنوع اوپه شان د: ويتعلمون ما يضرهم ولا ينفعهم...الاية.دې.اوداولنی کس اقتداء بغیردڅه کراهت نه جائز ده، اوددویم کس اګرکه دڅه عقیدې مکفره په شان وی.بالکل جائزنه ده.اوکه صرف دبدعت اوضلالت په مرتبه کښې وی نوپه کراهت سره جائزده.ويكره امامة مبتدع لا يكفربها وان كفر بها فلايصح الاقتداء به اصلاً فليحفظ.درمختاروالله اعلم.مګرنن صباخواکثرلیدې شی چه انګریزئ لوستلوسره خرابئ پیداکیږی،ضره اقرب من نفعه.لهذااحتیاط مناسب دې،صرف په دې علم باندې دروزئ انحصارنه دې اوکه هوس وی نوانتهاء ئې نشته.ولنعلم ماقيل.

علم چه بودآنکه ره بنمایدت　　زنگ گمراهی زدل بزدایدت

این هوس راازسرت بیرون کند　　خوف وخشیت درذلت افزون کند

(والله ولی العصمة(امدادرابع ص ۱۹)

د صوم وصلوة د پابندئ سره لباس بدلول ××

سوال :(۱۰۷)که دصوم وصلوة پابندی اوساتی اولباس بدل کړی یعنی کوټ وغیره واغوندی نوصحیح ده یانه؟

جواب: د کفاروپه دلباس مشابهت ممنوع دي. لقوله ﷺ. من تشبه بقوم فهو منهم رواه ابو داود وقوله ﷺ فرق ما بيننا وبين المشركين العمائم على القلانس رواه الترمذى وقوله عم لعبدالله بن عمروبن العاص ان هذ من ثياب الكفارفلاتلبسها رواه مسلم ولقوله ﷺ ان اليهود والنصارى لايصبغون فخا لفوهم متفق عليه ولقوله ﷺ خالفوا المشركين متفق عليه وقال انس بن مالك رضي الله عنه احلقوا هذين اوقصوهما فان هذاذى اليهودرواه ابوداود وقال سعيدبن المسيب لا تشبهو باليهود وغيرها من الاحاديث الكثيرة. دتنګ دلئ اودوخت دکمی دوجې نه هم په دي باندې اکتفااوکړې شوه خوک چه دامسئله سره دماله وماعليه کتل غواړی نوامدادالافاق دي اوګوری، دعاقل دپاره لوئيه خبره داده چه دخپلې ښځې جامې اغوستل اوډلې ته راتلل ئې زيات ناخوښه به وی اوحديث کښې پرې لعنت هم راغلې دي نودحيرانتياخبره ده چه دمومنې لباس دومره غيرمستحسن اودکفارو:

لباس زيب تن ببين تفاوت ره — از کجاست تا به کجا ولنعلم ماقيل
اے قدم برداشته ازراه دين — از چه شده ماکول و ملبوست چنين
چندمال شبه ناک اری بکف — تاکه جاکټ پوش باشی خوش علف
عاقبت سازوترا ازدين برين — اين تن ارائی و ان تن پروری

(ذی الحجه ۱۳۰۴ هجری (آمدآدرآبع ص ۱۹۲)

درجة الحسام من اشاعة لااسلام يعنى تحقيق اشاعة الاسلام به شمشيرحبيب××

سوال: (۱۰۸) يعنی تقريظ بررساله اشاعت اسلام مولفه مولانالرحمان صاحب ديوبندی دام فيوضهم:

جواب: پس دحمدوثناء نه، داسلام مخالفينوداشبه چه اسلام دتورې په زورخور کړې شوې دي، اصولی جواب خوپه خپله داسلام دقانون ظاهردي، چه دهغې بعضې دفعات دادی (۱) په جنګ کښې دښځواومعذورو، اوبوډاګانواوړندوقتل باوجوددې چه دهغوی بقاء علی الکفرجائزنه ده که سيف اکراه علی السلام دپاره وې نوهغوی به په دې حالت کښې څنګه پرېښودې شوې وو. (۲) جزيه مشروع کړې شوه، که سيف جزاء کفروې نوباوجوددبقاء علی الکفرجزيه به څنګه مشروع شوې وې. (۳) بياجزيه هم په ټولو کفاروباندې نه ده، چنانچه په ښځوباندې نشته، معذوراونابيناباندې نشته، راهبانوباندې نشته، ددې معلومه شوه چه مثل سيف جزيه هم جزاء کفرنه ده، ګنی په ټولو کافرانوبه عام وې، کله جزيه سيف نه اخف ده، جزائې کفرنه ده نوسيف چه ضروری دې څنګه جزاء کفربه وی. (۴) که څه وخت دمسلمانانوځه مصلحت وی نوکافرانوسره بغيردمال دشرط نه صلح جائزده. ۵: که وقتی حالات تقاضاکوی

نوپه خپله مال ورکول اوصلح کول هم جائزدی. ددې دواړواخيرودفعونه معلومه شوه چه جزيه څنګه جزائې کفرنه ده څنګه چه په دفعه ۳:-نه معلومه شوه هم دغه شان هغه مقصودبالذات نه دې، ګنی صلح به بغيردمال يادمال په بدل کښې جائزنه وې. پس کله چه سيف ياجزيه جزائې کفرنه ده اونه مقصودبالذات ګنی ذکرشوی دفعاتونه نه به مشروع نه وې. نوضروربه دې کښې څه داسې وجه شته چه ددې دفعات سره جمع کيدې شی. اودحکماء امت دتصريح مطابق (کما فی الهدايه وغيرها) دسيف غرض ددين اعزازاودفع فسادده. اودجزئې عرض دادې چه کله مونږ دهرقسمه حفاظت کوو، اودهغوی په حفاظت کښې خپل سرومال لګوو، نودادهغې بدله وه هغوی به هم زمونږ دحاجت په وخت کښې نصرت بالنفس کولومګرمونږ هغوی قانوناً ددې بری الذمه کړل. اوددې دپاره هغوی لره کم ازکم څه مختصرټيکس اداکول پکاردی. چه دانصرت بالمال دهغه نصرت بالنفس وجه بدل شی، دااغراض دی دسيف اوجزيې اوهم داوجه ده چه کله ددين ددښمنانونه دفسادخه ويره نه وی نوسيف مرتفع شی چه دهغې دتحقيق يوصورت قبول جزيه ده، اويوصورت صلح ده، اوهم داوجه ده کوم خلق په صورت بالنفس باندې چه په هغوی باندې عقلاً واجب وه قادرنه وی نوهغوی ته نصرت بالمال هم معاف کړې شوې دې. البته چونکه احتمال فساد موثوق به انتفاء عادةً موقوف دې په حکومت اوسلطنت باندې، چنانچه ټول ملوک او بادشاهان اګرکه هغوی اهل ملل نه وی نودااجماعی مسئله ده نوځکه په داسې صورت لره بحالت اختيارخوښ ګرځولې شوې نه دې. کوم سره چه اسلامی شان وشوکت ته نقصان اورسی، ددې مختصرشان تقريرسره په اصولی طورسره ذکرشوې شک بالکل ختيميږی اوددې وسوسه هم باقی نه پاتې کيږی. چه ګنی توره داشاعت اسلام دپاره وضع کړې شوې ده، الحمدلله چه ددې اعتراض بالکل استيصال اوشو. پاتې شو دمرتدقتل ،داسلام طرف ته دنه راواپس کيدوپه حالت کښې نوددې حقيقت اکراه علی القبول اسلام کښې نشته، بلکه اکراه علی بقاء الاسلام روستوقبول دې. نوهغه يومستقل مسئله ده، چه دمسئله مبحوث عنها نه بالکل مغائرده، اوددې وجه هم هغه دفع فساددې چه په اصل کښې دتورې په وجې سره دې، فرق پکښې څومره دومره دې چه کفرداسلام نه مخکښې شراوضرراخف دې، ددې وجې نه ددې مخ نيوې په جزيه ياصلح سره جائزساتلې شوې دې، اوکفربعدالاسلام يعنی ارتداد بدله ډيره سخته ده اوداسې کس طبعاً هم ډيرزيات مخالف اومحارب وی، اودنورو خلقولره ددې داحالت ليدوسره تذبذب اوترددهم کيدې شی، نورداچه په دې کښې دبې عزتئ حرمت[22] ددې وجې نه ددې علاج صرف په تورې سره مقررکړې شوې دې، اومرتدچونکه عادتاًمحارب نه وی، صرف دتذبذب اوبې عزتئ ضرربه قيددائم سره دفع

[22] من قوله تعالى امنوا بالذي انزل على الذين امنوا وجه النهارواكفروا اخره لعلهم يرجعونز ٥ من حجة الله البالغه

کړې شوې دي چه عقوبه کښې فطرة دخبرداري دي، بهرحال قانون اسلام (سره دتولو شبهاتودرفع کولو) اعتراض داشاعت اسلام بالسیف دپاره دافع کیدل ظاهرشول، چونکه دحقیقت پسندواواهل انصاف دعلاج دپاره کافی دي. مګرچونکه په دې وخت کښې دمادیت اواخباریت رنګ په کتابونوباندې غالب دي لهذاددې شبهې په جواب کښې ددې خبرې سخت ضرورت هم وو چه په خپله پیغمبراسلام اودهغهٔ نائبان ذوی الاحترام یعنی ذمه داران اسلام هغه واقعات او اصول مذکوره تائیداوموافقت سره اوښودلې شی چنانچه ددې خبرې ضرورت محسوسولو سره ګنړشمیر حضراتودې موضوع ته توجه ورکړې ده لیکن په دینی علوموکښې کم مهارت په سبب اکثرخبروکښې په خپله اصول اوحدوددکوموتائیدچه مقصودووضاحت کول ترې پاتې شوې دي اوداهغوی داکوششونه ددې مثال په شان شول چه:

یکے برسرشاخ وبن مے برید

نوبیاهغه ضرورت هم دغه شان باقی پاتې شو، الله تعالی دې جزائې خیرورکړی مکرمی ومغظمی حضرت مولاناحبیب الرحمان صاحب ناظم مدرسه دارالعلوم دیوبنددام دوامت بالفیوض والبرکات والمواهب چاچه خپله رساله اشاعت اسلام ملقب په دنیاکښې اسلام څنګه خورشو، چه په هغې کښې څه حصې دې وخت کښې زمامخې ته دی ددې ضرورت په احسن طریقې سره پوره کړو، چه پکښې اول په تمهید کښې بقدرضرورت اصولو طرف ته هم اشاره فرمائیلې شوې ده دویمه داچه واقعات هم داسې صحیح اوخوبې سره ذکرکړې شوې دی چه دلالت علی المقصودسره سره انطباق علی الاصول هم پوره پوره لحاظ ساتلې شوې دې چه ورسره شائقان فروع وعاشقان اصول دواړوته فائده ورکولوسره ددې شعرپه شان شوې دې:

بهارعالم حسنش دل وجان تازه میدارد برنګ اصحاب صورت رابسوارباب معنی

داخودهغې دمعنواومعافئ کیفیت دې بیاپه عنوان اوالفاظوکښې ئې سادګی اوحسن داسې طریقې سره راجمع کړې دې چه په عبارت کښې نه فرسوده قدامت شته اونه پکښې تکلف امدوده جدت، چه هغې سره ددې شعرپه شان شوې دې:

دلفریبان نباتی همه زیوربستند *** دلبرماست که باحسن خدادادآمد

چونکه زهٔ دثناء نه زیاته دعاخپله اوظیفه ګنړم ددې وجې نه دثناء په ځائې په دې دعاباندې ختموم چه اې الله ! دارساله نافع اوګرځوه، اودشبهات دلرې کولوواله ئې اوګرځوه، هم ددې ختمیدوپه وخت کښې ماته رایادشوچه دالقاسم په دورجدیدپه یوه رساله کښې مادمولانااعزازعلی صاحب مدرس مدرسه موصوف یومضمون شروع کړې وو، چه دهغې عنوان وو، ،اسلام سے لوګون کوکس طرح روکھاګیا، ،تقابلی مناسبت په سبب چه یو خپل مسلمه خاصیت دي، ،وبصد هاتتبین الاشیاء، ،زړهٔ مې په دې ځائې کښې دهغې ذکرکول

وغوښتل اوهغه مې لتوله چه په القاسم بابت ماه رمضان ۱۳۴۵ هجرئ کښې راته هغه ملاوشوه، هم په دې دوران کښې القاسم ماه ذی قعده ۱۳۴۵ هجری کښې هم دمولاناصاحب ومضمون په عنوان داشاعة الاسلام تاریخی سلسله راته ملاوشوه، چه په هغې کښې پورتنې مضمون یعنی مانعیت عن الاسلام دتکمیل وعده کړې شوې وه، اوورسره داچه په دنیاکښې اسلام څنګه خورشو، شروع کولو وعده ذکرفرمائیلې شوې وه، ددې په کتوسره زمامخې ته ترې وره راجمع شول (۱) مولاناالممدوح سابقاً اصل موضمون نمبر ۲ مولاناالممدوح لاحقاً مضمون اشاعت کوم چه داصلی مضمون تتمه وئیل مناسب دې. نمبر ۳ کښې هم مولانادمانعیت کوم چه داصلی مضمون ضمیه وئیل مناسب دی اوهرنوریوع عجیبه خونددې شعرپه شان پیداکړو:

سرورفی سرورفی سرور ونورفوق نورفوق نور

اوپه حقیقت کښې دمضمون دمانعیت داصل مضمون شوکت اووصولیت لره مضبوطونکې دي چه دهغې تعبیردادې چه په اسلام کښې هغه دلکشی ده چه باوجود مخالفینوددومره مکائداوشدائدوددې په اثرکښې څه کمې رانغې. پس اصل مضمون سره داسلام شان حبیبی (یعنی محبوبیت) ښکاره دي، اوعجیبه اتفاق دې چه هغه ددې شان مظهریعنی حبیب العلماء دقلم نه شروع شو، اومضمون مانعیت سره داسلام شان اعزازی (یعنی عظمت) چه دومره مخالفین ئې مغلوبه کړل، اوعجیبه اتفاق دې چه هغه هم ددې شان مظهریعنی اعزازالفضلاء دقلم سره شروع شو، اوکه ددې مضمون په شان نورپه ګنړشمیر کښې مضمونونه هم اولیکلې شی نوانشاء الله په دې موضوع باکښې هیڅ دمنتظره حالت باقی پاتې نه شی. اودمولاناالمدرس دام فیضهم په خدمت کښې ددواړووعدودپوره کولو سفارش اوالله تعالی ته ددې دتکمیل اودهغهٔ سره دمددپه دعاسره دامضمون ختموم والسلام. (کتبه اشرف علی تهانوی ۲۷ ذیقعد ۱۳۴۵ هجری تتمه ۵ ص ۵۴۰)

حکم فرضیت حج برصاحب جائداد

سوال: (۱۰۹) یوکس چه ورسره څه روپئ پسې جمع نشته، په اعتبارسره چه په هغهٔ باندې شرعاً حج فرض وی لیکن دومره جائدادیاڅه مال لری چه هغې سره ئې درمیانه درجه کښې ګزاره کیږی اوکه ددې جائیدادنه څه حصه یاټول جائیدادخرڅ کړی نودهغې په قیمت سره دتلوراتلوتروخت پورې داهل وعیال دضرورت خرچ ورکولوسره دلاړې دتلوراتلوخرچ په ښه طریقې سره پوره کېدې شی، لیکن دحج نه په واپسئ باندې دژوندتیرولوکافی سامان پاتې نه شی، نوپه داسې کس باندې حج فرض دې یانه؟

جواب: نا۔لمافی الدرمختارحررفی الهنر انه یشترط بقاء راس المال الحرفته ان احتاجت لـذلک ولا لاوفی ردالمختارکتاجرو مزارع کما فی الخلاصة الخ.(کتب الحج)ویتا یدبمافی ردالمحتارعن التتارخانیة وسئل محمد عمن له ارض یزرعها اوحانوت یستغلها اودارغلتها ثلثة الاف ولا تکفـی لنفقتـه ونفقته عیاله سنة یحل له اخذ الزکوة وان کانت قیمتها یتلغ الوفاء وعلیه الفتوی وعندهما لا یحل اه مخلصاً (بـاب المصرف)وجه التائید عدها من الحوائج الاصلیة والشرط کون الزادوالرحة فا ضلا عن الحوائج الاصلیة فقط.۲۹ ذیقعده ۱۳۴۵ه (تتمه ص ۵۴۴×۵)

عدم جوازتصدیق حیوان زنده درنذرذبح

سوال:(۱۱۰)یوکس منخته اوکړه چه کۀ زمارورډبیمارئ نه روغ شو،نودالله تعالی په نامه به یوچیلۍ ذبح کړم.اوس که روغ شی نو دغه چیلۍ ذبح نه کړي شی یوهم دغه شان ژوندۍ فقیرانوته ورکړي شی نومنخته به اداشی یانه؟خاصکرپه داسې ځائې که چرته ذبح کولوپه صورت کښې دمالدارانودخوړلوقوی احتمال وی؟

جواب: بقول راجح هم ذبح ضروری ده:فی ودالمختارعن البزازیة لوقال ان سـلم ولـدی اصـوم ماعشت فهذا وعدوفیه عنها ایضاً ان عوفیت صمت کذالم یجب مالم نقل لله علي وفی الاستحسان یجب اه وفیه بعداسطر عن البدائع وبه یعلم ان لاصح ان المرادبالواجب مایثمل الفـرض والـوا جب الاصطلاحی لا خصوص الفرض فقط(احکام النذرمن کتاب الیمین) قلـت لمـان صـح النذربالذبح وجب الذبح والتصدق غیرالذبح فلایکفی.باقی که دمالدارانو دخوړلو ویره وی نودې انتظام په اختیارکښې دې په مسکینانوکښې ئې په خپل لاس تقسیم کړی، نه خودې کټ کوی اونه دې پخوی.(۲۹ ذیقعده ۱۳۴۵هجری (تتمه ص ۵\۴۵۵)

تحقیق اطفاء ناربوقت نوم ××

سوال:(۱۱۱) بحضورسیدناومولانادامت برکـاتهم علیناالسـلام علیکم ورحمـة الله وبرکاتـه غرض که درمحله ماکرمک خوردمثل بغوضه بسیاراندبه شب میگزند خواب کردن نمی دهندخصوصاً مراکه بمرض بیخـوابی گرفتارهستم وازدودسرگین میگریزیندودرخدیث شریف ازتنها گذاشتن اتش نمی آمده پس صورت مسئوله اگردنرهی داخل است وازترک دوداصلا خواب نهی آیدا زویا مرض متقین است وتدبیرے دیگرگریزانیدن کرمها هم نیست پس این چنین معنے حدیث شریف هست که همین صورت ازنهی بیرون شود؟

جواب: فی المشکوة عن الشیخین قال النبی ﷺ ان هذا النارانما هی عدولکم فاذا نمتم فاطفئوهـا عنکم وفی المرقاة قوله هذه النار والظاهرالمشارالیه النار المخصوصة النهی عنها نوهی التی یخـاف علیها من الانتشار الخ فی الحصن برمزالجماعة قوله علیه السلام واطف مصباحک فی اللیل.والحدیث عام یدخل فیه نازار السراج وغیره واما القنادیل المسرجة وغیرها اذا امـن الـضررکما هوالغالـب فالظاهرانه لا به.تعلیل بخوف انتشاراست واذن قنادیل دلیل است برانکه اگرچنین تدبیرے کرده شود که خوف انتشارجرم آتش نماند ودودش بیرون ریده باشد پس لاباس به ست مثلاً طرفے ازگل یا آسن مشک باشدیامثل ان.(تتمه ۵۴۵ ص ۵)

حکم غسل وادن زوج خودرا بعد مردن ××

سوال:(۱۱۲) علمائې دین په دې باره کښې څه فرمائی چه دخاوند خپله ښځه نیول اوهغې ته په خپل لاس غسل ورکول په هرحال کښې جائزدی یانه؟

جواب: په هیڅ حال کښې جائزنه دی:فی الدرالمختارویمنع زوجها مـن غـسلها وسلها الخ وفی ردالمختار اذا ماتت فلا یغسلها لانتهاء ملک النکاح لعدم المحل فصار اجنبیاً الخ ص ۸۹۷ وقلت وحرمة عبس الاجنبی ثابت بالنصوص ولمتواترة فلا یخصصه القیاس المستفاد مـن خبرالواحـد فتفکروتشکر.۶ ذی الحجه ۱۳۴۵هجری (تتمه ۵ ص ۵۴۵)

حکم قرات قران عندالقبر ××

سوال:(۱۱۳) ددرمختارددې عبارت دلاندې:لایکره الدفن لیلا ولااجلاس القـارئین عنـدالقبر وهوالمختار.ددې په شرح کښې دردالمختارعبارت دې:لایکره الجلوس للقراءة علـی القـبرفی المختارلتادیة القراءة علی الوجه المطلوب بالسکینة والنذیروالاتعاظ اه :دریافت طلب امرداې چه اجلاس عندالقبرصورت بـه څه وی.په مزدورئ باندې یادمروت پـه لحاظ سره ناسته کښې،نوثواب به قاری ته نه ملاویږی اومړی ته به ایصال ثواب څنګه کیږی.اوس که داخیال للهیت سره اولولونوداجلاس لفظ ددې منافی دې په داسې صورت کښې احتساب سخت ګران دې.امیدلرم چه مکمل جواب به راکړئ.

جواب: دمسئلې اصلی موضـوع قـرارة القبرعنـدالقبرده.اوجلـوس اواجـلاس ددې تعبیـرات دی.کوم چه غیرمقصوددی اومفیددی دعدم مانع سره اوپـه مـانع کښې اجرت اوجاه هم داخل دی.نوقیام بـه هـم دجلوس سره پـه حکـم کښې شـامل وی.اواجـلاس اواجـرت اوجـاه بـه ممنـوع وی،اواجلاس خالی عن المخظورات تحقیق هم ممکـن دې،ګوچـه قلیـل هم دادی پـه دې کـښې

مقصودحکم کوی قراة عندالقبرچونکه په دې کښې دکراهت یوقول هم دې ددې وجې نه مودامقصوداً بیان کړو چنانچه په عالمگیریه جزئیه په دې واضح دلیل دې: قـراءة القـران عندمحمد لایکره ومشائخنا رحمهم الله تعالى اخذوا بقوله وهل ینتفع والمختار انه ینتفع هـكـذا فى المضمرات ج ۱ ص ۱۰۷ قلت والمراد بالانتفاع الانس بالقراءة لاوسول الثواب لانه لیس فیـه عندالحنیفة. پس داصل مسئلې جواب خواوشو، اوس ددواړوقولونویعنی کراهت اوعدم کراهت دلیل تبرعـاً بیانیږی. قـول بالکراهت وجه عدم نقل هـذالقراءة دې. څنګه چه ددې روایت نه معلومیږی: ویکره عندالقبرمالم یعهد من السنة والمعهود منها لیس الا زیادته والدعاء عنده قائمـا کذافى ردالمختار. اودقـول بعدالکراهت وجه نقل ده واکثرماوردوفیه شرح الصدور عـن علـى مرفوعا من مرعلى مقابروقرا قل هوالله احد. احدى عشرة مرةً ثم وهب اجره للاموات اعطى من الاجربعددالاموات اخرجه ابومحمدالسمرقندى فى فاتحةالكتاب وقل هوالله احد،، والهكم التكـاثر ثم قال اللهم انى قدجعلت ثواب ما قرات من کلامک لاهل لمقابرمن المومنین والمومنات کـانوا شفعاء له الى الله تعالى اخرجه ابوقاسم سعدبن على الزنجانى فى فوائده وعن انس ان رسـول الله ﷺ قال من دخل المقابرفقراء سورة یس خفف الله عهنم وكان له بعد ومن فيها حسنات اخرجه عبدالعزیزصاحب الخلال بسنده قال السیوطی وهی وان كانت ضعيفة فمجموعها يدل علـى ان لذلک اصلاقلت وقدیکتفى بالضعاف فى الفضائل وقدروی غیرذلک مرقوفاً ومرفوعاو بعـضها اجود انساداً کما فى شرح الصدور واثارالسنن فمن اثبت ذلک نفى الكراهة ومن نفـاه اثبتـها والله اعلم (۸ ذى الحجه ۱۳۴۵هجرى (تتمه ۵ ص ۵۴۶)

رفع شبه بودن صیف مسبب وشناء ازتنفس دوزخ ××

سوال: (۱۱٤)په احادیثو کښې صیف وشناء ته دجهنم دوه ساګانې وئیلې شوې دی ددې څه توجیح ده چه شک ورسره ختم شی، السائل یکے طالب علم مشافیة؟

جواب: په دې باره کښې چه کوم روایات راغلې دی په هغې کښې دټولونه واضح الفاظ ددې روایت دی: عن محمدبن ابراهیم عن ابى هریرة عن رسول الله ﷺ قال قالت النارِرب اكل بعضی بعضاً فاذن لى اتنفس فاذن لها بنفسین نفس فى الشتاء ونفس فى صـیف فمـان وجـدتم مـن برداوزمهریر فمن نفس بجهتم وما وجدتم من حراو حرورفمن نفس جهنم روان مسلم فى بـاب الابرادبالظهرفى شدة الحر لمن یمضی الى جماعة وناله الحرفى طریقة وفى شرحه النواری قال القاضی اختلف العلماء فى معناه فقال بعضهم هوعلى ظاهره وقیل بل هو على وجه التشبیه والاسـتعارة

والتقریب وتقریره ان شدة الحرتشبه نارجهنم فاحدروه واجتنبوا حروره قال والاول اظهرقلـت والصواب الاول لانه ظاهرالحدیث ولامانع من حملـه علـى حقیقـة.اه.پورتنو الفاظوباندې غورکولوسره په ظاهره ددې حدیث نه دامعلومیږی چه دنارنه مرادعلى سبیل التغلیب عام وی، ددې دواړوطبقه حرارت وبرودت لره اوداکل نه مرادهرهغه طبقه چه دحصوتصادم اوتزاحم اودنفس نه مراددې دواړوحصوحرارت یابرودت شدت دبهرنه دفع کیدوسره ددې دتزاحم نه لړشان سکون ملاویدل، وجه ظهورداده چه که خالص طبقه حرارت نه دوه ساګانې اندرونی اوبیرونی مرادواخستلې شی اوشتاء لره اول اوصیف لره دویم سبب اومنلې شی نوپه خپله خوبه په دې کښې هیڅ استبعادنه وی، لیکن اندرونی ساه رفع به په شکایت کښې داخل مفهوم وی، نواوس اسانه توجیح ددې حدیث چه پکښې به حرارت او برودت اسباب طبیعه سره تعارض نه وی دامعلومیږی چه په دې اسباب طبعیه کښې کوم دخاصیت دسوزولودې دامستفادوی دجهنم دهغه دواړوطبقوسره څنګه چه دنمردرنړانه سپوږمۍ استغاده کوی پس حرارت موسمی طبقه حرارت جهنم اثروی په واسطه داسباب طبیعه حرارت اوبردوت موسمی طبقه زمریردجهنم اثروی په واسطه اسباب طبیعه برودت سره. بیادحرارت اوبرودت داختلاف شدت اوکمی کښې دادواړه اسباب معارضه قوت او کمی سره وی څکه چه دمفرداتواثرکیږی اودمجموعې اثرنورهم زیات شی اودامکنه داختلاف سره اثارموسمیه مخکیې راتلل اویاپس راتلـواختلاف داددې اثـرنفیس پـه تیـزئ یـاپس رسیدوسـره وی اوڅنګـه چـه نوراواوازباوجوددمعین وخت کښې پیداکیدواسباب خارجه سره چرته فوراً رسیږی اوچرته څه وخت پس. اوس دالله تعالى په فضل سره څه شک پاتې نه شو، اوس که دیوحق ناشناس زړۀ ته هم داخبره اونه لګی نودهغۀ دپاره په ځائې ددتکذیب حدیث حمل على المجازی غنیمت دې. اوچونکه په شتاء کښې عادت دې ددې وجې نه دجهنم داوورنه په خپله حفاظت حاصل شی. وضاحت سره په دې باندې دتنبیه حاجت اونه شو، بیاداچه دې وخت کښې بردشدیدهم نه وی کوم وختونه چه دبرددشدت دی څنګه چه په ماسختن کښې تاخیرکول چونکه عام عادت دې، نوددې دمخ نیوی اهتمام په البسه او اکسیه وغیره سره ددې خاص اهتمام کښې تعجیل نه دې فرمائیلې شوې، والله اعلم. (۱۱ذى الحجه ۱۳۴۵هجرى (تتمه ۵ ص ۵۴۷)

اذکاردرمحل نجاست ××

سوال: (۱۱۵)ددین اوشرع متین عالمان اومفتیان په دې باره کښې څه فرمائی چه: دلته په رنګون کښې په ګنړشمیرکورونو کښې غسل خانې اوپاخانې یوځائې جوړې کړې شوې دی. ددواړوپه مینځ کښې څه دیوال یاپرده وغیره نشته، پاخانې وغیره صفاکولې شی اوکله چه څوک ورشی نودفراغت نه پس زنځیرراکاږی چه دهغې سره دپائپ په وذریعه صفائی وغیره

اوشی، اوپه غسل خانه وغیره کښې اکثروختونوکتيکې وغیره کیښنودوسره اودس هم کولې شی اوداودس په حالت کښې څه اذکاروغیره هم لوستلې شی، پس اوفرمایئ چه په داسې غسل خانوکښې اذکارلوستل حرام دی یامکروه یانه؟بینوتواجروا؟

جواب: فی ردالمختارعن الخانية وتکره قراءة القران فی موضع النجاسات کالمغتسل والمخرج والمسلخ وما اشبه ذلک واما فی الحمام فان لم یکن فیه احد مکشوف العورة وکان الحمام طاهرالا باس بان یرفع صوته بالقراءة لم یکن کذلک فان قرافی نفسه ولا یرفع صوته فلا باس به.ولا باس بالتسبیح والتهلیل وان رفع صوته اوفیها عن القنية لا باس بالقراء راکبا اوماشیا اذا لم یکن ذلک الموضوع معدا للنجاسة وان کان یکره اه وفیها لا باس بالصلوة حذاء البالوعة اذا لم تکن بقریبة اه فتحصل من هذا ان الموضع ان کان معدا للنجاسة کرهت القراءة مطلقا والا فان لم یکن هنالک النجاسة ولا احد مکشوف العورة فلا کراهة مطلقا وان کان کانه یکره رفع الصوت فقط وان کانت النجاسة قریبة فتامل.(باب الجنائز ج اول)

ددې روایاتونه ثابت شوه چه کومه موضع دنجاست دپاره خاص وی دهغې په مثال کښې غسل خانه هم ده هلته صلوة وقرات منع دې،اوکه علاقه چه دنجاست دپاره خاص نه وی په هغې کښې تفصیل شته،اوپه داسې موضع کښې تسبیح اوتهلیل ته جائزوئیلې شوې دی ،ددې تقابل نه معلوم شوچه په موضع موضوع اللنجاست کښې تسبیح اوتهلیل هم جائزنه دې پس ددې معلوم شوچه محل مندرج فی السوال کښې غسل خانه ده په خصوصیت سره کله چه دهغې یوه حصه پائخانه ده اودې مجموعې ته یوویلې شی نوداودس داذکاروئیلوضرورت نشته.(۱۲ذی الحجه ۱۳۴۵ هجری (تتمه خاص)

رفع شبه ازتغیرحدیث ××

سوال:(۱۱۶) تاسو دکتاب په اخره کښې دیوړوندپه روایت کښې یامحمد ﷺ لره ترمیم کړې دې کیدې شی چه په قعده کښې هم ته دالسلام علی النبی تلقین کوئ اوپه اذکارماثوره کښې ترمیم اوتنسیخ اختیارغالباً نشته ؟

جواب: زهٔ خوپه تشهدکښې دالسلام علی النبی تلقین نه کوم مگربعضې صحابه داسې هم کړې دی. کما رواه البخاری فی کتاب الاستیذان باب الاخذبالیدین حدیث تعلیم التشهد من قول ابن مسعود ؓ وهو بین ظهر ائینا فلما قبض قلنا والسلام علی یعنی علی النبی ﷺ فی الحاشية عن عمدة القاری علی قوله بین ظهر ائینا ظاهرها اهنم کانویقولون السلام علیک ایهاالنبی ورحمة الله بکاف الخطاب فی حیاة النبی ﷺ فلما مات ترکوا الخطاب وذکروه بلفظ الغیبة فصاروا یقولون

السلام علی النبی ﷺ وفیها علی قوله السلام علی یعنی علی النبی ﷺ القائل بهذا هوالبخاری (اخرالجزوالخامس والعشرین).اولفظ قلنا بنائی چه دصحابویوې ډلې داسې کړې دی لیکن دعالمانواوامامانو ددې نه کول ددې وجې نه دی چه مقصود حکایت دې اوکه مقصودانشاء وی ځنګه زمونږ بعضوفقهاوفرمائیلې دی نوخطاب په وجه اقتران بالسلام په واسطه دملائکوحضور اقدس ﷺ ته رسولې شی ځنګه چه هم ددې په وجه بلاغ باندې خطونوکښې مکتوب الیه دخطاب صیغه ذکرکیږی نوځکه په دې کښې دڅه نقصان احتمال نشته،بخلاف دقصه اعمی چه هلته څه دلیل بلاغ نشته،اوپه واقعه په خپله حضور ﷺ مخامخ تشریف فرماوو او روستودهغه وخت عوام هم خوش عقیده وو په دې حکایت باندې محمول کولوبخلاف دهغه وحت داکثروعواموچه فسادعقیده دهغوی مشاهده ده اودااذکارتعبدیه نه نه ده ددې وجې نه ددومره تغیرګنجائش په پوهه کښې راتلوسره داحتیاط دپاره داختیارکړې شو. البته که دیومنونکی عقیده صحیح وی نودهغهٔ دپاره اوس هم دمنقول اتباع اولی اواکثر برکة ده،بلکه که غوراوکړې شی نودادتغیرحدیث روایت بالمعنی نه اهون دې ځکه چه دحدیث دالفاظوسره داحکام تعلق دې اواحکام اهم دی دغیراحکامونه،اوباوجوددې بیا هم روایة بالمعنی لره جائزګرځولې شوې دې،حتی چه داکثرومحدیثینودقول باوجود د الفاظواستحضارکښې هم بلکه بعضې محدیثینوپه نزدپه شرط استحضارالفاظوسره،پس دالفاظواذکارتغیرخوبه درجه اولی سره جائزوی،خاصکرچه کله په دې کښې دینی مصلحت هم وی نوداسې تغیربه اولی وی چنانچه په حپله زمونږ فقهاوپه درودکښې په دحضور ﷺ داسم مبارک سره لفظ سیدنا زیاتولوته مستحب وئیلې دی حالانکه داهم تصرف دې اذکار ماثوره کښې هرکله چه رعایت مستحب دپاره تصرف ته جائزوئیلې شوې دې نودلته هم واجب رعایت دې یعنی صون عقائد دعوامو.(۱۶ ذی الحجه ۱۳۴۵هجری (تتمه ۵ ص ۵۵۰)

ثبوت لحم بقرخوردن حضور××

سوال:(۱۱۷) رسول الله ﷺ چرته دغواغوښه خوړلې ده یانه اوکه خوړلې ده نوپه کوم کتاب کښې لیکلې شوې دی ددې نه موخبرکړئ؟

جواب: عن ابی الزبیر عن جابر قال ذبح رسول الله ﷺ عن عائشة بقرة یوم النحر.(صحیح مسلم کتاب الحج ج ۱ ص ۴۲۴)وعن الاسود عن عائشة رضی الله عنها واتی النبی ﷺ بلحم بقرة فقیل هذا ما تصدق به علی بریرة فقیل هو لها صدقة ولنا هدية(صحیح مسلم کتاب الزکوة ج ۱ ص ۳۴۵)په اولنی حدیث کښې دغواذبح کولواوپه دویم حدیث کښې درستخوان باندې دغوښې حاضریدل

اومانع الاکل جواب ورکول دکوم لازمی دی خوړل داتول هرڅۀ دحضور ﷺ نه په وضاحت سره ثابت دی.(۱۷ ذی الحجه ۱۳۴۵هجری(تتمه ص ۵۵۱ ج ۵)

اشعارنعتیه درمسجدخواندن ××

سوال :(۱۱۸) په جومات کښې دنعت وئیلوفرمائش کول جائزدي یانه؟اوکه نعت شروع وی نودجومات داحترام خلاف دي یانه؟ځکه چه کله په جومات کښې نعت شروع شی نوزۀ تري لاړشم اوکه نعت په کورکښې وی نوزۀ ئې په شوق سره اوورم.

جواب : دکوم نعت مضمون چه خلاف شرع نه وی په جومات اوغیرجومات دواړوکښې جائز دي،اودکوم مضون چه خلاف شرع وی هغه دواړوځائیونوکښې ناجائزدي.اوکه څه امرمانع دبهرنه وی نوبیاهم ناجائزدي،لکه نظم دموسیقئ په قاعدې سره وئیل یادنعت خوان مشتهی کیدل.(۱۹محرم ۱۳۴۶هجری(تتمه ص ۵۵۱ ج ۵)

مسخرکردن زوج ××

سوال :(۱۱۹)حضرت مولاناعبدالحئ لکهنوی رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب نفع المفتی والسائل په صفحه ۵۰ کښې دافتوی نقل کړې ده چه دښځې خاوندلره رضامندکولودپاره تعویذکول حرام دی؟

جواب : درضامندولودوه درجې دی.یوه درجه هغه ده چه په کښې حقوق واجبه کښې کوتاهی اونه کړی.دویمه درجه هغه چه په حقوق غیرواجبه کښې هغۀ لره مجبورکړی.داولنئ درجې تدبیرمباح دي،اګرچه په دې کښې دزورنه کارولې وانخستلې شی.اودویمې درجې تدبیر اګرکه څۀ حدپورې جبرپورې نه وی جائزدي.اوکه جبرپورې وی نوحرام دې.پس په دې مسئله کښې قواعدشرعیه دوه پابندئ دی یوداچه هغه تعویذیاعمل داسې وی چه هغې سره معمولې بې اطمینانه شی دویمه پابندی داده چه دحقوق غیرواجبه دپاره تدبیراوکړې شی.که یوقیدهم مرتفع شی نوحرمت مرتفع به ختم شی امیدلرم چه ستاسوشک به اوس ختم شوې وی.(۱۹محرم ۱۳۴۶هجری(تتمه ۵ ص ۵۵۲)

وقت نمازاشراق وچاشت××

سوال :(۱۲۰) ددې لاندېنی سوال په باره کښې حنفیه عالمان څه فرمائی لیکن زۀ ستاسونه دا امیدلرم چه جواب به دقران اوحدیث مطابق راکړئ،اودهغه بزرګان دین اسلام دعمل په شان څوک چه په هندوستان کښې دانګریزانونه مخکښې تیرشوې دی.نمبر:۱:طلوع افتا(یعنی دنمرراختونه فوراً پس)څومره منته پس داشراق مونځ لوستل پکاردی.اودصحابه کرامو عمل څه وو؟

نمبر ۲:دچاشت دمونځ وخت څومره وخت پس به شروع شی.

نمبر:۳:اګرچه دامرمنلې شوې دې چه دزوال نه پس دماسپخین وخت شروع کیږی لیکن دعلمائې احنافوپه نزدداسې ملکونه شته چه په ۲۳،او۲۴عرض کښې دی نورداچه زۀ هم دعرض په درجه کښې یم)هلته(۱)نقطه اعتدال ربیع نه نقطه انقلاب صیف(۲۱مارچ نه ۲۳جون پورې)(۲)بیادنقطه صیف نه نقطه خریف(۲۴جون نه ۲۳ستمبرپورې)(۳)اوهم ددې نقطه اعتدالٔ نه انقلاب شتاء(۲۴ستمبرنه ۲۲دسمبرپورې)اونقطه شتاء اونقطه اعتدال ربیع(۲۲دسمبرنه ۲۱مارچ پورې)په دې ملکو کښې دلوې نه لوې ورځ دګنتې،او وړوکې ورځ ګنتې وی.په داسې ملکونوکښې دنصف النهارڅومره ګنتې یامنته پس دماسپخین دمانځه وخت شی؟

الجواب(۱)فی الدرالمختارمع شروق وفی ردالمختار وما دامت العین لا تحار فیها فهی فی حکم الشروق کما تقدم فی الغروب انه الاصح کما فی البحرح اقول ینبغی تصحیح مانقلوه عن الاصل للامام محمدمن انه مالم ترتفع الشمس قدررمح فهی فی حکم اطلوع لان،اصحاب المتون مشوا علیه فی صلوة العید حیث جعلوا اول وقتها من الارتفاع ولذا جزم به منها فی الفیض ونورالایضاح وایضا فی الدروتا خیرعصرمالم یتغیر ذکاء بان لا تحارالعین فیها فی الاصخ وفی الرد صححه فی الهدایة وغیرها وفی الظهیریة ان امکنه اطالة النظر فقد تغیرت علیه الفتوی وفی نصاب وغیره به ناخذوهوقول ائمتنا الثلاثه ومشائخ بلخ کذا فی الفتاوی الصوفیة وبعد سطروقیل حدالتغیران یبقی اقل من رمح وقیل ان یتغیرالشعاع علی الحیطان کما فی الجوهرة ابن عبدالرزاق قلت التفسیر بخیرة العین هوالاقوی عندی والله اعلم.ددې روایاتونه داشراق وخت معلوم شو،اودواضح علامت په موجودګئ کښې دمنتونودتجدیدضرورت نشته.اونه داپه جمعې سره کیږی چه دانتظامی ضرورت دپاره ددې دتحدیدضرورت وی.

نمبر۲:داخومعلوم اوثابت ده چه دچاشت مونځ دنصف النهارنه مخکښې دې.اوس دنصف النهاردتحقیق ضرورت دې.نویه دې کښې دوه قولونه دی:کمافی ردالمختارعلی قول الدرالمختارواستواء مانصه وفی القنیة واختلف فی وقت الکراهة عندالزوال فقیل من نصف النهارالی الزوال لروایة ابی سعدعن النبی ﷺ انه نهی عن الصلوة نصف النهارحتی تزول الشمس قال رکن الدین الصباعی وما احسن هذا لان النهی عن الصلوة فیه یعتمد تصورها فیه اه.وعزا فی القهستانی القول بان المراد انتصاف النهارالعرفی الی ائمة ماوراء النهروبان المراد انتصاف النهار الشرعی وهوالضحوة الکبری الی الزوال الی ائمة خوازم قلت وتصورالصلوة فیه علی القول الاول بان یقع جزء منها فی هذالزمان اولاظهرهوالقول الثانی وهوالمصحح فی نیة الصوم

کما فی الدرالمختار کتاب الصوم بینة من اللیل الی الضحوة الکبری لابدها ولا هندها اعتباراً لا کثرالیوم وفی ردالمحتار المرادبها(ای بالضحوة الکبری)نصف النهارالشرعی والنهار(الشرعی من استطاره الضوء فی افق المشرق الی غروب الشمس وعدل عن تعبیر القدوری والمجمع وغیرهما بالزوال لضعفه لان الزوال نصف النهار(من طلوع الشمس ووقت الصوم من طلوع الفجرکما فی البحرعن المبسوط قال فی الهدایة وفی الجامع الصغیرقبل نصف النهاروهوالاصح لانه لابدمن وجود النیة فی اکثرالنهار ونصفه من وقت طلوع الفجرالی وقت الضحوة الکبری لاوقت الزوال فتشترط اللنیة قبلها لیتحقق فی الاکثر اه.کله چه ددې روایاتونه داثابته شوه چه نصف النهارشرعی معتبردي نودچاشت مونځ ددې نه مخکښې کول پکاردی اوپه نصف النهارعرفی اونصف النهارشرعی کښې فرق دې چه دصبح صادق نه دنمردراختوپورې څومره وخت وی دهغې نیمه هغه فرق دې،مثلاً په یووخت کښې یوه ګنټه او۱۲ منټه وی نودافرق به شپږدیرش منټه وی نودچاشت دمونځ نه په دغه زمانه کښې دنصف النهارعرفی نه ۳۶ منټ مخکښې فارغیدل پکاردی نودادې منتهی ده،چه په اخره کښې دفائدې دپاره لیکلې شوې ده،باقی دشروع درې درجې دی یودصحت دپاره نوداخوهم داشراق دمونځ نه دې دویم داستحباب دپاره نوروستونیم نمردې. کمافی الدرالمختارباب النوافل وندب اربع قصا عدا فی الضحی علی لصحیح من بعد الطلوع الی الزوال ووقتها المختار بعدالنهار فی الدرالمحتارعن شرع المنیة لحدیث زیدبن ارقم ان رسول الله ﷺ قال صلوة الاوابین حین ترمض الفصال رواه مسلم.یوصورت دمستحب په اشراق اوچاشت دواړوکښې راغلې دي :رواه الترمذی عن علی رضی الله عنه کان رسول الله ﷺ اذا کانت الشمس من ههنا کهیتها من ههنا عندالعصرصلی رکعتین واذا کانت الشمس من ههنا کهیتها من هننا عندالظهرصلی اربعاً الحدیث (باب کیف کان یتطوع النبی ﷺ بالنهار)

نمبر۳:په دې سوال کښې دتمهیدنه پس دمقصودپه باره کښې داعبارت دې چه په داسې ملکونوکښې دنصف النهارڅومره ګنټې یامنټه پس دماسپخین دمونځ وخت دې په سرسری نظرسره داسوال دحدوت وقت ظهرپه باره کښې دې لیکن چونکه په شروع کښې دزوال نه پس شروع کیدل په خپله منلې شوې دی ددې وجې نه احتمال کیږی چه کیدې شی چه دبقایې وقت ظهرپه باره کښې وی نوکه داولنی احتمال ترې مراددې نوددې جواب هم هغه دې چه په شروع کښې ئې په خپله نقل کړې دې چه دزوال نه فوراً پس شروع کیږی. اوچونکه په دې نصف الهنار(یعنی نهارعرفی) کښې هیڅ څه فاصله نه وی :کما هوالظاهر ومشاهدومصرح ایضه فی کلام العلماء کما فی الدرالمختارواستواء المارلی نمبر۲ مانصه ولا یخفی ان روال الشمس انما هوعقیب النتصاف النهارربلا فصل اه .ددې وجې نه دګنټې اومنټ په اندازه ددې تپوس کول

بې معنی دی.اوکه دویم احتمال ترې مرادې دې نوددې دبقامنتهاصیرورة ظل کلی شئ مثله اومثلیه علی اختلاف القولین سوی فئ الزوال دې کما صرحوابه.چه دهغې مقدارپه هره زمانه کښې جدادې کما هوامشاهد ولازم مماخرحوابه فی تقدیرهم فئ الزوال کما اشتهرفی شعر.

یک نیم ساون است وپس وپیش اویگان
افزا ے تاچهاروپس انگه دون گا دون گا

ددې وجې نه ددې هم دمنټ اوګنټې په حساب سره وخت مقررېدې نه شی اود دواړو احتمالاتوتقدیرونوباندې عرض البلددرجات اودورڅواوړوالې اودورڅودکم والی تعین مقصدهم څه دخل نشته.څنګه چه په سوال کښې بغیردضرورت نه ذکرشوې دي (اود اظهارعلم څه ضرورت نشته خصوصاً کله چه: فوق کل ذیعلم علیم واقع دې)دکوموچه په اصولوشرعیه باندې جواب لیکلې شوې دي اوهغه ټول درجات اوورځې عام دی هرعام نه عام کس اګرچه په درجات العرض باندې نه پوهیږی.(اوپه پوهیدوباندې څوک مکلف هم نه دی لقوله علیه السلام نحن امة امیة لا نکتب ولانحسب الحدیث)په دې پوهیدل اوعمل پرې کولې شی اوکه چرته عالمانوذکراوکړونودمحبت کونکوداسانئ دپاره دې نه چه دسائلینو دپاره دې. کما ذکره الشامی عن السائحانی تمثیلاً واعلم ان کل فطر نصف نهاره قبل زواله بنصف حصة فجره فمتی کان الباقی للزوال اکثر من هذالنصف اصح والا فلا فتصح لنیة فی مصر والشام قبلالزوال بخمس عشر درجة لوجودالنیة فی الکثرالنهارلان نصف حصة الفجر لاتمید علی ثلث عشرة درجةفی مصر واربع عشرة وتصف فی شام ونصف فی شام فاذا کان الباقی الی الزوال اکثرمن نصف هذالحصة ولوبنصف درجة صح الصوم اه.(۲۳محرم الحرام ۱۳۴۶هجری(تتمه خامسه ص ۵۵۲)

رساله تلیین العرائک فی تهجین استرائک ××

سوال:(۱۲۱)ددې مسئلې په باره کښې علمائې دین څه فرمائی چه په مذهبی درسګاهانو کښې طالبعلمان په مقابله کښې استاذانواومنتظیمنوپه باره کښې داموړواجتماعی طور سره سټرائک یعنی تعلیمی مقاطعه کول شرعاً څنګه دی.که په دې باندې مطلقاً څه شرعی حکم اثبات یانفی موجودوی نوپه دلائلوسره اولیکئ اوکه په دې کښې څه تفصیل وی نو ظاهردې کړې شی.دسوال وجه داده چه په سن ۱۳۴۲ دربیع الاول په میاشت کښې د دارالعلوم دیوبنددیوې هفتې پورې دسبقونووئیلونه هړتال اوکړواوتعلیمی سلسله ئې بنده کړې وه.نوایادغه طالبانوته دمقاطع شرعی حق حاصل وویانه؟اوددی داکارشرعاً څنګه وو دلائل شرعیه سره واضح کړئ.

سټرائک. په ذکرشوی سوال کښې

جواب: وهوالموفق للصواب — ولبته بتلين العرائک فى تهجين استرائک. په ذکرشوی سوال کښې دی حقيقت ددې طقع تعلقات دی سټرائک په سوال کښې يوحقيقت دې اوددې ګنړې وجهې دی حقيقت ددې طقع تعلقات دی دداسې ډلې سره چه ددې قاطع کښې ددينی تعليم دپاره مقرردی تعليماً يااهتمالاً (څنګه چه دلته نه دې) او ددين تعليم دمطلق سټرائک حقيقت مطلق قطع تعلقات دی دکوم بحث چه دلته نه دې او ددين تعليم عبادت دې اوددې معاون اومعين فی العبادت ددې ايت په شان وتعاونوا على البر والتقوى وحديث الدنيا ملعونة وما فيها ملعون الاذکرالله وما والاه اوعالم اومتعلم. نور داچه ددوی محسن دی اودخپل محسن سره اومعلم سره محبت ساتل ددې حديث مطابق من لم يشکرالناس لم يشکرالله اومعاون فی الدين سره تعلق عظمت ساتل په حواله دحديث من علم عبدا اية من کتاب الله فهومولاه لا ينبغی ان تخذله ولا يستاثر عليه (جمع الفوائدعن الکبير) ماموربه دې اوتعلقات ماموربهاسره قطع تعلق کول بنص ويقطعون ما امرالله به ان يوصل ويفسدون فى الارض کښې داخل اوفسادمحل وعيددې اوددې سره ددې کارمذموم او ممنوع کيدل ثابت شو. داخوشرعی حکم دې اوددې مقاطعې اعتبارددې ذات سره اوددې دويم حکم په اعتبار دعوارض دې نو دهغه عوارض اومفاسديواوږدتفصيل دې که چه په مشاهده کښې راغلې دی دهغې نه يوڅوعوارض دنمونې په طورليکم.

اول نمبر - ددې وجه په داسې مطالبات کښې زوردې چه دمقاطعينوحق نه دې. ددې جبرفی التبرع حرمت معلوم دې. اوکه اووئيلې شی چه مطالبات اګرچه ددې مقاطعه کونکوحق نه دې مګرحقوق الهيه واجبه خودی اوددې په پريښودوباندې قطع تعلقات وهجران مشروع دې، نوداغلطه ده. استرائک کونکی ددې په وجوب اوعدم وجوباندې هيڅ کله نظرنه ساتی چه دخپل خواهش نفسانی خلاف کيدوپه وجې سره چه شورش جوړوی او بياصرف په طقع تعلقات باندې ګزاره نه کوی دکوم صورة چه داووچه مدرسه ئې پريښې وه اوبل ځائې ته تلې بلکه اهل خيرډله بدناموی اوهغوی ته تکليف رسوی اودهغوی غيبتونه کوی چه مطلقاً داهل سره شرعاً جائزنه دی نوداهل خيرسره به څنګه جائزوی.

دويم نمبر - په دې طبقه کښې چه کوم کسان يکسواوسيدل غواړی په هغوی باندې جبرکوی چه ورسره دهغوی دينی (يعنی مالی واعانت ماليه فی المدرسه) اودينی يعنی علمی نقصان کيږی چه هغې سره وعيدعن سبيل الله او لا ضراه فی الاسلام. امورجوړيږی بلکه په بعضووختونوکښې دشخصی نقصان نه مخکښې لاړشی اوپه خپله تعليمی درسګاه په نقصان کښې راوستوسره جمهوری نقصان پورې خبره اورسی.

دريم نمبر - دخپلواغراضودپوره کولودپاره داسجاروفجارونه مدداخلی چه ددې جماعت مقطوعه دمنکرات مزعومه نه زيات په منکرات حقيقه کښې اخته کيږی اودهغې نه

انکارتوفيق ورته نه کيږی په کوم چه وعيد يريدون ان يتحاکموا الى الطاغوت او کانوا لا تناهون عن منکر. فعلوه وغيره وجه جوړيږی.

څلورم نمبر - اوداهل باطل طريقولره داهل حق په طريقوباندې عملاً ترجيح ورکوی دکوم سره چه وعيد يومنون بالجبت والطاغوت ويقولون للذين کفراو هولاء اهدى من الذين امنوا سبيلاپه شان کيږی.

پنځم نمبر - دمقطوعينوضداودشمنی دلږ وخت دپاره ياهميشه دپاره ددينی علم نه محروم شی چه دهغې په وجه دايت بئسما اشتروا به انفسهم ان يکفروا بما انزل الله بغيا ان ينزل الله من فضله على من يشاء په شان شی.

وفى مفاسدهذاالعمل کثرة لاتحصىٰ وعلى من تتبع واستقرا لا تخفى.

داخبرې ددې عمل په عدم جوازباندې دلائل اوددې دلائلوپه جواب باندې دکافی نه هم زيات فى الکلام ددې دواړوحصومينځ کښې په فاصلوکښې دی داددې جواب سره يوځائې کوم چه اما فى الجزاء الاول فمن المولوی حبيب احمدالکيرانوی ووصل الى بلا واسطة وما فى الجزء الثانی من مولوی شبيراحمدالديوبندی وحصل لی بواسطة المستفق فاستمعوا وانتفعوا.

اوله حصه: سټرائک يويورپی ايجاددې اوپه مسلمانانوکښې کله هم ددې وجودنه وو، اوداپيژنی. ددې وجهی نه صراحتاً خوددې حکم په قران اوحديث اوفقهی په کتابونوکښې ملاويدل ګران دی. البته داصول شرعيه نه ددې حکم معلوميدې شی ددې وجې نه وئيلې کيږی چه دطالبانوسټرائک دمنتظمينوخلاف دقواعدشرعيه په روسره ناجائزدې، اول ددې رجې نه چه دسټرائک په ذريعه دباواچول اوهغوی لره خپلومطالبات منلوباندې مجبورول دی اوطالبانوته په هيڅ حال کښې ددې دباواچولوحق نشته ځکه چه طالبان محکوم دی اومنتظمين حاکم، اوپه محکومينوباندې دحاکم حکم اطاعت کول په ترهغه وخت پورې لازم دی ترڅوپورې ئې چه هغوی ته څه خلاف شرع حکم ورکړې نه وی پس دطالبانوپه منتظيمينوباندې حکومت کول زړۀ دموضوع اودشريعت حکم بدلول دی لهذاسټرائک جائزکيدې نه شی، دويم داچه کله طالبعلم په مدرسه کښې داخل شی هغه وخت کښې دمدرسې دقانون التزام کوی اوکله چه هغه سټرائک کوی نودمدرسې قانون ماتوی. دامکمل بدعهدی ده ددې وجې نه دسټرائک اجازت کيدې نه شی. دريم داچه داسټرائک شروع داسې کيږی چه يوياګنړشميرمشران باقی طالبعلمان په خپل قرب اميز تقريرونو سره دقانون په ماتولوباندې راضی کوی اوڅوک چه دهغوی ددې فريب نه ډک تقريرونونه نه متاثره کيږی نوپه هغوی باندې ناجائزه دباواچوی اودخپل اثرلاندې ئې راولی، اوداټول کارونه شرعاً ناجائزدی. ددې وجې نه هم سټرائک جائزکيدې نه شی غرض داچه په سټرائک کښې يوڅومفاسدشرعيه دی مثلاً ددې يورپين کيدل (۱) بدعت کيدل (۲) شريعت بدلول

(۳)دمدرسې قانون ماتول اوبدعهدۍ ارتکاب کول (۴)دهوکه ورکول (۵)هغوی لره په بدعهدۍ باندې اماده کول اوپه منتظیمینوباندې دباواچول (۶)په طالبانو باندې جبر کول (۷)دمدرسې په انتظام کښې داسې خرابی پیداکول چه اصلاح ئې ناممکن وی ځکه چه کله طالبعلمان دسټرائک عادی شی نوهغوی به دمنتظیمینو هیڅ داسې حکم منلوته نه پرېږدی چه دهغوی دخواهشاتوخلاف وی اوددې نتیجه ظاهرده چه فساددې، او هیڅ یوه مدرسه په داسې حالت کښې قائم پاتې کیدې نه شی ددې وجې نه ګویامدرسې لره ماتول دی وغیره اوداکارونه داسې دی چه ددې په ناجائزه کیدوکښې هیڅ شک نه شی کیدې ددې وجې نه سټرائک ناجائزدې. بیاچونکه دمدرسې اصلی مقصدتعلیم ورکول دی اودمدرسې عمارات هم ددې طالبعلمانودارام دپاره دی څوک چه په مدرسه کښې تعلیم حاصلوی بیاپه داسې حالت کښې دطالبعلمانوتعلیم پرېښودل اودمدرسې په عمارت باندې قبضه کول به یوه عاصبانه قبضه ده کومه چه جائز کیدې نه شی. بیاچونکه ددیوبندموضوع خالص دینی اومذهبی تعلیم دې اودطالبعلمانودې کاروائیوسره کوم چه هغوی دسټرائک اونوروشرارتونوپه باره کښې دې نه ثابتیږی چه په دوی باندې دیوروپی تعلیم اثردې اوددین پرې هیڅ اثرنشته، لهذاترڅوپورې چه دوی خپل خیالات دمدرسه دیوبند دمشرانوداغرض مطابق جوړه نه کړی ترهغې پورې دوی دپاره ددیوبندمدرسه مناسب کیدې نه شی بلکه دداسې طالبعلمانودپاره ندوة العلماء یاعلی ګړ کالج بهتردې.

الجزء الثانی (الاعتصاب فی الاسلام) الهلال مورخه ۲۹ جولائی ۱۹۱۴ء ××

شعبه مراسلات کښې یومضمون دمولاناعبدالسلام ندوی په پورتنی عنوان سره شائع شوې دې کوم چرلاتراوسه پورې پوره شوې نه دې، لیکن څومره حصه چه ددې چهاپ شوې ده هغه هم دمذهبی جماعتونونظرونه خپل طرف ته متوجه کولودپاره کافی ده. ماته ددې وئیلوضرورت نشته چه مولاناعبدالسلام کوم یوبزرګ دې، ځکه چه په څوورځوکښې عام طورسره معلوم شوې ده چه هغوی دندوة العلماء ددرجه تکمیل نه سندحاصل کړې دې اونن صبادخپل استادمولوی شبلی نعمانی په سیرة لیکلوکښې مددکوی، اوداهم هغه بزرګ دې دچاطرف ته چه په دې خط کښې نسبت شوې دې، چه دهغې په وجه دندوې سټرائک محرک اول مولوی شبلی نعمانی ښودلې شوې دې دچاپه اعزازکښې چه هغوی دالیکلې دی چه کوم وخت کښې دالیکل کول نوربښتیاخودادی چه دغه وخت کښې دجوش دغلبې دوجې نه زماپه خپل خواس اودماغ باندې قابونه وو. (اوکماقال)

که غوراوکړې شی چه په دې خط کښې داتحریرهم دفاضل مضمون لیکونکی کوم چه دغه وخت کښې په الهلال کښې شائع کړې دې ددې اعتذارنه بې نیازیه نظرنه راځی ځکه چه

کومورواياتوسره تاسودسټرائک شرعی جوازبلکه استحسان ثابتول غوښتلې دی هغه ډیرزیات مضحکه انګیزدی. هغه دلائل یاخوستاسودمدعاسره نه صرف بې تعلق دی بلکه دچاچه دمسئله سټرائک یادهغې شرعی حیثیت سره څه محبت نشته اویاددې نه چه کومه نتیجه راویستې شوې ده هغه بالکل التاراویستې شوې ده، یعنی دکوم سټرائک نه چه تاسومنع کوئ نودهغې خوددې نه جوازراووځی اودکوم اباحت چه ستاسوپه ذمه دې دهغې صفاحرمت واضحیږی. دفاضل مضمون نګاراصلی مقصدداثابتول دی چه ددارالعلوم ندوة طالبعلمانوچه کوم سټرائک دناظم وغیره په مقابله کښې اوکړوهغه شرعاً بالکل حق دې اودسټرائک په زمانه کښې ددې طالبعلمانوخوراک څکاک بندول یاد بوړډنګ نه ویستل جائزنه دی ددې په اثبات یاتائید کښې تاسومجموعی طورسره څلور واقعات ذکرکړې دی چه (الف) حضرت صدیق اکبرپه حضرت عائشه باندې الزام لګولوپه جرم کښې دمسطح نفقه بنده کړله اوقسم ئې اوخوړلوچه هغهٔ ته به کله هم څه فائده اونه رسوی لیکن الله تعالی هغه په اخلاقی حیثیت سره منع کړلو (ب) په دنیاکښې دټولونه زیات تمدن په کلوکښې وی لیکن ټولوکلوکښې دذات کولوطریقه جاری ده دکوم په ږوسره چه دیوکس سره تعلق ساتل بندکړې شی (ګویاداهم دسټرائک یوساده شکل دې) (ج) دبعثت په شروع کښې ټولوقریشوددې مضمون یوه لوظ نامه په خانه کعبه کښې اویزان کړې وه چه په قریشوکښې به هیڅوک بنوهاشم اوبنومطلب ته خپله لورنه ورکوی. ددوی سره به لین دین اواخستل خرڅول نه کوی. اودوی سره به خبرې اترې نه کوی وغیره وغیره. (د) په اسلام کښې چه کله یوکس په قومی فائده باندې شخصی فائدوته ترجیح ورکړونودهغوی خلاف صحابه کرام اوپه خپله حضور ﷺ ددې قسم طرزعمل اختیاراوفرمائیلو. په غزوه تبوک کښې دتن اسانۍ دوجې نه نه شریکیدوباندې حضور ﷺ کعب بن مالک مرارة ابن الربیع اوهلا بن مره باندې سخته ناراضګی ښکاره کړله اودټولوصحابه کرامودڅه مودې پورې ددوی سره سلام کلام اوناسته پاسته بنده کړله تردې پورې چه کله دالله تعالی دطرف نه ددوی معافۍ پروانه راغله. نوبیاهله سټرائک مات شو. (صحیح بخاری) په دې دلائلوکښې اولنۍ دلیل (یعنی دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه واقعه) خوقطع نظرددې نه چه قران مجید داجائزاوپسندیده اوګرځوله یانه دسټرائک په اصطلاحی مفهوم سره کوم چه متازعه فیه دې هیڅ تعلق نه ساتی، ځکه چه تاسوپه خپله اقرارکوئ چه ددې قسم په تمدن قطع تعلق باندې هغه وخت دسټرائک اطلاق کیدې شی کله چه یوه ډله بله ډله یاکس دڅه اعانت نه محروم کړی هم ددې په وجه په نوی عربۍ ژبه کښې سټرائک لره اعتصاب سره تعبیرکړې شوې دې. دکوم معنی چه دګروه بندۍ ده، باقی دویم دلیل (یعنی دکلی والودذات کولوپه طریقې سره) تاسوپه خپله هم اندازه لګولې شئ چه په شرعی جوازاوعدم جوازباندې کوم حدپورې رڼااچولې کیدې شی اودیوې مذهبی مسئله په

احتجاج کښې دکلی والوطرزعمل پیش کول (اګرچه تمهیداً ولې نه وی) کوم حدپورې صحیح دې البته دریم اوڅلورم دلیل (یعنی دقریش مکه عمل اودحضور ﷺ مقابله کښې اوحضور ﷺ اواصحابوعمل دکعب بن مالک وغیره په مقابله کښې) یوخاص حدپورې ددې قسمه بحث په وخت کښې ذکرکول څه نه څه حیثیت لری (لیکن زۀ دې معاف کړې شم که ستاسوپه الفاظوکښې دااووائیم چه) صرف هم دهغه خلقوپه نزدچه دحدیث اوسیرة دکتابونه په موقعه باندې روایات فراهم کولو اهلیت نه لری زمااراده په دې مضمون کښې دخپل طرف نه دڅه وئیلواوریدلونه ده.بلکه ددې په ځائې دابهترګڼړم چه فی الحال هم ستاسواستنباط کړې شوې بعضې نتیجې دوباره دکتونکوپه کتوکښې راولم اوفی الجمله دهغې په وکالت باندې تنبیه اوکړم ،تاسواولنۍ نتیجه دااوستې ده چه زبردست ډلې لره دکمزورې اوفرقې خلاف استرائک کول مناسب نه دی ځنګه چه دمکې قریشوکړې وه ددې وجې نه دسترائک په زمانه کښې دطالبعلمانو خوراک بندول اوهغوی دبورډنګ نه ویستل جائزنه دی لیکن په نتیجه نمبر۷ کښې داسې فرمایئ چه دسترائک دپاره مساوات لازمی نه دی کعب بن مالک دحضور ﷺ اونورو صحابه کرامو برابرنه وو.کله چه قامی ډله دکمزورې په مقابله کښې سترائک کولې شی نو کمزوری ته دطاقتورپه مقابله کښې په اعلی درجه کښې داحق حاصل دې پس تاسوپه خپله انصاف اوکړئ چه په دې دواړونتیجوکښې کومې چه تاسوبیان فرمائیلې دی عوام کوم یوصحیح اوګڼړی یاچاته دچاپه قاعده باندې ترجیح ورکړی که دسترائک دپاره مساوات ضروری اوګڼړلې شی اوذبردست سترائک دکمزورې په مقابله کښې مناسب نه دې نو حضور ﷺ اوتمام صحابه کرامو(نعوذبالله) داناسزاوارکارچه دکعب بن مالک وغیره په مقابله کښې پیداشوې ووڅه توجیح کیدې شی .اوکه دمساوات قاعده لازمی نه وه نوبیاد قریش مکه په سترائک کښې ستاسوپه شان روشن خیال ولې دتعصب اوتنګدلۍ نه کاراخستې دې حقیقت دادې چه دمسلمانانوداعتقادمطابق حضور ﷺ دالله تعالی دطرف نه دتمام مخلوقات پیریان انسانان اوعرب وعجم دپاره هادی اواستادجوړکړې شوې رالیږلې شوې دې (چنانچه هغوی په خپله خپل منصب جلیل دپاره انما بعثت معلما الفاظ اداکړې دی)اوپه دې اعتبارسره تمام بنی ادم لره طوعاً اوکرهاً ستاسوسره دشاګردۍ په نسبت سره دشاګردۍ تعلق حاصلیدل پکاردی.پس زمونږ په نزدداوئیل دفاضل مضمون نګاردتوجیهات نه زیات ضروری وی چه قریش مکه دخپل جهالت اوسفاهیت دوجې نه کوم سترائک دحضور ﷺ په مقابله کښې اوکړوچونکه هغه دشاګردسترائک داستاددپاره اودمتعلم سترائک دخپل حقیقی معلم په مقابله کښې وو،اوبیشکه قابل ملامت وو.برخلاف ددې دحضور ﷺ دطرف نه چه کوم سترائک (په شرط ددې که هغه سترائک وو)دځوشاګردانودغفلت او خطاکارۍ په مقابله کښې په وجود کښې راغې،اوداستادسترائک

دشاګردپه مقابله کښې دکیدوپه وجه سره تینګ اوحق بجانب وو.ددې اخری سترائک ددباونتیجه دکعب بن مالک رضی الله عنه وغیره په حق کښې برامدشوه،چه دهغوی سره دمسلمانانورشتې ماتې کړې شوې وې،اودرورولۍ اوخپل مینځ کښې دتعلق ټولې سلسلې ماتې کړې شوې ،نوهغه دخپل ساده زړۀ سره دالله تعالی طرف ته متوجه شواوژړافریادئې اوکړو،هغوی په ډیرهمت او استقلال سره دهرطرف عارضی سهارې پریښودې اوصرف دیورب العزت دربارئې اونیولو نواخریاخوداچه حالت ئې دتذبذب ووچه:اخرون مرجون لامرالله اما یعذبهم واما یتوب علیهم والله علیم حکیم.(ترجمه)اوڅه کسان دی چه دالله تعالی دحکم په انتظارکښې دهغوی معامله ملتوی ده چه یاخودوی ته عذاب ورکړی یادې ددوی توبه قبوله کړی اوالله تعالی علم واله اوحکمت واله دې.اوبیادابشارت نازل شو چه:لقدتاب الله علی النبی والمهاجرین والانصارالذین اتبعوه فی ساعة العسرة من بعدماکاد تزیغ قلوب فریق منهم ثابت تاب علیهم انه بهم روف،رحیم وعلی الثلاثة الذین خلفوا حتی اذا ضاقت علیهم الارض بمارحبت وضاقت علیهم انفسهم وظنوا ان لاملجا من الله الاالیه ثم تاب علیهم لیتوبوا ان الله هوالتواب الرحیم.

(ترجمه):البته الله تعالی په پیغمبرباندې ډیرلوې فضل اوکړو،او(نورداچه)مهاجرین اوانصار چاچه دتنګدستۍ په وخت کښې دپیغمبرملګرتیااوکړه هرکله چه دهغوی نه دبعضوزړونه دخپل ځائې نه خوزیدلې ووبیاهغۀ په دوی باندې هم خپل فضل اوکړو،(چه هغوی ئې سنبهال کړل)اوپه دې کښې هیڅ شک نشته چه الله تعالی په دوی ټولوباندې ډیر زیات مهربان(اوددوی په حال باندې خپل)مهرلګوی.او(علی هذالقیاس)په دې دریو کسانوباندې کوم چه (دالله تعالی دحکم په انتظارکښې)ملتوی ساتلې شوې وو،تردې پورې چه کله زمکه باوجوددفراخۍ په دوی باندې تنګه شوه اوهغوی دخپلوځانونونه هم تنګ شول اوپوهه شول چه دالله تعالی دنیولوددی نه علاوه بل هیڅ پناه نشته نوبیاالله تعالی ددوی توبه قبوله کړه چه دقبول توبه په شکرکښې دائنده دپاره هم دوی توبه اوکړی بیشک الله تعالی ډیرلوی توبه قبلونکې اومهربان دې.کوموخلقوچه نن صبادسترائک په مسئله باندې په اخبارونوکښې بحثونه کړی دی (مثلاً صاحبزاده افتاب احمدخان صاحب وغیره)هغوی څوځله داستاداوشاګردتعلقاتوته دځوی اوپلاردتعلقات تشبیه ورکړې ده.اوداتشبیه په دې اعتبارسره ډیره زیاته واضح ده چه دپلاردمادی تربیت نه داستادروحانی تربیت په هیڅ طورکم نه دې ،هرکله چه داولاد،دمورپلارپه مقابله کښې دسترائک حال دادې چه:وان جاهداک علی ان تشرک بی مالیس لک به علم فلا تطعهما وصاحبهما فی الدنیا معروفا.(ترجمه)او(اې مخاطب)که ستامورپلار تاپه دې مجبورکړی چه زماسره څوک په خدایۍ کښې شریک جوړکړه دکوم چه تاسره څه دلیل نشته (نوپه دې کښې)ددوی مه منه،(مګر)په دنیاکښې دوی سره سعادت واله

خاصکر کله چه استاد دخپلو شاگردانو) داستادانوهم داستادانوپه مقابله کښې (
تعلق ساته.نودشاگردانو داستادانوپه مقابله کښې حق کیدې نه شی.په ځائې د قریش مکه
داخلاق داصلاح کفیل وی)داستړائک ددې نه زیات حق کیدې نه شی.په ځائې د قریش مکه
اوغزوه تبوک کښې چه کوم دوه واقعات فاضل مضمون لیکونکی سره خپله مدعا ثابتول
غوښتلې دی دهغې برخلاف ددې نه داثابته شوه چه دیوقومی یامذهبی درسگاه
دطالبعلمانوستړائک چه دخپلواستاذانواومصلحین ومربیین په مقابله کښې وی سراسر
ناجائزدې.اوکه بالفرض استاذان دخپلوشاگردانوپه مقابله کښې دسزاپه طورستړائک اوکړی
نونه صرف جائزبلکه مستحسن دې.

الهجاهے پاون یارکازلف درازمین لواپ اپنے دام مین صیاداگیا.

زۀ دالیکل ختموم ځکه چه نه خوزماپه دې وخت کښې دندوه دخطاب اوصواب سره څه
کارشته اونه مې تحقیق مطمع نظردې چه دستړائک اصلی مفهوم اوددې جامع تعریف څه
دې.اونه داچه دې شرعاً جائزوئیل پکاردی(مگرپه اصل جواب کښې اوپه اولنی جزکښې
ناجائزکیدوباندې کافی تحقیق اوشو. ۱۲ محشی)ناجائزه بلکه یوداسې لیک چه دبعضو
استدلالی کمزوروطرف ته اشاره کول منظوردی چه نن صبادبعضوبخاری درس ورکونکو
عملی نمونه ده.اودابناء زمان دحدیث دانئ اوسیرت فهمئ یوه بهترین نمونه ده .چه عام
مسلمانان صرف صرف ددې قسمه سطحی مضمونونوصرف خوش خط ټائپ لیدوسره زر
متاثره نه شی .په اخره کښې دکتونکواوخصوصاً دمحترم مدیرالهلال توجه دمضمون نگار
ددې منیه طرف ته راگرځول غواړم کوم چه دصاحب مضمون دبعضې نفسانیت ائینه او
بدتهذیبئ یادنن صبادتهذیب مکمل مجسمه ده اودکوم په وجه چه ددې مضمون دلیکلو
اوشائع کیدواصلی مقصدپوره واضح ښکاره کیږی.لیکی چه کوم دامدعیان علم حدیث گیله
کوی چه دستړائک په دوران کښې مشرانوته سلام وکلام ضرورکول پکاردی حالانکه داسې
اونه کړې شونودې منبهی به دبخاری هغه نسخه وی چه مولانااحمدعلی مرحوم والدصاحب
مولوی خلیل الرحمان صاحب سهارنپوری چهاپ کړې وه،اوپه هغې کښې به شاید داحدیث نه
وی ځکه چه ددې اثرپه حقوق اولادباندې پریوتونکې وو،مگرموږ دمصر دمطبوعې نه
داروایت اخستې دې .زه نه گڼړم چه موږ داسم منیه لیکونکی مولانااحمدعلی صاحب چهاپ
کړې شوې صحیح بخاری دمولاناشبلې سیرة النعمانی گڼړلې دې په کوم کښې چه دحضرت
سعدبن ابی وقاص واقعه په غلطئ سره دعماربن یاسرطرف ته منسوب کړې شوې ده.اه اقول
وبانتهاء ٥ انتهی جزء ان بانتهما انهما انتهی الجواب الذی کتبه اشرف علی عفی عنه.(سادس ربیع
الثانی ۱۳۴۶هجری (تتمه ۵ ص ۵۵۶)

رساله اصلاح المعتوهٔ فی تعریف الحرام والمکروهٔ ××

سوال :(۱۲۲)دبهشتی گوهرپه شروع کښې دتمهیدنه پس په یوه صفحه باندې داصطلاحات
ضروریه په عنوان کښې داحکاموتعریف لیکلې شوې دې.په دې کښې دحرام اومکروه
تحریمی تعریف په مختلف نسخوکښې مختلف لیکلې شوې دې.چنانچه په یوه ډیره زړه
نسخه کښې دغه شان لیکلې شوې دې ،حرام هغه دې چه دقطعی دلیل سره ثابت وی،او ددې
منکرکافردې،اوددې بغیردعذرنه پرېښودونکې فاسق اودعذاب مستحق دې.مکروه تحریمی
هغه دې چه ظنی دلیل سره ثابت وی اوددې نه انکارکونکې فاسق دې ځکه چه دواجب
منکرفاسق دې.اوددې بغیردعذرنه پرېښودونکې گناهگاراودعذاب حقداردې،او په نوې
نسخه کښې دغه شان لیکلې شوې دی.حرام هغه دې چه دلیل قطعی سره ثابت وی اوددې
منکرکافراوددې بغیردعذرنه پرېښودونکې فاسق اودعذاب حقداردې.(ص ۹۷ ج ۱ شامی)
مکروه تحریمی هغه دې چه ظنی دلیل سره ثابت وی اوددې نه انکارکونکې فاسق دې ځکه
چه دواجب نه منکرفاسق دې اوددې بغیردعذرنه کونکې گناهگاراودعذاب حقدار دې.(ص
۳۳۰ ج ۵ درمختاروشامی)

ددواړوپه تعریفونوکښې اختلاف صرف دادې چه په زړه نسخه کښې بغیردعذرنه
پرېښودونکې اوبغیردعذرترک کولوواله لیکلې شوې دې.اوپه نوې نسخه کښې دواړه ځائیه
بغیردعذرنه کونکې لیکلې شوې دې.دمخالفینوپه بعضورسالوکښې ددواړو تعریفونو
لیکلونکې بهشتی گوهرطرف ته منسوب کوی اوپه اولنی تعریف باندې دحد درجې سب
وشتم وطعن وتبراپه اندازکښې اعتراض شوې دې.اودویم تعریف لره ئې داولنی تعریف طرف
ته رجوع کښې ددې وجې نه کافی اوگڼړلوچه داولنی تعریف دغلط کیدواعلان اونه کړې
شو.ددې په باره کښې سوال دادې چه صحیح تعریف کوم یودې؟اودغلط تعریف دلیکونکی
ذطرف نه غلط کیدواعلان ولې اونه کړې شوې.اوددې واقعې داختلاف حقیقت څه دې
؟افیدوناومتم مفیدین؟

جواب : صحیح تعریف دویم دې اولنې تعریف که ماول نه وی نوغلط دې.اوددې واقعه داده چه
داتعریف دبهشتې گوهردلیکونکې لیک نه دې.چامهتمم طبع پکښې اضافه کړې ده عجب نه
ده چه مولوی انعام الله خام مرحوم پکښې لیکلې وی.چاچه بهشتی گوهرغالباً دټولونه په اول
ځل ۱۳۴۵ هجرئ نودلیکلونه نهه لس میاشتې پس چهاپ کړې دې.هغوی ته دداسې
اضافوکولوخاص شوق وو،البته دهغوی نه دوه غلطئ ضرورشوې دی.یوه داچه په اضافه
باندې ئې خپل دستخط اونه کړو.دویم داچه په ترتیب کښې ئې په تمهیدسره
داروستوکړو،ځکه چه کتونکی ته په اول ځل شک کیدې شی چه داهم دمولف لیکلې شوې

دې ،په هغهٔ باندې لازم ووچه په دې باندې ئې خپل دستخط کړې وې،اوکه داسې ئې اونه کړل نوکم ازکم په ترتیب کښې ئې داتمهیداول ساتلې وې غرض داچه غلطی دچاطابع نه شوې ده.بیاددې خبرداری نه پس روستولیکونکوکښې چادویم لیکونکی هم داضافې سره سره داصل مضمون باقی سره ددې تعریف بدل کړواوپه حاشیه کښې ئې ددې وضاحت اوکړو،چه دامضمون په لیکونکوکښې دځان نه چازیات کړې دې،دمولف نه دې.اه.بلکه دمولف مضمون خوپرېږده مولف ته درساله اعتراضیه دچهاپ کولونه مخکښې په خپله هم ددې تعریف اوپه دې کښې دتغیرپته هم نه وه.اول خل ئې ددې قیدددې وجې نه اولګولوچه که دتمهید عبارت ته په غورسره اوکتې شی نودهغې نه پته لګی چه دااضافه دمولف مضمون نه دې.چنانچه په دې تمیهد کښې یوعبارت دادې چه ټول مسائلوره داصلی کتابونوفقیه متداوله نه نقل کولوضرورت راپیش نه شوبلکه رساله علم الفقه لره یوطالبعلمانه نظرسره دکتلواوددې په اخره کښې مناسب ضروری مسائل یعنی ضروری مسائل په یوځائې کښې راجمع کول مناسب اوګڼړلې شول،اوچرته پکښې دکمی زیاتی یا تغیرعبارت یامختصراضافه هم کړې شوې ده.

په دې عبارت کښې ددې وضاحت موجوددې چه بهشتی ګوهررساله دعلم الفقه دمختصر مسائلونامه ده اوکه تغیریاکمې زیاتې یامختصراضافه پکښې چرته شوې وی نوهغه هم صرف په مسائلوکښې شوې ده .اوظاهرده چه دااضافه تعریفات نه خومختصرده اونه په مسائلوکښې ده بلکه په ښه په ډېرمقدارکښې مستقل اضافه په غیرمسائلوکښې ده. نوددې نه پس داویره پاتې کیدې نه شی چه دااضافه دمولف لیکلې شوې ده.ددې وجې نه مااول ځل قیداولګولو.لیکن چونکه کتونکوته هروخت داسې دلائلوباندې دغورکولو موقع نه ملاویږی بلکه خاصکردچاچه دمخکښې نه ګمان وی ددې وجې نه مولف دطرف نه په ګڼړولوکښې معذوری کیدې شی.لیکن په دې طرزسره اعتراض کول څنګه چه سوال کونکی نقل کړې دی صرف دشمنی کول دی.ځکه چه باوجوددفرض انتساب هیڅ یوصاحب انصاف یایوکس ته په یوطالبعلم باندې بلکه ناخوانده مسلمان نه هم دااحتمال کیدې نه شی چه هغه به داسې غلط تعریف منونکې وی.چه په هغې کښې حرام دفرض مترادف اواومکروه تحریمی دواجب په شان شی.دکوموتعریفات چه واضح موجوددی.دطالبعلمۍ خلاف خوددې وجې نه دی چه مقسم واحدپه قسمونوکښې تباهن لازم دې اودلته داسلام خلاف غلطی کیږی چه دهرمسلمان عقیده ده چه دحرام اومکروه تحریمی ارتکاب ګناه اوددې پرېښودل واجب دی.داختلافی مسئله نه ده چه پکښې دوهابیت یابدعیت یاسنیت موثروی نوکه په اعتراض کونکی کښې لږ شان هم عقل وی نوکم ازکم دصاحب مضمون دسبق قلم یاخراب ذهن (کما سیئاتی فی تقریرالتاویـــل)کښې دناقل په غلطی به ئې ګڼړله بیادتصحیح ومقابله به ئې هروخت دمضمون لیکونکی دپاره اهتمام نه کولې یانه شوې کولې.بعضې څله مصحیحین ومقابلین جاهلان وی چنانچه

داقسمه واقعات شته ورځ دزرګونوپه تعداد کښې په مشاهده کښې راځی.ددې وجې نه بزرګانونصیحت کړې دې چه:

احاالعنم لاتعجل نعیب مصنف — و لم تتیقن زلة منه تعریف
فکم افسدالراوی کلاماً بعقله — وکم حرف الاقوال قوم وصحفوا
وکم ناسخ اضحی لمعنی مغیراً — و جاء بشئ لم یرده المصنف

دلږ وخت خبره ده چه زمایوه رساله چه په کښې دالله تعالی په صفات کښې دعموم قدرت لفظ وو،رساله یوډېرمخلص کس په ډېرشوق سره په ښکلی لیک اوښه کاغذباندې چهاپ کړه اوماته ئې پیش کړه.چه کهلاومې کړه اواومې کته نوپه دغه مقام باندې دې دعموم په ځائې عدم لیکلې شوې وو.ماورته اووئیل چه رروه ته خامخاموڼږ په خلقوباندې کنځې.غالباً هغهٔ غلط نامه هم اولګوله.غرض داچه داسې احتمالات خوواقع کیدې شی، مګرداسې احتمال خوهغهٔ ته وی په چاکښې چه انصاف وی ګنی دشمنانان خودداسې موقع په کتل کښې وی.اوکه چه ورته داسې څه موقع ملاوشی نوګویادبیزپه لاس کښې چه دادرک غوټه راشی.اودې سره به هم ددې وجه هم معلومه شوې وی چه دمولف دطرف نه ددې غلطئ اعلان ولې اونه شو،هغه وجه هم داده چه نه خودامضمون دمولف وواونه تراوسه پورې هغهٔ ته ددې خبرورکړې شوې دې ګنی الحمدلله دمولف عادت هرچاته معلوم دې چه هغه دخپلې غلطئ داشاعت دپاره ترمودوموډوپورې دترجیج الرجح سلسله جاری ساتلې ده.چنانچه اوس چه کله اطلاع اوشوه نوباوجوددې چه داهغهٔ مضمون نه دې په دې پاندې عبرعاً خبرداري ورکوی.اوداجواب په هغه تقدیرباندې دې چه ددې اولنې تعریف غلط اوګڼړلې شی اوهم داښکاره ده .بیادغلطئ سبب په خپله ذلت قلبی یاذهنی دصاحب اضافه وی نازیغ نظریاتحریف په خپله دناقل وی.که دااضافه احفرمولف وې نوهم په دې جواب به ئې اکتفاکړې وه.چونکه احفرتاویلات اوتوجیهات استعمال دخپل ځان دپاره نه خوښوی مګرچونکه هغه اضافه دبل کس ده اویقیناً دچاصاحب علم ده اودعاقل بالغ خبرې لره ملطقاً په محمل صحیح باندې محمول کول شرعاً مطلوب ده یاپه ځائې دصاحب علم په خبره باندې.ددې وجې نه زهٔ یودویم جواب هم غرض کوم ددې حاصل عبارت دمتکلم فیهامااول وی اوهغه تاویل دادې چه دحرام اومکروه په تعریف کښې چه کوم داعبارت دې چه ددې بغیردعذرنه پرېښودونکې فاسق اودعذاب حقداردې،یاداعبارت دې چه ددې بغیردعذرنه پرېښودنکې ګناهګاراودعذاب مستحق دې په دې دواړوعبارتونوکښې لفظ ددې(چه دضمیریااسم طرف ته اشاره ده)مرجع یامشار، الیه په خپله دفعل حرام اوفعل مکروه تحریمی نه دې بلکه ددې کارحکم یعنی حرام کیدل اومکروه تحریمی کیدل یاپه مختصرعنوان سره حرمت اوکراهت دې.اومعنې ئې داده چه دحرمت

اوکراهت کوم تقاضاده چه دهغې نه ځان اوساتي. دې متقضالره ترک کونکې اوپرېښودونکې فاسق اوګناهګاردې اودا بالکل صحیح ده چه ددې متقضاء ذپرېښودوداسې ده چه ددې حرام کاراومکروه تحریمی ارتکاب شروع کړی اوظاهره چه چه دحرام اومکروه تحریمی ارتکاب کونکې ګناهګار اوفاسق دې.نوپه خبره کښې به اختصاروی اوخبره کونکې چونکه عالم دې نودهغهٔ صاحب علم کیدل به تعین مرادسره یوشان شی.اوپه دې اندازکښې به دامختصرکیدل محل نه شی.لکه چه دمتکلم موحد کیدل انبت الربیع البقـل لره په مجازباندې محمول کول اوددې دپاره قرینه کافی ګڼړل دی. دهغهٔ په نظرکښې دمحاورات کثرت دې چنانچه په دې وخت دوموقعو باندې په خپله دقران کریم نه نقل کوم چه پکښې بعضې مفسرین ددې په شان دتوجیح قائل دی.اول موقع:قال الله تعالی فی سورة الاعراف .مامنعک ان لا تسجد.فی جامع البیـــان لــشیخ الاسلام والمسلمین الشیخ السیدمعین الدین المفروغ من تالیفه فی عام سبعین وثمان مائة،مانـصه منـع بمعنی اهوج واضطر لان الممنوع عن شئ مضطرالی خلافه ای ما اخرجک الیعدم السجدة.

دویمه موقع:قال الله تعالی فی سورة هود:اصلوتک تامرک ان نترک مایعبدآباءنا اوان نفعـل فی اموالنا مانشاء.فی التفسیرالمذکوره قبل عطف علی ان نترک بتقدیراصلوتک تامرک بنهیک عن ان نفعـل ان واوردوالتفـسیرین فی الکـبیرالاول منطوقـاً والثـانی مفهومـا.اوګوره چه په دواړوتفسیرونو کښې نقـل دی مګرداتفسیرونه بغیردانکارنـه نقل کـول دداسې توجیهـات دصـحت دپـاره کـافی دی.اوګـورئ پـه اولنـی ایت کـښې کلـه چـه لالـره غیرزائـداومنلې شونولاتسجدپه معنی ترک السجدة شو.اوظاهره ده چه ددې تعلق دسیاق یعنی منعـک سره کیدې نه شی بلکه دمنعک نه پس ان تـسجدکیدل پکاردی.چه په معنی دفعل سجده دې چنانچه ظاهرده.هم دغه شان په دویم ایت کښې چه کله ان نفعـل عطف په ان نتـرک باندې اومنلې شونوان نفعل تامرک دلاندې شو،اوظاهرده چه ددې تعلق دسباق یعی مـانترک سره کیدې نه شی.بلکه دتامرک نه پس ان لا نفعل فی اموالنا مانـشاء کیدل پکار دی.چه په معنی دترک دی.چنانچه ظاهرده.غرض داچه په یوایت کښې په ځائې دفعل ترک ذکرشوې دې اوپه یوایت کښې په ځائې دترک فعل ذکرشوې دې.کوم په ظاهره صحیح نه دې اوصحیح ددې عکس وو.که دتصحیح کلام په ضرورت سره په اولنی ایت کښې (په ځائې دفعل)دترک صحیح تعلق دپاره ددې فعل سباق یعنی تامرک طرف ته تاویل اوکړې شونوددې قیاس په تعریف مذکوره کښې وئیلې کېدې شی چه دخیرطرف ته کوم لفظ ترک واقع دې په ظاهره ددې تعلق ددې دسباق یعنی حرام اومکروه سره کوم مبتداء دې کیدې نه شی بلکه هغه دحرام اومکروه نه پس دفعل لفظ پکاردې.مګردتصحیح تعلق دپاره ددې ترک دسباق یعنی لفظ حرام ومکروه

طرف تـه بـه داتاویـل کیږی چه دامبتـداء متـضمن دې پـه معنـی دحرمت اوکراهـت.اوس ددې مفهوم سره دترک تعلق کیدې شی یعنی دحرمت اوکراهت په حکـم ترک کـونکې الـخ.څنګه چه پورته ذکرشواوپه دې تاویـل کښې زیاتـه فاصله ځکـه نشته چه فعـل حرام اومکروه تحریمی تعریف لیکلودفعل نه حکم فعـل طرف تـه دذهن منتقـل کیدل څه بعیدنـه دی.شـارخین خوپـه داسې موقعه باندې باوجوددتعمدماتن صرف محل په صالح للتوهم کیدوپه ځائې وقـوع تـوهم ګرځولوسره داحکام ترتیب صحیح منی. چنانچه په خطب کتب کښې وبعدفهـذا کښې داسې تصریحات نقل دی وزیدت فیه الفاء لتوهم اما اجراءً للتوهم مجری لمحقق الخ.اویوبل تاویـل ددې نه هم اسان کیدې شی هغـه داچـه پـه تعریف مـذکورین کښې لفظ اوس مرجع یامشار،،الیه دلیل اوګرځولې شی .مطلب داچه حرام یامکروه کیدودلیل دې اوددې دلیل منکراوددې دلیل پرېښودنکې داسې داسې دې.اوددې دلیـل انکارداسې دې چـه ددې خـلاف اعتقاداوساتی اوددلیـل تـرک دادې چـه ددې خـلاف عمـل اوکـړی.پس خبره بالکـل واضـح ده البتـه شـارع اوغیرشارع پـه خبره کـښې دومـره فـرق دې چـه دشـارع پـه خبـره پـه توسـع بانـدې محمـول کوو.اودغیرشارع خبره په تسامخ باندې.ددیوم پـه خبره کښې تغیـرممکن نـه دی ددې وجې نـه تاویل واجب دې.اودغیرشارع په خبره کښې تغیـرممکن دې ددې وجې نـه تغیرتـه بـه پـه تاویـل باندې ترجیح ورکړې کیږی.هم ددې په وجه تعریفات ذکرشوې دی اواهل علـم تغبیرورکړې دې چه اغلاق(کما فی التاویل الاول)یاابهام(کمافی التاویـــل الثـــانی)پاتې نه شی.ددې وجې نـه داعتراض کونکی دماغ کښې هم تاویل کولوسره ددې جواب اصلاح امعتوه فی تعریف الحـــرام والمکروه سره ملقب کوم.والسلام علی من اتبع الهدی (۲۷ ربیع الثانی ۱۳۴۶ هجری (تتمه ۵ ص ۵۵۶)

حقیقت اجازت وظائف ××

سوال:(۱۲۳)دخط جواب کوم چه حضورراولیږلوماته ملاوشو،عرض دادې چه دکوم مضمون پـه کتوسـره مـاحـضورتـه تکلیـف ورکړوهغـه دادې چـه پـه فتـاوی امدادیـه جلدسـوم صفحه نمبر ۱۴۰ باندې دلائل الخیرات لوستلواوښودلواجازت اخستلوسوال دې.لهذا دمولانا رشید احمدګنګوهی رحمـه الله جـواب دې اوحـضور ﷺ ددې دفائدوتشریح پـه دوه قـسمه سره بیـان فرمـائیلې ده .یواجراوثـواب اودویـم کیفیـت بـاطنی ،بغیردسندنه لوستلوسره پـه اجراوثـواب کښې څه کمې نه راځی.البته کیفیت باطنی کښې تفاوت کیږی روستودحضور نامـه مبارکـه ده هم ددې مضمون پـه کتوسره زماپـه زړهٔ کښې خیـال راغـې چـه دحـضورکتاب مناجـات مقبـول روزانه دمنزل په حساب سره لولم،مګردحضـورنه مې اجازت اخستې نه دې.کـه دحـضوراجازت راته ملاوشونوددوه چنده فائدې امیدوارزړهٔ کښې به مې خوشحالی نوره زیاته شی؟

جواب: السلام علیکم اول خو هغه صرف توجیح دي اوپورتني جواب په دي باندي لازم نه راخی، چه هغه دي زما اصلی رایئ وی. دویم دتفاوت څه بیان شوي نه دي. ممکن ده چه هغه تفاوت غیرمعتدبه وی کوم چه تاسو دوچنده ګرځولي دي. دریم داچه داتفاوت دهغه کس دپاره دي چه دباطنی تربیت دشیخ سره تعلق ساتی اوطریق تربیت دطبی علاج په شان دي. چه مریض خپلي رایئ سره څه عمل کولي نه شی دهغهٔ په فائده باندي هم طبیب پوهیږی. هم دغه شان سالک دطریق مصالح په علاج کښي دشیخ مختاج دي، ددي وجي نه دهغهٔ اجازت ضروری دي. ستاتعلق چه دچاسره وی ددي وجي نه دتولواذکارودپاره دهغهٔ نه اجازت اخستل پکاردی.(٤ ربیع الثانی ۱۳٤۶ هجری (تتمه ۵ ص ۵۷۱)

فرضیت حج علی الفورباندي شبه اوجواب ××

سوال:(۱۲٤) کله چه دحج دفرض کیدوایت نازل شو، نودغه وخت کښي حضور ﷺ دفودپه تعلیم اوتلقین کښي مشغول وو، ددي وجي نه هغوی په دغه کال حضرت ابوبکرصدیق امیرالحجاج مقرر کړواودهغوی په مشرئ کښي ئي قافله حج دپاره اولیږله. اوپه خپله ئي په دویم کال حج اوفرمائیلو. چه دحجة الوداع په نامه مشهوردي. ددي واقعي نه معلومیږی چه فرضیت حج علی التراخی دي علی الفورنه دي. کوم چه دامام اعظم رحمه الله دمذهب خلاف دي. ځکه چه دهغوی مرجح قول هم دادي چه حج علی الفورفرض دي. تاخیر کولوسره ګناه کیږی.

جواب: ماته یادنه دی چه دامام صاحب قول څه دي لیکن که هم دغه قول اومنلي شی نودا حکم دغیرمعذوردپاره دي. اوتاته عذروو، دکوم په تعین کښي چه ګنړشمیر قولونه دی. علامه شامی دانقل کړي دی اوزما په نزدددي تولونه علاوه ددي یوبل جواب دي. اوهغه داچه د دي کښي هیڅ دلیل نشته چه په نهمه هجرئ کښي حضور ﷺ دحوائج ضروریه نه دزیات مال مالک وو. فسقط بناء الاشکال .(۲۳ جمادی الثانی ۱۳٤۶ هجری (تتمه ص ۵۷۲)

رفع شبه درحدیث امرصلوة صبیان رادرحدیث بازداشتن صبیان ازمساجد××

سوال:(۱۲۵) مرواصبیانکم بالصلوة الحدیث نه معلومیږی چه ماشومان داووکالوشی نو هغوی ته دمونځ تاکیداوکړي شی اوکله چه دلسو کالوشی نوصرف تاکیددي ورته اونه کړي شی بلکه که هغوی سستی کوی نوپه وهلودي په هغوی باندي مونځ اوکړي شی. دویم روایت جنبوا صبیانکم مساجد کم کښي دماشومانوجومات ته دبوتلوممانعت واضح دي. په ظاهره په دي روایاتوکښي فرق دي. په ځائي ددي صورت چه اووئیلي شی چه ماشومان جومات ته مه بوځئ، هغوی ته دي په کورکښي دمونځ کولوتاکیداوکړي شی مګرپه دي صورت کښي به

هغوی صرف دمونځ عادی شی یاداووئیلي شی چه دصبي نه مرادهغه صبی دي چه دحدماموریت بالصلوة یعنی داووکالونه کم دي، مګردابه دعوی وی ځکه چه اطلاق صبی دبلوغ نه مخکښي پوري باندي کیږی. ګنی په خپله په دي روایت کښي هم صبی ولي وئیلي کیدو. اوکه دحدیث ظاهرښکاره نه کړي شی. نوچه کله دماشومانوجومات راتلوباندي پابندی ده نودمونځ خوپه اولی درجه کښي ده؟

جواب: که تعارض دومره اسان وي نوفن تطبیق وجمع بین النصوص به څه ځیزنه وي، په نصوص کښي صرف صورة تعارض کیدي شی چه دنورودلائلوسره لري کیدي شی اوهغه دلائل په هرمقام باندي جداوی، دلته دلیل دادي چه جنبوامعلل دي تنظیف مساجدوسره نومرادتري هغه ماشوم دي دکوم په راتلوسره چه دتلویث مسجدویره وی اوهغه هم هغه عمردي په کوم چه هغه دمونځ اهل ګنړلي شوي نه دي ددي نه پس داانديښنه نه پاتي کیږی پس لفظ صبیان حدیث جنبواکښي مقیدبه وی غیرمن یومربالصلوة سره اودابالکل ظاهر دي.(۲۰ ربیع الثانی ۱۳٤۶ هجری ایضاً)

غلبه کردن برکفارازدرستی ایمان است یاباختیارنمودن الات ××

سوال:(۱۲۶) قرون اولی کښي دمسلمانانوپه غیرقومونوباندي غلبه ددي وجي نه وه چه د دواړودجنګ الات یوشان وو، البته دیخواتعداد کم وو، نوددي تلافی ئي قوت ایماني سره کړي وه، مګرپه موجوده زمانه کښي که روحانی قوت حاصل شی نوبغیردروپونه هغه الات او اسباب دچرته نه حاصلیدي شی ددي وجي نه داوئیل چه مونږ صرف خپل ایمان صحیح کړو نوغلبه به بیامومونږ څنګه قرین ادراک کیدي شی؟ اوکه داصحیح وی نوبیادترقی خوښونکوبه څه جواب وی چه الات اواسباب په ایمان باندي مقدم ګڼړی؟

جواب: دایمان په صحیح کیدوکښي شمیره داسطاعت په قدرسره هم داخل ده، اوداعداد دپاره چه دڅومره مال ضرورت دي دهغي جمع کیدل هم په دي کښي داخل دی..... که امیرالمومنین دمسلمانانوپه قدردتحمل وصول کړی اودالله تعالی عادت دادي چه په دومره لوئیه ډله کښي به داسي کسان ضروروی اوکه بالفرض نه وی نوچه څومره مال کیدي شی دهغي سره دزراعت اوتجارت انتظام کول واجبیږی اوداټول دایمان په صحیح کیدوکښي داخل دی.(۲ ربیع الثانی ۱۳٤۶ هجری (تتمه ۵ ص ۵۷۲)

رفع شبه ازقتل مرتدبجزاشاعت اسلام ××

سوال:(۱۲۷)یوصاحب تپوس اوکړوچه ددې څه وجه ده چه کافرذمی قتلول خوجائزنه دی اومرتدواجب القتل دې،دې نه هم هغه سوال پیداکیږی چه اسلام دتورې په زورسره خورشو،ما ورته جواب ورکړوچه اول به مرتدته دخپلوشکوک پیش کولوموقع ورکړې شی اوهغه به لرې کړې شی اوبیاچه په هیڅ طریقې سره اونه منی نوبیادهغهٔ دپاره دمرګ سزاده.په دې باندې هغوی اوونیل چه دداقسمه تبلیغ دذمی دپاره خونه دې چه دشکوک درفع کولونه پس هم په کفرباندې اصراراوکړی نودهغهٔ قتل جائزنه دې.ماورته اوونیل چه په دواړوکښې فرق دې چه دهغې مثال دادې چه یوکس دې چه په فوج کښې اونوکردې اوبل کس په غیرفوج کښې،اودواړوته اوونیلې شی چه دجنګ میدان ته لاړشئ اودواړه ترې انکاراوکړی نوپه فوج کښې دنوکرکس دپاره دمرګ سزاده اوغیرنوکردپاره هیڅ سزانشته.هم دغه شان چاچه یوځل لااله الاالله اوونیلوهغه یدخلون فی دین الله افواجاخدائی فوج سپاهی جوړشو.اوس دهغهٔ سره بې عذرنقص اودوعدې نه ګرځیدوحق باقې پاتې نه شو.اوکه اوبدعهدی اوکړی نود مرګ سزابه بیامومی.چه نوروته هم عبرت حاصل شی،مګردې جواب سره دهغوی تسلې اونه شوه هغوی بل څه واضح جواب غواړی.

جواب: فی رسالتی السحام من اشاعة الاسلام مانصه.پاتې شوه دمرتدقتل خبره چه اسلام ته نه راواپس کیږی نوددې حقیقت اکراه علی قبول الاسلام نه دې بلکه اکراه علی ابقاء الاسلام بعد قبوله دې.نوهغه یوه مستقل مسئله ده،چه مسئله مبحوث عنها(اشاعت الاسلام بالحسام) سره بالکل مغائرده.اوددې وجه هم هغه فساددې چه داصل مسئله سیف په وجه دې فرق صرف دومره دې چه کفرقبل الاسلام شراوضررکم دې.ددې وجې نه ددې علاج جزیه یاصلح جائزګرځولې شوې ده.اوکفرپس داسلام نه یعنی دارتدادشراوضررزیات دې اوداسې کس طبعاً هم زیات مخالف اوجنګ کونکې وواونوروخلقوته ددهٔ په کتوسره ترددااوتذبذب کیږی اوداچه په دې کښې دملت حرمت هم دې نوددې علاج په تورې سره مقررکړې شوې دې.اومرتده چونکه عادة محارب نه وی ددې وجې نه صرف تذبذب وهتک کافرددهٔ په عمری قیدولوسره لرې کړې شوې دې.چه په عقوبت کښې فطرة خاصه زجردې.اه (۲ ج ۱۳۶۲ هجری (تتمه ۵ ص ۵۷۳)

محمل صحیح عبارت کتاب اخباردریک عمل ××

سوال:(۱۲۸)نن صبااخبارالاخیارشیخ عبدالحق محدث دهلوی ګورم حضرت غوث الاعظم شیخ محی الدین عبدالقادرجیلانی رحمۃ اللہ علیہ په حالاتوکښې ئې لیکلې دی .فرموده کسی کے که دو رکعت نمازهگدازدبخواند درهررکعت بعدازفاتحه سورة اخلاص یازده باربعدازان

درودفرستدبه پیغمبر ﷺ بعدازاسلام وبخواند ان سرورا ﷺ بعدازان یازده گام بجانب عراق برود ونام مراگیرد وحاجت خودرا ازدرگاه خداوندی بخواهد حق تعالی ان حاجت اوقضا گرداندبمنه وکرمه اه نقل این کلام ازحضرت غوث الاعظم بغایت مستبعدمی نماید ونقل شیخ محدیث تعجب خیزرا ے حضورمتعلق همچنین روایت چیست خدامعاف فرماید بنده رابغایت مستکرومعلوم می شودودل قبول نمی کند.

جواب: حسن ظن تاویل لره متقضی دې په دې کښې دخلجان یوه موقعه خودادہ چه په بخواندآن سرور ﷺ سونداء اگربصیغه صلوة وی نوپه پکښې څه حرج نشته.دویمه موقعه داده چه نام مراگیردسواس گرفتن کیفیت ئې کله اونه لیکلونوپه توسل باندې دې محمول کړې شی چه دعادې الله تعالی نه غواړی اوزمانامې سره توسل کوی اوداجائزده.دریمه موقعه اوهغه دټولونه ضروری ده هغه داده چه یازدګام بجانب عراق برود.نودایوعنوان دې اومعنی ددې داده چه جانب من بتوجه کامل متوجه شودتاکه توسل به محبت تام واقع شود.ددې کامل توجه یوتدبیردادې چه دهغهٔ دارام ګاه طرف ته په تلوکښې طبعاً دهغهٔ طرف ته کامل توجه اوکړې شی.اودیازده تخصیص ذرف دعدددمبارک کیدوسبب نه دې.که اشتمال علی العشرة سره سره طاق هم وی،داتاویل ځکه دې چه په اهل حق باندې بدګمانی نه وی ددې وجې نه په دې عمل کښې انشراح بیاموم.زهٔ خلق په سختئ سره منع کوم خصوصاً عوام لره چه دې عمل سره شرک پورې کښې اخته کیږی.تردې پورې چه ددې نامه صلوة غوثیه کیښودې شوې ده.اوددې په شرح کښې هیچرته څه مثال نه ملاویږی،چه یومونځ مخلوق طرف ته منسوب کړې شوې وی.ګنی دتعلیم تعلق دټولوتعلقاتونه اوچت دې نوپکارخوداوه چه دپیغمبرانولقب رسولیه ضرورروی ځنګه چه دنصاب خاص نام درس نظامی دې مګردحفاظت توحیدپه خیال داپه عباداتوکښې جائزګنړلې شوې نه دې.نود غیر رسول طرف ته نسبت به څنګه جائزوی.اوذکرشوې تاویل هم ترهغه وخت پورې دې ترکومې پورې چه نقل صحیح اوګنړلې شی اوغالب دادې چه دشیخ محدث په کلام کښې دامدسوس شته.دشیخ نورتالیفات اوهم دغه شان حضرت غوثیه اعظم مواعظ شوائب تر شرک وبدعت پورې ترې په سختئ سره منع شوې ده.(۲ جمادی الثانی ۱۳۴۶ هجری (تتمه ۵ ص ۵۷٤)

تکلم نمودن انحضور ﷺ بخواب درزبان اردو××

سوال:(۱۲۹)عرض دادې چه حضور ﷺ (په یوخوب کښې)په اردوکښې خطاب اوفرمائیلو، ددې تعبیرڅه دې؟

جواب: خوب کښې حقیقت کله په بل صورت متمثل شی اوهغه اردوصورت مثالیه دې دعربئ. (۲ جمادی الثانی ۱۳۴۶ هجری (تتمه ۵ ص ۵۷۵)

شنیدن گراموفون وفونوگراف ××

سوال: (۱۳۰) علمائي دين ددې په باره کښې څه فرمائي چه: گراموفون (يافونوگراف) کومه چه يوه عام اله جاذب الصوت ده چه په هغې کښې دننه مختلف اوازونه (مثلاً راگ، ساده اومع المزامير غزلونه جائزوناجائز. تردې پورې چه فحش اوگنده نظمونه، توقې، ليکچر، کلام مجيد، نعتونه، دموذنانو اذانونه وغيره) ډک کړې شوې او اورولې کيږي. دراگ وغيره دښځو اوسړو ټولو په اواز کښې وی. ددې اله رواج دښارونونه بهراوس ترکلوپورې هم رارسيدلې دې تپوس مې دادې چه ددې اوريدل څنگه دی؟ دښځې ياسړی صورت خومخامخ نه وی مگرداواز عکس اونقل په مثال داصل وی. په دې ټولوصورتو کښې کوم صورت جائزدې. بعضې وائی چه صورت پکښې نه ښکاری نوجائزدې، کوم چه اصلی حکم دې هغه اوليکئ.

جواب: دااوازدکوم په باره کښې خبره ده حکم کښې ددې تابع دې پس اصل که مذموم دې څنگه چه معازف اومزاميروصوت نساء وامارد ويافحش ومعصيت، ددې حکايت هم دغه شان مذموم دې. اوکه اصل مباح وی نوحکايت هم مباح دې. اوکه اصل محمودوی نونفسه ددې حکايت هم دغه شان دې. مگرنقصان دوجې نه په دې کښې تفصيل شوې دې. اوهغه داچه که ددې تلهبې مقصوددې لکه څنگه چه فائده مند مضمون بل ځائې ته رسول، اوددې په عرض سره يوتقريرپه دې کښې بند کړې شی نوهغه جائزدې. اوپه قران کښې نيت اول خوفرضی دې اوکه واقعی دې نوبياهم تشبه ضرور ده داهل تلهبی سره لهذااجازت به نه وی. لکه څنگه چه په اوبوباندې ظروف شربت په شان دظروف شرابو کيښنودل فقهاوحرام گرځولې دی. (۷ جمادی الاخری ۱۳۴۶ هجری (تتمه ۵ ص ۵۷۵)

فيس منی ارډرمحسوب درزکوة کردن ××

سوال: (۱۳۱) ايادزکواة روپئ دمنی ارډرپه ذريعه ليږلو کښې منی ارډرفيس ددې دزکواة دپيسونه اخستې کيدې شی. دمحصلين زکواة اجرت خودزکواة نه ورکول جائزدی. ددې وجې نه په دې قياس کولوسره فيس منی ارډرهم دزکواة نه اخستل جائزمعلوميږی. ستاسو په خدمت کښې عرض دې اميدلرم چه مسئله اودليل دواړوباندې تحقيق اوکړئ اومابه پرې خبرکړئ؟

جواب: اول خوپه مونږ کښې دقياس اواجتهادصلاحيت نشته. دويم داچه داقياس هم ظاهر الفساددې. ځکه چه دعامل اجرت په تحصيل زکواة کښې داخل دې. هغه ملحق بالزکواة کيدې شی اودمنی ارډرفيس ته تحصيل زکواة کښې دخل نشته، بلکه په ترسيل زکواة کښې داخل دې. دکوم حقيقت چه دملاويدونه پس جداکول دی. دريم داچه هغه دامام تصرف دې اوداغيرامام تصرف دې. فاين هذا من ذاک رابعاً هلته عامل مسلمان دې او دلته دډاک عمله

بعضې وختونو کښې غيرمسلم هم وی. ځلورم داچه مقيس عليه خلاف قياس دې پس حکم موردنص باندې مقنصربه وی اودې باندې قياس کول مجتهدپاره هم جائزنه دی. (۱۰ جمادی الاخر ۱۳۴۶ هجری (تتمه ۵ ص ۵۷۶)

د اهل حديث د فتاوی حقيقت

په جرابو باندې مسح کول

سوال: (۱۳۲) از مولانا ابو يوسف محمد شريف صاحب کوټلی لوهارضلع سيالکوټ ۲۱ دسمبر ۱۳۲۲ ه کښې د اهل حديث په هره جرابه باندې مسح کولو د جواز فتوی شائع شوه او په دليل کښې ئې داحديث دترمذی نقل کړې وو: مسح رسول الله ﷺ علی الجوربين يعنی نبی ﷺ په جورابو باندې مسح وکړه د حديث مضمون هم دومره دې په دې باندې بعض حضرات دا زياتې کوی چه په پيړو جرابو باندې کول پکار دی. نو دوی له پکار دی چه په دې باندې دليل د نص نه راوړی او کم چه په هره جرابه باندې مسح کول جائز گڼړی نو د هغوی دا حديث دليل دې ,, ۳۱ دسمبر ص ۱۲ ،،فاضل مفتی ته دا پکار وو چه د حديث پيش کولو نه مخکښې ددې خبرې تحقيق کړې وو چه نبی ﷺ په کومو جرابو باندې مسح کړې وه هغه جرابې د تار وی يا دوړې، پيړې، يانرې وی ودونه خدط القتادشمس الحق عظيم آبادی عون المعبودص ۶۲ کښې لکی وانت خبير آن الجورب يتخذمن الاديم وکذا من الصوف وکذا من القطن ويقال لکل من هذا انه جوربه ومن المعلوم آن هذه الرخصة بهذاالهموم التی ذهبت اليها تلک الجماعة لاتثبت الابعد ان يثبت ان الجوربين الذين مسح عليه النبی ﷺ کان من صوف سواءً کانا منعلين آو ثخينين فقط ولم يثبت هذا قط فمن اين علم چواز المسح علی الجوربين غير المجلدين بل يقال آن المسح ينعين علی الجوربين المجلدين لا غيرهمالانهمافی معنی الخف والخف لايکون الامن الاديم نعملوکان الحديث قوليا بان قال النبی ﷺ امسجو علی جوربين مکان مسح علی الجوربين يمکن الاستدلال بعمومه علی کل انواع الجورب واذليس فليس يعنی جرابې څنگه چه د سرمنی جوړيږی هم دا رنگې د وړې او د تار نه هم جوړيږی، که د چمړې وی او که د وړې يا د تار ټولو ته جورابې وئيلې شی هغه چه د څو پورې دا خبره ثابته نه کړی چه په کومو جرابو نبی ﷺ مسح کړې ده هغه ادنی وې يا د تار وی يا نرې او پيړې وې نو د هغې پورې په هره جورابه مسح کول جائز نه دی او دا خبره ,,چه د نبی ﷺ جرابې پيړې يا د تار او د وړې غير مجلد وی ،، ثابته شوې نه وی نو د مجلد جرابو جوازدکوم ځائ نه معلوم شو بلکه وؤ به وئيلې شی چه مسح مجلدين په متعين باندې دې ولې چه خف ,,د موزو،، په معنی کښې دې او موزه د سرمنې وی او که حديث قولی وی يعنی نبی ﷺ فرمائيلې وو چه په جرابو باندې مسح کوې

نو حدیث قولی نه دې نو
نو په هره جرابه باندې مسح کول د حدیث د عموم نه دلیل ممکن وو ، نو حدیث قولی نه دې نو
دا دلیل هم ممکن نه دې ، هم په دې عون المعبود کښې په ص۱۲ کښې لیکلي دی ، په قاموس
کښې دی چه جرابه د ښپو لفافی ته وائی ،، او لفافه بهرنې جامې ته وائی او په صراح کښې دی
،، لفافه جامه بیرونی که بر پاءمرده و جزءآن پیچند ،، او جامه بیرونی به په هغه وخت کښې
صحیح کیږی کله چه ددې دننه بله جامه هم وی ، هم په دې وجه شیخ عبد الحق محدث دهلوی
رحمه الله په لمعات کښې لکیلي دی چه دا چه جرابه یوه موزه ده چه په موزه باندې اغوندلې
شی د کنډو پورې ځکه چه د یخنې نه پکښې د بچ کیدو ذریعه ده او لاندې د خیرې د بچ کیدې
نه ښپه ساتلې شی . عون المعبود ص ۲۱ ددې نه علاوه لفافة الرجل عام دې که د سرمنې نه
وی او که د وړی نه طیبی وائی : الجورب لفافة الجلدوهوخف معروف من نحو ساق ، یعنې
جورابه د سرمنې لفافې ته وائې هغه موزه د کنډې پورې وی ، معلومه شوه چه د سرمنې موزې
ته هم جرابه وئیلې شی ، هم داسې شوکانی شرح منتقی کښې لکی :الخف من ادم یغطی
الکعبین والجرموق اکبر منه یلبس فوقه والجورب الکبرمن الجرموق، موزه د سرمنې ځپلې ده چه
ګټې پټوی او جرموق د دې نه غټه وی چه په موزه اچولې کیږی او جورابه ددې نه هم غټه وی
نو معلومه شوه چه جورابه یوه موزه ده چه د موزې نه هم غټه ده شمس الائمه حلوانی د جورب
پنځه قسمونه بیان کړې دی چه په هغې کښې یو قسم د نرې موزې سرمنې هم ذکر کړې دې نو
معلومه شوه چه جورابه هم د سرمنې کیدیشی نو چه په کومو جورابو باندې نبی علیه‌السلام مسح
کړې وه نو ممکنه ده چه هغه د سرمنې وه ، چه د مغیره بن شعبه رضی الله عنه د یو بل روایت
کښې ورته خفین وئیلې شوې دی چه بخاری او مسلم روایت کړې دې ددې نه علاوه حدیث
ترمذی چه مفتی اهل حدیث نقل کړې دې نو په دې کښې د والنعلین لفظ هم دې چه کم مفتی
د څه مصلحت په وجه نقل کړې نه دې د حدیث الفاظ دا دی :عن المغیرة بن شعبةقال توضآالنبی
ﷺ ومسح علی الجوربین والنعلین، حضرت مغیره رضی الله عنه روایت نقل کړې دې چه نبی
علیه‌السلام اودس وکړو او په جورابو او په څپلو باندې ئې مسح وکړه چه د ترمذی په حاشیه کښې د
خطابی په حواله سره لیکلې دی چه نبی علیه‌السلام صرف په جرابو باندې مسح نه وه کړې بلکه د
هغې سره په څپلو باندې هم مسح کړې وه نو چه کم سړې صرف په جرابو باندې بغیر د څپلو نه
مسح جائز ګڼړی نو په ده دلیل لازم دې نو کیدیشی په دې وجه مفتی اهل حدیث د النعلین
لفظ ختم کړې دې . او که وؤ وئیلې شی چه تاسو مسح علی النعلین او جوربین بیله بیله کړې
وه نو دا احتمال د حدیث سیاق رد کوی په دې وجه چه په یو اودس کښې مسح علی النعلین او
جوربین نه شی متصور کیدې علامه عینی په شرح هدایه ص ۳۲۹ کښې فرمائی کون
[...]ب منعلاً وهو محمل الحدیث الذی رواه آبو موسی الاشعری وغیره :یعنی امام اعظم رحمه

الله چه جرابو ته ئې منعل فرمائلې دی نو هم دا ددې حدیث محمل دې چه کم ابو موسی اشعری
وغیره نقل کړې دې بهر حال نبی علیه‌السلام چه په کومو جرابو مسح کړې ده هغه به په نرې جرابو
محمل کوو یا په پیړو جرابو ځکه په حدیث کښې مطلق جرابه راغلې ده او د فعل په حکایت
کښې عموم وی نو په دې وجه په هر قسم جرابو باندې مسح کول د حدیث نه هر ګز نه ثابتیږی
دا تحقیق دحدیث د صحت د منلو نه پس دې چه مفتی د ترمذی په حواله لیکلې دی .بلکه د
سلفونه په دې حدیث باندې جرح منقول ده . ابو داؤو مع عون المعبود په ص ۲۲۰ کښې دی
ابو داؤد وائی چه عبد الرحمن بن عوف به دا حدیث نه بیانه وؤنو په دې وجه د مغیره نه
مشهور دې هغه دادې چه نبی علیه‌السلام په موزو باندې مسح وکړه .نسائی په سنن کبری کښې وائی
.لانعلم آحداًتابع آباقیس علی هذه الروایة والصحیح عن المغیرة انه علیه‌السلام مسح علی الخفین ۵۱
نصب الرایهص ۹۶ مونږه ته نه ده معلومه چه د ابو قیس په دې روایت کښې څوک متابع وؤ او
صحیح د مغیره نه هم دا ده چه نبی علیه‌السلام په موزو باندې مسح وکړه او بیهقی وئیلې دی چه دا
حدیث منکر دې .دا سفیان ثوری او عبدالرحمن مهدی ،احمد بن حمبل ،یحیی بن معین
،علی بن مدینی ،مسلم بن حجاج ورته ضعیف وئیلې دې او مشهور د مغیره نه حدیث په
موزو باندې مسح کول دی قال النووی کل واحد من هؤلاءلوانفردقدم علی الترمذی مع آن
الجرح مقدم علی التعدیل.نووی وائی چه په ائمه کښې یویو په ترمذی باندې مقدم دې نو ددې
نه علاوه جرح مقدمه ده او حفاظ حدیث ددې په ضعف باندې متفق دی .او د ترمذی حسن
ورته وئیل معقول نه دی ،،، زیلعی ص ۹۷،، احیاءالسنن ص ۱۳۰ ج۱ کښې د ابن ابی شیبه په روایت
سره لیکلې دی سعید ابن مسیب او حسن بصری رحمهما الله وائی که جرابې غټې وی نو په دې
مسح کول جائزدی او هم دارنګه ترمذی په ص ۱۵ کښې دی :یمسح علی الجوربین وان لم یکونا
منعلین اذاکان ثخینین که جرابې نرې نه وی او غټې وی نو په دې باندې مسح کول جائز دی نو
معلومه شوه چه په نرو موزو باندې مسح کول جائز نه دی . والله اعلم ضمیمه ختمه شوه ،،تتمه ۵ص۵۱۵،،

رساله الهادی للحیران فی وادی تفصیل البیان

د حمداو د صلوة نه پس یو کتاب تفصیل البیان فی مقاصد القرآن چه د مختلف مضامین په
اعتبار سره ئې تبویب شوې دې چه نامکمله جلدونه ئې د اظهار رائې په صورت راغلې دی په
هغې کښې څه ماهم ولیکل او څمایو ملګری هم ولیکل او مصنف صاحب ته ورولیږل د مفید
کیدلو په وجه دا مجموعه مصنف سره د خطه ئې د ځان سره کیښوده او دې ته ئې یو لقب هم
ورکړو الهادی الحیران .فی وادی تفصیل البیان: مخکښې دا خط وګورئ اشرف علی ۲۱رجب ۱۳۵۰ھ

خط مصنف صاحب : مکرمی جناب مولاناصاحب داما برکاتهم .السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته .ددې عریضې سره یو جلد تفصیل البیافی مقاصد القرآن هر چهار خصه په خدمت کښې ارسال کوم د قرآن کریم کوم یو آیت دراوستلود پاره په عربی کښې مختلف کتابونه موجوددی خو د کم ځائې پورې چه ماته علم شته نو د قرآن د مطلب او د معنی په اعتبار سره یو داسې جامع کتاب تر اوسه پورې نه دې تیار شوې چه په هغې کښې د علماؤاو د واعظینو او دعام لوستنکو دپاره بغیر دځه تکلیف نه د قرآن متعلق ټول آیتونه یو ځائې ورته پیداشی او د کتلو ورته تکلیف نه وی .نود ډیرې مودې نه پس ماته ددې قسمه خدمت خیال پیداشو مګر د کار عظمت او د داسې محنت طلبې په وجه به باربار ځما همت مات شو .خو آخر ما د الله په نوم باندې شروع وکړه دیوداسې کارچه دیوازې انسان دوس خبره نه ده او ډیره مشکله ده السعی منی والاتمام من الله .په دې توکل باندې ماشروع وکړه نو د خدائ ډیر شکرونه دې چه ما ته ئې د خپل کلام د خدمت توفیق را نصیب کړو د دې بوډاوالی او د ضعف په زمانه کښې ئې ځما نه د ځوانانو په شان همت ئې راکړو ما د خپل قابلیت مطابق د دې کار اختتام وکړو فالحمدلله علی ذالک. چه تاسو کتاب وګورئ نو په تاسو باندې به واضحه شی چه استدلالات ،امر ونهی ،قصص،حکایات،بصائر وعبر، غرض دا چه د قرآن دهر یوې موضوع مطابق بیل بیل آیاتونه جمع کړې شوې دی او د مطلبونو په فهرست کښې حتی الوسع د جامعیت د پیداکیدلو کوشش شوې دې ځه داعرض کوم چه ما کم کتاب د ستاسو په خدمت کښې پیش کوم هغه په اتو۸ ، جلدونو باندې مشتمل دې چه په هغې کښې دوه جلدونه زیر طبع دی او دوه زیر تحریردی نوپه دې وجه که په دې طبع شوې جلدونو کښې ځه مطالب په نظر رانه شی نو ماته خبر راکړئ او تاسو یقین وکړئ چه هغه به انشاءالله په باقی جلدونو کښې راشی .په دې مختصر عریضه کښې په زیات تفصیل سره ددې کتاب افادیت بیانول ډیرمشکل هم دی او غیر ضروری هم دی دا کتاب د ستاسو په خدمت کښې دې او د ستاسو په شان ارباب علم وبصیرت په خپله د دې کتاب د حسن او دقبح اندازه کولې شې. ددې د ارسالولو مطلب دا دې چه تاسو زرترزره په ړومبنی فرصت کښې په دې دینی خدمت باندې تقریظ ولیکئ او په ما باندې احسان وکړئ د دې کتاب نه د جلب منفعت خیال نشته بلکه صرف د کلام الهی خدمت او د خپل مغفرت خیال د دې ترتیب واشاعت محرک شوې دې

غرض نقشے است کزمایادماند — که هستی را نمی بینم بقائے
مگر صاحبدلے روزے به همت — کنردرکار این مسکین دعائے

ماته امید دې چه دکتلونه پس به ددې په رسید کښې خپله مشوره ارسال کړې چه مسلمانانو ته ددې اغستلو ترغیب وی او د قرآن وئیلواو د پوهیدلو فرق عام شی :۱۷نومبر ۱۹۳۱ء

جواب احقراز اشرف علی :بخدمت مکرمی محترمی دامت الطافهم السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته . نامه نامی وهدیه ګرامی بصورت تفصیل البیان د منت په وجه دوچنده شو ځه د په وجه په مشکل کښې یم اول دا چه کم خدمت ما ته په حواله شوې دې ځه د هغې اهل نه یم په دې وجه چه په دې زمانه کښې په زرګونو تصنیفونه شائع کیږی ما د چا متعلق د خپلې رائې اظهار جرآت نه دې کړې خو د امر نه پس امتثال نه کول د ډیر خجلت سبب وه نو په دې وجه ما دا خجلت ګوازه کړودویمه دا چه په دې خدمت کښې ځما نه ډیر تاخیر وشو چه د هغې وجه د عدم اهلیت او د مصروفیت وو چه دهغې تعلق د مشاهدې سره دې او دریمه خبره ,,, د ټولو مشکلاتو نه زیاته اهم ،، چه خدمت ما د عرض مطابق ونه کړو او ځه د دینی حیثیت سره معذور یم چه هغه په دې حیثیت سره ظاهریږی یاایهاالدین امنو کونو قوامینبالقسط شهداءلله ولو علی انفسکم ،، الایه داټول مشکلات دچه جمع شی نو د حافظ یوشعر راته یادشی .

زدست کوته خودزیرباارم — که ازبالابلندانشرمسارم

اب المامورمعزورپه وجه دیباچه او د مضمونو فهرست سره د خطه دهغې خدمت تفصیل مجمل پیش کوم او ورسره ورسره معافی هم غواړم په دیباچه کښې ۱ مقصود باالبقائې قومیت ته وئیلې دی ۲ او فقه ته ئې بیکاره وئیلې دی ۳او حدیث ئې صرف د قرآن تفسیر ګرزولې دې چه ددې نه معلومیږی چه د قرآن نه مستقلاً احکام نه ثابتیږی ۴ چه د قرآن حاصل د قومی انحطاط په وجه دترقې طرف ته دتوجه کولو ښکاره کړې دې ۵اهل سیاست ته ئې بغیر د څه قیداو شرط نه د سیاست مسائل دقرآن نه د پوهیدو اجازت ورکړې دې او په دې غرض ئې د قرآن دا تبویب کړې دې ۶ مخکښې ئې د څه کتابونو نومونه لیکلې دی چه دهغې نه ئې د خپل کتاب مدد اخستلې دې او دا اقرار ئې هم کړې دې چه په دې کتابونو کښې کم کار شوې دې هغه د بل قسم دې او دا کتاب د بل قسم دې دومره خو پخپله اقرار دې باقی د دې د تفصیل زیات فرق به هله معلوم شی چه کله هغه کتابونه وکتلې شی .دومره په هغه وخت کښې هم وئیلې کیدیشی چه د چا دا کتابونه دې په هغوی کښې بعض د اقتداء قابل هم نه دی او د جواهر قرآن په نسبت د بعض کتونکونه مې اوریدلې دی چه په دې کښې د حمد او د ثناء آیاتونه د وظیفې په طور ذکرشوې دی اونه د پورا قران استیعاب مقصود دې اونه ترتیب ابواب ،اونه اثبات احکام،او که د قابل اقتداء نه دا ثابته وی نو کیدیشی چه په هغه وخت کښې د څه فساد خطره نه وه او په خلاف ددې زمانې چه بعض ددې پورې د خیال اظهار کوی چه ددې ترتیب په ځائې د نزول په ترتیب کول پکار وو نوپه دې تبویب کښې د داسې خیالاتو تقویت دې په دې وجه د دې قیاس په نورو باندې صحیح نه دې .بهر حال په دې کتاب کښې دنورو کتابونودعوی نه شی کیدلې ۷ مخکښې د موضوعات په فهرست کښې د حب الوطنی

ترغیب او د سر مایه داري مذمت ئي په مثال کښې اچولي دي حالانکه ددي الفاظو چه په دي وخت کښې چه کم مفهوم دي نود قرآن هغي سره څه تعلق هم نشته نو غیر مدلوله قرآنی د دي مدلول جوړول د یو قسم تحریف دي ۸ مخکښې ئي د عوام دنفع د پاره ترجمه کول مناسب ګڼلي دی او نفع هغه چه دکومي ذکر په ۵کښې وشو نو په دي کښې عوامو ته د قران نه ډ مسئلود اخذ کولو اجازت ورکړي دي چه د هغي فسادات ښکاره دی .او دا مختصر او مجمل کلام دي .د دیباچه د بعض جزونو نه پس د خط یو څو اجزاء متعلق معروضات دی ۸ په خط کښې ددي تدوین دا مصلحت ذکر شوي دي چه د یو مضمون آیاتونه به په یو ځائي کښې وی نو اول د دي غرض د پاره هغه کتابونه هم کافی دی چه په کومو کښې ئي د قرآن فهرست سره د مقام نشانات هم لیکلي دی صرف جامع ته لګ شان مشقت چه هغه ډیر مشکل هم نه دي برداشت کول ورته ضروری دی دویمه که ددي مصلحت سره څه مفسد هم وو نو سمعا او عقلاً مفسده ته مؤثر او وایو او ددي نه به د تحرز حکم ورکړو او د مصلحت اهتمام به ونه کړې شی خصوصاً په هغه وخت کښې چه دا مصلحت د بلي صحیح لارې نه حاصل نه شی ۱۰ مخکښې تحریر شوي دی چه کم مطلبونه په دي جلدونو کښې په نظر رانه شی نو د هغي اطلاع راکړئ نو هغه به په نورو جلدونو کښې پیش کړو نو ددوی په خدمت کښې دا عرض دي چه د داسي مطلبونو لوي فهرست دي په آسانئ سره ئي نه شو ضبط کولي نو په دي باندي د اطلاع هم دا طریقه وه چه ټول جلدونه او فهرستو نه مخامخ وی چه د هغي نه په دي وخت کښې معذوری ده او د هغي نه علاوه دارائی اختیارول چه انتخاب مکمل دي یا غیر مکمل دا ډیره مشکله خبره ده البته په موجوده فهرستونو کښې د حب الوطنی او د سرمایه داري وغیره دکتلو نه پس داسي معلومیږی چه داسي توقی به په نورو اهم مسئلو کښې به هم ددي اثر ظاهرشوي وی لکه څنګه چه هدایت بالجهاد ،لمحض الدین ،یا استرقاق یا صدور معجزات وکرامات او په نورو جلدونو کښې هم دا موضوعات نه وی او نوري ډیري مسئلي د دي قسم دی کومي چه دزماني عقلمند او دعلماءددین سره اختلاف لری که په دي کښې هم نه وی نو انتخاب جامع نه دي چه دا اجزاء ورنه خارج شو .او نه مانع دي چه حب الوطنی او سرمایه داری وغیره پکښې داخل دی ۱۱مخکښې د نیک نیتئ ذکر کړي دي په دي د کلام کولو چاته هم حق نشته البته د دومره عرض کولو اجازت غواړم چه په قانون الهی کښې ثواب صرف په نیت موعود نه دي بلکه د عمل ماذون فیه کیدل هم پکښې شرط دي او د اوسه پورې د دي ماذون فیه په ذهن کښې نه دي راغلي لکه څنګه چه مفصلاً معروض شو ۱۲د دي نه پس د تقریظ د پاره وئیلي شوي دی نو په دي کښې هم هغه عذردي چه کم ددي عریضه په شروع کښې معروض شوي وو یعنی تقریظ شهادت دي اوځما معذوره کیدل په تفصیل سره په شروع کښې ذکر شوي دی په اخر کښې درخواست دي چه څلور واړه جلدونه په امانت سره پراته دی که د

تکټ سره ماته د رالیګلو اجازت راکړې شی نوچا مستحق ته به وروړسی ما احتیاطاً یوخپل دوست ته د هغه د خیال دحاصلولو د پاره دا جلدونه ورکړي وو او دهغه رائي به په بیله پاڼه تحریر وی اګرچه د هغه لهجه ځما د تحریر د لهجې نه ډېره صفاء ده لیکن د مقصود په اعتبارسره بلکل د انصاف ده نو اوس د متکلم او مخاطب او د غائب په دعاء سره دا معروضه ختمه وم

اللم ارناالحق حقاوارزقنااتباعه والباطل باطلاوارزقنااجتنابه والسلام

از تهانه بهون اول عشره اخیررجب ۱۳۵۰ه،، النور محرم۱۳۵۱هص۱۴

د ندوې ږومبنې خط او درساله الندوه مضمونونه

دجامع رسالې تمهید: حامداًومصلیاً په دي ورځو کښې اتفاقاًفیما بین مجلس ندوةالعلماء وجامع منقول ومعقول حاوی فروع واصول حضرت مولانا اشرف علي تهانوی مدظله څه خط او کتابت واقع شوي وو ددي تحریرات نه د ندوه اصلی حالت ظاهرشو چه دهغي نه د ډیرو حضراتو چه هغه دندوې نه په شک کښې وو نو هغوی ته اطمنان ن حاصل شو او ورسره په دي تحریراتو کښې هم داسي مضمونونه مفیده هم شته چه د ندوې د تعلق نه بغیر د نورو خدمت ګزارو پکار راتلي شی هم د دي د پاره دیو بیغرضه جماعت ته د مشورې ورکولو نه ددي اشاعت ډیر مناسب راته ښکاره شو ددي فوائدو نه علاوه د چا مخالفت ددې د اشاعت مطلب او منشاء نه ده او پخپله د حضرت موصوف هم دا مزاج نه دی او د داسي خیالاتو نه ئي نفرت دي په دي وجه به لوستنکو ته پخپله معلومه شی .او که په دي باندي څوک قصداً یا خطاًداسي ګمان کوی نو د دوی په جواب کښې د دي نه علاوه بل څه وئیل بیکاره دی فهدی الله الذین امنوالما احتلفوا فیه من الحق باذنه والله یهدی من یشاء الی صراط مستقیم.

د ندوې ږومبنې خط :چه د هغې سره یوه رساله موسوم به الندوه اول جلد هم دي .بخدمت جامع الکمالات القدسیه مؤلوی اشرف علی تهانوی صاحب دامجده :د سلام مسنون نه پس ګزارش دي چه ندوة العلماء یوه رساله جاری کړې ده چه د جناب په خدمت کښې د کتلو دپاره ارسال کوو او همیشه به ارسال کولې شی که جناب په خپل کرم سره کله کله خپل مضمونونه د شائع کولو اجازت راکړی نو بنده به ډیر مشکور وی او ضرور ده چه داسي مضمونونه هم په دي کښې شائع شی چه په کښې د نوې اخلاق د خلقو دپاره د حسن اخلاق او د روحانې کیفیتونو شوق ورته پیداشی چه صرف مادی ترقی د انسان دپاره اله نه ده .ماته معلومه ده چه په موجوده خلقو کښې د جناب نه بهتر بل څوک دا کار نشې کولې لهذا په عنایت سره زما دا استدعا قبوله کړې والسلام ،ناظم ندوةالعلماء..

جواب: مخدمی ومکرمی دامت برکاتهم. السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته الطاف نامه مع رساله الندوه اول جلد راورسیدو دیاد آوري د پاره ډیر مشکور یم دمولانا بد فطرت نه زما طبعاً نفرت دې د څه واقعي طرف ته اشاره کول ډیر ګران دی او تجربې هم داخبره مشکله ثابته کړې ده خو په الطاف نامه کښې ماته د څه مضمون اجازت راکړې دې نو په دې وجه غالب امید لرم چه دا مضمون خاص چه د هغې حاصل یوه نیکه مشوره ده باوجود د خاص خطاب کیدو نه د اذن من وجه په وجه اهل مجلس ته به نابنوبنه نه وی وهو هذا. مسلمانانو ته چه په دې وخت بلکه په هر وخت کښې ضرورت وی هغه صرف دهغه د دین اصلاح ده. او د دنیا صرف ددومره حصه چه په هغې کښې دده د دین حفاظت وی، چه انجمن یا د رسالې اصلاحي خدمت په حیثیت سره تجویز شی ددې کارهم داپکاردې. او د دې سره دا هم ضروری ده چه د دې اصلاح متعلق کم تدبیر یا تقریر وشی چه اولاً هغه دومره صفاوی چه دابهام او دحق ایهام نه بلکل خالی وی دویمه حتی الامکان آسانه او مختصردومره وی چه په موجوده حالات کښې ئې برداشت کړې شی. دریم دخو مقصدونوپه جمع کښې رعایت الاهم فالاهم پکار دې. ددې تمهید نه پس زه ددې رسالې متعلق او د کم مجلس نه چه شائع کیږی دهغې متعلق څه عرض کول غواړم. د ټولو نه اول مضمون په دې کښې د ندوه ضرورت دې چه دهغې په وجه ضرورت چه د اثناء تقریر کښې دا مقصدونه ذکر شوې دی.

زمونږه علوم اوفنون: په دې علوم او فنون کښې توضیح اوتعین ضروری دې چه آیا دهغه علوم دی چه په مذهب کښې دهغې حفاظت داخل دې؟ یاصرف ده دی. چه هغه صرف دفخراوداشتهاردی. په اوله حصه کښې د ندوه ضرورت ثابت دې خوابهام یا د وهم شک او شبه باقی ده چه بغیر د تفصیل او دتوضیح نه نه دفعه کیږی. په دویمه حصه خو ضرورت ثابت نه دې بلکه د نقصان حکم ظاهر دې. هم داسې قومی خصوصیات یو مجمل لفظ دې چه په هغې کښې هم دا تقریر جارې دې، ددې نه پس په د تدبیر په تقریر کښې په تعلیم قدیم کښې دا نص بیان کړې دې چه دهغې نه ددې اغراض د حاصلیدو توقع هم نشته. کاش چه هغه اغراض متعین شوې وې نو هر مسلمان به پکښې غور کولې چه د تعلیم قدیم نه دا غرض نه حاصلیدې یا څه وړه کمی ده پکښې چه د هغې په لګ غوبډې ترمیم سره ادراک کیدیشی. هم هغه ابهامات دلته هم دې دویمه خرابی دا خودلې شوې ده چه په دې علمی بلندنظری نه پیدا کیږی([۲۳]) او د بلندنظرې مطلق شرح نه ده کړې داسلام د تعلیم نه چه کم اصل مقصود دې هغه د عقائد اواعمال اواخلاق صحیح کیدل چه د هغې حاصل طلب د رضائې حق دې آیا بلند نظری د دې نه علاوه څه بل خیز دې او که نه وی نو ددې دپاره په تعلیم قدیم کښې څه کوتاهی

[۲۳] اصل عبارت دادی چه طریقهٔ تعلیم داسی ده چه دخاص کتابونو لوستلونه سوا په طالب علم کښی هیڅ قسمه بلندنظری نه پیداکیږی.

ده آیا په خلقو کښې چه دا ښه اوصاف پیدا کیږی نو آیا دې خلقو ته د تعلیم جدید هم حاصلول ضروری دی څنګه چه نن ډیر خلق د بلند نظرې دعوی ساتی او ددې د پاره نوې لارې اختیاروی اوهغوی د تعلیم قدیم نه علاوه نور څه حاصل کړې دی یا په حالت باندې دا مضمون صادق کوی.([۲۴])

کس نیاموخت علم تیراز من
که مراعاقبت نشاته نه کرد

او بلند نظری څه بل خیزوی نو نعوذبالله د الله تعالی نه هم څه بلند خیز شته مخکښې یو لفظ دې د قوم بقاء دا هم د شرح محتاج دې نو آیا د مذهب د بقاءنه علاوه ددې نور څه مفهوم شته یا ددې دویم تعبیر دې په شق اول باندې ضرورت ثابت نه دې او په شق ثانی باندې دا په څو امور باندې موقوف شوې دې، قومی لټریچر، قومی علوم او فنونه قومی تاریخ، دالټریچر خو د کم نظر په ذهن کښې رانغی او نه په دې وخت کښې څوک د انګریزی پوهیدنګې موجود شته او نه ما ددې دپاره څوک وکتل ځکه چه اسلامی رساله ده او مخاطب ئې هم مسلمانان دې نود انګریزې په کښې څه خاص ضرورت نه وو چه دا الفاظ ئې په کښې داخل کړل آیا په عملی طور باندې د انګریزې ضرورت ثابتیږی. که ددې داطریقه وی نو کامیابی ئې ډیره مشکله ده په دې وجه هر سړې هم هغه وئیلې شی چه کم ما ووئیل که مونږه ته مشوره په داسې الفاظ راکړې شوې ده چه مونږه پوهه نه شوو په دې وجه د غور کولونه معذوره یو. نو په دې وجه د شفقت اومهربانې نه ډیره لرې خبره ده کلموا الناس علی قدر عقولهم نودا قضیه مسلمه ده. د انګریزئ ژبې پوهیدو دپاره خو دانګریزئ ضرورت تر اوسه بیانیدلو مګر ددې طرز عمل نه دا خبره معلومیږی چه په لږو ورځو کښې به دا هم وئیلې شی چه هندوان دې د مسلمانانو په ژبه پوهیدو دپاره انګریزی وائی مګر ددې التماس به څه جواب وی. تر څو پورې چه مونږه په خپله کاهلئ سره نه وې وئیلې نو د هغې وخته پورې زمونږ د همدردې دا اقتضاء ده چه زمونږه سره په خپله ژبه کښې خبره وکړې شی. قومی علوم([۲۵]) اوفنون که چرې ددې تفسیر متعین وې نوڅۀ به عرض کړې شوې وې ورپسې دی. قومی تاریخ: نو ددې په دین باندې د موقوف علیه څومره حصه ده زه ددې د اوریدو شوق لرم چه صحابه کرامورضی الله عنهم په دی کښې ظاهری او باطنی دومره کامیابی حاصله کړه او د قومی تاریخ نه ئې ډیر کار واخستو. اواوس څه نوی وجه پکښې پیدا شوې ده، ددې نه پس ئې دندوةالعلماءهم دا مقصدئې لیکلې دې او ورسره ئې د نتائجو ظهور د یو معتدبه جماعت په وتلو سره ئې موقوف کړه ده په دې کښې اولاً دا عرض

[۲۴] اصل عبارت دادې چه د یوقوم دبقاء دپاره ضروری ده چه هغوی سره دهغوی قومی لټریچروی، قومی علوم اوفنون وی قومی تاریخ وی.۱۲

[۲۵] اصل عبارت دادې چه دندوة العلماء قائمولو اصل مقصدهم داوو لیکن ددې نتائج هغه وخت پورې نه شو ښکاره کیدې چه ترڅوپورې یوکافی جماعت دهغې د درسګاه نه تعلیم نه وی حاصل کړی.

نو دي چه هر یو مقصود او د هغې په طریقه کښې دیو مناسب او ملازمت کیدل ضروری دی. نو ملازت څه دریافت طلب دا امر دي چه دندوه حالت موجوده نه ددې مقصد د حاصلیدو وجه ده. هلته چه په دې وخت کښې کم تعلیم او تربیت دې نو دې ته څه خاص معتدبه امتیاز نه نورو درسګاهونو نه حاصل دې چه دهغې په وجه د نورو نه د داسې نتیجې توقع نشته او د ندوه نه شته دویمه. ددې دظاهرېدو څه مدت متعین هم شته او که د مثل مشهور په شان. تاتو بمن میرسی من بخدا میرسم. مصداق دې. که شق ثانی وې نو د فاتحه سره خاتمه او که شق اول وی نو چه څومره موده د درسګاه د قیام شوې ده نو آیا دا موده کمه وه. په دې موده کښې دننه دې پښوانو غیر منتظم ګداګرو او غیر منضبط او مختلفو درسګاهونو کښې یو لوئ جماعت د میزان نه تر د بیضاوی پورې دا نن د قوم په اصلاح کښې مشغوله دی. او دلته هنوز د درومبئ ورځې په شان دی. نو بیا به ددې نه څه توقع وی. او که دا عذر وکړې شی چه هغه نتائج ډیر لوئ او صعب وې. چه د هغې د پاره ډیره لویه موده پکار ده نو ددې په نسبت به داوئیلې شی چه دا قصد قاعده عقلیه واجب الرعایت الاهم فالاهم نه خلاف ده د مسلمانانو موجوده مرض چه د کومو امراضود علاج تقاضه کوی نو هغه قابل نظر هم زیات دې او مختصر او آسان هم دی. دا پرینبودل او قوم په یو مشکل کار کښې ابنته کول نو دوی تلف کول دي.

طفل راګرنان وهی بر جائې شیر   طفل مسکین راازان نان مرده ګیر

وریسې د اغراضو(۲۶) بیان دې. (۱)د اسلامی علوم او فنون په اردو کښې بیان کول نو ددې علوم وفنونو اجمال ددې نه د څه رائې ورکولو مانع دې (۲)نو مسلمانانو په تهذیب او تمدن باندې تاریخی مضمون لیکل، دا دتهذیب اوتمدن دا لفظ هم مبهم دې او که ددې هم هغه معنی وی چه کومه نن صبا عامه ده نو معلومه نه ده چه دې ته په دین کښې څه دخل دې بلکه که احتمال وی نو د مضر به وی. او که دتهذیب نه مراد تهذیب نفس دې او د تمدن هم هغه تمدن چه ددې تهذیب اثر دې لکه خشیت دالله تعالی نه تواضع زهد او قناعت د الله تعالی په مینه کښې خپل ځان او مال ننګ او ناموس باخته کول که د لاس نه نوړئ په زمکه باندې وغورځیږی نو د الله تعالی نعمت په وجه د نورو قومونو د سردارانو په مخکښې خوړل او د چا

۲۶) اصل عبارت د الندوة دادې په دې وجه دامناسب معلومه شوه چه د ندوه د طرفه یوه ماهنامه رساله اوویستلې شی چه دهغې دا مقاصدوی (۱) داسلامی علوم اوفنون مهمات اومسائل په داسې طریقه اردوژبه کښې بیان کړی شی چه انګریزی او اردو ویونکی خلق پرې په آسانئ سره پوهه شی اودهغې نه فائده واخلی.(۲) دمسلمانانو په تهذیب اوتمدن باندې تاریخی مضامین اولیکلې شی.(۳) اسلامی عقائد دموجوده فلسفی حملونه بچ کړی شی.(٤) په قدیم اوجدید علوموکښې موازنه اوکړې شی.(٥) کوم علم چه مسلمانانو د یونان وغیره نه حاصل کړی دی دهغې تاریخ اولیکلې شی چه دهغې نه ښکاره شی چه مسلمانانو په دې علوموکښې په خپله څومره اضافه اوکړه اونن یورپ چه دې علوموته څومره ترقی ورکړی ده هغې سره ندوی څه مناسبت دی دا پرچه هم دې غرض سره ویستلې کیږی دې سره سره ندې پرچې داهم یولوئې مقصد دی چه د جدید علومو مسائل په اردو ژبه کښې راوړلې شی چه عربی ویونکی هله ددې نه فائده واخلی...والاتمام من الله. ۱۲

په دې وینا چه داخلق به وخاندی او په خپل زړه کښې به تحقیر وکړی دهغې جواب په داسې آزادې سره ورکول چه دیو څو کم عقلو د خندا په وجه څه د نبی علیه السلام طریقه ولې پریږدم او که جامه وشلیږی نو په هغې کښې څوڅو پیوندونه لګول. او په څه وخت کښې خپله څپلې ویستل او دتواضع په خیال د لرې پورې بغیر د څپلونه تلل. او خپله سودا په خپل سر ایښودل او بازار ته تلل. که د خپل نوکر نه په خطاکښې څه زیاتې وشی نو په ډیر عاجزې سره د هغه نه معافی غوښتل. او که غریب په ډک مجلس کښې دخپل حق مطالبه وکړې نو په هغې باندې شرمنده نه کیدل. او خپل ځان د ټولو نه کم ګڼړل او که لګ شان په خپل دماغ کښې د ترفع خیال پیدا شی نو د هغې د علاج دپاره د یو غریب د پاره د هغه د کور اوبه راوړل. الی غیره، نو په داسې تهذیب باندې قربان چه کمه رساله یا کمه مجمعه ددې تعلیم کوی نو په هغوی باندې مونږه قربان خو تر اوسه پورې چه څومره نمونې خودلې شوې دی. او خودلې کیږی به چه په هغې کښې یوه رساله د سترګو په وړاندې ده چه دهغې د لفظ لفظ نه د فخر او دشوکت او دلوئ والې محسوسیږی او ددې نه لوئ نمونې هغه دی چه هغې ته سالانه جلسې وائي. ددې رسالې کاغذ هم د ضرورت نه زیات قیمتی کیدل او چه ماته کم خط راغلې دې دهغې کاغذهم ډیر عمده دې اوددې سره یو بې ضرورته یو کاغذساده هم دې چه هغه هم په وړه نمونه کښې داخل دې. غرض د اوسه پورې چه څومره علامات دې دهغې هم دا ثابتیږی چه مقصود اصلی د خلقوپه نظر کښې لوئ کول دی. اونه دا چه د حق تعالی په نظر کښې لوئی او مقبول جوړیدل دې نمونو ته دکتلو سره بې اختیاره په ژبه دا مصره راځی. قیاس کن زګلستان من بهار مرا. البته الله تعالی قادردې چه ددې نمونو د غیر مستحن کیدلو اعتراف وکړې او بیا ئې پریږدې چه ددې لرې والی مبانی وو نو البته توقع کیدیشی چه په داسې تهذیب او تمدن باندې ترغیبی مضمونونه ولیکلې شی (۳)عقائد اسلام دفلسفې د حملو نه بچ کول دهغې هم دوه طریقې دی یوه هغه چه کومه سید صاحب علی ګړهی اختیاره کړې وه چه په عقائدو کښې ئې تبدیلی کړې وه نوبیا ئې په فلسفه باندې منطبق کړه. اودویمه طریقه چه علماءد همیشه نه اختیاره کړې ده چه په کم ځائې کښې مسئله عقلیه قطعیه وی نو هلته ئې د عقائدو عدم مخالفت ثابت کړې دې او چه په کوم ځائې کښې قطعی نه وی نو ددلیل مطالبه ترې نه کړې ده. او په کوم ځائې کښې چه نص قطعی غیر محتل التاویل نه خلاف وو نو دهغې د باطلیدو دعوی سره دلیل د باطلیدو پیش کړې وو. که چرته طریق اول وی نو دهغې په نسبت دومره وئیل کافی دی، حق تعالی زین چنین خدمت غنی ست، او که طریقې ثانی وی نو مباک دې وی. په دې وخت کښې دا امر ډیر ضروری دې مګر اطمنان به هله وشی چه دوه څلور مضمونونه د نمونې په طور په نظر باندې راشی. (۴)په علوم قدیمه او جدیده کښې موازنه کول راته معلوم نه دی چه ددې د حفاظت دین سره څه تعلق دې (۵)په علوم ماخوذ کښې داهل یونان تاریخ په خاص طور سره

لیکل د حفاظت دین سره ددې تعلق وجه هم په ذهن کښې نه راځی د ټولونه په اخره کښې د استفادې دپاره دعربی خوانو علوم جدیده په اردو کښې راوړل منجمله مقاصد بیان کړی دی،ددې تمتع نه څه مراد دې آیا صرف تفریح ده یا دوی ته د جواب ورکولو طریقه هم وئیل دی په شق اول کښې شعر گفتن چه ضرور یاد راځی .په شق ثانی که د مسائلو سره جوابونه هم وی نو ددې دریم ۳ نه ممتازنه وی او که بغیر د جواب نه وی نو هسې په خیالات کښې تشویش اچول دی او د بښه مزاج کس له بیمارول دی اکم د دین خدمت دې .ددې ځائې پورې د ندوه ضروری مضمونونه ختم شول چه په هغې باندې مختصر مختصر گذارشات وکړې شو .ددې نه پس په دې باندې یو مضمون دې دانسان د مذهب فطرت یا مطلق مذهب :که مذهب حق مرادوی نو خبره غونډه ده ددې تصریح پکاروه دویمه ددې مشترک اولازمه انسانی کیدل ددې نه باوجود چه په زرږونو مذاهب باطله دی فی نفسه هم صحیح نه ده .او که مطلق مذهب مراد وی نوماول کولوسره صحیح وئیلې کیدې شی .خوپه دې صورت کښې نقصان دې ځکه چه ددې مضمون په لیدلو سره داشبه پیدا کیږی چه ټول مذهبونه د موافقت فطرت انسانیه په وجه حق دی حالانکه مبنٰی هم فاسده او مبنی هم فاسده شی په دې کښې غور دې چه دداسې مضمونونو نه دین ته څه فائده رسی .مخکښې په علوم القرآن باندې مضمون دې په دې مطاوی تقریر کښې چه ځائې په ځائې تسامحات دې ددې ټولو نه قطع نظر کولو نه پس صرف دومره گذارش دې چه ددې مضمون نه څه مقصود دې که صرف دومره وی چه تیر شوې وخت په یاد کښې راوستل او په ماضی باندې افسوس او په حال باندې ملامت کول دی .او په راتلونکی وخت کښې تحسر اوغم معطل کول دی .نو دا خو سراسر ددین خلاف او فساد دې اوکه دتدارک ترغیب ورکول وی نو ددې طریقه وئیل پکار دی او ددې کتابونونومونه متعین کول پکار دی او د طرز عمل تعلیم پکار دې اوکه داسې نه وی نو دا گمان کیدیشی چه مضمون نگار صاحب خپل تاریخی واقفیت ښائی او همه وان وئیل ښوښه وی چه دهغې حاصل همدردی پریښودل اوخود غرضی اهتمام کول دی .ددې نه پس په اخلاق عرب باندې مضمون دې .مضمون خو فائده مند دې خوغایت ددې چه په خپله پکښې ددې اقرار دې دومره سست او خام دې چه دې مضمون داسلامی خدمت په منزلونولرې کړې دې دهغې غایت دادې چه د یورپ دخلقودنومونوسره دعرب مقدس نومونوبه هم زمونږ دځوانانو په ښولو باندې وی اوکه ددې په ځائې ددې نیت وې چه چه زمونږه ځوانان په اخلاق کښې ددوی تقلید کوی نو په دې نیت سره په دې مضمون ثواب هم وو او اسلامی خدمت هم وو.او بیا په اخلاقو کښې دټولو نه مقدم هغه اخلاق لیکلې دی چه کم نن سبا د ناز او دفخر شمارلیکیږی افسوس چه دټولونه مخکښې ئې خشیت الهی لیکلې وې چه هغه مبنٰی دې دټولو اخلاقو نو د الاهم فالاهم څنگه رعایت به وساتلې شی څه اووایم الله تعالی دې معافی وکړی هم دا هغه قرائن دی چه دهغې نه

بالاضطرار هم دا شبه کیږی چه قبله توجه ټوله عاملین او کاتبینو هغه شان او شوکت او فخر او رفعت دې چه کم عقلاً او نقلاً وینې دې دټول مفاسدې عقلیه..ددې نه پس په عربی ژبه یو مضمون دې ددې حاصل هم د فخر او دشوکت نه علاوه نور څه نه معلومیږی .ددې نه پس مثنوی مولانارومی نه ئې د فلسفی مسائلو استنباط کړې شوې دې اول خو هغه استنباطات خلاف واقعه دی تجاذب د ذراتو لره فلاسفه اقتضاء دطبیعت منی مولانا بیچاره د ..زان حکم پیش،،د قید نه ددې مخالفت کوی اوبیا صر...د جفت جفت تخصیص کوی لکه څنگه چه د زمکې او آسمان تمثیل گواه اوصدق دې اوفلاسفه چه په کوم اجسام کښې منی هغه ټول جفت نه دی دریمه د مولانا مراد د عشق نه کشش هم نه دې چه د هغې نه هر یو جسم په خپل خیر باندې قائم وی بلکه مراد احتیاج دې په آثار کښې چه څنگه زمکه د نباتو محتاج ده د مطر سماء وعلی هذا ددې نه پس مولانا یو حکایت لیکلې دې او مخکښې ئې پخپله رد کړې دې چه په کوم ځائې ئې فرمائیلې دی ,,دفعتش میکند ازشش.. جهات خو په دې صورت کښې د مولانا په نسبت په دې وینا کښې چه دا فلسفه نوې ښکاره کوی نو دا وئیل به ډیر مناسب وی چه هغه دا رد کوی او قطع نظر ددې ټولو امورو نه داتجاذب او تماثیل او تدافع د تمثیل په وجه ئې نقل کوی او نه ددې اثبات شته اونه ددې نفی شته ددې نه ئې څه تعرض هم نشته هم داسې تجاذب زرات استنباط حال وپیځنې تجاذب اصطلاحی بیل دې تجاذب د کومې دعوی چه فلسفی کوی هغه د اتصال نه پس وی او دې ته د اتصال د بقاء سبب گرځوی او مولانا پخپله میل ته سبب حدوث اتصال وائی چه دهغې د پاره لازم دی چه هغه اجزاءخپل گوانډی اجزاء پریږدی او په دې سره یوځائی شی نو ددې نه په واقعه کښې د تجاذب ابطال راغې نه ددې اثبات .نو بیا به مونږ وایو چه مضمون صرف تمثیلی تحقیقی نه دې مخکښې تجدد امثال نه ئې استنباط کړې دې ماته په تحقیقات جدیده کښې ددې باب پوره علم نشته چه ددې دعوی څه حاصل دې .مستدل صاحب چه څه لیکلې دی چه دلته دڅه مودې نه پس الخ دا که چرته ددې دعوی تفسیر ومنلې شی نو دجدید امثال ددې سره هس تعلق نشته ځکه چه په دې صورت کښې ددې تجدد دپاره دیو مدت زمانی ضرورت دې او تجدد امثال کښې تبدیلی هر وخت شته وشتان بینهما او که څه تفسیر وی نو په معلومیدو سره وربانديې غور وکړې شی .مخکښې د مسئله ارتقاء استنباط دې نو په دې کښې دا معلومیږی چه بلکل غور پکښې نه دې شوې ددې مسئلې چه کوم زور دې نو هغه په اصل کښې یو څیز وو هم دې ترقی وکړه او مختلف صورتونه ئې بدل کړل نو ددې اسعار نه دا خبره کله معلومه شوه بلکه ددې د تحقیق وکړی چه د هغې نشونما د نباتات نه شوې ده او هغه دعناصرو نه حاصله شوې ده او بیا ددې غذا یوه نطفه جوړه شی اوهغه هم جماد ده او بیا په دې کښې نشو نما وی چه هغې نبات وئیلې

شی او بیا حرکت پیداشی چه دهغې نه د حیوانیت حکم وشی او بیا عقل انسانی په دې کښې فائض شی چه د هغې نه انسان جوړ شی نو دې معنی لره کوم یو دلیل ردکوی نو په اقل درجه احتمال ددې هم کیدیشی واذاجاءالاحتمال بطل الاستدلال په دې استنباط باندې دهغې مغلوب الحال حکایت یاد رازی چه د کافیه په شرح تصوف کښې لیکلې وه او ددې ټولو نه قطعه نظر سره وایم چه ددې مضمون نه څه فائده ددې نه علاوه چه زمونږ اسلاف ټول ددې څیزونو بانی او موجد دی نو بیادا مقصود اصلی ددین د حفاظت څه مس دې .دټولو نه په آخر کښې د طبقات ابن سعد قصه ذکر ده .او که غرض ددې نه د کتاب ښودل وی نو دومره کافی وه چه دا کتاب ډیر ښه دې او د کار دې او خلقو ته کتل پکاردی .نو ددې جملو ضرورت وو چه مونږه مصر او قسطنطنیه کتلې دی .او مونږه ته یو انګریز دوست تحفی رالیږلې دی الخ او بیا ترغیب چه کم اصل مقصود وو هغه چرته دې او که چرته خپل سیاست او دانګریزانو سره خپل تعلق ظاهرول دی نو د بئس العرض دې اوکه دواړه مقصود دې نو د طیب د غیر طیب سره خلط کول دی چه هغه قادح اخلاص دی چه دهغې رآس الاخلاق ثابت دی. د اخلاقو د تعلیم په رساله کښې خو یوه خبره هم خلاف اخلاق نه ده پکار تر دې پورې په دې رساله گفتگو ختمه شوه .اوس د ندوه او دهغې د رسالې کم خدمات زما په نزد پکار دې هغه په ډیر اختصار سره د مشورې په طور ذکر کوم ندوه ته څه پکار دی (۱)په آمدنی او خرچ کښې د شریعت د لارې خیال ساتل .(۲)په خپلو کارویانو کښې شوکت اودغیر قومونو تشبیه پریښودل (۳)انګیریزی موقوف کول اودا اشتهار لګول چه ایف.اے او بی.اے انګیریزی طالبعلم ته چا ته چه ددینی تعلیم شوق وی نو مونږه به دینی تعلیم پوره کوو او هغوی ته به فی کس وظیفه دومره مقرره کوو مثلاً پچاس روپې یا کم اوبیش ددوخت د پوره کیدلو پورې ورکوو ولې چه د جامعه داهم یوه طریقه ده چه کومو انګریزی وئیلې وی نو هغوی ته عربی هم وښایو .نو بیا چه کم کار غواړو نو ور نی کړو او دا خلق به فطرة د خلقو ښوښ وی .نو وګورئی چه د ظلمت نه په نور کښې لاړل او په خلاف د عربی د ځوانانو نه چه د انګریزې د وئیلو نه به عکس ددوی طرف ته منسوب کړې شی .(۴)کم نه کم لس کسان وعظ کونکی متقی محقق پرهیزګار صاحب اثر خوش اخلاق بې طمع او به تنخواه معقول او ذمداری او مصارف سفر مقرر کول پکار دی اودا کار ورته سپارل پکار دی چه مسلمانانو ته ددین درستګی وکړی او دخلقو سره په ملاطفت سره او په استغفار دې پیش راځی .(۵)دعربی درس متعارف کولو کښې دې صرف دومره ترمیم کول پکار دی چه ضروریات په غیر ضروریاتو باندې مقدم کړی او تجوید او علم اخلاق او فلسفه جدیده اضافه وکړې شی .او تصنیف او وعظ او افتاء او دعربی د وئیلو او لیکلو مشق وکړې شی .او د باطله مذاهبو موجوده کتابونه وئیلې شی .اوددې امورو دپاره قواعد او ضوابط مقرره کړی شی (۶)انګریزی فاضل نوکرونیسې او د سائنس ترجمه ترې نه وکړې او ملاحده چه

کم اعتراضات په دین باندې کړې دی نو ددوی کتابونه دې جمع کړې شی او دشبهاتو ترجمه دې وکړې شی .او بیا یو جماعت د عربی فاضلانو دې په تنخواه سره مقرر کړې شی او هغه ترجمې دې دوی ته ورکړې شی چه ددې شبهاتو جواب ورکړی او دمسائلو چه کومې دفلسفیانو دی .او بیا دې هغه جوابونه په اردو کښې شائع کړی .او بیا دې دعربی ترجمه وکړې او په درس کښې دې داخل کړی او هم داسې دې د آریانو سره دې عملدر آمد وکړې شی .او په دې کښې چه څومره پیسه لګی نو خرچ دې کړې شی .نو ددې نه به علم کلام جدید په ډیر لګ وخت کښې او په ډیر سهولت سره به تیار شی .چه د هغې شور دڅلورو طرفونو نه دې او ډیر ضروری هم دې او کار دې هغه علماء ته ورکړې شی چه په حقیقت کښې علماً او عملاً او تدیناً ددې کار اهل وی (۷)د یتیمانو او د نوې مسلمانانو دې په یو معتد جماعت سره دې د هغوی کفالت وکړې شی .اودې خلقو ته دې مختصر مسائل دینیه سره د صنعت او حرفت تعلیم دې ورکړې شی .ددې د پاره چه نه ددین بی خبره وی اونه د دنیا په پریشانیانو کښې مبتلا شی.(۸)که د موجوده ذخیرې نه وی او که ګنجائش نه وی نو د ذخیرې نه دې د صنعت یوه لویه مدرسه جوړه کړې شی چه عام مسلمانانو ته او طالبانو ته پکښې ددوی د حالت مناسب کار وښولې شی .چه د معاش نه مطمئن وی او ترقی متعارف کولو ضرورت نشته او ددې فکر دې نه کړی .(۹)په جنیکو کښې دې په عام طور سره د تعلیم خوره ولو اهتمام وکړې شی فی الحال دې دا امور په ذهن کښې وساتی.

په رسالة الندوه کښې څه کول پکار دی؟

(۱۰)کم مفاسد اعتقادی عملی او اخلاقی چه په اکثر خلقو کښې وی چه ددوی داصلاح مضامین وی پکښې او په خصوص سره هغه مفاسد چه په تعلیم جدید سره پیدا شوې دی چه دهغې شفابخش جوابونه پکښې ضرور وی او په دې کښې د متعارف بول چال الفاظ وی اونه د عربی لغات وی اونه د انګریزې محاورات وی.(۱۱)عام اجازت دې شائع کړې شی چه کم سړی ته د تپوس ضرورت وی نو ودې کړی او ددې سوالونو جوابونه دې وقتاً فوقتاً شائع کړې شی په دې صورت کښې به نفع عام او تام شی حاضر طالبعلمانو ته د مدرسې د دور نه او تعلیم افته ته د رسالې نه غیر تعلیم افته ته د وعظ نه او غیر مسلم ته د رسالې نه او ماشومانو ته د خارج مذهب نه نه او متزلزلینو ته د علم کلام په دولت سره او علماء ته په جواب ورکولو قادر کول داټول د ناقص العقل مشورې دی چه صرف د خیر خواهې نه ئی عرض کړې دی او اعتراض ئې مقصود نه دې او نه ئې دل آزاری مطلوبه ده که ځما دا رائی د څه قابله وی نو په د ې عمل او اشاعت ئی مناسب دې او د غلطې په صورت کښې مطلع کول او ځما د شفائې قلب په رجوع کولو باندې مستعد یم او در صورت عدم شفا په جواب ورکولو کښې چه کمه مناظره

مفضی الي المشاغبه ده (؟) نو دا ډیره اسلم ده او خداے مکه که ددې نه د چا زړه ته یا یو جماعت ته څه تکلیف ورسیدلې وی نو څه په ډیره عاجزۍ سره معافی غواړم او خپل عذر پیش کوم ولې چه ځما نه خطاء خاص شوې ده داسې جرآت کول ځما په ګمان کښې ماذون فیه معلوم شوې ده چه د رسالې مراسل الیه جوړولو شرف ماته مه راکوې او زه به په هر حال کښې دعاء کوم او زه د توقف جواب نه معافی غواړم چه د هغې وجه قلت فرصت ده په دې وجه نن په اتمه ۸ ورځ د تحریر کولو نوبت راغې اللهم ارناالحق حقا وارزقنااتباعه والباطل باطلاوارزقنااجتنابه فقط ۲۸ جمادی الاولی ۱۳۲۲ھ معروضه خاکسار اشرف علی عفی عنه (ایضاً)

د ندوة دویم خط او د هغې جواب :بخدمت جناب فضائل مآب مولانامولوی حافظ اشرف علی صاحب دام مجده السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته عنایت نامه د جناب د لوی خط سره موصوله شوه ددې توجه کولو ډیر زیات مشکور یم جواباً ګذارش دې .(۱) د رساله ندوه نه متعلق چه کومو اصلاحې تاسو فرمائلې دی نو زه دا منم او دا اول نه ځما په خیال کښې وې دوه کاله وشو چه دا منظوره شوې دې او باوجود ددې نه بعض ارکانو په دې زور راوړې وو مګر ددې خیال نه ما دا خبره ټالوله او د کومو بزګانو نه چه ځما حسن ظن وو نو ددوې نه ما ددې خبرې خواهش کولو چه هغوې ئې په خپل لاس کښې واخلی کله چه دوی ځما دا استدعا قبوله نه کړه نو ددې نه علاوه څه بله لاره نه وه کومو حضراتو چه دا چلول غوښتل نو د.هغوې خواهش به ئې قبول کړو ع چه توان کرد مردمان اینند : چه د کومې ورځ نه جارې شوې دې نو ما د علماء کرام نه دا استدعا کوله چه هغوی د خپل رنګ مضامین ولیکی چه یو خو مضمونونه د ستاسو په شان د حضراتووی او یو دوه داسې هم وی لکه څنګه چه وی نو د نقصان څه اندیشه نشته نو جناب ته هم په دې بنیاد ما تکلیف ورکړې دې که تاسو د مضمون په پیرایه کښې بغیر د تخاطب نه د خپل خیالات دظاهرولو تکلیف وکړې نو څه شبه نشته چه نتائج حسنه به پیدا شی مثلاً د ترفع معائب او کسر نفس خوبیانې چه په خپل خط کښې لیکلې شوې دی که دا د مضمون په پیرایه کښې وی اوشائع شوې وی نو ډیر به مفید وی زما په نزد د اصلاح بهترینه طریقه هم دا ده او بغیر د تخاطب خاص نه چه د کم عیب پریښودل وو نو په هغې کښې دې تحریر او تقریر وکړې شی زه به ستاسودا تقریر خاص خاص کسانو ته انشاءالله ور ولیږم مګر ځما په خیال کښې به په هغه وخت کښې زیاته فائده شوې وه چه کله کتونکو ته ددې خبرې خیال نه پیدا کیدو چه خاص هغه ئې نشانه ملامت جوړه کړې وه(۳) ځما د پاره د واعظینو په تلاش کښې ما خپلو دوستانو ته خطوط جارې کړل او په آخر کښې ددې خبرې اعلان په ټولو اخبارونو کښې وکړو چه ماته د واعظینو ضرورت دې چه هغه به د فرقه

اهل سنت والجماعت نه او مقلدینواو ائمه اربعه نه به وی خو افسوس دې چه ماته په دې کښې کامیابی ونه شوه تر اوسه پورې صرف دوه واعظین پیدا شو او هغه د دورې د پاره په دوه ضلعو کښې دی او دستورالعمل ورته ورکړې شوې دې چه ددې مطابق دې ځائی په ځائی کلی په کلی دې وګرځی اومسلمانانوته دې د مونځ او روژې وغیره او د ضروریاتو د دین حفاظت وکړی او د غلط رسوماتو نه ئې دې وساتی او د علم شوق دې ورپیدا کړی او د غلط معاملاتونه د بچ کیدو تلقین دې ورته وکړی او د نذر او نیاز نه دې ځان وساتی او دوی ته شل شل روپی ماهانه بغیر د سفر اخراجات نه ورکولې شی که تاسو ځما مدد وکړې د داسې خلقو په باره کښې چه خوش بیان او معتدین وی نو څه به ستاسو ډیر شکر ګزار یم(۳) دویم اعلان ما ددې خبرې ورکړې وو چه کم انګریزی یا د اعلی درجې عربی وئیل غواړی نو ددوی د تعلیم بندوبست به وکړې شی خو تر اوسه پورې څه درخواست موصول نه شو اونه چا څه وظائف تجویز کړې دی نو بیا هم ما دا قصد کړې دې که داسې څه طلباء پیدا شو نو زه به د هغوې د ډوډۍ انتظام کوم اوددوې د سبق انتظام بهٔ هم کوم اوکه ستاسو په خیال کښې داسې طلباء وی نو تاسو ورته اطلاع وکړې (۴) د دارلعلوم په نصاب کښې دا هم کړې شوې دی چه د منطق اود فلسفې غیر ضروری کتابونه هم کم کړې شوې دی د ادب او بلاغت کتابونه زیات کړې شوې دی مګر په دې هم خلق غصه دی او غواړی چه د زواهد ثلاثه او شروح سلم او صدرا او شمس بازغه دې هم یویو حرف او ښودلې شی مولانه تاسو یقین وکړې چه ځما ټول کوشیشونه په دې باندې صرف دی چه دینیات ته فروغ حاصل شی خو په بعضې وختونو کښې مجبوری دا پیښه شی چه ستاسو په شان حضرات چه ددې اهل وی نو د مدد نه ځان ساتی اوکم خلق چه ددې اهل نه دی نو په هر کار باندې تیار شی څه ډیر غواړم چه د صالحینو تعداد دې زیات شی او ټول کارونه دې ددوی په لاس کښې وی خو دا زما د اختیار خبره نه ده خو چه هغوی متوجه نه وی نو هغوی څنګه شریک کړونو ځما تاسو ته هم دا استدعا دا چه دې طرف ته توجه وکړې او وقتاً فوقتاً خپل سودمند مضامین سره مدد وکړې دالله نه امید دې چه ددې به څه نتائج راوزی والسلام

جواب از احقر اشرف علی تهانوی عفی عنه بخدمت بابرکت مخدومی معظمی دام مجدهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته والانامه مع دستورالعمل مجلس اشاعت الاسلام ملاو شوه او موجب سر بلندی ده دوالانامه د مضمون نه دنیازمندې نه په زړه کښې ستا عظمت او عقیدت نور هم زیات شو الله دې جناب نور هم په دائره حق کښې وساتی او ستاسو په طفیل سره دې دې بنده ته هم ځائی ورکړی د جناب د حق پسندې پوره اعتقاد دې نو په دې وجه دا معلومیږی چه خپل معروضات په ظاهرولو سره همیشه دپاره ډیر ګستاخ شوم نو په دې باندې د یو صاحب مقوله یا ته رازی که محبوب حقیقی زمانه تپوس وکړی ماغرک بربک الکریم نو څه به هم دا اووائم غرنی کرمک بهر حال په دې وخت کښې هم څه امور قابل غرض دی (۱)

ارشاد شوي دي چه د کومو بزګانو نه زما حسن ظن دي نو ددوي نه خواهش شوي ووخو چه قبول نه کړو نو ددي نه علاوه څه بل کار نه وو چه چه دا چلول غوښتل نو د هغوي خواهش قبول کړي شوي وو نو ددي په باره کښې دوه خبرې قابل ذکر دي اول دا چه د مشاهدي نه داامر محقق شوي دي چه علماء ته فراغت نشته بلکه هر يو په کار کښي لګيدلي دي او هغه کار فی نفسه ضروري دي او اکثر دا خبره ليدلي شوي ده چه ددي کارونو د پاره هم وخت کافی نه وی نو به راحت چه رسد نو په داسي حالت کښي نور کارونه څنګه کيږی نو ددي آسان صورت دا دي چه په هر کار باندي يو جماعت مقرر شي مثلاً د مضمون نويسی کارد دوه حال نه خالی نه دي يا خو ضروری دي يا غير ضروری که غير ضروری وي نو حذف دي کړي شی او که ضروری وی نو چه څنګه په ندوه کښي د نورو کارونو د پاره تنخواه مقررده نو يو جماعت د دوه درې کسانو دي ددي کار د پاره هم مقرر کړي شی که هغه ندوه په خپل حد کښي ساتی يا په تيکه باندي ساتی نو چه کم سړي دا مضمون په دي صورت باندي ورکړي او صورت هم هغه چه ما په غريضه سابقه کښي ليکلي وو نو د ښوښنی په شرط باندي به فلان فلان علماء په دي حساب باندي معاوضه ورکړی او داپسند د هغه علماء نه کيديشی چه هغوي په خپل ځائی کښي د فتوی نويسی کار کوی يا نور چه علماءددي تجويز وکړی نو ددوی په تعين باندي مشوره ورکولي کيديشی نو په دي طريقه باندي به ندوه ته ډير مضامين مفيده ميسر شي او بی د خرچي نه داسي کارونه په دوام او التزام سره ډير مشکل دی او اوس زه حال دادي چه په اهل علم کښي د شمار لائق هم نه يم خو د الله تعالی شکر دي چه د کار نه وخت لګ پاتي کيږی په دي وخت کښي دغرمی وخت دي ډوډئ مي خوړلي نه او کور کښي د جنکو نه د قرآن سبق اوريدل پاتي دی څه حرارت خفيف او د سر دردخفيف په اوده کيدلو باندي مجبوره کوی خوصرف رفع انتظار خيال او ستاسو جذبه صادق ځ، کومه د قبول حق نه ناشی ده نو دي په دي وخت کښي کينولي يم او ليکل کوم زما خپل ذاتی حالات بيانول مقصود نه دي صرف دمثال په طور باندي پيش کول ضروری وو چه يو ناکاره او جاهل ته دومره مشغوليت دي نود کار علماء ته به فراغت د کوم ځائی نه ميسر شي نو هغوی به استدعا څنګه قبوله کړی نو بيا د خلف وعدي طرف ته ددي انتساب هم کيديشی نو بيا په دي حکيمانه قول باندي ددوی عمل دي چه کم موئد باالشرع دي

اذا لم تستطع شيئا فدعه　　　و جاوزه الی ما تستطيع

دويم امر دادي چه څه ضرور ده چه د نافع طريق نه يو کار ونه شی نو هغه دي د مضر طريق نه وکړي شی تر څو پورې چه د مضمون مفيده سامان نه وو نو دشروع کولو ضرورت هم نه وو باقی د جناب دا ارشاد چه که دبغير تخاطب خاص نه دخپل خيالات اظهار وکړی نو ښه نتائج به ظاهرسی نو په فی الواقع کښي دا ارشاد ځما د عين مشرف موافق دي او بحمدالله حتی

الامکان په دي باندي عامل وسم ليکن دتجربی نه معلومه شوي ده چه په بعض وختونو کښي د خطاب خاص په جواب کښي خطاب عام زيات آزار ده وی نو په دي وجه چه په کوم ځائی داسی موقع په خيال کښي راځی نو په دي وجه خطاب خاص باندي بناء کوم او دا هم ممکنه ده چه ځما دا خيال عموما او خصوصا صحيح نه وی خو زه په زړه سره دا قبلوم او د خطاب خاص نه به انشاء الله داحتراز کولو کوشش کوم خودمشکل به وی که ديو مضمون ردکولو مقصود وی نو دومره به ضروروايم چه فلانی مضمون چه هغه بعض کسانو ليکلي دي هغه غلط دي نو په دي صورت کښي چه څه اثر وی نو هغه به يقيناً د خطاب خاص برابر وی نو ددي په باره کښي چه څه ارشاد وی نو په هغي باندي به انشاءالله غور کوم (۲)صيغه اشاعت الاسلام نه اميد دي چه مسلمانانوته به ددين نفع وی ما په غور سره ددي دستورالعمل وکتو او دمشورې په طور باندي ما څه عرض هم وکړو دکتلو نه پس چه څه عرض وی د واعظينو په کتلو کښي چه کومه ناکامی وشوه نو اول خو د مثل سابق په شان دلته هم عرض دي چه تر څو پورې اهل نه وی نو دنااهلو نه داکار نه وی اخستل پکار ځما په نزديک دا ټولو کارونونه زيات مؤثر دي نفعاً او ضرااو دويمه کاميابی ځما په نزديک هغه په اخبار کښي شائع کول نه دي ځکه چه ددي شائع کولو اثر ددي نه علاوه بل هيڅ نه دي چه واعظين پخپله درخواست درکړي او پخپله درخواست ورکولو کښي ځما په نزد اول دليل دي دخود عرضي نو داسي خلق به داسی کار څه وکړی يا به دا اثر وی چه اخبار کتونکی خلق به دا سهارا واخلی چه واعظين تلاش کړی اوددي اطلاع ورکړی اوداخباري کتونکی اکثر عوام وی نوهغوی ته دتجويزکولو څه بصيرت دي ځما په نزد مدارس اسلاميه ديوبنداوسهارنپور وغيره مدرسينوته دا درخواست ډير مناسب دي هغه په آساني سره واعظين او موصوفين په صفات ضروريه سره تلاش کولوشی نو په دي وجه بالفعل د يو پته زه هم درته وايم چه هغه په شاهجهانپور کښي مولوی عبيدالحق مرحوم په مدرسه کښي مدرس هم دي او واعظ هم پاتي شوي دي بالفعل هغه په يوه قصبه کرنال ضلع مظفر نګر په جامع مسجد کښي امام هم دي او مولوی فيض الحسن دهغوی نوم دي او پته دده هم دا کافی ده که ضرورت وی نو دهغه نه مکاتب وکړي او زه به انشاءالله نور هم سوچ کوم (۳)زه به انشاء الله د داسی طلبه هم سوچ کوم چه کوم په انګريزي کښي قابل وی او عربی وئيل غواړی .او بالفعل يو کس چه د اله آباد وسيدونکي دي په دي کال هغه د بی اے امتحان ورکړي دي اوډير د دين عاشق او په ين باندي فدا دي .محمد عيسی دهغه نوم دي مولوی امجد علی اله آبادی او مولوی محی الدين صاحب اله آبادی نه هغه څه عربی هم وئيلی ده ماته اميد دي چه هغه به په ډيره خوشحالي سره دا قبوله کړي چه هغه ته دعربی اعلی تعليم ورکړي شی نو ددي صاحبانوپه توسط سره دامکاتب ممکن دي اوزه به نور هم سوچ کوم (۴)د دارلعلوم نصاب که په خصوصيت سره علماء مدرسين او

محقیقن او مصنفینو ته ورولیګلې شی اوددوی نه مستفیانه رائی واغستلی شی نو ټول داسی جامد نه دې چه زواهد ثلاثه او صدراوشمس بازغه ته به ضروری او وائی ستاسو ددې ارشاداتونه خما زړه ډیر خوشحاله شو چه دینیات ته به فروغ حاصل شی او په شرکاء کښې به د صالحینو تعداد زیات شی خو د ارشاد اول په متعلق دامجبورې ده چه کم اهل دې هغوی به غان وساتی او دارشاد دویم متعلق چه هغوی متوجه کیږې نه نو بیا هغوی څنګه شامل کړو نو په دې کښې دومره عرض دې چه د شرکت او دتوجه کمه طریقه ده نو هغه تر ننه پورې برتا نه شوه تر ننه پورې چه څه وشود هغې حاصل هم دا وو چه پخپله ټول قواعد او اغراض تجویز کولو نه پس کار شروع کړی .او بیا خلقو ته په دې هیئت او په پابندې سره شریک کول وغوښتل نو ظاهره ده چه څوک دیو جز هم متردد او مخالف وو نو دمجموعې به څه موافقت وکړی .لان انتفاءالجزءیستلزم انتفاءالکل بلکه ددې طریقه داده چه دندوه مجموعی حالت جزاء جزاء چه په هغې کښې د نصاب تفصیل او ټول قواعد او ضوابط هم وی مرتب دې کړې او د ټولو علماء او محقیقینو په خدمت کښې دې د استفتاء په طور باندې پیش کړی او په جوابونو کښې څه شک وې نو بیا دې هغه د تستفتاء د پاره بیا ارسال کړی چه کله ټول صفاشی نو بیادې ئی دستورالعمل جوړ کړې نو په دې وخت کښې به چا ته نه دشرکت اونه دتوجه اوتنفر عمل نه وی.اوکه بیا هم څوک څه خاص عذر پیش کړې اونه شریک کیږی نودوې پسی دې نه کیږی .خودا دې هم نه وی چه که صالحین نه وی نو غیر صالحین دې وی بلکه په داسې صورت کښې دې هغه کار حذف کړی لان دفع المضرة اهم من جلب المنفعت په آخر کښې د مضامینو د پاره ارشاد شوې دې امتثال امر عالی مایه افتخار دې نو بقاعده الاهم فالاهم اول په دې امور مذکوره کښې یو صورت مناسب جوړ شی نوبیا به انشاء الله تعالی حتی الامکان چه څه خدمت وی نو دریغ به نه کوم فقط د ندوی. کسانو یو مجلس اشاعت الاسلام چه دهغې مقاصدواعظین مقررکول دې منعقد کړې دې نوددې دپاره ئی یو دستورالعمل جوړ کړې دې حضرت مولانا دامت برکاتهم په خدمت کښې د کتلو دپاره ناظم ندوه لیږلې دې اوددې په دفعات مولانا موصوف څه کلام کړې دې نودا ددې دفعات سره نقل کوو

دفعه (۱)مجلس اشاعت الاسلام د مجلس انتظامی ندوة العلماء ماتحت به وی (اقول) دټولو نه اول دا دفعه پکارده بلکه په دستورالعمل کښې ددې لحاظ ساتل پکار دې چه یو کار به هم د شریعت نه خلاف نه وی اوچه په څه کښې شبهه یونو دعلماء نه به دهغې استفتاء کوی اوچه څوک اعتراض کوی نوکه هغه اصل شرعی سره تمسک کوی نو ددې فیصله به هم ددې علماء محقیقنو نه کوی صفحه (۱)دفعه (۳)حرف الف :ارکان به عموماً ارباب علم او اهل الرأے او باوجاهت د ارکان انتظامیه نه به ددوه کالودپاره منتخب کیږی او د ضرورت به شرط دداسی کس هم انتخاب کیدیشی چه هغه د انتظامیه رکن نه وی خو دده په انتخاب کښې به هم هغه

شرطونه ملحوظ وی چه کم د ارکان انتظامیه دپاره ضروری وو (اقول)دا محتاج د توضیح ده که دا مراد وی که په چه کښې دا درې اوصاف وی نو په دې کښې دا کلام دې چه په کار کښې علم او رائې کافی ده وجاحت ته هیڅ دخل نشته اوکه دامرادوی که په چاکښې یو وصف هم وی نو بیا دا کلام دې چه نری رائی یانړی وجاهت کافی نه دې تر څوپورې چه علم نه وی ددې ترمیم داسی مناسب دې چه ارکان به عموماً داسی خلق وی چه کم د علم دین او تقوی سره درائی اهل هم وی الخ(صفحه ۴دفعه۱۳حرف د)دهر واعظ نه یو اقرارصالح دتقررې په وخت کښې به مجلس اشاعة الاسلام اخلی د داسی اقرارصالح په ذریعه باندې به واعظ ته دهغه دامر اقرار کولې شی چه هغه به خپل متعلقه په دیانت او په امانت سره سر ته رسوی او دندوةالعلماء به خیر خواه وی او دستورالعمل او هدایات دمجلس اشاعت او مجلس انتظامیه نه چه وقتاًفوقتاًجاری کیږی نو دهغې به پابندوی (اقول) دندوةالعلماء که دخیر خواه نه دامعنی مرادوی چه هغه ددې فوائد اوخوبیانې بیانولو په وجه خلقوته ددې اعانت ترغیب ورکوی نو په دې کښې دوه خرابیانې دې اولاًواعظین به کم وی ولې چه ممکنه ده چه یو کس دڅه شبهې په وجه یا دتردد په وجه دندوې په باب کښې شرح صدرنه وی لیکن خدمت وعظ تنخواه بښوبښه کړې او اختیارئی کړې که هغه په دې شرط په منلومجبوره کړې نو تنیجه به ئی داوی چه هغه به داصل خدمت نه لاس ونیسی اونیز په اصل خدمت وعظ په فوائد کښې دې شرط ته اصلاً دخل هم نشته نو دیو امر زائد دپاره اصل کار ته نقصان وررسول دا بی موقعې خبره ده اودویم عوام به ددې ترغیب نه فوراً به داشبه کوی چه وعظ صرف یو آړ دې اصل غرض ددې نه ندوه ته تحصیل زر دې نو دا شبه دومره مضر ده چه ټول کشیشونه به بیکاره شی خما په رائی کښې بلکه ددې شرط ضد ولګې نو ډیر بهتر به وی اوډیر مصلحت به وی یعنی دندوه دذکرنه به تعرض نه کوی په دې کښې به دبیغرضې ثبوت وی نو په دې وخت کښې به د وعظ اثر صادق به انشاء الله پوره توقع وی اوددې جملې نه دا مراد دې چه هغه د ندوه خدمت نه کوی نو ددې شرط څه مضائقه نشته که په حقیقت کښې هغه کس متردد یا مخالف هم وی نو بیا هم په اصل غرض او په وعظ کښې د ندوې دخدمت ضرورت هم څه دې نو په دې وجه دا شرط بې ځایه نه دې (دفعه ۱۴ نمبر ۳،۲)په کم ځائی کښې منجانب ندوةالعلماء شریک کول اوضرورت په شرط اوموقع په داسی مجامع کښې تحریری او تقریرې بیان یاوعظ کول مجلس الاشاعت الاسلام چه کم حدود ددې دپاره مقرر کړې دی نو په دې کښې اغراض او مقاصد دندوةالعلماء شائع کول (اقول) اوس په حرف د دفعه۱۳نه په دې کښې ګفتګو کړې ده خما په نزد دا بلکل قابل حذف دې غتمه خبره داده چه دې شرائطو ته په اصل مقصود کښې څه معتدبه دخل نشته (دفعه۱۴نمبر ۴)دمعاونین اواراکینو تعداد زیاتیدل (اقول)دادسابق زیات متکلم فیه ده په دې کښې علاوه دامور معروضه نه یوه زائد شبه داده

دالامر من وجه خارج از اختیار واعظ دې چه مفسده جاره ده او خلاف شرع هم دې (دفعه ۱۵ حرف الف) مجلس اشاعت الاسلام ته اختیار دې چه حسب ضرورت چه کم واعظ ته مناسب ګڼړي یو رجستر دې ورته وکړي او یو رسید دې هم ورته حواله کړي اوده ته اختیاري تحریر ورکړي چه کم کس رکنیت یا څه رقم یا اعانت دندوة العلماء یا دار العلوم یا اشاعة الاسلام یا په خزانه محمدیه یا یتیم خانه کښې ادا کول غواړي نو فوراً دې دده اندراج په رجستر کښې وکړي اویو رسید دې هم معطی ته ورکړي اوهره هفته بروزشنبه یو فهرست اودوصولي رقم مع مثنی رسید دویمه حصه دفتراشاعت الاسلام ته ورلیږی (قول) که بلاتحریک دواعظ رقم موصول شي نو څه مضائقه پکښې نشته خو واعظ ته به ددې صورت نه هم اختیار ورکړې شي که هغه داسې کتاب اغستل ښوښنه وی یا نه ښوښنه وی ځکه چه دې ته هم په اصل کار کښې څه دخل نشته او شبهات مذکوره او سابقه دلته هم د قابل اعاده دې (دفعه ۱۵ حرف د) هر یو واعظ چه کم رقم ده ته وصول شوې وی تر هغه وخته پورې به ذمه دار وی تر څو پورې چه باضابطه د دفتراشاعة الاسلام رسید نه وی حاصل شوې (اقول) ظاهره ده که داامانت د معطی وی څنګه چه د قواعد شرعیه مقتضاء ده یا دندوه څنګه چه عام خیال دې خوماته دا بې اصل ښکاری بهر حال د امانت څوک او ضامن نه وی داشرط پخپله د شرع خلاف دې بلکه ددې په ضائع کیدو باندې چه کمه فقهیه قاعده عامه ده نو هغه دلته هم معمول جوړول پکار دی په خصوصیت سره که د معطی امانت وی نو هم دوی ته د تپوس کولو حق دې البته که دقواعدشرعیه مطابق دچا توکیل صحیح وی نو هغه وکیل تپوس کولې شی نو ددې تپوس کولونه پس به هغه دامانت فقهي قاعده جاري کیږی دفعه ۱۲ (ب) که یو رقم دنذرانه یا دهدیه په طور ده ته وصول شي نو هغه دندوة العلماء حق دې ده ته لازمه ده چه دا رقم ندوة العلماء ته ولیږی که هغه داسې رقم مجلس الاشاعت ته ونه لیږی نو د تحقیق نه پس به دهغه د تنخواه نه واغستلې شي (اقول) ماته په دې کښې شبه ده که باقاعده ددې شرط استفتاء وکړې شي نو داخبره به صفاشي ځماپه نزد دتنخواه وضع کولو نه مناسبه ده چه دواعظ عزل تجویز کول مناسب دې (دفعه ۱۷) هر یو واعظ دې یو کتاب دیاداشت په طور مرتب کړی چه په هغې کښې دروزانه کاروائی او دخپل دورې کیفیت اودخپلې علاقې د مسلمانانو حالت تعلیم اوکوم کوم رسمونه چه خلاف شرع پکښې جاری وی نو دهغې صراحت یاحالت دې درج کوی .اوکه هلته مدرسه اسلامیه یا یتیم خانه وی نو د هغې آمداوخرچ اودانتظام کیفیت اودهغه ځائ علماء اومشائخ اودمعززینوداهل اسلام یوفهرست اوهم داسې یاداشت دخپل رائی سره دفتراشاعت الاسلام ته ماه وار لیږی (اقول) دمدرسه الاسلامیه او یتیم خانې کیفیت تحقیق کول قطع نظر ددې نه چه اصل مقصود سره مس نه لری عندالتامل په څه وجه باندې مضر معلومیږی چه ددې عامل ساعی دې ته یو ګونه دست اندازی وائی اودماتحت جوړه یو کوشش شبه به کوی

چه هغه به موجب هیجان او مخالفت به وی دواعظ شان د کوم ځائی پورې چه کیږی نو نهایت آزادانه دې وی دداسې معاملات نه دې بالکل تعرض نه کوی البته علماء ومشائخ اومعززین اهل اسلام که یو فهرست په دې طور سره مرتب کوی چه دې خلقوته اطلاع نه وی نو مصلحت معلومیږی دفعه ۲۱) که یو رکن د مجلس انتظامی ندوة العلماء په داسې ځائی کښې موجود وی چه په کوم ځائی کښې واعظ ندوة العلماء دوره کوی نو واعظ ته لازم دی چه په هر ضروری کار کښې درکن انتظامیه نه دې مشوره اخلی اودخپلو کارونو ده ته اطلاع ورکوی اورکن انتظامیه ته هم لازمه ده چه په هر کار کښې دې واعظ ته مشوره یا مد د ضروری او لازمی کوی (اقول) داهم دآزادئ نه خلاف ده چه هغه خپل کار کوی اودا خپل کار کسے راباکسے نباشد یو کار هم په دې خاص استعانت باندې موقوف نه دې اونه ډېر یو کس محکوم جوړیدل دهر کس طبعیت ته خوښه وی ډېر دې نه علاوه عوام الناس به هم ددې نه یو قسم ملی بهګت جوړ کړی بلکه داهم ده چه د عوامو په نظر کښې د واعظ د ماتحتۍ شان ښکاره کیدل به دهغۀ د مقتدا کیدو په شان کښې بدوی چه داپه اصلی غرض کښې څۀ قدرې خلل وی نوځۀ عجیبه نه ده.

(**جواب ازندوة**) دسلام مسنون نه پس کرم نامه موصول شوه اومنت افزاشوه ماته ډیره خوشحالی اوشوه چه تاسو ازراه عنایت زما دناچیز ګذارش دنظر التفات نه ملاحظ کړو جواباً ګذارش دې چه کوم تجویز تاسو د رسالې متعلق تجویز کړې دې هغه اګرچه فی نفسه ښه او مستحسن دې مګر دحالت موجوده په لحاظ سره ددې تعمیل دشوار دې .اول خو دا چه د کار یو سړې هم نه ملاویږی دمدرسانو ضرورت وی نو نایاب ،دواعظانو تلاش کیږی نو نه ملاویږی داسې یو جماعت به دکوم ځائی نه ملاؤ شی چه هغوی مضمون نګارې په ښه شان کوی ځما په خیال په دې وخت کښې که به یو څو دشمار علماء داسې وی خو هغه په معاوضه هم نه ملاویږی بالفرض که داسې کسان پیداهم شی نو نو د رسالې آمدنې دهغوی دمعاوضې بار نه شی پوره کولې .داشاعت الاسلام د پاره دواعظین ته دبهم رسولو تاسو کوم تدبیر کړې دې هغه ډېر مناسب دې .اومایه دې عمل هم کړې دې کله چه د اخبارونو د اعلان کولو نه پس درخواستونه دضرورت مطابق رانه غلل نو ځائی په ځائی علماء کرام چه تدریس په خدمت کښې مشغول وو تکلیف ورکړو اوبعضو وعده هم وکړه چه هغوی به تلاش کوی تاسو چه کوم دوه صاحبانو ته لیکلې وو په هغې کښې یو صاحب چه به سورت کښې مدرس هم دې چه هلته دیرش روپې ماه وار هم ورکوی نو دلته په شل روپې باندې ولې راشی دلته شل روپې پورې ماهانه ملاویدیشی دسفر دخرچ نه بغیر اوخشک دلته هم دې خوراک نه ورکولې کیږی که دستاسو په عنایت، سره هغه په دې تنخواه دلته راضی کیږی نو دداسې سړی ملاویدل مغتنم دې چه خوش بیان او ذی استعداد اومتدین اوصالح هم دې دویم صاحب ته ما لیکلی دې که تاسو هم ولیکئ نو ډیره مناسبه به وی چه په انګریزی کښې کوم صاحب بی اے کړې ده نو

دوي نه هم په عربي باندې د اماده کولو کوشش کوی که داسی پنځه طالبعلمان پیداشی نو ددوی دتعلیم انتظام خه کولي شم او یو بیل مدرس دې ددوی دپاره وساتلی شی دیو کس دپاره به گرانه شی فقط جواب از مولانا مدفوضهم: دسلام مسنون نه پس والانامه مشرف ملاؤ شوه جواب په اختصار اوپه ادب سره عرض دې چه اولاً طریق مضر نه کار کولو نه کار نه کول بهتر دی دکوم کار سرې چه تر خوپورې پیدا نه شی نو دا کار ملتوی کیدل پکار دې ثانیاً چه درسالې مکمل مقاصد دندوې دې نو دمعاوضې بار ندوه ولې نه برداشت کوی؟ آئنده چه څه مصلحت وی نو باقی به دواعظ صاحب او دطلبه بی اے نه به استفسار کوم که اطمنان بخش جواب راغي نو انشاء الله په خدمت کښې به اطلاع کوم خو دیو په افاده باندې دخلور ولې موقوف وساتلې شی آیا چه مدرسین موجود دې کافی نه دې اوباقی ددعاء امیدوار یم اوپخپله به هم دعاء کوم والسلام مع الاکرام خیر ختام فقط ۱۲ جمادی الاخری ۱۳۲۲ھ امداد ۴ ص ۱۹۳

دکالج علی گړه مکاتبت

سوال: (۱۳۳) سراپامجد وکرم مولانا الحاج الحافظ مولوی اشرف علی صاحب دسلام مسنون نه پس الاسلام عرض دې چه په دی کال کښې ددینیاتو دامتحان دپاره یوه کمیټی دینیات کالج علی گړه ممبرانو تاسو اومولوی احمد علی صاحب مدرس میرټه ومولوی حفیظ الله صاحب اومولوی عبدالغنی صاحب شاگرد رشید مولانا محمد لطف الله صاحب تجویز کړې ئی شاید په آخرئ فرورۍ یا په مارچ کښې به امتحان وی درې سوه پرچې به کتل او په دې به نمبرې لګول وی. دټولونه مخکښې به دا ۸۱ کتابونو سوالونه جوړول وی. غرض داچه دیوې هفتې کار دلته هم شته امید دې چه تاسو به ئی قبول کړې نو زه به تاسو ته دامتحان دمقرر تاریخ نه مطلع کړم ددې نه دوه ورځې مخکښې تاسو به دلته تشریف راوړئ چه سوالات تجویز کړې اوسوالات به طبع کیږی فقط والسلام جواب ازاشرف علی عفی عنه بخدمت مولانا المکرم زیدت معالیکم السلام علیکم ورحمة الله نامه نامی موجب شرف شوه په مختلف پهلو باندې دنظر اچولو نه پس په ذهن کښې دا خبره راغی چه که امور زمونږ په شان طالبعلمان دفرقې مصالح گڼرلی دی په دې کښې دڅه مصلحت ترتب په دې امتحان باندې متوقع نه دې اوددې په وجه دا شرکت موهم رضا او استحسان په موجوده حالت کښې کالج دې مصالح عامه په اهل اسلام کښې مخل دې نو دداسی حالت مقتضاء هم دا ده چه په دې تجویز باندې دعمل کولو نه مخکښې ددې نه معذرت وکړې شی والعذر عنه کرام الناس مقبول باقی طالب دعاء خیر یم ۲۴ ذالحجه ۱۳۲۳ھ

د کالج د یو خیر خواه د طرف نه دطلبی یو دویم خط:

جناب مولوی صاحب زبدة العلماء العظام زادالله فیوضه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته مسلمانان علیگړه یوه کمیټی ددینیات اهل سنت وجماعت دا یوه ارزو ده چه په دې کال تاسو خپل قدمونه مبارک راوړې او په مدرسه مذکوره کښې دطالبانو سالانه امتحان واخلې او د وعظ په ذریعه باندې دوی ته خپل فیض ورکړې ۷ ماه حال جلسه مذکوره طې شوې ده اوخاکسار ته ئی په دې معامله کښې تاسو ته د التماس کولو هدایت کړې دې هنوز تاریخ امتحان مقرر شوې نه دې خوډیر ذر به ئی تقرر وکړې شی منشاء گرامی نه اګاهی طلب ده چه د اطمنان باعث شی جناب مولوی صاحب ناظم دینیات به هم په دې باره کښې تاسو ته لیکلی وی والسلام بالکرام

جواب: ازاشرف علی عفی عنه بگرامی خدمت ذوالمفاخر والمعالی الحبیب الی الرحمن والی عباده زیدت معالیکم السلام علیکمورحمة الله وبرکاته نامه نامی موجب مباهجه ومباهاۀ شوه احقر په ډیر خلوص او په بی تکلفې سره څو امور په ډیر اختصار سره عرض کوی اولاًماته یو وار دلرې نه په کتلو سره او په خاص طور سره ستاسو نه نیاز حاصل نه دې مګر دستاسو سره په زړه کښې یو خاص انس دې بلکه دیو قسم عقیدت محسوسه وم چه دهغې غټه وجه باوجود دغنی نه اوسامان ظاهرې نه هغه توجه اوفکر اوفلاح داهل اسلام ده هغه هم دحدود شرعیه دتقلید سره مادرسالة الندوه چه مخکښې به ماته راتله نو دستاسو څو مضمونونه پکښې لوستلې وو اودستاسو دمضمون نه علاوه به ماته دنورو نه توحش هم کیدلو نو په دې وجه باندې ما ددې بند کیدل مناسب وګڼړل. ثانیاً که چرته بل څوک مخاطب وو نو ما به ډیر لیکلی وو خو بضله تعالی مخاطب صحیح د ې نو په دې وجه ډیر مجمل عرض کوم دایو څو امور یقینی دی (۱) دکالج اصل مقصود ددنیا فلاح ده او دمقصودیت شغف او اهتمام کښې داصلاح دین فکر نه کیدل اونه د بد دینی ختمول کول اونه ددې دآثار نه څه متالم کیدل (۲) زمونږ خلقو سره څنګه چه د پخوانی خیال طالبعلمان راته وائیلې کیږی یومعتد به جماعت داهل اسلام دعقائدواواعمالو سره وابسته کیدل (۳) د مصالح په اقتضاء باندې انتظامیه دینیه دې وابستګې ته ددې اسباب مؤکده داجماع او دد ې داسباب مانعه ارتفاع اهتمام کول پکار دې (۴) دکالج موجوده حالت او په هغې شرکت کول هغه چه په کومه وجه هم وی په عام خیالاتو کښې موهم استحسان او رضادې البته امر باالمعروف او نهی عن المنکر چه مقصود مستقل وی او دکالچ ددې مجوزه طریقه پابند نه وی ددې عموم نه مستثنی دې (۵) ددې شرکت دکالج نه دخپل حالت تغیر او تبدل نه کیدل. په دې امور باندې دغور کولو نه پس ماته امید دې چه ما به معذور وګڼړې اومعافی قبوله کړې بلکه د منع کولو مشوره به راکړې ثالثاً دکوم سرې حالت چه داسې نه وی نو ددې شرکت جلسه او شرکت رائی نه د کالج

د نفع توقع شته اوپه مصالح عامه کښې اهل اسلام ته ضرر ورسولو احتمال ئی نشته او ده به هر سړې په خپل حالت انصاف سره ګوری او پوهیږې به (بل الانسان علی نفسه الایه) هغه ددې بحث مذکوره نه خارج دې وهذا یصلح عذرا فی الشرکة لمن هذا شانه والسرائر موکولة الی الله تعالی ،احقر غالباً د دوه درې ورځو نه دجناب مولانا صاحب په خدمت کښې په ډیر اختصار سره عرض کړې وو زما دداسې بې تکلفې نه صرف دستاسو د تحریر نه انس اود سادګې ترشح دې معافې کوې والسلام باالکرام ۲۲ ذی الحجه ۱۳۳۳ه

د خط مذکوره جواب :جناب مولوی صاحب مصدر فیوض وبرکات منبع حسنات مدالله وبرکاته السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته مکرمت نامه بجواب نیاد نامه مصوله شوه ددې دوئیلو نه بعد چه کوم الفاظ په خپل نسبت نظر کښې راغلل نو ددې نه زړه ته بشاشت حاصل شواونه په دې حیثیت چه تعریف وو بلکه په دې وجه چه ددې الفاظو ستاسو د قلم نه وتل تفاول خیال کړو ربنا ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه تاسو چه په کومه بی تکلفی سره د خپل خیالات اظهار وکړو نو ددې نه داخوت خوشبو راتله زه په بی تکلفی سره د یو څو کلمو وئیلو جسارت کوم د کالج په نسبت چه کوم خیال تاسو ظاهر کړې وو هغه ډیر صحیح وو ماته ددې انتظامی اودینی دواړو صیغو سره دعرصه دراز نه زما تعلق دې اوچه کومه تجربه دواقعاتو نه شوې ده نو ددې په وجه عرض کولې شم په کالج کښې داصلاح دینی ګنجائش شته اود کالج منتظمین او اساتذه ددین دامور مخالفت کونکښې نه دې اوددې نه بی پروا ضرور دې پس چه څومره ګنجائش دې او کوم مدد حاصلیږی که ددې نه نفع حاصله شی نو دامت داعزه به ډیر دینی خدمت وکړې شی اوپه دې کښې شبه نشته چه د کالج په طرز عمل کښې په مستحباتو خلل راځی یعنی دا دهغې ځائ داصول نتیجه ده خو دفرائضو اوواجباتو پریخودلو ذمه دار دهغه ځائې اصول نه دی بلکه دهغه ځائې بې پرواهی اوپه دغه بې پرواهئ باندې رد اومنع نه کول دی مثلاً د مونځ پابندې اودروژې پابندې نه هلته څه منع کول نشته بلکه دهغه ځائی پرنسپل په دې اماده دې چه دد ې په باره کښې څه هدایت وکړې شی چه په دې کار بند شی اوطلباء هم په دې باندې کار بند کړې په اولو ورځو کښې به طلباء په خپلو کمرو کښې په معمول سره دروژې په میاشت کښې روټی خوړله خو چه کله توجه وکړې شوه نو قطعا بنده شوه اوبیا په کمرو کښې هغه طلباء ته روټې ورکولې شوه چه کوم په حقیقت کښې بیماران وو اوډاکټر نه ئی تصدیق شوې وو خو دا صورت پاتی کیږی چه طلباء دشپې روټې کیږدی اوپه پټه ئی خوری اوددې هم اصلاح کیدیشی نو دخشیت دپیدا کیدو په وجه خلاصه کلام امر باالمعروف اونهی عن المنکر څه ګنجائش ضرور په کالج کښی شته اوچه څنګه کالج دامت دبچومرجع جوړ شی اوڅنګه چه ددې ځائی طلباء په ملک کښې خواره شی اوخپل اثر اچوی نو ددې په وجه په دوی

باندې شفقت کول اود دوی دینی حالت صحیح کول دعلماء اهم فریضه ده ازروئ خیریت باندې نیازنامه ختموم خاکسار حبیب الرحمن بهیکن پور ضلع علی ګړه ۲ محرم ۱۳۲۴ه

جوابـه: جامع محاسن ومناقب دام مجدهم السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته دنیازنامه دترسیل نه پس چه کومه توقع وه الحمدلله هغه پوره شوه دوالانامه نه دکالج اصلاح اود شعبه دینی ضرورت دستاسو په ذهن کښې معلوم شو چه دهغې نه ډیر مسرت حاصل شو اوددې نه ډیر مسرت به هله حاصل شی چه دا عمل دذهن نه خارج په عملدرآمد کښې ظاهر شی والله الموفق اوباقی کوم کلمات چه خاص داحقر متعلق وئیلې شوې دې نو دهغې په باره کښې صرف دومره عرض کول کافی دی احبکم الله کماتحبوننی ډیر خیریت والسلام خیرتمام الملتمس اشرف علی عفی عنه ازتهانه بهون ۵ محرم ۱۳۲۴ه (امداد ج۴ص۲۱۴)

رساله موخرة الظنون عن ابن خلدون [۲۷]

بسم الله الرحمن الرحیم

حمداً وسلاماً وائمین .امابعد ابن خلدون مورخ په خپله مقدمه احادیث وارده فی شان المهدی کښې دبعض منکرین ظهور امام کلام نقل کړې دې او په خپله دمورخ کلام هم دې طرف ته معلومیږی نو په دې وجه ئی مدعیانه هغه کلام نقل کړې دې صرف په ناقلانه طور باندې ئی نه دې لیکلې په هر چند مورخ مذکور په داسې امور کښې قابل استنادنه دې خو بادې نظر کښې په کلام کښې دا احتمال وو چه څوک خوش عقیده به متزلزل شی نو ددې دپاره مناسبه معلومه شوه چه ددې متعلق بعض ضروری امور قلمبند کړې شی چه دشبهات ناشیه مختصر اومجمل جواب وکړې شی

امراول :مورخ بعض رواةحدیث مهدې کښې په جرح راوستوسره یوه شبه پیداکړې ده .که یوسړې دا اووائی چه داسی شبهات په رجال صحیح کښې هم پیدا شوې دې نو بیا ددې جواب ورکړې شوې دې اګر چه په دې کښې شبهات دی خو ددې په دې وجه څه اعتبار نشته چه دصحیحین په تلقی بالقبول باندې اجماع منعقد شو ې ده نو په دې وجه هغه شبهات مضر نه دې څه وائم چه ددې نه یوه قاعده کلیه مسلمه عندالمورخ پیداشوه چه په اجماعیات کښې درواة مجروح کیدل مضر نه دې نو اوس وائم چه څنګه دصحیحین تلقی بالقبول کیدل اجماع ده نو هم دارنګه خبر دظهور مهدی هم اجماع دې اوڅنګه چه بعض منکرین تلقی صحیحین قول قادح اجماع نه دې ګڼړلې شوې نو هم داسی به خبر مهدی هم به قادح اجماع نه وی ځکه چه مراد داجماع نه دجمهور اجماع ده اودغیر جمهور قول په مقابله دجمهور کښې هغه قابل

[۲۷] ددې رسالې چه څرنګه قدیم عقائدوسره تعلق دې لکه څنګه چه ښکاره ده دغه شان جدید عقائدوسره ئې هم تعلق دې چه نوې تعلیم یافته هم ددې عقیده مهدی منونکې دې پس د دواړوبحثونونه پس ددې الحاق ډیر مناسب دې ۱۲منه

اعتبارنه ګڼرلي کیږی نو دا اجماع په دواړو کښې برابره ده چناچه تر ننه پورې علماء معتبرین اوائمه محدثین مستندینو په دې کښې مخالفت نه دې کړې بلکه حسب تصریح مورخ مذکور ترمزی وابوداؤدوبزار وابن ماجه وحاکم وطبرانی وابویعلی الموصلی دیو لوئ جماعت دصحابه مثل حضرت علی وابن عباس وابن عمر وطلحه وابن مسعود وابی هریره وانس وابی سعید الخدری وام حبیبه وام سلمه وثوبان وغیرهم رضی الله عنهم نه په اسانید او په طرق مختلفه سره نقل کړې دی پس ځنګه چه بناءعلی الاجماعیه دبعض رجال صحیحین نه مجروح کیدل مضرنه دی نو په دې وجه بعض رواة دخبر مهدی مجروح کیدل مضر نه دې بلکه دا اجماع دخبر اجماع تلقی نه هم زیاته اولی بالقبول ده ځکه چه دا مستند الی النص ده او هغه صرف مستند الی الرائی چه مصنف صحیحین په خیله رائی نه معتمد وحجت وګڼرله بلکه محل منکلم فیه کښې که مستند اجماع هم معلومه نه وه نو ځکه چه دا امر مدرک بالرائی نه وو نو لهذا مستند الی النص به ګڼرلی شوې وو اواوس خو ددې مستند متعین هم دې اونیز چه دمحققینو په قول باندې دسند اجماع معلوم کیدل هم ضروری نه دی نو معلومه کیدل ئی ولو بطریق ضعیف زائده موکدومقوی اجماع به وی او په صحیحین کښې ددې خبر مذکورنه کیدل په دې اجماع کښې قادح نه دی د دؤ وجونه یوه خو دا غیر مسلمه ده چه په صحیحین کښې دا خبر مذکور نه دې بلکه په مسلم کښې دا خبر موجود دې چه کله مبهم په مفسر باندې محمول کوو ځنګه چه عنقریب مذکور به شی نوهغه به ددې عین شی نو صحیحین به هم ددې نه خالی پاتې نه شی دویمه دمحدثین اواوصولیین اجماع دپاره دټولو قول جداجدا نقل کول ضرورې نه دی بلکه دیو قول شائع کیدل اوبیا دچا نه انکارنه منقول کیدل دا کافی دی نو تر ځوپورې چه دشیخین نه ددې خبر انکار منقول نه وی نو په اجماع کښې څه خلل نه راځی علاوه ددې نه چه دا خبرد شیخین نه قبل سلف کښې شائع شوې وی اوچا هم انکار نه وی کړې او بیا اجماع منعقده شوه اوخلاف متاخر رافع اجماع دمتقدم نه وی نو ددې مسئله ظهور مهدی دعندالجمهور اجماعی کیدل پخپله دمورخ دقلم نه هم صادر شوځکه په صفحه ۱۵۲ په اول سطر کښې وائی اعلم ان المشهور بین الکافة من اهل الاسلام علی ممرالاعصار انه لابدالخ

امر دوم : په هر ځائی کښې محدثینو دمتواتر حدیث دتعین دپاره کلام کړې دې خومحققینو ئی تصریح کړې ده که دکتب حدیث تتبع وکړې شی اوداحادیثو طرق اواسانید مختلفه متعدده ته وکتلی شی نو ډیر احادیث مصداق متواتر به په نظر باندې راشی نو په دې وجه ظاهره ده که د خبر مهدې طرق مختلفه وکتلې شی نوددې کثرت دحد مذکور پورې لاریب مثل داحادیث کثیره پورې رسیدلې دی لکه چه په امر اول کښې اشاره شوې ده چه مخرجین اومخرج عنهم په ځومره کثرت سره دی اودهر یو طرق بیل بیل دې نو په دې وجه دخبر مهدې

دتواتر حکم کیدیشی اومسلم ده چه په متواتر کښې درواة ثقه اوعادل شرط نه دې پس چه په کوم محل کښې جرح قوی هم مضر نه وی نو جروح ضعیفه مختلف فیها به څه ضرر ورکړی

امر سوم :چه ځنګه په رواة جرح شوې ده نو دنوروائمه نه پخپله مورخ ددوی توثیق هم په اکثر ځائینو کښې نقل کړې دې نو ددوی جرح اختلافی شوه نو په دې وجه مورخ دنقل جروح نه مخکښې قاعده الجروح مقدم علی التعدیل ممهد کړې ده نو اول دا قاعده پخپله ظنی ده اوبیا په دې کښې کلام طویل دې دریم په عدالت کښې د مسلم اصل کیدل اواختلاف په وخت کښې الیقین لایزول بالشک داقتضاء نه دتعدیل دتقدیم ګنجائش شته اواکثر هغه جروح مختلف فیهادی لکه ځنګه چه د مورخ دتصریح نه هم ثابته ده اوڅلورم داجرح په هغه وخت کښې مضر کیدیشی کله چه دتواتر یااجماع نه انجبار شوې وی نو بیا ددې نه څه ضرر

څلورم امر :حسب تصریح محدثین د ضعف حدیث دکثرت طرق نه منجبر شی پس کله چه ضعف متفق علیه ددې نه انجبار شی نو دضعف مختلف فیه انجبار به ولې ونه شی په خصوصیت سره داسی کثرت چه حد تواتر ورته وئیلې شی لکه ځنګه چه اول مذکوره شوه

پنځم امر) حسب تصریح داهل علم مجتهد دیو حدیث نه استدلال کول داحکم بتصحیح الحدیث دې اوضعف متاخرین احتجاج متقدم ته مضرنه دې پس چه ددې رواة مجروح نه اول سلف ددې پیشن ګوئی معتقد شوې دی نو هغوی د حدیث الباب دصحت حکم کړې دې او دا ضعف بعد ددې نه په سند کښې عارض شو نو دا ظاهره ده چه ددوی په احتجاج ضعف لاحق مضر کیدې نه شی اودمتاخرین دپاره چه سلف دا حدیث بناء بر قائده مذکوره صحیح وئیل اودې تصحیح ته د دوی طرف ته نسبت تواتر کیدل مثل تعلیق بخاری په شان حجت شو چه بخاری یو حدیث بلاسند نقل کوی مګر هغوی التزام دصحت کړې دې نو لهذا ددوی سند نه کتلې کیږی او د دوی په دې ضمنی تصحیح باندې اکتفاء کیږی البته ددې تعلیق مسند الی البخارې ضرور کتلی شی نو مونږه ثابته کړه چه دا تصحیح په ضمنی طور باندې سلف طرف ته منسوب ده پس د متاخرینو په احتجاج کښې هم قدح پاتې نه شوه

شپږم امر :په بعض احادیثو کښې پخپله مورخ هم کلام نه دې کړې په دې کښې بعض د اسم مهدی تصریح ده په صفحه ۱۵۴ سطر ۱۲ کښې دحاکم روایت بطریق سلیمان بن عبید نقل کړې دې اودحاکم قول ئی نقل کړې دې حدیث صحیح الاسناد ولم یخرجاه اودا ئی ددې نه پس وئیلې دی سلیمان بن عبید لم یخرج له احد من الستته نو دا په دې وجه مضر نه دې چه دمجروح کیدلو علت چا دننه پورې دانه دې بیان کړې نو په دې وجه مورخ ته په دې اعتمادونه شو او داستدراک په طور ددې په متصل دائی وئیل لکن ذکره ابن حبان فی الثقات ولم یروان احدآتکلم فیه او په صفحه ۱۵۵ سطر ۳۰ کښې دحاکم نه ئی روایت کړې دی اودحاکم قول ئی

نقل کړي دي صحیح علی شرط الشیخین په دلیل ئی ثابته کړي ده چه شرط په بخاری باندي نه دي دائی منلی ده چه شرط په مسلم دي ځکه چه په دي کښې بعض راویان داسې دی چه بخاری د دوی نه روایت نه دي کړي مسلم کړي دي او پاتې شوه د عمار ذهبی کښې د تشیع شبهه راوستل نو داپه دي وجه مضرنه ده چه کله دا ومنلی شوه چه راوی د مسلم دي او داهم مسلم دي او دامام مسلم روایت صحیح دي نو دا ظاهره ده چه دامام مسلم امام مسلم کیدل خو په بناء دصحت نه شی کیدلې بلکه دامام مسلم روایتونه په دي وجه صحیح منلی شی چه هغه منقد اعلی درجه دي او دمجروحینونه روایت نه کوی نو چه هغوی د عمار ذهبی نه روایت وکړو نو معلومه شوه چه هغه د ده جرح قادح صحت حدیث نه ګڼړی اوپه دي کښې راز دا دي چه غټ مداز په دي باب کښې په صدق او په حفظ کښې دي اکثر منقدین ائمه د دي دواړو امرونه اطمنان کوی او حدیث نقل کوی دي عمار راوی د مسلم کیدل د حدیث د صحت د پاره کافی ده او په بعض کښې تصریح د اسم مهدی نه ده لکه څنګه چه په صفحه ۴۵ سطر ۱۳ کښې دحاکم راویت د طرق عوف نه نقل کړي دي او دحاکم قول ئی نقل کړي دي هذا صحیح علی شرط الشیخین ولم یخرجاه اوپه صفحه مذکوره کښې په سطر ۲۷ کښې د طبرانی قول نقل کړي دي او په دي کښې څه حرج نه دي راوستلي او که د طبرانی د دي قول نه څه شبهه وی رواه جماعة عن ابی الصدیق ولم سیدخل احدمنهم بینه وبین ابی سعید احدا الا ابا الواصل فانه رواه عن الحسن بن یزید عن ابی سعید نو دا مضر نه ده ځکه چه حسب تصریح ائمه محدثین د زیادة ثقه قبول دی او دلته زیادة دي معارصه نه ده ځکه چه ابوالصدیق عن ابی سعید په دویم طرق کښې معنعن دي نو په دي وجه نور د زیادة نفی نه کوی چه معارضه وی پس چه کله زیادة محضه دي او راویان هم ثقه دي نو بیا څه ضرر او که د دي نه شبهه وی چه مورخ ذهبی نه دحسن مجهول کیدل نقل شوي دی نو دا جرح مبهمه ده او په دي تعدیل مقدم دي او هغه تعدیل د دي جرح متصل دي مورخ په کلام کښې موجود دي لکن ذکره ابن حبان فی الثقات څنګه چه حضرت امام ابوحنیفه رحمةالله علیه د حدیث تمر بالرطب کښې ارشاد فرمائیلي وو چه زید بن عیاش مجهول دي نو ټولو محدثینو په جواب کښې وئیلي وو چه زید بن عیاش کذا وکذا فان لم یعرفه ابوحنیفه فقد عرفه غیره او که د دي نه شبهه وی چه د ابوالواصل په نسبت مورخ وئیلي دی لم یخرج له احد من السته نو د دي جواب مخکښې ذکر کړي شوي دي او مخکښې د مورخ قول دي وذکره ابن حبان فی الثقات فی الطبقة الثانیة وقال فیه یروی عن انس وروی عنه شعبة وعتاب ابن بشر چه امیرالمؤمنین فی الحدیث دي د ده روایت کولو نه پس دسته روایت نه کول خو قابل ذکر هم نه ده او په صفحه ۵۴ سطر ۱۰ کښې د صحیح مسلم نه دوه حدیثونه نقل کړي دی او یو حدیث په مسلم کښې دي چه هغه مورخ نه دي نقل کړي فینزل عیسی بن مریم فیقول

امیرهم تعال صل لنا الحدیث پس دا ټول حدیثونه د مورخ په نزد هم صحیح دی هم دا وجه ده چه ټول احادیث اوپه هر یو کلام باندي د کلام کولو نه پس مورخ ته پخپله د احادیثو استثناء وکړه حیث قال وهی کما رآیت لم یخلص منها من النقدا لاتقلیل والاقل منه خه وائم چه اول د دي احادیث صحیحه قلیل وئیل مسلم نه دي ځکه چه د مورخ په ګمان کښې کوم حدیثونه نقل کړي شوي دی هغه پنځه شپږ سوه دی دي عددته قلیل وئیل تحکم دي نو په دي وجه مهره حدیث باندي مخفی نه ده او که بیا دا تسلیم هم کړي شی نو خبر واحد په شریعت کښې حجت دي نو بیا قلیل کیدل څه مضر دي اوپه خصوص سره په داسې امور کښې چه د هغې انکار کفر نه دي صرف بدعت وی نو خبر مهدي من قبیل هم د دي امور نه دي او هر کله چه هغه قلیل امور د کثیر امور سره موید ه شی نو خامخا به حکم په کثیر کښې شی چناچه د مؤیدات کثیره ذکر شوي دي او که دا شبهه وی چه د بعض احادیثو په نسبت مورخ داوئیلي دی لم یقع فیها ذکر المهدي ولادلیل یقوم علی انه المراد منها نو جواب ئی دا دي چه اول تصریح اسم مهدي نه کیدل نو دا مضرنه ده ځکه چه د دي مضرنه کیدل بقول مورخ په دي باندي مبنی ده هغه دلیل یقوم الخ نو که یو دلیل په دي قائم شی نو د انهدام په بناء مبنی به هم منهدم شی نو بنده وائی چه محدیثونو قریب قریب په دي باندا جماع کړي ده که یو امر په متن کښې یا په سند کښې مبهم وی او په دویم حدیث کښې مفسر او قرائن قویه نه د دواړو حدیثونو متحد کیدل معلومیږی نو دا مبهم به په مفسر باندي محمول شی او قطع نظر د محدیثونو نه چه پخپله مورخ دا قاعده ومنله نو په دي وجه په صفحه ۵۳ سطر ۱۸ کښې د ابوداؤد په روایت کښې دا سند دي من روایة صالح ابی الخلیل عن صاحب له ام سلمة الخ نو په دي کښې صاحب مبهم وو مخکښې د شپږو سطرونو نه پس په دویم روایت کښې دا سند دي من روایة ابی الخلیل عن عبد الله بن الحارث ام سلمة په دي مقام باندي مورخ وائی فتبین بذالک المبهم فی الاسناد او دا حدیث په ذکر مهدی کښې دي چه د هغې په نسبت دا هم وائی رجاله رجال الصحیحین المطعن فیهم ولامغمر نو مخکښې ئی دوه شبهې جوړې کړي یو د قتاده مدلس کیدل چه هغه ئی په قد یقال صیغه سره تمریض بیان کړي دي چه د هغې نه پخپله د مورخ په نزد باندي د هغه غیر مرضی کیدل مترشح شو دویمه شبهه د تصریح اسم مهدی نه کیدل چه د هغې جواب په هغه وخت کښې کیږی خیر دا جمله معترضه ده زمونږه غرض د دي متعلق نه د ي د دي فتبین نه معلومه شوه چه د قرائن دي مبهم لره په مفسر باندي محمول کوو ورنه دلته هم یو کس داوئیلي شی ولیس فی الاسناد الاول تصریح باسم الصاحب فکیف حکمت بکونه تبیینا غرض د محدیثونو او پخپله د مورخ د تسلیم نه دا قاعده ثابته شوه او س احادیث مصرحه باسم المهدی وغیر مصرحه به اسانید او الفاظ دیوځائی کولو او د تتبع نه پس

هر یو عاقل ددې اتحاد اسانید اوتقارب الفاظ باندې بلاتکلف ددواړو قسمه روایاتو ته بزبان حال به ئی په دې وینا سره وګوری

من تو شدم تو من شدی من تن شدم توجان شدی
تاکس نګوید بعد ازین من دیګرم تودیګری

نو په دې وجه ټول محدیثونو دې احادیث مبهمه په ذکرمهدی کښې راوستل دلیل قطعی دې ددې حمل نو په دې وجه مورخ هم په صفحه ۵۴ سطر ۹ کښې دیو محدث قول چه هغه په دې باندې مبنی وی نقل کوی ئی وقد یقال دې حدیث الترمذی وقع تفسیر المارواهمسلم فی صحیحه الخ اودا تمریض مونږه ته مضر نه دې ځکه چه ددې نه دمورخ درائی استنباط مقصودنه دې بلکه صرف دومره وئیل دی چه دمحدیثونو دامسلک دې اودمورخ دکلام نه چه ددې قاعدې تائید کیږی هغه اوس مذکور شوپس حتماً دا مبهمات اومفسرات دیوبل عین دی نو په دې وجه تصریح نه کیدل قادح اومضرنه دی اوخوامخوا احتمالات راوستل قابل التفات نه دی ځکه چه دااحتمالات غیر ناشی عن دلیل دی بلکه بعض اقامة الدلیل علی خلافهادی په دې وجه محض ساقط دی دویمه کژه ددې احادیث غیر مصرحه نه قطع نظرهم وکړې شی نو بیاهم احادیث مصرحه کافی دی ځکه چه مخکښې بیان شوې دی چه په دې امور کښې خبر واحد حجت دې لاسیمااذاتاید بشواهداخری قویة مماتلوناه علیک مراراًددې قاعده مذکوره مثال زمونږه په کلام کښې هم موجود دې مثلایوسړې اووائی چه نن یو سړې په دې دې اوصاف سره راغلې وو اوبیا اووائی چه نن زید راغلې وو چه په هغه کښې فلان فلان اوصاف دی اوهم هغه اوصاف مذکوره بیان کړې هر عام سړې به هم پوهه شی چه هغه مبهم سړې زید دې

امر هفتم: بعض منکرین مهدی روایت لامهدی الاعیسی بن مریم نه استدلال کړې دې مګر دااستدلال تام نه دې اول باعتراف مورخ حدیث مذکور ضعیف اومضطرب دې څنګه چه په صفحه ۱۵ سطر ۲۰ کښې تصریح ده ثانیاًمحتمل التاویل دې بلکه بعض صحت اخبار مهدی یقینا ماول دی ځکه چه دمهدی کوم اوصاف په احادیث کښې راغلی دی بالیقین د دې نه تغائر مهدی اودعیسی علیه السلام ثابت دی پس چه په حقیقت باندې حمل متعذر دې نو په مجاز باندې به محمول وی مخکښې په تعین تاویل کښې کلام پاتی شونو بعضوخومهدی په معنی منسوب الی المهدی باندی محموله کړې ده لکه څنګه مورخ نقل کړې ده لکه چه دائی مخدوش کړې ده دحدیث جریج نه مګر دې حصر ته باعتبار انبیاء علیهم السلام ته وئیلې شی نو دمورخ حدشه مرفوع ده بعضومهدی لغوی مراد اخستې دې اودقاعده مطلق اذاطلق یرادبه الفردالکامل دمهدې کامل مصداق صرف نبی کیدیشی مطلب به داوی چه څمانه پس مهدی کامل صرف عیسی علیه السلام به وی ددې توضیح داده چه دحضور ﷺ داارشاد چه لانبی بعدی خبر ورکړې دې چه څمانه پس به یو نبی هم نه وی ددې عموم نه متبادرشوه چه دستاسونه پس

به یو نبی هم نه راځی نه به مستقل او نه به تابع تاسو ددې نفی کړې ده چه څماتابع به صرف حضرت عیسی علیه السلام راځی ځکه چه په مستقل نبی کښې دهادی شان غائبه دې اوپه تابع کښې مهدی کیدو تردې پورې چه دده هادی کیدل پخپله ناشی دی مهدې کیدو په دې وجه دمهدې په عنوان سره تعبیروکړونو معنی دا شوه چه البته تابع کیدو نه پس صرف عیسی علیه السلام به سره چسپان ده دراقم باالقاء ربانی لیکی ګویامعنی متعین دحدیث هم دا ده چه دا ترکیب ددوو څیزونو دکمال اتحاد دپاره وی ګویامعنی دا شوه چه مهدی اوعیسی یو دی پس مهدی موضوع اوعیسی محمول شواودموضوع اومحمول اتحاد حکم کله باعتبار حقیقت هم وی اوکله دباعتبار مجاز هم وی مثلاً ددوو څیزونو زمانه ډیره متقارب شوه اودیو وقوع مشعر دویم څیز قریب واقع وی نو باعتبار زمان نه یو موضوع اوبل محمول جوړوی لکه څنګه چه په حدیث کښې دی عن معاذ بن جبل قال قال رسول الله ﷺ عمران بیت المقدس خراب یثرب وخراب یثرب خروج الملحمة والملحمة فتح قسطنطنیه وفتح قسطنطنیه خروج الدجال الحدیث اخرجه ابوداؤدوالتمذی په دې حدیث کښې څلور قضایاددې قسم دی چه دمحمول حمل موضوع باندې هم دې معنی ده چه کله دامقدمه په ذهن کښې راغله نو اوس معنی المهدی بن عیسی بنه واضحه شوه چه دلته دمهدی ظهور وشو نو لګې ورځې پس نزول دعیسی هم په ذهن کښې راغې پس دتقارب زمان نه مجازا په دواړو کښې داتحاد حکم وشو بهر حال په دې کښې دمنکرینو څه استدلال پاتې نه شو

اتم امر: ددې نه پس مورخ په دې باب کښې دمتصوفه کلام ذکر کړې دې اوڅه ګفتګوئیورباندې کړې ده مګر هغه هم مضر نه ده ځکه چه ددې مسئلې مدارصرف په کشف باندې نه دې بلکه په احادیث صحیحه باندې دې لکه څنګه چه بیان وشو البته د کشف نه زیات اطمنان کیږی اوکشف اګر چه حجت شرعیه نه دې خو شرعیت دهغې ابطال هم نه دې کړې بلکه دلائل شرعیه دهغې اثبات کوی ځکه چه رویا دکشف نه په کمه درجه کښې دې په حدیث صحیح کښې دد ې په نسبت دشب قدر په باب کښې ارشاد دې اری رویاکم قد تواطئت فی السبع الاواخر، دویم داذان په باب کښې ارشاد دې انهارویاحق دریم رویا من الله او لم یبق من النبوة الاالمبشرات وغیر ذالک داحدیثونه ددې اثبات کوی چه دضعیف شرعاً اعتبار دې نو دقوی به ولې نه وی نو د کشف په حدیث کښې تصریحا هم اثبات شته حضرت عمر رضی الله عنه ته محدث وئیل ددې صریح دلیل دې ددې علاوه هغه حضرات صحابه او نور ډیر اولیاء دکشف نه خبر ورکول او دهغې صحیح کیدل دتواتر نه ثابته ده نو څنګه انکار کیدیشی البته چه کوم کشف دامر شرعی نه معارض وی هغه بلاشکه مردود دې یا ماول اوکه نه وی نو فی نفسه

مقنع دی او که دحدیث نه موئد اودحدیث نه متائد وی نو دهغې په مقبولیت کښې خو څه شبهه نشته پس چه دخبر مهدي په متعلق چه کوم کشف دې هغه دحدیث موافق دې نو ولې به قبول نه وی پاتې شو دیو خاص جز چه په حدیث کښې څه تعرض نه وی شوې مکاشفه کښې زائد مذکور کیدل نودې ته څوک عاقل مخالفت نه شی وئیلې ورنه ددې امر زائد غلط کیدل په اصل کشف کښې قادح کیدیشی لکه څنګه چه مورخ دابن عربی قول ظهور ویکون من بعد مضی خ ف ج من الهجرة دنقل کولو نه پس ئی پخپله ددې تفسیر کړې دې درسم حروف ثلثةیریدعددمایحاسب الجمل وهو الخاء المعجمة بلاواحدة من فوق ستمآته والفاء اخت القاف بثمانين والجيم المعجمة بواحدة من اسفل ثلثه وذالک ستمآته وثمانون سنته اودتفسیر کولو نه پس ئی اعتراض کړې دې انصرم هذا العصر ولم يظهر نو یو جواب ددې زمونږ دتقریربالانه معلوم شو چه دیو امر خارجی په غلط کیدلو سره اصل مقصود کښې قدح لازم نه راځی دویم دااعترض مبنی دې په تفسیر مذکور باندې خوهغه مسلم نه دې ځکه چه دا قیاس دې مورخ ممکنه ده چه دشیخ څه خصوصی اصلاح وی اوغالب بلکه یقین هم دا دې نو په دې وجه راقم یوه رساله کشفیه مسمی به شجره نعمانیه په مکه معظمه کښې کتلې ده په دې کښې ډیرې پیشنګویانې دی چه په هغې کښې بعضې واقعه شوې هم دې نو په دې کښې واقعات واقعه چه کوم کوم شراح حل کړې دی هغه دابجد په حساب باندې مبنی نه دی هغه څه بله اصطلاح ده چه دهغې راقم ته باوجود دغور اوتدبرنه هم څه پته ونه لګیده اوپه دې کښې یو عجیب امر بل هم دې چه په دې اصطلاح کښې هم څه قاعده منضبطه نشته په هر مقام باندې یوه بیله اصطلاح ده ځکه چه مقصود د دوی اخفاء ده نو په دې وجه په مختلف رموز باندې مبنی کړې ده اوپه دې هم اندیشه وشوه چه شاید څوک به په دې پوهه شی نو په دې کښې ئی ایمان مغلطه په ناظر ورکړې ده که څوک پوهه شی نوهر ګز به ددې اظهار ونه کړې اوبیا دمزې خبره داچه کوم شراح واقعات حل کړې دی نو هغوی هم په رموز کښې لیکلی دی اوهم هغه وهم هغوی ته هم وشو او دهغې علاج ئی هم دې قسمونو سره کړې دې نوپه داسی حالت کښې څنګه وشی چه شیخ دابجد په حساب باندې مبنی کړې ده ځکه چه دا حساب خو داسی مبتزل دې چه ماشومان هم ورباندې پوهیږی نو بیا به اخفاء څنګه ممکنه وه اودا ټول قسمونه به بیکاره وو ځکه چه خواص کول هله مفید وی چه عوام ورباندې پوهه نه شی اوپه دې حساب خوعوام هم پوهیږی نوبیاداټول مساعی بیکاره وو .غرض داچه تغلیظ ایمان دلالت کوی چه دمقصود شیخ نهایته اهتمام وکړې شی په اخفاء کښې اوبیا په داسی حروف کښې لیکل پخپله د دوی دمقصود مناقض به وی لکه څنګه چه پخپله مورخ دعلاماتو خزانه تلاش کونکو باندې په دې تقریر سره طعن کړې دې حیث یقال وایضاً فمن اعتزن ماله وختم علیه بالاعمال السحریة

فقدبالغ فی اخفائه فکیف ینصب علیه الادلةوالامارات لمن یبتغیه ویکتب ذلک فی الصحائف حتی یطلع علی ذخیرته اهل الاعصار والافاق هذابناقص قصدالاخفاء پس غالباددې رموز څه داسی قانون شته چه کوم معلوم نه دې پس بغیر دعلم نه ددې قانون تفسیر رموز څنګه قابل اقتداء کیدیشی نو په دې وجه یو ځائی کښې مورخ لیکلې دی اذالرمزانمایهدی الی کشفه قانون یعرف قبله ویوضع له واماامثل هذه الحروف فدلالتهاعلی المراد منهامخصوصةبهذاالنظم لایتجاوزه الخ پس چه دتفسیر مذکور صحیح کیدل ثابت نه دی بلکه دتقریرمذکور نه ددې غیر صحیح کیدل ثابت دی نو بیااعتراض هم باطل اوساقط شو اودرویااوکشف معتبر کیدل خوداحادیث نه ثابت هم دی اوپخپله مورخ هم ددې قائل دې نو په دې وجه په صفحه ۵۱ سطر ۳ اوصفحه ۵۲ سطر ۱۴ اوصفحه ۵۴ سطر ۲۸ نه سطر ۳۷ پورې او دصفحه ۵۵ داغاز نه دمطالعه نه واضحه کیدیشی چه ددې دمعتبر کیدو اعتراف ئی وشو نوبیاداټول شبهات ناقابل اعتبار دی هذاماعندی الآن ولعل الله یحدث بعد ذلک امر اولیکن هذاآخر مارمناه فی هذاالباب والله تعالی اعلم بالصواب وعنده ام الکتاب. ۲۱ شعبان ۱۳۳۳ھ (امدادج ۴ ص ۲۱۸)

بعضې[۲۸] از تحریرات سیدناومولانا خلیل احمد صاحب دامت برکاتهم که در جواب وسوالات صاحب فتوی صدریافته بمناسبت مقام درآخر ملحق کرده شد

په در منثور کښې روایات دنظر دلاندې تیر شوې دی اوتحقیقی جواب خودروایاتو ظاهر دې چه دااخبار احاد دی اودقراءة متواتره په مقابله کښې داخبار احاد اعتبار نه شی کیدې لیکن که څوک مخالف ددې روایاتو پیش کړی نوددې دپاره څه مسکت جواب په ذهن کښې نه راځی اوکه څه جواب وی نو مطلع کړئ هغه روایتونه دا دی (۱) اخرج الفريابى والحاكم وصححه البيهقى فى شعب الايمان والضياء فى المختارة من طرق عن عباس فى قوله حتى تستانسو اقال اخطاء الكاتب انما هى حتى تستاذنوا(۲) اخرج ابن جرير وابن الانبارى فى مصاحف عن ابن عباس انه قراء افلم ييقن الذين امنوافقيل له انهافى المصحف افلم ييأس فقال اطن الكاتب كتبهاوهو ناعس (۳) اخرج ابن داؤد عن يحيى بن معمر قال قال عثمان ان فى القرآن لحناو ستقيمه العرب بالسنتها(٤)عن قتادة ان عثمان لمارفع اليه المصحف قالان فيه لحنا وستقيمه

---

[۲۸] ددې تحریراتو تعلق عقائدوسره ښکاره دې پس ددې جلد زیاته حصه عقائدوسره متعلق ده ځکه چه دکتاب البدعات نه هم داسلسله ده اګرچه داختلاف د اعتباراتونه د ابوابوپه تعبیرکښې دعنواناتو اختلاف شوې دې اوددې مځکښې مضامین چه هغه تفسیر، حدیث او سلوک سره متعلق دی ډیرلږ دی په عقائدوباندې دکتاب ختمول ان شاء الله نیک فال دې په صحیح عقائدوباندې دخاتمې کیدلو، ۱۲ منه

العرب بالسنتها (۵) وعن عکرمة قاللماتی عثمان بالمصحف رایٔ فیه شیٔامن لحن فقال لو کان المملی من هذیل والکاتب من ثقیف لم یوجد فیه هذا(٦) واخرج ابوعبیدوغیره قال سئلک عائشة عن لحن القرآن وان نون الزکوة وان هذالسا حران فقالت یاابناختی هذاعمل الکتاب اخطؤافي الکتاب

جواب: مخدوم ومحترم حضرت مولاناالحافظ الحاج مولوی اشرف علی صاحب دام مجدکم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته گرامی نامه عزت بخش شوه اود درمنثور روایت اول هم دنظر نه تیر شوې دي دبنده په نیزد ددي جواب نه علاوه دویم جواب دا دي چه قرآت ددي صحابه کرام نه نه بطور تواتر ثابت شوي دي اونه درسول الله ﷺ نه اوریدلي دی اوچه کله داحاد په طور ورسیده اوخلاف قانون ئی ورته ښکاره شو اویاباعتبار صحیح معنی ونه کتلو اوغلطی ئی وکړه نو په دي وجه روایت دحضرت عائشه چه په ټولو صحاح کښې مروی دي حتی اذاستئیس الرسل وظنو انهم قد کذبودتخفیف په نسبت څنګه قدراستنکاف فرمائی اودبنده په ناقص خیال کښې په دي کښې هیڅ څه الزام په دوی نشته دجناب په رائی کښې که دبنده خیال صحیح وی یابل څه پسندیده خیال ئی په ذهن کښې راشی نو بنده دي مطلع کړی فقط خلیل احمد عفی عنه (؟ص۲۵۸، ۱۳۲۵ه یوم جمعه)

سوال: (۱۳٤)ازمولانا مصنف مدظله بر جواب حضرت مولاناخلیل احمد صاحب عم فیضه السلام علیکم ورحمة الله برکاته سرفرازنامه اودجواب نه پس ډیر خوشحاله شو اوډیر سلیس اوبی تکلفه ده مګر دلږ ساعت نه پس په د ي کښې لږ خلجان پیداشو چه هغه ماروز مره لیکل غوښتل نن دجمعې په ورځ داظهار موقع ملاو شوه هغه دا ده چه یقین دې چه دا قرآت مثبته فی المصاحف په هغه وخت کښې هم متواتر وه اوعلی التعیین دا قرآت هغوی ته نه وو رسیدلي خواجمالا دي حضراتو ته دومره معلومه وه چه څه ناڅه قرآت په دي کښې متواتر ضرور دي اوددي تعین اوطلب هم په دي وجه واجب وو چه غیر قرآن په قرآن کښې داخل کول جائز نه دی پس هغوی طلب ونه کړو نو ترک واجب لازم شو نوپس کوم قرآتونه چه دقانون موافق وګڼړل اوپه واقع کښې هم اوددوی په نزدهم روایةثابت اوصحیح نه دی نو غیر قرآن په قرآن کښې داخلول لازم شو اوکه طلب کړې ئی وی نو ظاهره ده چه کوم قراتونه په واقع کښې ثابت دی هم هغه دطلب کولو نه متعین دی نو بیامحض دقانون نه ددي دانکار نه څه معنی شوه بخلاف دانکار عائشه نه چه کوم قرات هغوی اختیار کړې دي هغه هم حصیح اوثابت دي اوپه هر ځائی کښې قرآت تعدد ضروری نه دي نو په دي وجه د دویم قرات طلب اوتعین په دوی واجب نه شو اودکوم طریق نه چه هغه قرآت بالتخفیف رسیدلي دي هغه طریق قطعی نه وو اوظاهراً په دي کښې اشکال معنی لازم کیدلو نوپه دي وجه هغوی ته دانکار کولو ګنجائش وو نو انکار عائشه مقیس علیه دهغې مقیس نه جوړیږی اوکه نه وی نو اوس چه دکوم قرات غواړی

نوانکار به په دي بناء جائز شی چه منکرین ته خاص په دي طریق قطعی نه دي رسیدلي اوعلم اجمالی کافی نه دي اوپه صحیح قرآت کښې څه اعرابی اومعنوی اشکال وی اود دي التزام څوک نه شی کولې

جواب: مخدومی مکرمی مدالله ظلال مجدکم السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته په جواب عرض کولو کښې شرم راځی چه تاسو بحمدالله ددي علوموماهر ئی اوځه ګویاناواقف یم مګر امتثالا للامر چه کوم صحیح یاغلط په خیال کښې تیر شوې دی مختصر عرض کوم که غلط شو نو تصحیح به وشی دبنده په خیال کښې مضمون دي چه دقرآن دقطعیت دوه قسمونه دی اول خو بلاواسطه درسول الله ﷺ نه تلقی اودویم تواتر دصحابه رضی الله عنهم نه نو ددواړو صورتونه نه قطعیت کیدیشواودتابعین اوددوی نه ورسته دپاره صرف دتواتر صورت باقی پاتی شو صحابه رضی الله عنهم ،.... صحابه رضی الله عنهم چه کوم آیت یاحرف درسول الله ﷺ نه بلاواسطه اوریدلي دي نو هغوی دپاره قطعی شوې دي ددي نه پس اګر که آئنده دپاره د دوی نه بطور تواتر مروی شوی دي نوقطعیت به کیدو اوپه کوم ځائی کښې چه سلسله تواتر قطع شو نوقطعیت هم قطع شو نو اوس مواضع مبحوث فیهاکښې ممکن دي چه حضرت عائشه رضی الله عنها وغیره ته هغه طریق جواب متواتر دي یعنی والمقیین وغیره نه وی رسیدلي اوپه دویمه طریقه یعنی والمقیمون وغیره بلاواسطه دجناب رسول الله ﷺ نه اوریدلي وی نو په دوی واجب نه وو چه هغوی قرات متواتره تلاش کړې وو ځکه چه قطعی قرآت دوی ته حاصل شوې وو اوپه دي وجه چه غیر قرآن دقرآن نه ممتاز شی نو ددي انکار فرمائی غایة مافی الباب ددي نه پس چه د دوی نه دتواتر سلسله ونه چلي ده نو لهذا د دوی نه پس دپاره قطعیت پاتې نه شو نو په دي وجه حضرت عائشه رضی الله عنها درسول الله ﷺ بطور قطع کذ بوابالتشدید معلوم شوه اوبالتخفیف نه بتواتر اونه درسول الله ﷺ نه بلاواسطه معلومه وه نوپه دي وجه ئی انکار وکړی اواتفاقاً بالتشدید هم بعد ازامتواتر شو اوکه بالفرض متواتر نه وو نو بیاهم څه حرج نه وو ځکه چه دي ته دقطع مرتبه ددویم طریق نه حاصله وه بالجمله تواتر اوعدم تواتر صحابه دقطعیت دپاره څه مزاحمت نه دي نو دا دواړه مقیس اومقیس علیه برابر شو اودمابعد صحابه دپاره داصورت ممکن نه دي ځکه چه دوی ته دتواترنه علاوه دقطع هیڅ ذریعه نشته نو که هغوی انکار وکړی نو یقینا بلااعتماددیوقطعی انکار قطعی لازم کیږی او که په بعض صورتونو کښې که انکار درسم خط طرف ته راجع کړې شی نو ډیر به چسپان شی

سوال بر جواب بالا: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته مرقوم سامی کښې دکم علمی په وجه دومره خلجان نور هم باقی پاتې شو که دا احتمال فرض کړې شی چه مواضع مبحوث فیهاکښې دي حضراتو دا کلمات بلاواسطه پخپله درسول الله ﷺ نه څنګه چه دا کلمات اوریدلي وو یاخوهغه قرآن وو یانه وو په شق اول باندې دقرآن ضیاع لازم راغله اوپه شق ثانی باندې داذخال غیر قرآن باندې قرآن لازم راغې کلاهما خلف بخلاف مقیس علیه یعنی قراءة

کذبوابالتشدید والتخفیف کښې چه دواړه قرآن دی نو په دې وجه دواړه قرانتونه محفوظ دی سردت دا شبهه ده او که ددې نه پس یو بل امرخما په خیال کښې راغی نو عرض به وکړم بار بار په تکلیف درکولو سره شرم راځی مګر انماشفاء العی السوال ددې مکرر تکلیف مقتضی کیږی

جواب: مخدومی حضرت مولانا مولوی اشرف علی صاحب دام مجدکم السلام علیکم ورحمةالله وبرکاته پرون یوم نکشنبه باندی ګرامی نامه عزت بخش شوه داشکال متعلق دبنده په ناقص خیال کښې دادی که شق اول اختیار کړې شی چه په مواضع مبحوث فیها کښې داکلمات چه کله دنبی علیه السلام د زبان مبارک نه اوریدلې وی قرآن وو لیکن بعد ازان منسوخ شوې یا بطور تیسیر فرمائیلې شوې وی چه په هغې باندې حدیث انزل القرآن علی سبعة احرف دال شی او پس ددې نه هغه تیسیر مرتفع شو لارتفاع العلة او صحابه رضی الله عنهم ته ددې نسخ یا ارتفاع په قطعی طور سره اطلاع نه وی شوی لهذا هغوی په خپل قطعی مسموع باندې مضبوط ولاړ ووا او قراءة متواتره هم په قطعی طوږ باندې نه وی رسیدلې په دې صورت کښې صرف داخیال کیږی چه بعد نسخ چه کوم غیر قرآن وو قرآن ئی اعتقاد کوو مګر ظاهره ده چه هغوی معذور وو نو په دې وجه دحضرت عائشه رضی الله عنها روایت درباب نسخ عشر رضعات اوبقاء خمس رضعات دلالت کوی چه خمس رضعات په قرآن کښې موجود دی حالانکه منسوخ شوې وی اونیز دعبدالله بن مسعود قرآت والذکر والانثی کښې قول والله لااتابعهم اوداهم ممکنه ده چه پس ددې نه دوی ته قرآت متواتره رسیدلې وی اودا انکار ددې نه سابق وی نو په دې وجه بعض روایتونه ددرمنثور نه په دې موقع مفهوم کیږی. فقط والسلام خلیل احمد عفی عنه از سهارنپور یوم دوشنبه یکم بیع الاول ۱۳۲۵ه.دروېت په وجه څه چه عرض کوم امتثال دی ورنه بحلف عرض کوم چه څه ددې قابل نه یم چه دجناب په جواب کښې څه عرض کړم (جوابه) السلام علیکم ورحمة الله په اتفاق سره دیو مبتدع کتاب کښې بعض شبهات دنظرنه متعلقه بمعجزه تیرې شوې چه دهغې شافی اوکافی جواب دپاره طبعیت جویان دې او په دې غرض په دې وخت کښې تکلیف درکوم (۱) دانبیاء دنبوت دلیل معجزه په دې وجه نه شی کیدې چه مدعی نبوت کاذباً نه صدور خوارق کښې دامتناع څه دلیل قطعی عقلی یانقلی نه دې بلکه که نقلی وی کافی هم نه دې ځکه چه مسئله دعقلیاتونه ده (۲) دزردشت مجوسی حال په تاریخ کښې لیکلې دې چه ده ګشتاسب بادشاه په مخکښې دنبوت دعوی وکړه اوپه اوور کښې ځان واچوو او ونه سوزیدو که احتمال دحیل وی نو اول بادشاه ته داشبهه کیدې شوه ثانیاً دااحتمال په هر ځائی کښې مشترک دې اوبیاچه څنګه دسیجون نه منقول نه ده نوداسې دده په نسبت هم منقوله نه ده (۳) دبعضو مسبباتو اسباب داسې خفی وی چه عوامو ته مدرک نه وی اوداسې مسببات خوارق نه وی ځکه چه اسباب طبعیه عادیه نه صادر دی څنګه چه نن سبا دمسمر یزم

نه عجائب امور صادر کیږی که اووئیلې شی چه دا دتصرفات تفسانی مشق وریاضت نه حاصل کیږی نو دا احتمال مشترک دې اوددویمې تجزیه نه داثابته کیږی چه دبعضو خلقو نفوس فطرة داسې وی چه دوی ته دمشق حاجت نه وی ددو ی نه بلاریاضت هم دداسې امورو 17/6
صدور کیږی نو په مدعین نبوت کښې نعوذ باالله ددې احتمال ولې نه کیږی (۴) اوکه اوس یو سړې دنبوت دعوی وکړی اوخوارق وښائی نو اوس به نعوذباالله دهغه تصدیق وکړې شی اوکه یو سړې داسې امور وښائی نو داخبره به څنګه چلیږی چه مدعی کاذب دې داسی نه کیږی بلکه که کوم یو سړې ددې قائل وی نوهغه به منلې کیږی که داسړې صادق دې (۵) ددې څه دلیل دې چه دکومو خوارقو تر اوسه پورې معارضه ونه شوه نو بیابه هم نه کیږی آیا ممکنه نه ده چه مخکښې به یوسړې زیات صاحب کمال پیدا شی اوهغه په معارضه باندې قادر وی انتهت الشبهات اودا مبتدع دا وائی چه محض دتعلیم خوبی اواخلاق په کمال سره نبوت ثابتیږی لیکن په دې باندې زیات شکوک واقع کیږی چه یو سړې دحکماء دکتابونو نه یا دسلامت عقل نه په تعلیم اوپه اخلاق کښې کامل وی اومدعی نبوت شی نو دده دکاذب کیدو هیڅ یو دلیل قطعی به نه وی اودوه مسئلې په فروع کښې قابل تحقیق دی اول په مدرسه کښې چه کومه پیسه راځی اګرکه دا وقف وی نو دبقاء عین سره ئی انتفاع وئیلې دی اودا ملک دمعطی دې نو دده دمرګ نه پس واپسی ئی دورثه طرف ته واجبه ده دویم که په عدت کښې یوه ښځه زوج یا احماء استطالت لسانی وکړی نو جواز اخراج عن البیت په یو فقهی کتاب کښې منصوص دې یانه دې.

جوابه: مکرم ومحترم حضرت مولانا الحافظ الحاج مولوی اشرف علی صاحب دام مجده السلام علیکم ورحمة الله تعالی وبرکاته ګرامی نامه موجب دمباهات شوه اول خو دا خیال وو چه معذرت به پیش کړم دداسې دقیق مضامین نه دخادم ناقص فهم عاجز دې مګر ته دې وخت کښې داخیال پیداشو چه څه رطب یا بس په فهم کښې راځی نو عرض به کړم او اصلاح به وشی اوکه پسند خاطر عالی شی نو زهے قسمت .دجواب عرض کولو نه مخکښې یو څوامور عرض کوم (۱) معجزات فی حدذاتها امور ممکنه دی نه ممتنعه ذاتیه عقلیه (۲)مبتنی یا مبطل نبوت نه صدور خوارق امتناع عقلی نه ده بلکه عادی ده چه عادت الهی عدم صدور خوارق مثبته نبتوت یا مبطله تبوت باندې جارې کیږی اوغیر مبتنی اومقابل نبی نه امتناع صدور خوارق نه عقلی ده اونه عادی (۳) محض امکان او احتمال صدور اګرچه مشترک دې مګر بوجه صدور منافی مدعیٰ نه دې (۴) معجزات اوشعبدات کښې امتیاز کیدل لکل واحد من العوام وخواص ضروری نه دې بلکه دخواص نه رفع اشتباه کیدل کافی دی (۵) دفخر عالم صلی الله علیه وسلم خاتمیت دنص قطعی نه ثابت دی اهذاوس ددې امتناع عادی هم څه ضرورت نشته اوس دا ترتیب په جواب کښې عرض دې.

نه کیږی نو لهذا د معجزي (۱) چه حسب عادت الهیه صدور خوارق مثبت نبوت مبتنی نه دلیل نبوت کیدو کښې مانع به نه وی (۲) داهل تاریخ نقل داحتجاج قابل نه دي (۳) په مدعی نبوت کښې احتمال صدور عقلاممتنع نه دي او که نفس صدور خوارق چونکه خلاف عادة الهیه دی نه به کیږی چه دامتیاز دپاره کافی ده اودرښتنی نبی په معجزاتو کښې احتمال دحیل اوشعبدات ته هم امر مانع دي. (۴) اول صدور خوارق حسب عادة الهیه ممتنع دی ثانیاسلمنا لیکن جناب فخر عالم ﷺ خاتمیت دنص قطعی نه ثابت شوې دي لهذا که اوس دچامدعی نبوت نه خوارق ظاهر هم شی نو دالتفات قابل به نه وی (۵) په عدم امکان باندې ددلیل قائم کولو ضرورت نشته مونږه پخپله دامکان قائل یو کلام په وقوع کښې دې چه هغه خلاف عادت الهیه دی کوم سړې چه سلیم العقل او کامل اخلاق والتعلیم نه شی کیدې نو صرف امکان عقلی داعتراض دپاره کافی نه دي.

جواب فروع :دعاجز په نزد باندې دمدارسو پیسه وقف نه ده مګر اهل مدرسه په مثال دعمال بیت المال معطین او آخذین دطرف نه وکلاء دی لهذا نه په دې کښې زکوٰة واجب کیږی اونه ئی معطین واپس اخستلی شی (۱) دعالمګیریه دا روایت وان کان نصیبها من دارالمیت لایکفیها فاخرجها الورثة من نصیبهم انتقلت دلیل دې که دښځې حصه کافی نه وی نو ورثه دخپلې حصې نه خارج کولې شی که استطالت وکړی او که نه او که ددې حصه کافی وی نو اخراج نه شی کولې فقط والله اعلم خلیل احمد عفی عنه ۱۸ جمادی الاخری ۱۳۲۵ھ.

حضرت مخدومنا ادام الله ظلال فیوضهم السلام علیکم ورحمة الله شفا نامه مزیل مرض شوه لیکن اصل اساس شبهه هنوز قطع ونه شو په مقدمات خمسه کښې په مقدمه ثانیه باندې دا شبهه ده چه دامتناع عادی څه دلیل دې صرف عدم صدور الی الآن خودلیل کیدي نه شی ورنه ډیر امور ممکنه عادیه ممتنع عادی به شی بلکه څه دلیل قائم کول په دې پکار دی چه داسې کله هم ونه شی ځکه چه عدم صدورالي الآن اواحتمال والوقوع فیما یستقبل کښې تنافی نه دي مثلاً قیامت اوخاتم النبیین ﷺ نه پس یو نبی ددې دواړو تر اوسه پورې وقوع نه ده شوې مګر اول ممکن عادي دي چه تر اوسه پورې صدور نه د ي شوې اوثانی ممتنع عادي دي ځکه چه دلیل قائم دي چه داسې به کله هم ونه شی نو صدور خوارق عن المبتنی دامتناع عادي باندې کوم یو دلیل قائم دي اوددې دصدور نه کوم یو مخدوم عقلی لازم کیږی اصل مقصود دسوال نه داوو شاید اول تعبیر کافی نه شی کیدې مقدمه ثالثه په دې مقدمه ثانیه باندې مبنی ده او په مقدمه رابعه کښې دا سوال دې چه هغه امتیاز کوم یو دې ددې تعین ضرورې دې چه په هره زمانه کښې ددې نه رفع اشتباه او اسکات مبطل ممکن وی ورنه د مبطل ګنجائش به وی. چه هغه خواصو ته خواص نه وائی مقدمه خامسه کښې دا سوال دې چه

دکوم دلیل قطعی نه خاتمیت ثابت دې نو ددې ثبوت پخپله فرع دې دامتناع عادي مذکور اوهغه هنوز محل کلام کښې دی بالخصوص چه دا معجزات محمدیه ﷺ معارضه ممتنع هم ونه منلې شی نو یو ملحدیه شبهه کولې شی چه دکوم وخت نه تر اوسه پورې دغیر مبتنی نه ددې خوارق صدور شوې دې نو نعوذبالله ممکنه ده چه دا قوت په تاسو کښې هم وو پس پخپله دستاسو نبوت څنګه ثابت وو اوختم نبوت خو ددې نه هم متاخر دې جواب اول مبنی دې په امتناع عادی باندې اوهغه هنوز محتاج اثبات دی جواب دوم کښې که یو سړې دتواترنه دا نقل ثابت کړی نو وو به وئیلې شی او یقینی بعض واقعات تاریخیه متواتره دی او که خبر واحد هم وی نو بیاهم ددې دتکذیب دپاره ددې نه اقوی دلیل پکاردې او که حجت نه وی نو په اقل درجه کښې خوبه اجتمال راځی اوجواب سوم هم مبنی دې په امتناع عادی باندې اودجواب چهارم اصل هم مبنی دې په امتناع عادی باندی اوبعد تنزل مبنی دې په مقدمه خامسه باندې اوپه دې کښې بره کلام شوې دې اوجواب خامس هم مبنی دې په امتناع عادی باندې اوثابت کیدو نه پس امتناع عادی چه هغه به امتناع مخصوص وی دخوارق سره اوچه کوم امر قوت نفسانیه نه چه هغه هم داسباب طبعیه نه صادر وی هغه خارق نه وی اوددې امتناع نه کیږی پس په اصل سوالات کښې سوال ثالث بلاجواب باقی پاتې شو افیدونا رحمکم الله تعالی۔

معروضات متعلق مسائل فرعیه : (۱) عمال بیت المال منصوب من السلطان دې اودسلطان ولایت عامه دې نو په دې وجه هغه دټولو وکیل جوړې دیشی اوپه مقیس کښې ولایت عامه نشته نو په دې وجه به داخذین وکیل څنګه جوړیږی ځکه نه وکیل صریح دې اونه ولایةً دې اومقیس علیه کښې دلالةً دې چه ټول دده زیر طاعت دی اوهغه واجب الاطاعت دې (۲) مقصود معتده مطلقه تپوس کول دې چه دهغې سکنی په زوج باندې واجبه ده نو په دې وجه دجواب انتظار دې والسلام مکرر آنکه تعلیم او اخلاق په متعلق دا خبره پاتې شوه چه دا صحیح ده چه هغه به په واقع کښې سلیم العقل نه وی لیکن دسلامت عقل چه کوم ظاهری نښې دی چه رائی صحیح وی او اخلاق درست وی اودښه خبروتعلیم کوی لکه چه څنګه حکماء ددې شان تیر شوې دی نو دداسې کس نه په څه وخت کښې دڅه غرض صدور دعوی دکاذب امتناع څه دلیل دې چه هغه دعوی عمدا وی یا خطاء دڅه اشتباه نه هم.

جواب: سیدی ادام الله فیوضکم السلام علیکم ورحمة الله تعالی وبرکاته (۱) دمقدمات متعلق چه څه ارشاد وشو ددې په جواب کښې مختصرا دومره قدر ګزارش دې چه اول امتناع عادی دومره بین اوبدیهی ده چه ددلیل محتاجه نه ده ځکه چه په ابتداء حدوث دنیانه په هره زمانه کښې انبیاء علیهم السلام بعثت به کیدو اوانبیاء علیهم السلام به خپل نبوت په معجزات تحدی سره ثابت کوو اوجم غفیر مخالفین په خپل پوره کوشش او همت سره ددې دابطال دپاره په مقابله کښې ولاړوو اویوه دقیقه دمخالفت هم نه پریښې نو په داسې حالت کښې باوجود دداسې

شدید دواعی نه هم خوارق مبطل نبوت نبی یا مثبت نبوت مبتنی ظاهر نه کړه نو ددې نه واضحه شوه چه عادة الهیه هم داسې بهٔ جاری وی چه دهغې خلاف وقوع ممتنع عادی ده اوداهم ظاهره شوه چه امتناع حکم صرف بوجه عدم صدور نه کړې شوې چه کوم امور ممکنه عادیه امثال قیامت وغیره نه چه دهغې تر اوسه پورې څه وجود نشته محل اعتراض شی بالجمله په دې ځائی کښې دوه اموردی یو چه یو نبی خپل نبوت دیوې معجزې نه ثابت کول غواړی نو دظهور معجزه په دې وخت کښې وجوب عادی دې .اودویم که دویم مبتنی یا مخالفت نبوت دخپل دروغژن نبوت یا ابطال نبوة صادقه دپاره څه خوارق چه دمعجزې په درجه کښې وی ظاهر کول ئی غواړی نوددې امتناع عادی ده لیکن داول امر ظهور دآفتاب نه زیات روښانه دې .حلانکه په دې کښې باوجود داحتمال کثیره نه کثرت مخالفین دې ددې ثبوت مطلق نه کیدو یانهایته خفی وو اوامر ثانی کښې بوجه کثرت موافقین اوصرف همت زمانه دراز پورې ناکامیاب وسیدل اوپه زرګونو کلونو کښې دیو امر هم یقینی طور باندې ثابت نه کیدل دامر اول نه په زیاته روښانه کیدوسره دامتناع په طور باندې عادی ثابت کوی چه دهغې په کیدو سره ددلیل ضرورت نشته اوکه په داسې بین اوبدیهی امور کښې احتمالات موهومه ته قادح اووائی نو دیو قطعی نه قطعی امر به هم داحتمال نه پاک پاتی نه شی اومفید قطع به ونه شی اوثانیاً ممکن دې که په دې باندې عقلی دلیل هم قائم کړې شی ددې تقریر حق تعالی شانههدایت خلق دپاره انبیاء عليهم السلام دمعجزاتوسره تائید فرمائیلي دې اوددوی په لاس معجزات ظاهر کوی که مبتنی یامخالف نبی ددعوی نه پس ددوی په لاس ظاهره کړی نو سراسر تلبیس اوموجب سد باب نبوت اوخلاف حکمت به وی اودمقدمه رابعه په متعلق عرض دې (۲)دتقریر سابق نه امتیاز فیما بینهماظاهردې چه خارق مرتبه په معجزه کښې دنبوت دعوی سره وی هغه به په نبی کښې حسب عادة الهیه وی په مبتنی مقابل نبی کښې به هرګزنه وی اوځنګه چه معجزات خلق علی ایدی الانبیاء عادت الهیه دې هم په دغه شان خلق علم ضروری ددعوی نه پس اورویت معجزات بتصدیقه هم عادة الهیه دی لهذا چه کوم منکر وی هغه فی الواقع بوجه اشتباه امر منکر نه وی بلکه بتعنت منکروی لهذا د عقل په روء سره چاته هم ګنجائش نشته چه انکار وکړی (۳)مقدمه خامسه هم په د ې مستحکم اومضبوط اصل باندې متفرع وه لهذا په دې کښې هیڅ کلام نه کیږی اوچه کله په زرګونو کلونو نه عادت الهیه دتجربه نه اوبیا ستاسو په زمانه کښې دمعجزاتو ظهور دستاسو نبوت په واضحه طورباندی ظاهرکړو نو ددې مقابله محض احتمال اوامکان صدورثبوت نبوت کښې هرګز مزاحم کیږی به نه اوبعد ازاں خاتمیت ته به هم نه مانع کیږی (۴)دجواب دویم په متعلق چه تر اوسه پورې په زرګونو کلونو کښې باوجود دشدت تهالک نه اودصرف هموم نه چا هم ونه کړه نو اوس صرف احتمال موهوم دې قطعیت ته به څه صدمه رسان به نه وی اوعرض می کړې دې چه ددې نه به

داحتمالات یوه دروازه به خلاصه شی نویو دلیل به هم قطعی مفید قطعې پاتې نه شی اوبدیهیات اولیه مشاهدات وغیره نه به هم امان مرتفع به وشی .(۵) جواب خامس،رابع په متعلق چه عرض کړې شوې دی ځما په ناقص رائی کښې هغه کافی دی لهذا په سوال ثالث کښې چه دکوم خوارق ذکردې هغه خو به اول د معجزاتو په مرتبه کښې نه وی بلکه ډیر خلق به ددې دلم نه واقف وی اودویم مقارن دعوی نبوت به نه وی لهذا متحمل نبوت صاحب خوارق به نه وی.

فرعیات: دبنده په خیال کښې په سلطان کښې دو وصفونه دی یو حکومت چه دهغې ثمره تنقید حدودوقصاص اودویم انتظام حقوق عامه په امر اول کښې څوک ددې قائم مقام نه شی کیدې اوپه امر ثانی کښې اهل حل وعقد دوخت په ضرورت کښې اهل قائم مقام کیدیشی وجه دا چه اهل حل وعقد درائی اومشورې سره نصب سلطان وابسته دې چه هغه دباب انتظام نه دې لهذا مالی انتظام مدارس چه په رضاء ملاک اوطلبه ابقائی دین دپاره شوې دې بالاولی به معتبر وی اولګ غور وکړې دجمعې انتظام دپاره دعامه نصب امامعتبر کیدل په جزئیات کښې په دې نظیر اوشاهد کیدیشی دمعتده طلاق دپاره څه روایت پیدانه شومعذوره یم مګر په بحرالرائق کښې دی واخذابو حنیفه بتفسیر ابن عمر رضي الله عنه ذکره الاسبیجابی وذکرنی الجوهرة ان اصحابناقالواالصحیح تفسیرهابالزنا کمافسره ابن مسعود اوداقول دابن عباس !واکثرو لیکلې دې ددې نه معلومیږی چه محض استطالت لسان نه اخراج نه کیږی اودابن عباس نه یو روایت په تفسیر کبیر کښې هم دې وعن ابن عباس الآن یبذون فیحل اخراجهن لبذائهن وسوء خلقهن فیحل للازواج اخرجهن من بیوتهن مګر دا روایت ضعیف اوپه مذهب کښې ماخوذ نه دې صاحب تعلیم اواخلاق کامل والا واقعی مدعی نبوت به نه وی اونه حقیقةً نو په دې وجه ظاهره ده اونه خطاءًاواشتباهاً په دې وجه چه بوجه تهذیب نفس اواخلاق کامله جانب احتیاط بالضرور مرعی وی اوصاحب تعلیم اواخلاق ناقص به پخپله مردود وی فقط والسلام خلیل احمد عفی عنه ۵رجب ۱۳۲۵ھ امداد ص ۲۲۷ ج۴ .

په لفظ الله اکبر باندې دیوې شبهه جواب

سوال:(۱۳۵)په الله اکبر کښې لفظ الله جامع اوجمیع صفات دې چه دد سره اکبر وئیلې شو نو دا معنی شوه چه هغه په ټولو صفاتو کښې اکبر دې یو صفت دده معبودیت هم دې پس معنی به داشی چه هغه په معبودیت کښې اکبر دې نو ددې نه ثابته شوه چه معبود نور هم شته چه هغه اکبر نه دی ځکه چه اکبر صیغه داسم تفضیل ده اومفضل دمفضل علیه مشارک پکار دې چه الله ته جمیع صفات اکبر وئیلی شو نو په ټولو صفاتو کښې مفضل د علیهم مشارکت پیدا شو

دچکړالوی ددې اعتراض وو فرمائی ددې زهریلا اثر به خور شی اناالله واناالیه راجعون الله تعالی دې مسلمانانو ته استقامت وکړی آمین.

جواب: ددې درې جوابونه دی اول دا چه مفضل اومفضل علیه مشارک کیدل ماخذاشتیاق په اسم تفضیل کښې ضروری دې په معنی مفضل کښې نه چه هر یو سړی پرې پوهیږی چه زید افضل من عمر مفهوم دا دې چه په فضیلت کښې دواړه مشارک دی نه په زیدیت کښې پس په نفس برائی کښې مشرکت لازم راغې نو په دې که څه حرج نشته مفضل علیه دپاره ددې ثبوت پخپله منصوص دې مثلاً جعلنافی کل قریة اکابر دویم جواب دا دې چه دلفظ الله دجامع کیدو نه داامر لازم نه راځی ځکه چه معنی ددې دا شوه چه کوم ذات جمیع صفات دکمال جامع دې هغه دنورو نه اکبر دې نو دا جمله ددې نه ساکت ده چه څه اکبر یم ممکنه ده چه دا معنی وی چه په مطلق کمال کښې اکبر وی نو غایة مافی الباب ددې نه دومره لازمه شوه چه په نور مخلوق کښې هم څه کمال شته نو په دې کښې څه محذور نشته. ځکه چه کمال ممکنه هم دکمال یو قسم دې البته که په اکبر کښې دڅه قید تصریح وه نو بیشکه دد ې شبهه ګنجائش وو لکه چه دا وې الله اکبر فی المعبودیت اودریم جواب دادې چه عندالتامل وتتبع مواردالاستمال په دې ځائی کښې دا هم ووئلې کیږی چه دلته افعل بمعنی تفضیل کښې مستعمل نه د ې لکه چه په قرآن کښې دی وبعولتهن احق بردهن ظاهره ده چه دلته احق په معنی دمستحق اوحقیق کښې ده او په قرآن کښې په نورهم داسې مواقع کښې استعمال شوې دی. فقط ۹ صفر ۱۳۲۷ (تتمه اولی ص ۱۵۳)

د شیعه ګانو او د بدعتیانو نه دبعض پیدا شوې سوالونو جوابونه

سوال: (۱۳٦) ماته دډیرې عرصې نه دوه درې خبروپه داسې حیرانی اومرګردانې اوپه تردد کښې مبتلاکړې یم چه دهغې په وجه په زړه کښې تردد اوشک وی اګر چه حق المقدور ددې دفعیه کوم مګر دزړه جم والې اواطمنان قلبی په شان امورآخرت اوپه اعمال کښې خصوص چه په مونځ کښې وی راته نه حاصلیږی شاید ددې وجه ځماجهالت اوبی علمی وی لهذا ضروری شوه چه ددې خبرودعلماء نه چه کوم حکیم امت دی ګزارش وکړم چه راته اطمنان اودزړه جمی راته حاصله شی اګر چه دا خیال هم پیدا کیږی چه دداسې شکوکات نه شاید علماء ماته لامذهبی بدعتی ، اودمولودی شیعه طرفته مامنسوب کړی مګر امور درستی عاقبت اواعمال صالحه په خصوص سره مونځ کښې دل جمی اواطمنان قلبی حاصلول ضروری دی اولابدی امر دې داچا بد ګمانی اوغلط خیال لغو دې اوعلماء ته ځمادجهالت اودبی علمې او دبراګمانونو باندې نظر وکړی اوجواب باصواب دې نه کوی.

اول: داکثر کتب فقه اوحدیث نه معلومیږی چه امام ابوحنیفه اوامام مالک رحمهما الله دادواړه شاګردان دامام جعفر صادق ؑ وو اودده نه دې دواړو صاحبانو اوسفیان ثوری

وغیره هم روایت خدیث هم کړې دی اوتاریخ په دې شاهددې چه امام شافعی امام احمد رحمهما الله هم زمانه جناب امام رضا ؑ فرزند دلبند جناب امام موسی کاظم ؑ دوی موجود وو ضرور دی چه امام شافعی اوامام احمد رحمهما الله به ددوی شاګردی نه وی کړې خوقدم بوسی خوبه ئی کړې وی اودا امام جعفر علیه السلام هغه امام دې چه درې یاڅلور واسطې دجناب الشریعت رسول الله ﷺ نه وی اوس یو تمهید اویوه قاعده مسلمه چه دهغې نه ما ته دا شکوکات پیداشوې دی ګزارش کوم په دې کښې هیڅ شک اوشبهه نشته چه دختم نبوت زمانې نه پس تراوسه پورې چه څنګه امت پیدا شوې دې په دې شان به ئی مونځ کوو لکه څنګه چه هغوی خپل مور پلار او استاذ لیدلې وو اوبیا ئی داسې یادکړوبموجب ددې قاعده مسلمه نه دا منل پکار دی چه امام جعفر ؑ هم په دې شان به ئی مونځ کولو لکه څنګه چه هغوی خپل والد صاحب جناب امام باقر ؑ لیدلې وو اویابه ئی ددوی نه یاد کړې وو اوامام محمد باقر ؑ به هم په دې شان مونځ کوو لکه څنګه چه هغوی خپل والد جناب امام زین العابدین ؑ لیدلې وو اویائی ددوی نه یاد کړې وو اوجناب امام زین العابدین به هم په دې شان مونځ کوو لکه څنګه چه هغوی خپل والد جناب امام حسین شهید کربلا ؑ لیدلې وو اویا به دهغوې نه یاد کړې وو اودخپل نیکه جناب صاحب الشریعت رسول الله ؑ به ئی لیدلې وو اویا به ئی دهغوې نه یادکړې وو داسلسله خو دبره پورې اوشوه اوهم داسې لاندې اومنئ زیات نه دوازده امامه پورې دې سلسلې اوقاعده مسلمه په موجب به داهم ومنلې شی چه دې حضراتو اهل بیت نبوی طریقه به هم هغه وی چه کومه خاص طریقه دمونځ دجناب رسول الله ﷺ وه نو اوس دې دواړو شاګردانو اوټول مجتهدین دمونځ طریقه په یوځائی کښې کتل غواړی نو دزمکې اودآسمان فرق به راوځی اوډیر اختلاف په مونځ کښې هم موجود دې حالانکه مونځ یو داسې عبادت دې چه روزانه پنځه وخته اداکیږی اوچه دهغې بعض اعمال اوافعال داسې دی چه هغه په سترګو کتلې شی چه په هغې کښې دذهن اودفهم ددریافت کار نه دې مثلاًلاس تړل اوپریښودل دنوم دلاندې یا دسینې دلاندې یا علی الصدرقبل رکوع یابعد رکوع رفع یدین داوګو پورې یا دغګونو پورې آمین جهراًیاسراًدسحر په مونځ کښې دعاء قنوت لاسونه اچتول یاتړل سراًیاجهراًبسم الله په شروع کښې په الحمد باندې جهراًیاسراًجلسه داستراحت په قعده اخیره کښې ناسته دتورک په حالت کښې یادوزانو په اخره کښې سلام یو یا دوه.

(۴) اودکوم چه بعض افعال یا اعمال په دریافت کولو سره معلومیږی مثلاًتشهدابن عباس یا ابن مسعود یاحضرت عمر (هم) وتر یو رکعت یا درې موصول یا مفصول اودعاء قنوت په وترو کښې دائماً. یا په صرف عشره اخیره رمضان کښې درکوع نه مخکښې یا درکوع نه پس اودعاء دافتتاح مونځ سبحانک اللهم یااللهم باعد. یا توجیه یعنی وجهت وجهی.

(۳) اودا چه کوم اعمال یا افعال په مونځ کښې فرض دی اوځه ځه واجب اوځه ځه مسنون. اوځه ځه مستحب اوځه ځه مکروه وغیره وغیره لکه څنګه چه یو عمل یا فعل په مانځه کښې دیو مجتهد په نزد باندې فرض اودبل په نزد باندې هم هغه عمل حرام یا بدعت یا منسوخ یا مکروه. دچا په نزد باندې یو فعل مسنون اوددویم په نزد هم هغه عمل بدعت یا مکروه یا منسوخ وغیره وغیره.

(۴) بلکه په مانځه کښې خوګنجائش عزر خیال اودهیان هم کیدیشی اذان اوتکبیر ته خواګوریٔ چه هغه علی الاعلان پنځه وخته په اوچت آواز سره کیږی په هغې هم یوڅواختلافات موجود دی مثلاًترجیع اذان. افراد یا تثنیه تکبیر.

(۵) بدیهی خبره ده که یو جاهل نه جاهل سړې هم په چا پسې دوه درې ورځې مونځ وکړی نوده ته به هم دامام طریقه دمونځ په ښه شان معلومه شی نو چه جائی چه علماء چه هغوی ته څه عرصه شاګردی اوصحبت هم نصیب شوې وی.

(۶) نو دې اختلافاتو ته دکتلو نه پس داخبره په ذهن کښې نه راځی چه دیواستاداواستادهم امام اهل بیت نبوی چه کوم دنبوت دکورنیٔ نه وی اوچه کوم سلسله واردده دې عامل اوپوهیدونکې وی.

(۷) دوه یا درې شاګردان وی اوبیا ددوی دمونځ په طریقه کښې دومره اختلافات وی نو په داسې حالت کښې درې خبرې منل پکاردی اول یا خوروایت دشاګردې اودتلمذیٔ غلط دې بلکه شاګردې خولړې خبره ده داحضرات اهل بیت نبوی خویو مجتهد لیدلې هم نه دی اونه ئی ددوی دمونځ طریقه داخذ کولو څه کوشش کړې دې دویمه شاګردی خواوشوه خودې حضرات اهل بیت دمونځ دطریقې څه لحاظ نه دې کړې په خپل خپل اجتهاداورائی ئی مقدم ابنې ده اوخپل خپل یو مذهب بیل بیل ددې روایاتو اواحادیثو په وجه چه کوم ددوی په خپل خپل ښارکښې دراویانونه رسیدلې دی اوقائم کړې دی لکه څنګه چه دکتب حدیث وغیره نه معلومیږی چه هریومجتهدته دخپل ښاردراوی زیات اعتبار اووثوق وو نو په دې وجه امام ابوحنیفه رحمه الله دکوفه په راویانوباندې به ئی حتی المقدور عمل کوو ددوی حدیث ته به ئی دمکې په حدیث باندې ترجیح ورکوله اودکوفی تابعینو ته به ئی په بعض صحابه باندې فوقیت ورکوو. چه په هغې باندې مناظره دامام اوزاعی شاهده ده هم داسې امام مالک اوامام شافعی دمکې اومدینې په روایت باندې زیات وثوق اواعتبارکوو. دریمه دااووائی چه دجناب امام جعفر صادق علیه السلام دمونځ طریقه مختلفه وه لکه څنګه چه په احادیث مختلفه کښې وارد شوې دی دې صاحبانوپه اعمال مختلفه کښې هغه اعمال او افعال اختیار کړې دی چه دکومودوی ته روایت یاعمل دخپل ښار دراویانو نه ورته تائید شوې وی چه دکومو دوی وثوق اواعتبارکوی. امام ابوحنیفه خودکوفی روایت اوعمل نه اومام مالک اوامام شافعی دمکې

